
نجم القرآن
د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر
ډاکټر محمد عثمان نظامي
سپاره نمبر 16

# (۱۶)

# شپاړسمه سپاره

# بسم الله الرحمن الرحیم

اسانه پښتو ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان «نظامي»

سورة الکهف، ۷۵ آیت

قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا(۷۵)

تکي یه تکي ترجمه

قَالَ ـــ خضر علیه السلام وویل / أَلَمْ أَقُل لَّكَ ـــ ایا ما تا ته نه وو ویلي؟ / إِنَّكَ ـــ چې بېشکه ته / لَن تَسْتَطِيعَ ـــ توان به ونه لرې / مَعِيَ ـــ زما سره چې: / صَبْرًا ـــ صبر وکړې.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

خضر علیه السلام وویل: ایا ما تا ته نه وو ویلي چې ته به زما سره د صبر کولو توان ونه لرې؟

بیل بیل تکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

قَالَ ـــ خضر علیه السلام وویل

دلته خضر علیه السلام د موسیٰ علیه السلام دوهم اعتراض ته جواب ورکوي.

أَلَمْ أَقُل ـــ ایا ما نه وو ویلي؟ / ایا ما درته نه وو ویلي؟

دا د سپکاوي جمله نه ده، بلکې د مخکې شرط او خبرداري یادونه ده.

لَّكَ ــــ تا ته

دلته دا کلمه خبره نوره مستقیمه کوي. یعنې: ما خو تا ته په ښکاره ویلي وو.

إِنَّكَ ــــ چې ببشکه ته / یقیناً ته

دا د تاکید لپاره دی.

لَن تَسْتَطِيعَ ــــ ته به توان ونه لرې / ته به ونه شې کولای

یعنې په دې خاص سفر کې به ستا لپاره صبر کول ډېر سخت وي.

مَعِيَ ــــ زما سره

یعنې زما د هغو کارونو په لیدلو سره چې ظاهر یې تا ته سخت او د اعتراض وړ ښکاري.

صَبْرًا ــــ صبر / زغم / حوصله

دلته صبر یعنې:

تر هغې وخته چوپ پاتې کېدل چې د کار پټ حکمت او حقیقت درته تشریح شي.

## ساده تفسیر

کله چې خضر علیه السلام هلک وواژه، موسیٰ علیه السلام بیا اعتراض وکړ، ځکه دا کار د ظاهر له مخې ډېر لوی او سخت ښکاره کېده.

موسیٰ علیه السلام وویل:

آيا تا يو پاک او بې ګناه نفس وواژه، بې له دې چې هغه بل څوک وژلی وي؟

نو خضر علیه السلام ورته بیا د مخکې خبرې یادونه وکړه:

"ایا ما تا ته نه وو ویلي چې ته به زما سره صبر ونه شې کولای؟"

دلته خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته سپکاوی نه کوي. هغه یوازې ورته وایي چې ما مخکې خبر درکړی و چې ته به داسې کارونه وويني چې پټ حکمت یې تا ته په شروع کې معلوم نه وي، نو صبر به درته سخت شي.

دا ځل په جمله کې لَكَ راغلی

"أَلَمْ أَقُل لَّكَ —— "ایا ما تا ته نه وو ویلي؟

دا ښيي چې یادونه اوس لږه قوي شوه، ځکه موسیٰ علیه السلام دوهم ځل شرط مات کړ.

د ۷۲ او ۷۵ آیت فرق.

په ۷۲ آیت کې راغلي وو:

أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ...

ایا ما نه وو ویلي چې ته...

په ۷۵ آیت کې راغلي:

أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ...

ایا ما تا ته نه وو ویلي چې ته...

فرق ډېر نری خو مهم دی:

په ۷۵ آیت کې لَكَ ـــ «تا ته» زیات شوی، نو یادونه لا مستقیمه او قوي شوې، ځکه دا دوهم ځل و چې موسیٰ علیه السلام صبر ونه شو کړای.

درس:

کله چې انسان د یوې پېښې پټ حکمت نه وي لیدلی، صبر ورته سخت وي. خو د علم په سفر کې شرط، صبر، او د استاد د خبرې مراعات ډېر مهم دي.

---

سورة الکهف، ۷۶ آیت

قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي ۖ قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي عُذْرًا(۷۶)

تېکي په تېکي ترجمه

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل / إِن سَأَلْتُكَ ـــ که زه له تا پوښتنه وکړم / عَن شَيْءٍ ـــ د کوم شي په اړه / بَعْدَهَا ـــ له دې وروسته / فَلَا تُصَاحِبْنِي ـــ نو ما خپل ملګری مه ساته / قَدْ بَلَغْتَ ـــ یقیناً ته رسېدلی یې / مِن لَّدُنِّي ـــ زما له طرفه / عُذْرًا ـــ یو پوره عذر ته

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

موسیٰ علیه السلام وویل: که له دې وروسته مې بیا له تا پوښتنه وکړه، نو بیا زما سره ملګرتیا مه کوه. په هغه وخت کې به ته زما له طرفه د جدا کېدو لپاره پوره عذر لرې.

د بیل بیل تېکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل

دلته موسیٰ علیه السلام د خضر علیه السلام د دوهمې یادونې وروسته جواب ورکوي.

إِن ـــ که

دلته موسیٰ علیه السلام پر ځان شرط ږدي.

سَأَلْتُكَ ـــ زه له تا پوښتنه وکړم

یعنې که زه بیا ستا له وضاحت مخکې پوښتنه یا اعتراض وکړم.

عَن شَيْءٍ ـــ د کوم شي په اړه / د هر شي په اړه

یعنې د ستا د کوم کار په اړه چې زه یې ووینم.

بَعْدَهَا ـــ له دې وروسته

یعنې له دې دوهمې تېروتنې او دې یادونې وروسته

فَلَا ـــ نو مه

تُصَاحِبْنِي ـــ ما خپل ملګری مه ساته / زما ملګرتیا مه کوه

یعنې که زه بیا پوښتنه وکړم، نو ته حق لرې چې زما سره سفر ختم کړې.

قَدْ ـــ یقیناً / بېشکه

دا د تاکید لپاره دی.

بَلَغْتَ ـــ ته رسېدلی یې / تا ترلاسه کړی دی

یعنې ستا لپاره دلیل پوره شوی دی.

مِن لَّدُنِّي ـــ زما له طرفه / زما له خوا

يعنې دا عذر زه خپله درکوم.

عُذْرًا ـــ عذر / دليل / د بېلتون مناسب سبب

يعنې که زه بيا شرط مات کړم، نو ته به د جدا کېدو لپاره پوره عذر لرې.

ساده تفسير

کله چې خضر عليه السلام موسیٰ عليه السلام ته دوهم ځل د شرط يادونه وکړه، موسیٰ عليه السلام پوه شو چې خبره جدي شوې ده

موسیٰ عليه السلام په ډېر ادب سره وويل:

که له دې وروسته مې بيا پوښتنه وکړه، نو زما سره ملګرتيا مه کوه.

يعنې که زه درېيم ځل هم شرط مات کړم، نو ته حق لرې چې دا سفر ختم کړې.

بيا يې وويل:

ته زما له طرفه پوره عذر ته رسېدلی يې.

يعنې زه خپله تا ته اجازه درکوم چې که زه بيا پوښتنه وکړم، نو ته زما نه جلا کېدای شې، او په دې کې به ستا ملامتي نه وي.

دا د موسیٰ عليه السلام ډېر ښکلی ادب دی. هغه خپل مقام ته نه ګوري چې زه لوی نبي يم، ولې به زما ملګرتيا ختميږي؟ بلکې په عاجزۍ سره خپل حد پېژني او وايي: که ما بيا شرط مات کړ، نو ستا عذر پوره دی.

درس:

د علم طالب باید عاجز وي، خپله تېروتنه ومني، او د استاد د شرط قدر وکړي.

---

سورة الكهف، ۷۷ آیت

فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا(۷۷)

تکي په ټکي ترجمه

فَانطَلَقَا ـــ نو دواړه روان شول / حَتَّىٰ إِذَا ـــ تر دې چې کله / أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ ـــ د یوه کلي خلکو ته ورسېدل / اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا ـــ د هغه کلي له خلکو یې خوراک وغوښت / فَأَبَوْا ـــ خو هغوی انکار وکړ / أَن يُضَيِّفُوهُمَا ـــ چې د دوی دواړو مېلمستیا وکړي / فَوَجَدَا فِيهَا ـــ نو دواړو په هغه کلي کې وموند / جِدَارًا ـــ یو دېوال / يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ ـــ چې نړېدې و راولوېږي / فَأَقَامَهُ ـــ نو خضر علیه السلام هغه سم کړ / قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل / لَوْ شِئْتَ ـــ که تا غوښتلی وای / لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ ـــ نو پر دې کار دې اخیستی شو / أَجْرًا ـــ مزدوري.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

بیا دواړه روان شول، تر دې چې یو کلي ته ورسېدل. له خلکو یې خوراک وغوښت، خو هغوی یې مېلمستیا ونه کړه. بیا یې هلته یو دېوال ولید چې نړېدې و راولوېږي، نو خضر علیه السلام هغه دېوال ورغوه. موسیٰ علیه السلام وویل: "که تا غوښتلی وای، نو د دې کار مزدوري دې ترې اخیستلی شوه.

د بیل بیل ټکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

فَـ ـــ نو / بیا

دا د کیسې ادامه ده. د دوهمې پېښې وروسته سفر بیا روانېږي.

انطَلَقَا ـــ دواړه روان شول

یعني موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام بیا په سفر روان شول.

حَتَّىٰ إِذَا ـــ تر دې چې کله

دا د درېیمې پېښې پیل دی.

أَتَيَا ـــ دواړه ورسېدل / دواړه راغلل

یعني موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام یو ځای ته ورسېدل.

أَهْلَ قَرْيَةٍ ـــ د یوه کلي خلکو ته

دلته مراد د کلي اوسېدونکي دي، نه یوازې ودانۍ.

اسْتَطْعَمَا ـــ دواړو خوراک وغوښت

یعني د مسافرانو په توګه یې د خوراک او مېلمه پالنې غوښتنه وکړه.

أَهْلَهَا ـــ د هماغه کلي له خلکو څخه

یعني له هغو خلکو څخه چې په هغه کلي کې اوسېدل.

فَأَبَوْا ـــ خو هغوی انکار وکړ

یعني د کلي خلکو د دوی مېلمه پالنه ونه کړه.

أَن يُضَيِّفُوهُمَا ـــ چې د دوی دواړو مېلمستیا وکړي

یعني موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام ته خوراک او مېلمه پالنه ورکړي.

فَوَجَدَا ـــ نو دواړو وموند / ولیدل

یعني په هماغه کلي کې یې یو دېوال ولید.

فِيهَا ـــ په هغه کې / په هماغه کلي کې

جِدَارًا ـــ يو دېوال

يعنې يو خراب او کمزورى دېوال.

يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ ـــ نړدې و چې راولوېږي

لفظي معنا: "دېوال غوښتل چې راولوېږي.

خو دا د عربي ادب انداز دى. دېوال اراده نه لري؛ مطلب دا دى

دېوال ډېر کمزورى شوى و او راپرېوتو ته نږدې و.

فَأَقَامَهُ ـــ نو خضر عليه السلام هغه سم کړ / ودراوه

يعنې دېوال يې ورغوه، ټينګ يې کړ، او له لوېدو يې وساته.

قَالَ ـــ موسىٰ عليه السلام وويل

دلته موسىٰ عليه السلام بيا خبره کوي، خو دا ځل يې انداز د مخکې په شان ډېر سخت اعتراض نه دى، بلکې د مشورې او تعجب انداز لري.

لَوْ شِئْتَ ـــ که تا غوښتلى واى

يعنې که ستا خوښه واى، يو بل کار هم کېداى شو.

لَاتَّخَذْتَ ـــ اخيستى به دې واى / اخيستى دې شو

يعنې تا کولاى شو چې د دې کار په بدل کې څه واخلې.

عَلَيْهِ ـــ پر دې کار باندې / د دې دېوال د جوړولو په بدل کې

أَجْرًا ـــ مزدوري / اجرت / بدل

يعنې د دېوال د جوړولو په بدل کې خوراک، پيسې، يا کومه مرسته اخيستل کېداى شوه.

## تفسير

موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام بیا سفر ته روان شول.

هغوی یو کلي ته ورسېدل. د مسافرانو په توګه یې له خلکو خوراک وغوښت، خو د کلي خلکو ښه اخلاق ونه کړل او د دوی مېلمه پالنه یې ونه کړه.

بیا خضر علیه السلام په هماغه کلي کې یو دېوال ولید چې نږدې و راولوېږي. هغه دېوال یې بې له مزدورۍ جوړ کړ.

موسیٰ علیه السلام ته دا خبره عجیبه ښکاره شوه، ځکه همدا خلک دوی ته خوراک هم نه ورکوي، خو خضر علیه السلام بیا هم د هغوی په کلي کې دېوال وړیا جوړوي.

نو موسیٰ علیه السلام په نرم انداز وویل:

که تا غوښتلی وای، نو د دې کار په بدل کې دې مزدوري اخیستلی شوه.

وروسته خضر علیه السلام تشریح کوي چې دا دېوال د دوو یتیمانو و، او لاندې یې خزانه وه. د هغوی پلار نیک انسان و، نو الله تعالی غوښتل چې دا خزانه تر هغه وخته پټه او خوندي پاتې شي چې یتیمان لویان شي.

### د ادب او سیاق مهمه نکته

دلته د موسیٰ علیه السلام انداز د مخکې اعتراضونو په شان سخت نه دی.

د کښتۍ په پېښه کې د خلکو د ډوبېدو خطر و.

د هلک په پېښه کې د انسان د ژوند خبره وه.

خو دلته د مزدورۍ او حکمت خبره ده.

ځکه موسیٰ علیه السلام په نرم انداز وایي.

لَوْ شِئْتَ ــــ که تا غوښتلی وای

دا د مشورې او تعجب انداز دی، یعنې:

دا خلک خو موږ ته خوراک هم نه راکوي؛ که د دېوال د جوړولو مزدوري دې اخیستې وای، مناسب به وه.

خو خضر علیه السلام ته د دې کار پټ حکمت معلوم و. دا دېوال د بدو خلکو لپاره نه و جوړ شوی، بلکې د دوو یتیمانو د مال د ساتنې لپاره و.

---

سورة الکهف، ۷۸ آیت

قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا(۷۸)

ټکي په ټکي ترجمه

قَالَ ــــ خضر علیه السلام وویل / هَٰذَا ــــ دا / فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ــــ زما او ستا تر منځ د بېلتون وخت دی / سَأُنَبِّئُكَ ــــ زه به یې تا ته تشریح کړم / بِتَأْوِيلِ ــــ پټ حکمت او اصلي معنا / مَا ــــ د هغه څه / لَمْ تَسْتَطِع ــــ چې ته ونه توانېدلې / عَلَيْهِ ــــ پر هغه / صَبْرًا ــــ چې صبر وکړې.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

خضر علیه السلام وویل: دا زما او ستا تر منځ د بېلتون وخت دی.
اوس به زه تا ته د هغه څه پټ حکمت او اصل معنا بیان کړم چې تا پرې صبر ونه شو کولای.

د بیل بیل ټکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

قَالَ ـــ خضر علیه السلام وویل

دلته خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته جواب ورکوي، وروسته له دې چې موسیٰ علیه السلام د دېوال د جوړولو په اړه بیا خبره وکړه.

هٰذَا ـــ دا / همدا

یعني دا حالت، دا درېیمه پوښتنه، او دا وخت.

فِرَاقُ ـــ بېلتون / جلا کېدل

یعني اوس زموږ د ملګرتیا وخت پای ته ورسېد.

بَيْنِي ـــ زما او

وَبَيْنِكَ ـــ ستا تر منځ

یعني زما او ستا تر منځ، ای موسیٰ علیه السلام.

هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ـــ دا زما او ستا تر منځ د بېلتون وخت دی

یعني هغه شرط چې تا خپله ایښی و، اوس پوره شو؛ نو زموږ سفر دلته ختمېږي.

سَأُنَبِّئُكَ ـــ زه به تا خبر کړم / زه به یې تا ته تشریح کړم

یعني خضر علیه السلام اوس د هغو پېښو اصل حقیقت موسیٰ علیه السلام ته بیانوي.

بِتَأْوِيلِ ـــ د پټې معنا / د اصلي حقیقت / د حکمت په بیان سره

دلته تأویل معنا لري: د هغه کارونو اصل مقصد، پټ حکمت او وروستۍ تشریح.

مَا ـــ د هغه څه

یعني د هغو کارونو چې موسیٰ علیه السلام لیدلي وو: کښتۍ، هلک، او دېوال.

لَمْ ـــ نه / ونه

تَسْتَطِع ـــ ته توانمن شوې / تا ونه زغملای شو

یعنې ته ونه توانېدلې چې په دې کارونو صبر وکړې

عَلَيْهِ ـــ پر هغه / د هغه په اړه

یعنې د هغو پېښنو په اړه.

صَبْرًا ـــ صبر / زغم / حوصله

دلته صبر معنا لري: تر وضاحت پورې چوپ پاتې کېدل او انتظار کول.

تفسیر

موسیٰ علیه السلام مخکې ویلي وو.

که له دې وروسته مې بیا پوښتنه وکړه، نو زما سره ملګرتیا مه کوه

بیا کله چې خضر علیه السلام د هغه کلي دېوال وړیا ورغوه، موسیٰ علیه السلام وویل:

که تا غوښتلی وای، د دې کار مزدوري دې اخیستلی شوه.

دا درېیم ځل و چې موسیٰ علیه السلام خبره وکړه. نو خضر علیه السلام ورته وویل:

دا زما او ستا تر منځ د بېلتون وخت دی.

یعني هغه شرط چې موسیٰ علیه السلام خپله ایښی و، اوس پوره شو

خو خضر علیه السلام بې له تشریح نه ځي. هغه وايي:

زه به تا ته اوس د هغو کارونو پټ حکمت بیان کړم چې تا پرې صبر ونه شو کړای.

اوس به خضر علیه السلام درې شیان تشریح کړي:

کښتۍ ولې سوری شوه؟

هلک ولې ووژل شو؟

دېوال ولې وړیا جوړ شو؟

<u>د ادب او سیاق مهمه نکته</u>

خضر علیه السلام دلته موسیٰ علیه السلام ته په غوسه نه وايي: "بس، ولاړ شه."

بلکې په ادب سره وايي:

دا زموږ د بېلتون وخت دی، خو مخکې له بېلتون نه به تا ته حقیقت بیان کړم.

دا د استاد ادب دی.

که درس ختمېږي هم، زده کوونکی بې له وضاحت نه پرېږدي.

او د موسیٰ علیه السلام ادب دا و چې خپله یې شرط ایښی و، نو کله چې شرط پوره شو، بحث یې ونه کړ.

درس:

د ځینو پېښو حکمت د وخت تر تېرېدو وروسته ښکاره کېږي. انسان باید د ظاهر پر بنیاد ژر وروستۍ فیصله ونه کړي.

---

سورة الکهف، ۷۹ آیت

أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا(۷۹)

تکي په تکي ترجمه

أَمَّا السَّفِينَةُ ــــ خو د کښتۍ خبره دا وه / فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ ــــ چې هغه د غریبو خلکو وه / يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ ــــ چې په سمندر کې یې کار کاوه / فَأَرَدتُّ ــــ نو ما وغوښتل / أَنْ أَعِيبَهَا ــــ چې هغه لږ عیبجنه کړم / وَكَانَ وَرَاءَهُم ــــ او د هغوی په لاره کې و / مَّلِكٌ ــــ یو پاچا / يَأْخُذُ ــــ چې اخیستله یې/ كُلَّ سَفِينَةٍ ــــ هره ښه کښتۍ / غَصْبًا ــــ په زور او ناحقه.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

خو د کښتۍ خبره دا وه چې هغه د غریبو خلکو وه، چې په سمندر کې یې کار کاوه. نو ما وغوښتل چې هغه لږ عیبجنه کړم، ځکه د هغوی په لاره کې یو پاچا و چې هره کښتۍ یې په زور اخیسته.

بیل بیل تکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

أَمَّا ــــ خو / هر څه چې د ... خبره ده

دلته خضر علیه السلام د لومړۍ پېښې وضاحت شروع کوي، یعنې د کښتۍ خبره.

السَّفِينَةُ ــــ کښتۍ

هغه کښتۍ چې خضر علیه السلام پکې سورۍ کړې و.

فَكَانَتْ ــــ نو هغه وه / هغې تعلق درلود

د سیاق مطابق معنا: هغه کښتۍ د چا ملکیت وه.

لِمَسَاكِينَ ــــ د بېوزلو خلکو وه / د غریبو خلکو وه

یعنې دا کښتۍ د زورورو خلکو نه وه، بلکې د غریبو کسانو د ژوند وسیله وه.

يَعْمَلُونَ ــــ هغوی کار کاوه

یعنې د همدې کښتۍ له لارې یې رزق ګټلو.

فِي الْبَحْرِ ــــ په سمندر کې

یعنې د سمندر کار یې کاوه، لکه کب نیول، بار وړل، یا نور بحري کارونه.

فَأَرَدتُّ ــــ نو ما وغوښتل / زما اراده دا شوه

دلته خضر علیه السلام وایي چې دا کار بې سببه نه و، بلکې د حکمت له مخې و.

أَنْ أَعِيبَهَا ــــ چې زه دا عیبجنه کړم / لږ خرابه یې کړم

یعنې خضر علیه السلام کښتۍ مکمل له منځه نه وړله، بلکې لږ عیب یې پکې پیدا کړ، تر څو د ظالم پاچا له اخیستلو بچ شي.

وَكَانَ ــــ او و / او هلته موجود و

وَرَاءَهُم ــــ د هغوی شاته / د هغوی مخې ته / د هغوی په لاره کې

دلته د سیاق مطابق معنا دا ده: یو پاچا د هغوی په مسیر کې و، چې د کښتیو اخیستلو خطر ترې موجود و.

مَّلِكٌ ـــ یو پاچا

یعنې یو ظالم او زورور حاکم.

يَأْخُذُ ـــ اخېسته / په زور یې نیوله

یعنې هغه خلکو نه کښتۍ په ظلم او زور اخیستې

كُلَّ سَفِينَةٍ ـــ هره کښتۍ

د سیاق مطابق: هره ښه، سالمه او د کار وړ کښتۍ

غَصْبًا ـــ په زور / په ناحقه / په ظلم

یعنې بې له رضا، بې له حقه، او په زور یې اخیستې.

<u>تفسير</u>

خضر علیه السلام اوس موسیٰ علیه السلام ته د کښتۍ د سورۍ کولو راز بیانوي.

موسیٰ علیه السلام چې کله کښتۍ سورۍ کېدل ولیدل، نو ظاهر ورته ډېر خطرناک ښکاره شو. هغه فکر وکړ چې دا کار به د خلکو د ډوبېدو سبب شي.

خو حقیقت بل و.

دا کښتۍ د غریبو خلکو وه. هغوی په سمندر کې کار کاوه او د همدې کښتۍ له لارې یې خپل رزق ګټلو.

په مخکې لاره کې یو ظالم پاچا و. هغه هره ښه او سالمه کښتۍ په زور اخیسته. که دا کښتۍ بې عیبه پاتې شوې وای، پاچا به ترې اخیستې وای.

نو خضر علیه السلام کښتۍ لږ عیبجنه کړه، تر څو د پاچا په نظر بې کاره یا خرابه ښکاره شي، او غریبو خلکو ته پاتې شي.

په ظاهر کې دا کار تاوان و، خو په حقیقت کې د لوی تاوان نه بچ کول و.

د ادب او سیاق مهمه نکته

خضر علیه السلام وایي:

فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا

ما وغوښتل چې هغه عیبجنه کړم.

دلته هغه دا کار ځان ته نسبت کوي، ځکه ظاهر کې دا د عیب پیدا کولو کار و.

خو مقصد یې خیر و.

د غریبو خلکو د کښتۍ ساتل.

دا موږ ته لوی درس راکوي:

هر ظاهري تاوان شر نه وي. کله کله الله یو کوچنی تاوان راولي، تر څو انسان له لوی تاوانه وژغوري.

درس:

کله کله یو کوچنی نقصان د الله له طرفه د لوی حفاظت سبب وي.

---

سورة الکهف، ۸۰ آیت

وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا(۸۰)

تکي په تکي ترجمه

وَأَمَّا الْغُلَامُ ـــ او خو د هلک خبره دا وه / فَكَانَ أَبَوَاهُ ـــ چې د هغه مور او پلار وو / مُؤْمِنَيْنِ ـــ مؤمنان / فَخَشِينَا ـــ نو موږ دا خطر ولید / أَن يُرْهِقَهُمَا ـــ چې هغه به دواړه په سخت فشار او فتنه کې واچوي / طُغْيَانًا وَكُفْرًا ـــ د سرکشۍ او کفر له لارې

لفظي خو د سياق مطابق ترجمه

او د هلک خبره دا وه چې د هغه مور او پلار مؤمنان وو. نو موږ پوهېدو چې که دا هلک لوی شي، نو خپل مور او پلار به د سرکشۍ او کفر په لویه فتنه کې واچوي.

د بيل بيل تکي ترجمه د سياق او ادب مطابق

وَأَمَّا ـــ او خو / او هر څه چې د ... خبره ده

دلته خضر علیه السلام د دوهمې پېښې وضاحت شروع کوي، يعنې د هلک خبره.

الْغُلَامُ ـــ هلک

هغه هلک چې خضر علیه السلام وژلی و، او موسیٰ علیه السلام پرې سخت اعتراض کړی و.

فَكَانَ ـــ نو خبره دا وه / نو هغه داسې و چې

دلته خضر علیه السلام د هلک د حالت او د هغه د کورنۍ حقيقت بيانوي.

أَبَوَاهُ ـــ د هغه مور او پلار

أبوان د مور او پلار دواړو لپاره راځي. دلته مطلب: د هلک پلار او مور.

مُؤْمِنَيْنِ ـــ مؤمنان وو / ايمان لرونكي وو

يعنې د هغه مور او پلار د الله مؤمن بندګان وو.

فَخَشِينَا ـــ نو موږ ووېرېدو / نو دا خطر معلوم و

دلته بايد په ادب سره پوه شو: دا عادي انساني ګمان نه و. خضر عليه السلام د الله له طرفه په ورکړل شوي خاص علم عمل کاوه. معنا دا ده چې د الله د علم له مخې دا خطر موجود و.

أَن ـــ چې

يُرْهِقَهُمَا ـــ هغه دواړه په سختۍ کې واچوي / ډېر دروند فشار پرې راولي / سخت يې وځوروي

دلته مطلب يوازې عادي تکليف نه دی، بلکې داسې فشار او فتنه چې د مور او پلار دين او ژوند ته لوی خطر شي.

طُغْيَانًا ـــ سرکشي / بغاوت / له حده وتل

يعنې هغه هلک به په راتلونکي کې داسې سرکش او باغي کېده چې د مور او پلار لپاره به لويه فتنه وه.

وَكُفْرًا ـــ او کفر / بې ايماني

يعنې د هغه سرکشي به يوازې بد اخلاق نه وو، بلکې د کفر او د ديني خطر سره تړلې وه.

## تفسير

خضر عليه السلام اوس د هلک د وژلو پټ حکمت بيانوي.

موسیٰ عليه السلام چې کله دا پېښه وليده، نو ظاهر ورته ډېر سخت ښکاره شو. هغه وويل.

آیا تا یو پاک او بې ګناه نفس وواژه؟

د ظاهر له مخې موسیٰ علیه السلام حق درلود چې اعتراض وکړي، ځکه د انسان ژوند ډېر محترم دی.

خو خضر علیه السلام ته د الله له طرفه خاص علم ورکړل شوی و. هغه اوس بیانوي چې د هلک مور او پلار مؤمنان وو، او الله تعالی پوهېده چې دا هلک که لوی شي، نو د هغوی لپاره به د سرکشۍ او کفر لویه فتنه شي.

یعنې هغه به مور او پلار ډېر سخت وځوروي، د دین له اړخه به یې په خطر کې واچوي، او د هغوی ایمان او ژوند ته به لوی امتحان جوړ شي.

نو دا کار د عادي انسان د فیصلې له مخې نه و؛ دا د الله د خاص علم او حکمت له مخې یوه ځانګړې پېښه وه.

## د ادب او سیاق مهمه نکته

دا آیت ډېر احتیاط غواړي

دا د دې معنا نه لري چې یو انسان دې د راتلونکي د ګمان په بنیاد چا ته ضرر ورسوي. هېڅوک حق نه لري چې ووایي: "زه پوهېږم دا ماشوم به په راتلونکي کې بد شي"، او بیا پرې ظلم وکړي.

دا یوازې د خضر علیه السلام خاصه واقعه وه، چې د الله له طرفه ورته خاص علم ورکړل شوی و.

عام انسان یوازې د ظاهر، شریعت، عدالت، شاهدانو او ثابت جرم له مخې حکم کوي. د پټ علم دعوه کول خطرناک کار دی.

درس:

انسان ظاهرویني، خو الله آینده، باطن او پایله ټول پوهېږي.

---

سورة الكهف، ۸۱ آيت

فَأَرَدْنَا أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا(۸۱)

تکي په تکي ترجمه

فَأَرَدْنَا ــــ نو موږ وغوښتل / أَن يُبْدِلَهُمَا ــــ چې هغوی دواړو ته بدل ورکړي / رَبُّهُمَا ــــ د هغوی رب / خَيْرًا مِّنْهُ ــــ له هغه نه بهتر / زَكَاةً ــــ په پاکۍ او نېکۍ کې / وَأَقْرَبَ رُحْمًا ــــ او په رحم او مهربانۍ کې ډېر نږدې.

لفظي خو د سياق مطابق ترجمه

نو الله غوښتل چې د هغه هلک مور او پلار ته د هغه پر ځای داسې بهتر اولاد ورکړي، چې په دين، پاکۍ او اخلاقو کې تر هغه ښه وي، او له مور او پلار سره ډېر مهربان او نږدې وي.

بيل بيل تکي ترجمه د سياق او ادب مطابق

فَـ ــــ نو / پس

دا د ۸۰ آيت د خبرې نتيجه ده. هلته وويل شول چې هلک به خپل مؤمن مور او پلار د سرکشۍ او کفر په فتنه کې اچول. نو اوس د الله تعالی د حکمت بل اړخ بيانيږي.

أَرَدْنَا ــــ موږ وغوښتل / زموږ اراده دا وه

دلته مطلب د خضر عليه السلام شخصي خوښه نه ده، بلکې د الله له طرفه د ورکړل شوي علم او حکمت مطابق خبره ده.

أَن ــــ چې

يُبْدِلَهُمَا ــــ هغوی دواړو ته بدل ورکړي / د هغه پر ځای بل ورکړي

يعنې د هلک مور او پلار ته د هغه پر ځای بل ښه اولاد ورکړل شي.

رَبُّهُمَا —— د هغوی دواړو رب

يعنې د هغه هلک د مور او پلار رب، الله تعالی.

خَيْرًا —— بهتر / غوره

يعنې داسې بدل چې له هغه هلک نه بهتر وي.

مِّنْهُ —— له هغه نه

يعنې له هغه وژل شوي هلک نه.

زَكَاةً —— په پاکۍ کې / په نېکۍ کې / په دين او اخلاقو کې پاک

دلته معنا دا ده چې بدل اولاد به د ايمان، اخلاقو، پاکۍ او نېکۍ له لحاظه بهتر وي.

وَأَقْرَبَ —— او ډېر نږدې / ډېر قريب

يعنې مور او پلار ته به په زړه، مينه او رحمت کې ډېر نږدې وي.

رُحْمًا —— په رحم، مهربانۍ او خپلوي کې

يعنې هغه بدل اولاد به د مور او پلار سره ډېر مهربان، نرم، نږدې او محبت کوونکی وي.

<u>تفسير</u>

په ۸۰ آيت کې خضر عليه السلام وويل چې د هغه هلک مور او پلار مؤمنان وو، او دا خطر و چې هلک به په راتلونکي کې هغوی د سرکشۍ او کفر په فتنه کې واچوي.

اوس په ۸۱ آيت کې وايي:

الله غوښتل چې د هغه پر ځای هغوی ته بهتر اولاد ورکړي.

یعني الله یوازې یو شی ترې وا نه خیست، بلکې غوښتل یې چې له لوی دیني خطره یې وساتي او په بدل کې ورته بهتر نعمت ورکړي.

دا بدل اولاد به دوه لوی صفتونه لري:

زَكَاةً ــــ پاکي، نېکي، د دین او اخلاقو ښه والی.

رُحْمًا ــــ رحم، مهرباني، نرمي، او له مور او پلار سره نږدې محبت.

نو د الله حکمت دا و چې مؤمن مور او پلار د یو داسې اولاد له سختې فتنې نه وساتي، چې د دوی دین او ژوند به خرابوي، او په بدل کې ورته داسې اولاد ورکړي چې دیني او اخلاقي لحاظه بهتر وي.

## د ادب او سیاق مهمه نکته

دلته ډېر مهم درس دی:

کله کله انسان یو شی له لاسه ورکړي، نو فکر کوي چې دا یوازې تاوان دی. خو د الله په علم کې کېدای شي هغه شی د انسان لپاره لویه فتنه وي.

الله کله کله یو څه اخلي، خو د اخستلو تر شا یې حکمت، حفاظت او بهتر بدل وي.

خو دا هم باید واضح وي.

دا پېښه د خضر علیه السلام خاصه واقعه وه، د الله له خاص علم سره تړلې وه. عام انسان هېڅکله حق نه لري چې د راتلونکي د ګمان په اساس چا ته ضرر ورسوي.

---

سورة الکهف، ۸۲ آیت

وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا(۸۲)

## ټکي په ټکي ترجمه

وَأَمَّا الْجِدَارُ ـــــ او خو د دېوال خبره دا وه / فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ ـــــ چې هغه د دوو يتيمو هلکانو و / فِي الْمَدِينَةِ ـــــ په هغه ښار کې / وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا ـــــ او د هغه لاندې د هغوی دواړو خزانه وه / وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا ـــــ او د هغوی پلار نيک انسان و / فَأَرَادَ رَبُّكَ ـــــ نو ستا رب وغوښتل / أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا ـــــ چې هغوی دواړه خپل د پياوړتيا عمر ته ورسېږي / وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا ـــــ او خپله خزانه راوباسي / رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ـــــ ستا د رب له طرفه د رحمت په توګه / وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ـــــ او ما دا د خپل امر له مخې نه دي کړي / ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ ـــــ همدا اصلي تشريح ده / مَا لَمْ تَسْطِع عَلَيْهِ صَبْرًا ـــــ د هغه څه چې تا پرې صبر ونه شو کړای.

## لفظي خو د سياق مطابق ترجمه

او خو د دېوال خبره دا وه چې هغه په هغه ښار کې د دوو يتيمو هلکانو و، او د هغه لاندې د هغوی دواړو خزانه وه، او د هغوی پلار نيک انسان و. نو ستا رب وغوښتل چې هغوی دواړه خپلې پياوړتيا ته ورسېږي او خپله خزانه راوباسي، ستا د رب له طرفه د رحمت په توګه. او ما دا کارونه د خپل امر له مخې نه دي کړي. همدا د هغه څه اصلي تشريح ده چې تا پرې صبر ونه شو کړای.

## بيل بيل ټکي ترجمه د سياق او ادب مطابق

وَأَمَّا ـــــ او خو / او هر څه چې د ... خبره ده

دلته خضر علیه السلام د درېیمې پېښې وضاحت کوي، یعنې د دېوال خبره.

الْجِدَارُ ــــ دېوال

هغه دېوال چې خضر علیه السلام په هغه کلي کې وړیا جوړ کړی و

فَكَانَ ــــ نو هغه و / نو هغه تعلق درلود

د سیاق مطابق معنا: هغه دېوال د چا ملکیت و.

لِغُلَامَيْنِ ــــ د دوو هلکانو و

یعنې دېوال د دوو کم عمره هلکانو ملکیت و.

يَتِيمَيْنِ ــــ دوو یتیمانو

یعنې پلار یې وفات شوی و، او هغوی کمزوري او د ساتنې محتاج وو

فِي الْمَدِينَةِ ــــ په هغه ښار/کلي کې

یعنې په هماغه ځای کې چې خلکو یې د دوی مېلمه پالنه نه وه کړې.

وَكَانَ ــــ او و / او موجود و

تَحْتَهُ ــــ د هغه لاندې

یعنې د دېوال لاندې.

كَنزٌ ــــ خزانه / پټ مال

یعنې یو ارزښتناک مال چې پټ و.

لَّهُمَا ــــ د هغوی دواړو لپاره / د هغوی دواړو ملکیت

یعنې دا خزانه د هماغو دوو یتیمانو حق و.

وَكَانَ ــــ او و

أَبُوهُمَا ـــــ د هغوی پلار

يعنې د هغو دوو يتيمانو پلار.

صَالِحًا ـــــ نيک / صالح / د الله فرمانبردار

يعنې پلار يې نيک انسان و، نو د هغه نيکي د اولاد لپاره د حفاظت سبب شوه.

فَأَرَادَ ـــــ نو وغوښتل / نو اراده وکړه

رَبُّكَ ـــــ ستا رب

يعنې الله تعالی. خضر عليه السلام دا کار د الله ارادې او رحمت ته نسبت کوي.

أَن ـــــ چې

يَبْلُغَا ـــــ هغوی دواړه ورسيږي

يعنې دوه يتيمان لوی شي.

أَشُدَّهُمَا ـــــ خپلې پياوړتيا / بلوغ او د پوهې عمر ته

يعنې داسې عمر ته ورسيږي چې خپل مال ساتلای شي او خپل حق پېژندلای شي.

وَيَسْتَخْرِجَا ـــــ او راوباسي

يعنې له ځمکې/دېوال لاندې نه يې راوباسي.

كَنزَهُمَا ـــــ خپله خزانه

يعنې هغه مال چې د دوی دواړو لپاره پټ و.

رَحْمَةً ـــــ د رحمت له مخې / د مهربانۍ په توګه

يعنې دا حفاظت د الله مهرباني وه.

مِّن رَّبِّكَ ـــ ستا د رب له طرفه

يعنې دا د الله تعالی له طرفه رحمت و، نه د خضر عليه السلام شخصي پرېکړه.

وَمَا ـــ او نه

فَعَلْتُهُۥ ـــ ما دا کار کړی

يعنې د کښتۍ، هلک او دېوال کارونه.

عَنْ أَمْرِي ـــ له خپل امره / په خپل سر / د خپلې خوښې له مخې

يعنې خضر عليه السلام وايي: ما دا کارونه د خپل شخصي نظر او خوښې له مخې نه دي کړي.

ذَٰلِكَ ـــ همدا

تَأْوِيلُ ـــ پټ حقيقت / اصلي تشريح / د حکمت بيان

يعنې همدا د هغو پېښو اصلي راز او معنا ده.

مَا ـــ د هغه څه

لَمْ ـــ چې نه / ونه

تَسْطِع ـــ ته توانېدلې / تا وکولای شول

دا د تستطع لنډه بڼه ده، معنا يې هماغه ده: ته ونه توانېدلې.

عَلَيْهِ ـــ پر هغه / د هغه په اړه

صَبْرًا ـــ صبر / زغم / حوصله

يعنې هغه کارونه چې تا پرې صبر ونه شو کړای، تر دې چې پټ حکمت يې ښکاره شي.

تفسير

خضر علیه السلام اوس د درېیمي پېښې راز بیانوي.

موسیٰ علیه السلام ته عجیبه ښکاره شوې وه چې د کلي خلکو دوی ته خوراک ور نه کړ، خو خضر علیه السلام بیا هم د هغوی په کلي کې یو دېوال وړیا ورغوه.

خو خضر علیه السلام اوس تشریح کوي چې دا دېوال د هغو بد اخلاقه خلکو لپاره نه و جوړ شوی. دا دېوال د دوو یتیمو هلکانو و.

د دېوال لاندې د هغوی خزانه پټه وه. که دېوال راپرېوتی وای، خزانه به ښکاره شوې وه، او خلکو به اخیستې وای. ځکه یتیمان کمزوري وو، خپل مال یې نه شو ساتلای.

الله تعالی غوښتل چې دېوال پاتې شي، خزانه پټه پاتې شي، او کله چې دا یتیمان لویان شي، خپل مال خپله راوباسي.

الله دا هم یادوي:

وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا

د هغوی پلار نیک انسان و.

دا ډېر ښکلی درس دی:

د پلار نېکي د اولاد لپاره د الله د رحمت او حفاظت سبب کېدای شي

په پای کې خضر علیه السلام وایي:

وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي

ما دا کارونه له خپل ځانه نه دي کړي.

یعني دا درې کارونه: کښتۍ عیبجنه کول، هلک وژل، او دېوال جوړول، زما شخصي پرېکړې نه وې؛ دا د الله د خاص علم او حکم له مخې وو.

د ادب او سیاق مهمه نکته 11.

په دې آیت کې درې ډېر لوی درسونه دي:

اول: الله د یتیمانو مال ساتي، که څه هم هغوی خپله کمزوري وي.

دوهم: د صالح پلار نېکي د اولاد لپاره برکت ګرځي.

درېیم: خضر علیه السلام واضح کوي چې دا کارونه یې له خپل ځانه نه وو کړي. نو عام انسان هېڅ حق نه لري چې د پټ علم په دعوه داسې کارونه وکړي

/////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام د کیسې ساینسي او عقلي تشریح:

د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام کیسه اصل کې د ساینس کیسه نه ده، بلکې د الله تعالی د کامل علم، د انسان د محدود فهم، صبر، ادب، او پټ حکمت کیسه ده.

خو د دې کیسې ځینې برخې د عقل، علم، رواني‌پوهنې، د خطر د مخنیوي، او د انسان د محدودې پوهې له مخې تشریح کېدای شي

(۱)

د انسان علم محدود دی .

موسیٰ علیه السلام په دې سفر کې د پېښو ظاهر لیده

هغه ولیدل:

کښتۍ سورۍ شوه، نو ظاهر کې دا تاوان ښکاره شو.

هلک ووژل شو، نو ظاهر کې دا ډېر سخت او د اعتراض وړ کار ښکاره شو.

دېوال وړیا جوړ شو، حال دا چې د کلي خلکو مېلمه پالنه نه وه کړې، نو ظاهر کې دا هم عجیبه ښکاره شوه.

خو خضر علیه السلام ته الله تعالی د دې پېښنو پټ حکمت وربښودلی و

دا موږ ته دا درس راکوي چې انسان ډېر وخت د نیمګړو معلوماتو په بنیاد فیصله کوي. که ټول حقیقت معلوم نه وي، نو د انسان فیصله هم غلطه کېدای شي.

لوی درس دا دی:

انسان ظاهرویني، خو الله تعالی ظاهر، باطن، ماضي، حال، آینده، نیتونه او پایلې ټولې پېژني.

(۲)

د ماهي عجیبه لاره .

په کیسه کې ماهي په سمندر کې عجیبه لاره نیسي. قرآن د دې لپاره دوه مهم الفاظ کارولي دي:

سَرَبًا ـــ پټه، ځانګړې، سرنګ ته ورته لاره.

عَجَبًا ـــ حیرانوونکې او عجیبه پېښه.

دا اصل کې د الله له طرفه یوه خاصه نښه وه، څو موسیٰ علیه السلام د خضر علیه السلام ځای وپېژني.

ساینسي لحاظه موږ قطعي نه شو ویلای چې دا لاره څنګه وه. کېدای شي الله تعالی د اوبو، ژوند، حرکت، یا کوم بل پټ نظام له لارې دا نښه پیدا کړې وي. خو د دې حقیقي کیفیت الله تعالی ته معلوم دی.

دلته محتاطه خبره دا ده:

د ماهي لاره د الله له طرفه يوه عجيبه نښه وه. موږ يې د طبيعي مثالونو له لارې ذهن ته نږدې کولای شو، خو حقيقي کيفيت يې الله ښه پوهېږي.

(۳)

هېرېدل او بيا ور يادېدل .

د موسیٰ عليه السلام ځوان ملګري د ماهي خبره هيره کړه. دا د انسان د فطري کمزورۍ سره تړاو لري.

انسان کله کله يو مهم شی ووينې، خو د ستړيا، لوږې، سفر، فکر، يا بې پامۍ له امله يې په وخت نه وايي. بيا وروسته د بلې خبرې له امله هغه شی ور ياد شي.

کله چې موسیٰ عليه السلام د خوراک غوښتنه وکړه، د هغه ملګري ته د ماهي پېښه ور ياده شوه.

دا له رواني اړخه ډېره طبيعي خبره ده. د انسان حافظه د ستړيا، لوږې، فشار او مصروفيت له امله کمزورې کېدای شي.

درس دا دی:

انسان کمزوری دی، هېرېدل ورسره کېږي، نو په مهمو کارونو کې توجه، يادونه او صبر ډېر ضروري دي.

(۴)

د کښتۍ سوری کول .

خضر عليه السلام کښتۍ لږ عيبجنه کړه. موسیٰ عليه السلام ته ظاهر کې دا کار خطرناک ښکاره شو، ځکه کښتۍ کې خلک سپاره وو او د سوری کېدو له امله د ډوبېدو خطر پيدا کېدای شو.

خو وروسته معلومه شوه چې کښتۍ د غریبو خلکو وه. هغوی په سمندر کې کار کاوه او د همدې کښتۍ له لارې یې خپل رزق ګټلو. په مخکې لاره کې یو ظالم پاچا و، چې هره ښه کښتۍ یې په زور اخیسته

خضر علیه السلام کښتۍ لږ عیبجنه کړه، تر څو پاچا یې وانخلي او کښتۍ د غریبو خلکو سره پاتې شي.

د عقل له مخې دا داسې ده:

کله کله یو کوچنی تاوان د لوی تاوان د مخنیوي سبب کیږي.

لکه یو ډاکټر چې د علاج لپاره عملیات کوي. ظاهر کې زخم او درد وي، خو مقصد د لوی مرض علاج وي.

یا لکه یو سړی چې خپل مال لږ پټ یا عیبجن ښکاره کړي، تر څو ظالم یې ترې وانخلي.

درس دا دی:

هر ظاهري تاوان شر نه وي. کله کله یو کوچنی تاوان د الله له طرفه د لوی حفاظت سبب وي.

(۵)

د هلک پېښه .

دا د کیسې تر ټولو حساسه برخه ده.

خضر علیه السلام یو هلک وواژه. موسیٰ علیه السلام سخت اعتراض وکړ، ځکه ظاهر کې هلک بې ګناه ښکاره کېده.

وروسته خضر علیه السلام تشریح کړه چې د هلک مور او پلار مؤمنان وو، او الله تعالی پوهېده چې دا هلک به په راتلونکي کې د هغوی لپاره د سرکشۍ او کفر لویه فتنه شي.

دا برخه عادي ساينس نه شي تشريح کولای، ځکه دلته د راتلونکي د غيب خبره ده. انسان د راتلونکي يقيني علم نه لري، خو الله تعالی يې لري.

دا د عام انسان لپاره قانون نه دی. هېڅوک حق نه لري چې د پټ علم يا آينده د ګمان په نوم چا ته ضرر ورسوي.

دا د خضر عليه السلام خاصه واقعه وه، چې د الله له خاص علم او حکم سره تړلې وه.

درس دا دی:

انسان يوازې ظاهر ويني، خو الله تعالی د انسان آينده، باطن، پايله، او د نورو خلکو پر ژوند د هغه اثر ټول پوهېږي.

(۶)

د دېوال جوړول .

خضر عليه السلام په هغه کلي کې يو دېوال ورغوه، حال دا چې د کلي خلکو موسیٰ عليه السلام او خضر عليه السلام ته خوراک ور نه کړ او مېلمه پالنه يې ونه کړه.

موسیٰ عليه السلام ته دا خبره عجيبه ښکاره شوه، ځکه خلک ښه اخلاق نه کوي، خو خضر عليه السلام بيا هم د هغوی په کلي کې دېوال ورېيا جوړوي.

وروسته خضر عليه السلام تشريح کړه چې دېوال د دوو يتيمو هلکانو و. د دېوال لاندې د هغوی خزانه پټه وه. د هغوی پلار نيک انسان و. الله تعالی غوښتل چې دېوال پاتې شي، خزانه پټه پاتې شي، او کله چې هلکان لويان شي، خپله خزانه راوباسي.

دا له عقلي اړخه داسې فهمېږي:

کله کله یو ارزښتناک شی تر مناسب وخت پورې پټ ساتل کېږي، څو د کمزورو خلکو حق ضایع نه شي.

که دېوال راپرېوتی وای، خزانه به ښکاره شوې وه، او خلکو به اخیستې وای. ځکه یتیمان کمزوري وو او خپل مال یې نه شو ساتلای

درس دا دی:

الله تعالی کله کله د انسان حق داسې ساتي چې انسان خپله هم پرې خبر نه وي.

(۷)

د تولې کیسې لوی ساینسي او عقلي درس .

د دې کیسې لوی درس دا دی:

که د انسان معلومات نیمګړي وي، فیصله یې هم نیمګړې کېدای شي

موسیٰ علیه السلام د پېښو ظاهر ولید. خضر علیه السلام ته د الله له طرفه د هغو پټ حکمت معلوم و.

نو یوې پېښې دوه اړخونه لرل:

یو ظاهر، چې موسیٰ علیه السلام لیده.

بل پټ حقیقت، چې الله تعالی خضر علیه السلام ته ورښودلی و.

همدا د انسان د ژوند حقیقت هم دی. ډېر وخت انسان یو کار بد ګڼي، خو وروسته معلومه شي چې په هغه کې خیر و. او کله کله انسان یو شی ښه ګڼي، خو په حقیقت کې هغه ورته تاوان وي.

الله تعالی فرمايي:

وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ

يعني:

کېدای شي تاسو يو شی بد ګڼئ، حال دا چې هغه ستاسو لپاره خير وي. او کېدای شي تاسو يو شی خوښوئ، حال دا چې هغه ستاسو لپاره شر وي. الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

د ټولې کيسې اصل درس دا دی:

انسان محدود علم لري، خو الله تعالی کامل علم لري. انسان بايد د ظاهر پر بنياد ژر وروستۍ فيصله ونه کړي، بلکې صبر، ادب، توکل او د الله پر حکمت باور ولري.

************************************************************

سورة الکهف، ۸۳ آيت

وَيَسْأَلُونَكَ عَن ذِي الْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُو عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا(۸۳)

ټکي په ټکي ترجمه

وَيَسْأَلُونَكَ ــــ او دوی له تا پوښتنه کوي / عَن ذِي الْقَرْنَيْنِ ــــ د ذوالقرنين په اړه / قُلْ ــــ ووايه / سَأَتْلُو ــــ زه به بيان کړم / عَلَيْكُم ــــ تاسو ته / مِّنْهُ ــــ د هغه په اړه / ذِكْرًا ــــ يوه يادونه او عبرت لرونکې کيسه.

لفظي خو د سياق مطابق ترجمه.

او دوی له تا څخه د ذوالقرنين په اړه پوښتنه کوي. ووايه: زه به تاسو ته د هغه په اړه يوه يادونه او عبرت لرونکی بيان وکړم.

پښتو بيل بيل ټکي ترجمه د سياق او ادب مطابق

وَ ــــ او

دا د نوي خبرې پيل دی. د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام له کيسې وروسته اوس د ذوالقرنين کيسه شروع کيږي.

يَسْأَلُونَكَ ـــ دوی له تا پوښتنه کوي

يعني خلک له رسول الله ﷺ څخه د ذوالقرنين په اړه پوښتنه کوي.

عَن ـــ د ... په اړه

ذِي الْقَرْنَيْنِ ـــ د ذوالقرنين په اړه

ذو معنا لري: خاوند / لرونکی.

قرنين لفظاً معنا لري: دوه ښکرونه / دوه اړخونه / دوه طرفونه

خو دلته دا د يو لوی او ځواکمن حاکم لقب دی. د دې لقب دقيق حقيقت الله ښه پوهيږي.

قُلْ ـــ ووايه

يعني ای محمده ﷺ! دوی ته ووايه.

سَأَتْلُو ـــ زه به تلاوت کړم / زه به بيان کړم

يعني زه به تاسو ته د وحی له مخې د هغه کيسه بيان کړم، نه د خپل ګمان له مخې.

عَلَيْكُم ـــ پر تاسو / تاسو ته

يعني ستاسو لپاره به يې بيان کړم.

مِّنْهُ ـــ د هغه څخه / د هغه په اړه

يعني د ذوالقرنين د حال او کيسې څخه.

ذِكْرًا ـــ يادونه / بيان / عبرت لرونکې کيسه

دلته معنا دا ده: د هغه د کیسې هغه برخه چې د نصیحت، عبرت او هدایت لپاره مهمه ده.

## تفسیر

په دې آیت کې الله تعالی د ذوالقرنین کیسه شروع کوي.

ځینو خلکو له رسول الله ﷺ څخه د ذوالقرنین په اړه پوښتنه وکړه. الله تعالی خپل نبي ته وفرمایل:

ورته ووایه: زه به تاسو ته د هغه په اړه یوه یادونه بیان کړم.

یعني د ذوالقرنین کیسه به د وحی له لارې بیان شي، نه د خلکو د اټکلونو او تاریخي افسانو له لارې.

قرآن دلته د ذوالقرنین نوم، قوم، دقیق زمانه او ټول تفصیل نه بیانوي، ځکه د قرآن مقصد یوازې تاریخ نه دی. قرآن هغه برخه بیانوي چې انسان ته هدایت، عبرت او د ژوند درس ورکوي.

ذوالقرنین یو ځواکمن حاکم و. الله ورته په ځمکه کې قوت، واک او اسباب ورکړي وو. خو هغه له خپل قدرت څخه ظلم نه کاوه، بلکې د عدل، خیر او خلکو د حفاظت لپاره یې کاراوه.

## د ادب او سیاق مهمه نکته.

قرآن د ذوالقرنین د کیسې په شروع کې وایي:

مِّنْهُ ذِكْرًا

یعنې: د هغه په اړه یوه یادونه.

دا ښیي چې قرآن د هرې کیسې هر جز نه راوړي، بلکې هغه برخه راوړي چې زموږ د هدایت لپاره ضروري ده.

نو د ذوالقرنين په اړه ډېر بحثونه شوي چې هغه څوک و، خو د قرآن اصل مقصد دا دی:

قدرت که د الله د بندګۍ او عدل لپاره استعمال شي، نعمت دی؛ خو که د کبر او ظلم لپاره استعمال شي، فتنه ده.

درس:

قرآن د تاريخ د معلوماتو لپاره نه، بلکې د هدايت، عبرت او د انسان د اصلاح لپاره بيان کوي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

۰۶-جولای-۲۰۲۶ م

## د ذوالقرنين په اړه معاصر ساينسي او تاريخي بحث

لومړی اصل: قرآن قطعي څه وايي؟

(۱)

قرآن کريم په سورة الکهف کې د ذوالقرنين نوم، قوم، پلار، نسل، دقيق هېواد، او د دېوال دقيق ځای نه دی بيان کړی. قرآن يوازې دا وايي چې خلکو له رسول الله ﷺ څخه د ذوالقرنين په اړه پوښتنه وکړه، الله تعالی هغه ته په ځمکه کې قدرت او اسباب ورکړي وو، هغه درې مهم سفرونه وکړل، د يأجوج او مأجوج د فساد مخه يې ونيوله، او د دوو غرونو ترمنځ يې له اوسپنې او ويلې شوې مسو څخه يو قوي بند جوړ کړ.

Quran.com

د قرآن له مخې قطعي ټکي دا دي:

ذوالقرنين يو ځواکمن، عادل او د الله منونکی حاکم و.

الله تعالی ورته اسباب، قدرت او تدبير ورکړی و.

هغه د خلکو د ظلم لپاره نه، بلکې د اصلاح او حفاظت لپاره خپل قدرت استعمال کړ.

د بند جوړولو کې «زبر الحديد»، يعنې د اوسپنې ټوټې، او« قطر»، يعنې ويلې شوې مس يا فلزي مواد، ياد شوي دي.

Quran.com

نو هر هغه څه چې د دې نه زيات وي، لکه "هغه خامخا «کوروش» و" يا "هغه خامخا سکندر و" يا "دېوال خامخا په فلاني ځای کې دی"، دا ټول نظريې دي، قطعي تفسير نه دی.

(۲)

د ذوالقرنين د هويت په اړه درې لويې نظريې

<u>لومړۍ نظريه:</u> ذوالقرنين سکندر مقدوني و.

دا نظريه په پخوانيو مفسرينو او په ډېرو غربي اکاډميکو څېړنو کې مشهوره شوې. د دې نظريې اصل دليل دا دی چې د سکندر په اړه په لرغونو يوناني، سرياني، عيسوي او شرقي افسانوي روايتونو کې داسې کيسې شته چې هغه د نړۍ لوېديځ او ختيځ ته سفر کوي، د يأجوج او مأجوج په شان وحشي قومونه بندوي، او د اوسپنې دروازه يا دېوال جوړوي. معاصر څېړونکي لکه «کوين فان بلادل» او «توماسو تېسبي» د قرآن د ذوالقرنين کيسه د سرياني سکندري روايتونو سره نږدې بولي.

Academia +1

خو دلته يوه مهمه ستونزه ده: تاريخي سکندر مقدوني عموماً د يوناني مشرک ماحول سره تړل شوی، ځان يې د الهی نسبتونو سره هم تړلی،

او د قرآن ذوالقرنین بیا عادل، د الله منونکی او د صالح قدرت نمونه ښکاري. نو ډېر مسلمان علما وايي چې که د سکندر نظریه ومنل شي، نو دا به د "تاریخي سکندر" نه، بلکې د هغه "افسانوي/روایتي سکندر" سره تړاو ولري، چې په ختیځو روایتونو کې کله کله د مؤمن یا الهام اخیستونکي پاچا په بڼه انځور شوی.

Wikipedia +1

د دې نظریې قوت: د "دوه ښکره" لقب، د ختیځ او لوېدیځ سفرونه، او د یأجوج او مأجوج دېوال د سکندري روایتونو سره قوي مشابهت لري.

د دې نظریې کمزوري: تاریخي سکندر د قرآن د صالح او موحد حاکم له تصویر سره سم نه ښکاري.

دوهمه نظریه: ذوالقرنین کوروش کبیر و.

په معاصر مسلمانانو کې، په ځانګړي ډول د ابوالکلام آزاد، مودودي، علامه طباطبایي او ځینو نورو مفسرینو له لارې، د کوروش نظریه ډېره مشهوره شوه. د دې نظریې دلیل دا دی چې کوروش د فارس لوی حاکم و، د بابل له فتحې وروسته یې د ځینو خلکو او معابدو د بیا رغولو سیاست وکړ، او د یهودو په تاریخ کې نسبتاً ښه نوم لري. د برېټش میوزیم د کوروش د استوانې(د کورش استوانه هغه تاریخي لیکنه ده چې د کورش بریا او سیاست بیانوي) په اړه وايي چې دا د بابل د فتحې، د معابدو د بیا رغولو، او د نابوند(د بابل پخواني پاچا ) له لوري وړل شوو مقدسو مجسمو د بېرته ستنولو بابلي متن دی.

British Museum

د کوروش نظریه له اسلامي نظره ځکه خلکو ته نږدې ښکاري چې قرآن ذوالقرنین د عادل، منظم، د الله نعمت پېژندونکي او د خلکو خدمت کوونکي حاکم په توګه وړاندې کوي. کوروش هم په تاریخ کې

د ډېرو نورو فاتحانو په نسبت د نرم سیاست او د قومونو د زغملو له امله یادېږي. خو دا هم قطعي ثبوت نه دی؛ ځکه د کوروش په اړه د "ذوالقرنین" لقب مستقیم او قطعي تاریخي سند نه لري، او هغه دېوال چې قرآن یې یادوي، د کوروش له ژوند سره په قطعي توګه نه دی تړل شوی.

Wikipedia +1

د دې نظریې قوت: کوروش د قرآن د ذوالقرنین د صالح حاکم له تصویر سره تر سکندر ښه برابر ښکاري.

د دې نظریې کمزوري: د یأجوج او مأجوج د اوسپنې/مسي دېوال د کوروش سره په قطعي تاریخي سند نه دی ثابت.

دریمه نظریه: ذوالقرنین بل نامعلوم صالح حاکم و

دا تر ټولو محتاطه نظریه ده. د دې له مخې ذوالقرنین نه حتماً سکندر دی، نه حتماً کوروش، بلکې یو داسې لوی صالح حاکم و چې الله تعالی یې نوم پټ پرېښود، ځکه د قرآن مقصد د هغه نوم نه، بلکې د هغه سیرت دی.

دا نظریه له دیني احتیاط سره ډېره مناسبه ده، ځکه قرآن نوم نه دی بیان کړی. که نوم زموږ د هدایت لپاره ضروري وای، قرآن به یې بیان کړی وای.

زما محتاطه نتیجه:

د معاصر اکاډمیکو څېړنو له مخې د سکندر د افسانوي روایتونو سره ډېر ادبي مشابهت شته. د معاصر مسلمان مفسرینو له مخې کوروش له دیني او اخلاقي تصویر سره ډېر نږدې ښکاري. خو د قطعي اسلامي جواب له مخې: الله ښه پوهېږي چې ذوالقرنین دقیقاً څوک و.

(۳)

د دېوال د موقعيت په اړه معاصر نظريات

لومړی ځای: دربند، د قفقاز او کسپين سمندر ترمنځ

دربند، چې په داغستان کې دی، د قفقاز غرونو او کسپين سمندر ترمنځ په ډېر مهم تنګ ځای کې پروت دی. د يونسکو د معلوماتو له مخې د دربند لويې قلعې او دېوالونه د ساساني دولت له خوا جوړ شوي وو؛ دوه دېوالونه تقريباً له ۳۰۰ تر ۴۰۰ مترو پورې له يو بل نه لرې وو، او شاوخوا ۳ اعشاريه ۶ کيلومتره د کسپين سمندر له غاړې نه تر غره پورې غځېدلي وو.

UNESCO World Heritage Centre

ولې دا ځای د ذوالقرنين له دېوال سره تړل کېږي؟ ځکه دا ځای واقعاً د "دروازې" په شان دی: له يوې خوا غرونه، له بلې خوا سمندر، او منځ کې تنګه لاره. د شمال له لوري د کوچي قومونو د حملو د مخنيوي لپاره دا ډېر ستراتيژيک ځای و. له همدې امله د تاريخ په اوږدو کې د "کسپين دروازه" او د سکندر دروازې په نوم هم ياد شوی.

UNESCO World Heritage Centre

خو ستونزه دا ده چې موجود دربند دېوالونه د ډبرو او ساساني جوړښتونو څخه دي، نه د قرآن د ذکر شوې اوسپنې او ويلې شوې مسو ښکاره جوړښت. همدارنګه د دې معلومه تاريخي نېټه د ساساني دوره ده، يعنې د قرآن له ذوالقرنين سره قطعي تړاو نه لري.

UNESCO World Heritage Centre +1

نتيجه: دربند د جغرافيې له مخې قوي احتمال ښکاري، خو د موادو او تاريخ له مخې قطعي نه دی.

دوهم ځای: داریال دره، د روسیې او ګرجستان ترمنځ

داریال دره د قفقاز په غرونو کې یوه ډېره تنګه او خطرناکه لاره ده. معاصرې څېړنې دا سیمه د "کسپین دروازو" او د وروستۍ زمانې د یأجوج او مأجوج له روایتونو سره تړلې ګڼي، ځکه له شمال نه د هونانو او نورو قومونو د راتګ لارې هم د همدې غرنیو لارو سره تړلې وې. د ابډنبره پوهنتون څېړنه وایي چې د داریال دره په لرغوني او منځني تاریخ کې د "کسپین دروازو" په نوم مشهوره وه او د وروستۍ زمانې له وېرو سره تړل شوې وه(یعنې هغه اندیښنې چې خلک یې د قیامت نه د مخکې زمانې په اړه لري لکه فتنې،یاجوج او ماجوج.......).

Edinburgh Research

د قرآن له متن سره د داریال د ځای یو قوي اړخ دا دی چې هلته واقعاً دوه غرني اړخونه او تنګه لاره شته. قرآن وایي ذوالقرنین "د دوو غرونو ترمنځ" ورسېد. دا ډول جغرافیه د قفقاز غرنیو درو سره ښه برابره ده.

Quran.com +1

خو ستونزه دا ده چې تر اوسه هلته داسې قطعي لرغونپېژندنی ثبوت نه دی موندل شوی چې ووایو: "همدا د اوسپنې او مسو هغه قرآني سد دی.

نتیجه: د جغرافیې له مخې داریال ډېر په زړه پورې احتمال دی، خو د لرغونپېژندنې له مخې قطعي نه دی.

دریيم ځای: د ګورګان لوی دېوال، د ایران شمال

د ګورګان دېوال د ایران په شمال کې یو ډېر لوی لرغونی دفاعي دېوال دی. د یونسکو له مخې دا دېوال نږدې ۲۰۰ کیلومتره اوږد دی، ۳۸ قلعې ورسره تړلې دي، او د ۴۲۰ میلادي کلونو نه تر ۵۳۰ میلادي کلونو پورې د ساساني دورې په وخت کې جوړ شوی یا فعال شوی. دا د مرکزي اروپا او چین ترمنځ تر ټولو اوږد لرغونی قلعه لرونکی دفاعي خنډ بلل شوی.

UNESCO World Heritage Centre

دا ځای له علمي نظره ډېر مهم دی، ځکه د سترې انجینرۍ، د خښتو جوړولو، د اوبو کانالونو، قلعو، او د پوځ د ځای پر ځای کولو ډېر لوی نظام پکې ښکاري. د ایډنبره پوهنتون راپور هم دا د لرغوني ایران له سترو سرحدي دفاعي سیستمونو څخه ګڼي.

HCA +1

خو د قرآن له دېوال سره یې ستونزه دا ده چې ګورګان دېوال عموماً د خښتو دی، ډېر اوږد خطي سرحدي دېوال دی، او د دوو غرونو ترمنځ د اوسپنې او مسو د بند په شکل نه دی. قرآن د ذوالقرنین سد د دوو غرونو ترمنځ، د اوسپنې د ټوټو او ویلې شوې مسو سره یادوي.

Quran.com +1

نتیجه: ګورګان دېوال د ساساني دفاعي انجینرۍ لوی مثال دی، خو د قرآن د ذوالقرنین د سد سره پوره نه برابرېږي.

څلورم ځای: د چین لوی دېوال

ځینو خلکو دا نظریه هم وړاندې کړې چې ښایي د چین لوی دېوال وي. خو دا نظریه ډېره کمزورې ده. د چین دېوال د غرونو ترمنځ د اوسپنې او

ويلې شوې مسو يو سد نه دی، بلکې اوږد دفاعي ديوال دی چې په بېلابېلو دورو کې د ختو، خښتو، ډبرو او نورو موادو څخه جوړ شوی.

نتيجه: د چين دېوال د قرآن له متن سره ډېر کم برابر دی.

(۴)

د قرآن د دېوال ساينسي/انجينري تشريح

قرآن فرمايي:

آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ

يعني: د اوسپنې ټوټې راوړئ

بيا فرمايي:

حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ

يعني: تر دې چې د دواړو غرونو تر منځ کندو يې ډک کړ

بيا فرمايي:

انفُخُوا

يعني: اور ته پوکی ورکړئ، يا هوا ورکړئ، تر څو اوسپنه سره توده شي.

بيا فرمايي:

آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا

يعني: ويلې شوې مس/فلزي مواد راوړئ چې پرې يې توی کړم.

Quran.com

دا د انجينرۍ سره ډېر نږدې بيان دی.

اوسپنه د اصلي قوت لپاره کارېږي.

تودوخه او اور د فلز د نرمېدو، سره کېدو او ترل کېدو لپاره کارېږي.

ويلې شوې مس د تشو د ډکولو، سطحې د پوښلو، د کلکوالي د زياتولو، او د زنګ/خرابېدو د کمولو لپاره ګټوره کېدای شي.

د دوو غرونو ترمنځ جوړول يعني ذوالقرنين طبيعي غرونه د دفاعي نظام برخه وګرځول، او يوازې منځنۍ خلاصه لاره يې بنده کړه.

دا د معاصرې انجينرۍ له نظره ډېر هوښيار کار دی: که دوه غرونه موجود وي، ټول دېوال له صفره نه جوړوې؛ يوازې هغه تنګه لاره بندوې چې د دښمن د تېرېدو ځای وي.

**(۵)**

<u>نو ولې موږ نن دا سد په قطعي ډول نه شو موندلای؟</u>

درې امکانونه شته:

<u>يو امکان دا دی</u> چې سد په داسې سيمه کې وي چې تر اوسه سمه لرغونپېژندنه پکې نه ده شوې.

<u>دوهم امکان دا دی</u> چې سد د وخت په تېرېدو، زلزلو، جګړو، زنګ، خاورو، غرنيو خوځښتونو، يا انساني تخريب له امله پټ يا خراب شوی وي.

<u>درېيم امکان دا دی</u> چې موجود ځينې ديوالونه، لکه دربند يا ققفازي دفاعي جوړښتونه، وروسته خلکو د ذوالقرنين له سد سره ګډ کړي وي، خو اصلي سد بل ځای وي.

<u>څلورم امکان دا دی</u> چې د يأجوج او مأجوج مسئله يوازې عادي جغرافيه نه ده، بلکې د الله تعالی د غيبي وعدې او قيامت د نښو سره

ترلي ده؛ نو تر هغې وخته چې الله وغواړي، انسان به يې په بشپړ ډول ونه پېژني.

له همدې امله باید محتاط پاتې شو: د ذوالقرنین د سد په اړه جغرافيايي احتمالات شته، خو قطعي ځای نه دی ثابت.

(۶)

زما متوازنه نتيجه

که موږ يوازې معاصرې اکاډميکې څېړنې وګورو، نو ډېرى بحثونه د سکندر افسانوي روايتونو، سرياني کيسو، او د قفقاز د دروازو په شاوخوا څرخي.

Academia +2

که موږ معاصر مسلمان مفسرين وګورو، نو د کوروش نظريه ډېرو ته ځکه قوي ښکاري چې هغه د قرآن د صالح، عادل او د الله نعمت پېژندونکي حاکم له تصوير سره تر تاريخي سکندر ښه برابرېږي.

Wikipedia +1

که موږ د دېوال موقعيت وګورو، نو تر ټولو ډېر بحث د قفقاز د سيمې، دربند، داریال درې، او کسپين دروازو په اړه دی. دربند جغرافيايي لحاظه قوي دی، داریال د غرونو ترمنځ د لارې له نظره قوي دی، ګورګان د دفاعي انجينرۍ له نظره مهم دی، خو هېڅ يو يې د قرآن د اوسپنې او ويلې شوې مسو سد(ديوال) سره په قطعي ډول نه دی ثابت.

UNESCO World Heritage Centre +2

لنډه خبره

ذوالقرنين څوک و؟

قطعي نه ده معلومه. سکندر، کوروش، او بل نامعلوم صالح حاکم درې مشهورې نظریې دي.

دېوال چېرته و؟

قطعي نه دی معلوم. تر ټولو زیات بحث د قفقاز، دربند، داریال، او ګورګان شاوخوا دی.

علمي نښه څه ده؟

قرآن د اوسپنې، اور، تودوخې، ویلې شوې مسو، او د دوو غرونو ترمنځ دفاعي جوړښت یادونه کوي؛ دا د فلزي انجینرۍ او دفاعي جغرافیې له نظره ډېر قوي او معقول بیان دی.

تر ټولو محتاط اسلامي جواب:

ذوالقرنین یو صالح او عادل حاکم و، الله ورته اسباب ورکړي وو، هغه د خپل قدرت څخه د خلکو د حفاظت لپاره کار واخیست. د هغه د دقیق نوم او د سد(دیوال) د دقیق ځای په اړه الله تعالی ښه پوهېږي.

۰۶-جولای-۲۰۲۶م = د لیکلو تاریخ

---

سورة الکهف، ۸۴ آیت

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا(۸۴)

ټکي په ټکي

إِنَّا ـــ بېشکه موږ / مَكَّنَّا لَهُ ـــ هغه ته مو ټینګ قدرت او واک ورکړی و / فِي الْأَرْضِ ـــ په ځمکه کې / وَآتَيْنَاهُ ـــ او موږ هغه ته ورکړي وو / مِن كُلِّ شَيْءٍ ـــ له هر اړین شي څخه / سَبَبًا ـــ یوه وسیله، لاره، تدبیر او امکان.

## لفظي خو د سياق مطابق پښتو ترجمه

بېشکه موږ هغه ته په ځمکه کې ټينګ قدرت او واک ورکړی و، او له هر اړين شي څخه مو ورته يوه وسيله او لاره ورکړې وه.

## روانه پښتو ترجمه

موږ ذوالقرنين ته په ځمکه کې قوت، واک او پراخ امکانات ورکړي وو، او د هر مهم کار د ترسره کولو لپاره مو ورته اړين وسايل، لارې او تدبير ورکړی و.

## تفسير

په دې آيت کې الله تعالی بيانوي چې د ذوالقرنين قدرت او کاميابي له کومه راغلې وه.

ذوالقرنين يو ځواکمن حاکم و، خو دا قوت يوازې د هغه شخصي استعداد نه و. الله تعالی ورته حکومت، نفوذ، علم، لارې، وسايل او د لويو کارونو د ترسره کولو توان ورکړی و.

الله يوازې واک نه و ورکړی، بلکې د واک د سم استعمال اسباب يې هم ورکړي وو.

د بېلګې په توګه:

د سفر لپاره لارې او سورلی،

د حکومت لپاره اداره او خلک،

د دفاع لپاره لښکر او وسايل،

د ديوال د جوړولو لپاره کارګران او مواد،

او د پرېکړو لپاره علم او تدبير.

ذوالقرنین دا نعمتونه د ظلم لپاره استعمال نه کړل، بلکې د خلکو د خدمت، عدالت او ساتنې لپاره یې وکارول.

د «سبب» مهمه معنا

سبب یوازې علت ته نه وایي، بلکې دلته یې معنا:

هغه وسیله او لاره ده چې انسان پرې خپل مقصد ته رسیږي.

لکه:

قلم د لیکلو سبب دی.

موټر د سفر سبب دی.

علم د سمې پرېکړې سبب دی.

کارګران او مواد د ودانۍ د جوړولو سبب دي.

نو الله تعالی ذوالقرنین ته د خپلو مهمو کارونو لپاره لازم اسباب ورکړي وو.

درس:

دا آیت موږ ته دوه خبرې راښيي.

لومړی: قدرت، علم، حکومت او امکانات د الله ورکړه ده.

دوهم: انسان باید د الله ورکړل شوي اسباب په سمه توګه د عدالت، خدمت او اصلاح لپاره استعمال کړي.

په بل آیت کې بیا ښودل کیږي چې ذوالقرنین دغه ورکړل شوي اسباب څنګه استعمال کړل: فَأَتْبَعَ سَبَبًا

---

سورة الکهف، ۸۵ آیت

فَأَتْبَعَ سَبَبًا(۸۵)

ټکي په ټکي ترجمه

فَـ ـــ نو بیا / أَتْبَعَ ـــ هغه تعقیب کړه / سَبَبًا ـــ یوه لاره، وسیله او د سفر مسیر.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

نو هغه یوه لاره او وسیله تعقیب کړه

روانه ترجمه

نو ذوالقرنین د الله ورکړل شوي اسباب استعمال کړل او د خپل سفر لپاره یې یوه لاره ونیوله.

یا:

بیا ذوالقرنین د خپل مقصد پر لور یوه مناسبه لاره ونیوله.

تفسیر

په مخکېني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې ذوالقرنین ته یې په ځمکه کې قوت، واک، لارې او امکانات ورکړي و.

په دې آیت کې فرمایي:

فَأَتْبَعَ سَبَبًا

یعنې ذوالقرنین د الله ورکړل شوي اسباب په عمل کې استعمال کړل.

هغه یوازې په دې بسنه ونه کړه چې قدرت، وسایل او امکانات لري؛ بلکې سفر یې پیل کړ، لاره یې وټاکله، لازم تیاری یې وکړ او د خپل هدف په لور روان شو.

دا آیت موږ ته ښيي چې یوازې د وسایلو درلودل کافي نه دي. انسان باید هغه وسایل په عقل، تدبیر او هڅه سره استعمال کړي.

د مثال په توګه:

الله تعالی انسان ته عقل ورکوي، خو انسان باید فکر وکړي.

الله تعالی ورته علم ورکوي، خو انسان باید عمل پرې وکړي.

الله تعالی ورته وسایل ورکوي، خو انسان باید هغه په سمه طریقه وکاروي.

الله تعالی ورته د رزق لارې برابروي، خو انسان باید حلاله هڅه وکړي.

<u>د ۸۴ او ۸۵ آیتونو اړیکه</u>

په ۸۴ آیت کې الله تعالی وفرمایل:

وَآتَيْنَاهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا

یعنې:

موږ هغه ته د هر اړین کار لپاره یوه وسیله او لاره ورکړې وه.

بیا په ۸۵ آیت کې فرمایي:

فَأَتْبَعَ سَبَبًا

یعنې:

نو هغه دغه وسیله او لاره استعمال کړه.

ترتیب داسې شو:

الله تعالی اسباب ورکړل.

ذوالقرنین هغه اسباب استعمال کړل.

دا د توکل او عمل ترمنځ ښکلی توازن دی.

درس:

توکل دا نه دی چې انسان هېڅ هڅه ونه کړي او یوازې د نتیجې انتظار وباسي.

حقیقي توکل دا دی:

پر الله باور کول، دعا کول، او ورسره د الله ورکړل شوي روا اسباب په سمه توګه استعمالول.

ذوالقرنین پر الله باور درلود، خو ورسره یې پلان، سفر، قوت، وسایل او عملي کوشش هم استعمال کړ.

اصلي درس:

الله اسباب برابروي، خو انسان باید هغه په هڅه، عقل او تدبیر سره استعمال کړي.

---

سورة الکهف، ۸۶ آیت

حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا(۸۶)

ټکي په ټکي ترجمه

حَتَّىٰ إِذَا — تر دې چې کله / بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ — لوېدیځ ته ورسېد / وَجَدَهَا تَغْرُبُ — لمر یې ولید چې لوېږي / فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ — په تورو او خټه لړونکو اوبو کې(یعني کله چې د لویدیځ خوا ته سفر کې داسې یوې سیمې ته ورسید چې مخکې سمندر و،نو داسې ورته ښکاره شوه لکه لمر چې په تورو او خټه لړونکو اوبو کې لوېږي) / وَوَجَدَ

عِندَهَا قَوْمًا ـــ او د هغې ترڅنګ يې يو قوم وموند / قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ ـــ موږ وويل: اې ذوالقرنينه / إِمَّا أَن تُعَذِّبَ ـــ يا هغوی ته سزا ورکړه / وَإِمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ـــ او يا له هغوی سره د ښه او عادلانه چلند لاره غوره کړه.

## روانه ترجمه

ذوالقرنين خپل سفر ته دوام ورکړ، تر دې چې د ځمکې په لوېديځ لورې کې، يوې داسې سيمې ته ورسيد چې هلته لمر ورته داسې ښکاره شو لکه په تورو او خټه لړونکو اوبو کې چې پټېږي. د هغو اوبو ترڅنګ يې يو قوم وموند. الله ورته وفرمايل: اې ذوالقرنينه! ته اختيار لرې چې د هغوی ظالمانو ته سزا ورکړې، يا د هغوی د اصلاح لپاره له هغوی سره په ښه او عادلانه ډول چلند وکړې.

## د بېل بېل ټکي ترجمه، د سياق مطابق

د آیت اسلوب ډېر قوي دی، ځکه فعل په ماضي شکل راغلی: عَرَضْنَا، یعنې "موږ وړاندې کړ". خو د قیامت پېښه په راتلونکې کې ده. دا د قرآن یو ادبي اسلوب دی؛ داسې راتلونکی حقیقت په ماضي صیغه بیانېږي، ځکه چې د الله په علم او قدرت کې دا خبره دومره یقیني ده لکه واقع شوې چې وي.

نو معنا داسې ده.

موږ به خامخا جهنم د کافرانو مخې ته وړاندې کړو.

د آیت اخلاقي پیغام

دا آیت یوازې د کافرانو د عذاب خبره نه ده؛ دا د هر انسان لپاره د بیدارۍ زنګ دی.

انسان باید له ځانه وپوښتي:

ایا زه له حق نه سترګې پټوم؟

ایا زه د آخرت خبرې یوازې اورم، خو زړه ته یې نه ښکته کوم؟

ایا زما ژوند داسې دی لکه زه به هېڅکله حساب ته نه درېږم؟

ایا زه د دنیا په مصروفیت کې دومره ورک شوی یم چې د قیامت ورځ مې هېره کړې ده؟

په دنیا کې انسان ته فرصت شته: توبه شته، اصلاح شته، رجوع شته، فکر شته، بدلېدل شته. خو قیامت د عمل ځای نه دی؛ د نتیجې ځای دی.

دنیا د ازموینې میدان دی. قیامت د نتیجې اعلان دی.

د انسان لپاره پیغام

هغه حقیقت چې انسان یې په دنیا کې نه مني، په قیامت کې به یې په خپلو سترګو ویني. نو هوښیاري دا ده چې انسان نن راویښ شي، مخکې له دې چې سبا حقیقت د هغه مخې ته داسې ودرېږي چې بیا ترې د تېښتې لار نه وي.

---

سورة الکهف ـ ۱۰۱ آیت

الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ عَن ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا(۱۰۱)

د آیت د سیاق اړیکه

په ۱۰۰ آیت کې الله تعالی وفرمایل:

وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا

یعنې:

او په هغه ورځ به موږ جهنم د کافرانو مخې ته په بشپړ ډول وړاندې کړو.

اوس ۱۰۱ آیت د همدې کافرانو صفت بیانوي. یعني دا هغه خلک وو چې په دنیا کې یې د الله نښې لیدلې، د حق خبرې یې اورېدلې، قرآن ورته رسېدلی و، نصیحت ورته شوی و؛ خو د منلو اراده یې نه لرله.

نو ۱۰۱ آیت مستقله بېله جمله نه ده، بلکې د ۱۰۰ آیت د لِّلْكَافِرِينَ تشریح ده:

جهنم به د هغو کافرانو مخې ته وړاندې شي، چې سترګې یې زما له یاد څخه په پرده کې وې، او د حق اورېدلو توان یې نه درلود.

ټکی په ټکی ترجمه:

الَّذِينَ ـــ هغه کسان چې / كَانَتْ ـــ وې / أَعْيُنُهُمْ ـــ د هغوی سترګې / فِي غِطَاءٍ ـــ په پرده او پوښ کې / عَن ذِكْرِي ـــ زما له یاد او نصیحت څخه / وَكَانُوا ـــ او هغوی داسې وو / لَا يَسْتَطِيعُونَ ـــ چې توان یې نه درلود / سَمْعًا ـــ د حق اورېدلو او منلو.

روانه ترجمه

دا هغه کسان وو چې سترګې یې زما له یاد، نصیحت او هدایت څخه په پرده کې وې، او د حق خبرې د اورېدلو او منلو توان یې نه درلود.

یا د سیاق له مخې لا روانه ترجمه

جهنم به د هغو کافرانو مخې ته وړاندې شي چې په دنیا کې یې سترګې د الله له یاد څخه پټې وې، او زړونه یې دومره بند شوي وو چې د حق خبرې اورېدل او منل یې نه شو زغملای.

تفسیر

دا آیت د هغو خلکو حالت بیانوي چې په ۱۰۰ آیت کې ورته جهنم وړاندې کېږي.

الله تعالی فرمايي چې دا خلک داسې وو چې سترګې یې د الله له ذکر، قرآن، نصیحت او هدایت څخه په پرده کې وې. مطلب دا نه دی چې هغوی فزیکي ړانده وو. هغوی سترګې لرلې، دنیا یې لیدله، آسمانونه یې لیدل، ځمکه یې لیدله، د الله نعمتونه یې لیدل، د رسولانو دعوت یې اورېده، قرآن ورته رسېده، خو د هدایت په نظر یې ورته نه کتل.

دا د سترګو ړوندوالی نه و؛ دا د زړه ړوندوالی و.

ځینې خلک حق ته ګوري، خو د حق د موندلو لپاره نه؛ بلکې د انکار لپاره. ځینې خلک قرآن اوري، خو د هدایت لپاره نه؛ بلکې د اعتراض

لپاره. ځينې خلک نصيحت اوري، خو زړه يې مخکې له مخکې بند وي. داسې انسان ته که سل دليلونه هم راوړې، ګټه نه کوي، ځکه ستونزه د دليل کمزورۍ نه وي؛ ستونزه د زړه بندوالی وي.

وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا يعنې هغوی د حق اورېدلو توان نه درلود.

دا داسې نه ده چې غوږونو يې کار نه کاوه. نه، هغوی آواز اورېده، خبرې يې اورېدې، خو د منلو په نيت يې نه اورېدې. د هدايت غوږ يې مړ شوی و. کله چې انسان په تکرار سره حق رد کړي، نصيحت سپک وګڼي، د الله ذکر ته شا کړي، او يوازې د خپل نفس خبره ومني، ورو ورو د حق اورېدل ورته درانده شي.

بيا قرآن ورته سخت ښکاري.نصيحت ورته تريخ ښکاري.د آخرت خبره ورته درنه ښکاري.د الله ذکر ورته ستړيا ښکاري.او د دنيا خبرې ورته خوند ورکوي.

دا د انسان د سقوط خطرناک پړاو دی: کله چې باطل ورته خوند ورکوي، خو حق ورته دروند ښکاري.

د مهمو کلمو ژوره معنی

الَّذِينَ

دا کلمه دلته ډېر مهمه ده، ځکه له ۱۰۰ آيت سره اړيکه لري.

په ۱۰۰ آيت کې وويل شول:

جهنم به د کافرانو مخې ته وړاندې شي.

اوس ۱۰۱ آيت وايي:

هغه کافران چې ...

نو دا آیت د هغو کافرانو صفت بیانوي. ځکه باید ترجمه داسې وشي چې اړیکه پکې ښکاره وي:

هغه کافران چې سترګې یې زما له یاد څخه په پرده کې وې ...

أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ

لفظي معنی:

د هغوی سترګې په پرده کې وې.

خو د سیاق له مخې یې معنی دا ده:

هغوی حق ته د هدایت په نظر نه کتل.د الله نښې یې لیدلې، خو عبرت یې نه اخیست.د دنیا ظاهر یې لید، خو د هغې تر شا خالق یې نه پېژانده.قرآن ورته رسېده، خو زړه یې پرې نه خلاصېده.

نو دا فزیکي ړوندوالی نه دی؛ دا د بصیرت ړوندوالی دی.

عَن ذِكْرِي

ذِكْرِي یوازې په ژبه "الله" ویل نه دي. دلته معنی پراخه ده:

زما یاد،زما قرآن،زما نصیحت،زما هدایت،زما آیتونه،او هغه حق چې انسان الله ته ورګرځوي.

نو عَن ذِكْرِي معنی:

زما له یاد او هدایت څخه لرې، بېپروا او پرده لرونکي وو.

لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا

لفظي معنی:

د اورېدلو توان یې نه درلود.

خو مقصد دا نه دی چې غوږونه يې کاڼه وو. مقصد دا دی چې د حق خبرې يې د منلو، فکر کولو او تسليمېدو په نيت نه شوای اورېدلای.

دا هغه حالت دی چې انسان ته حق ورسېږي، خو زړه يې ورته ووايي: مه يې منه، مه يې اوره، مه پرې فکر کوه.

## د علماوو د تفسير خلاصه

د ابن کثير رحمه الله د تفسير له مخې، د دې آيت معنی دا ده چې هغوی د الله له ذکر څخه غافل او مخ اړوونکي وو؛ نه يې د هدايت منلو اراده لرله او نه يې د حق پيروي کوله. د اورېدلو توان نه لرل هم په دې معنی دي چې د الله امرونه او نواهي يې نه منل او نه يې پرې ځان پوهول غوښتل.

## معاصر تشريحي اړخ

دا آيت د انسان د زړه او شعور په اړه ډېر ژور حقيقت بيانوي: انسان کله کله هغه څه نه ويني چې مخې ته يې وي، ځکه زړه يې نه غواړي چې ويې مني.

په ورځني ژوند کې هم دا ښکاري. که يو کس له مخکې پرېکړه کړې وي چې زه به دا خبره نه منم، نو که څومره ښه دليل ورته وړاندې شي، بيا هم يې نه مني. هغه اوري، خو د پوهېدو لپاره نه؛ بلکې د ردولو لپاره. هغه ګوري، خو د عبرت لپاره نه؛ بلکې د خپلې خوښې معنا پيدا کولو لپاره.

قرآن دلته د همدې روحاني حالت خبره کوي: داسې سترګې چې ظاهراً خلاصې وي، خو له هدايت څخه پټې وي؛ او داسې غوږونه چې آواز اوري، خو حق نه قبلوي.

خو باید دا روښانه وي چې دا ساینسي تفسیر نه دی. اصلي معنی د قرآن روحاني او اخلاقي معنا ده. معاصر مثالونه یوازې د فهم لپاره دي، نه د آیت قطعي تفسیر.

## د انسان لپاره پیغام

تر ټولو خطرناک حالت دا دی چې انسان حق ته نږدې وي، خو زړه یې پرې بند وي؛ نصیحت اوري، خو اثر پرې نه کوي؛ آیتونه ویني، خو عبرت نه اخلي.

## دا آیت انسان ته وایي:

له هغه حالت نه ووېرېږه چې قرآن واورې، خو زړه دې ونه خوځېږي.له هغه حالت نه ووېرېږه چې د الله نښې ووینې، خو عبرت وانخلې.له هغه حالت نه ووېرېږه چې حق درته راشي، خو ته یې اورېدل هم ونه غواړې.

ځکه تر ټولو لویه محرومي دا نه ده چې انسان حق ونه پېژني؛تر ټولو لویه محرومي دا ده چې حق ورته راشي، خو زړه یې ورته بند وي.

---

سورة الکهف ـ ۱۰۲ آیت

أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِن دُونِي أَوْلِيَاءَ ۚ إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا(۱۰۲)

## د آیت د سیاق اړیکه

په ۱۰۰ آیت کې الله تعالی وفرمایل چې جهنم به د کافرانو مخې ته په ښکاره ډول وړاندې شي.

په ۱۰۱ آیت کې یې د هغوی حالت بیان کړ: سترګې یې د الله له ذکر څخه په پرده کې وې، او د حق اورېدلو توان یې نه درلود.

اوس په ۱۰۲ آیت کې الله تعالی د هغوی غلط ګومان ماتوي: هغوی فکر کاوه چې د الله پر ځای نور کسان، قوتونه، معبودان، مشران، اولیاء، یا وسیلې به یې ساتنه وکړي. خو الله تعالی پوښتنه کوي: آیا دوی داسې ګومان کوي چې زما بندګان زما پر ځای خپل سرپرستان ونیسي او دا کار به ورته ګټه ورسوي؟

## ټکی په ټکی ترجمه

أَفَحَسِبَ — نو آیا ګومان کړی؟ / الَّذِينَ كَفَرُوا — هغو کسانو چې کافر شول / أَن يَتَّخِذُوا — چې ونیسي / عِبَادِي — زما بندګان / مِن دُونِي — زما پر ځای / أَوْلِيَاءَ — سرپرستان او تکیه ځایونه / إِنَّا — بېشکه موږ / أَعْتَدْنَا — تیار کړی دی / جَهَنَّمَ — جهنم / لِلْكَافِرِينَ — د کافرانو لپاره / نُزُلًا — د رسېدو او مېلمستیا ځای،( خو د عذاب په توګه)

## پښتو روانه ترجمه

نو آیا هغه کسان چې کافر شول، داسې ګومان کوي چې زما بندګان به زما پر ځای خپل ساتونکي او تکیه‌ځایونه ونیسي؟ بېشکه موږ د کافرانو لپاره جهنم د هغوی د رسېدو او د مېلمستیا د ځای په توګه تیار کړی دی.

## تفسیر

دا آیت د انسان د غلطې تکیې پرده پورته کوي.

انسان کله کله الله پرېږدي او په مخلوق تکیه کوي. کله په مال، کله په قدرت، کله په خلکو، کله په مشرانو، کله په بوتانو، کله په نفس، کله په

شهرت، کله په خپل عقل، او کله په داسې کسانو یا قوتونو چې خپله هم د الله بندګان دي.

الله تعالی په دې آیت کې د تعجب او ملامتۍ په انداز پوښتنه کوي:

آیا دا خلک رښتیا داسې فکر کوي چې زما بندګان به زما پر ځای د دوی ساتونکي شي؟

دا ډېره ژوره خبره ده. ځکه هر هغه څه چې انسان یې د الله پر ځای خپل مطلق تکیه‌ځای وګرځوي، هغه خپله محتاج دی. فرښتې د الله بندګان دي. پیغمبران د الله بندګان دي. نیکان د الله بندګان دي. انسانان، قوتونه، نظامونه، مال، مقام، ټول د الله تر حکم لاندې دي. نو مخلوق څنګه د خالق پر ځای د انسان نجات ورکوونکی کېدای شي؟

د آیت مطلب دا نه دی چې انسان دې له خلکو مرسته نه غواړي، یا د اسبابو استعمال دې پرېږدي. نه، دنیا د اسبابو ځای دی. انسان له ډاکټر، استاد، عالم، مشر، ملګري او کورنۍ مرسته اخیستلای شي. خو خطر هغه وخت پیدا کېږي چې انسان مخلوق ته داسې مقام ورکړي لکه هغه له الله پرته مستقل نجات ورکوونکی، ساتونکی، یا د تقدیر مالک وي.

همدلته شرک، غفلت او د زړه انحراف شروع کېږي.

د آیت په دوهمه برخه کې الله تعالی فرمايي:

إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا

یعنې: بېشکه موږ د کافرانو لپاره جهنم تیار کړی دی.

دلته نُزُلًا ډېره درنه کلمه ده. عادي استعمال کې "نُزُل" هغه څه ته ویل کېږي چې د مېلمه د راتګ لپاره تیار وي؛ لکه مېلمستون، ځای، یا د مېلمه پالنې سامان. خو دلته دا کلمه د ډېر سخت خبرداري په معنی

راغلي ده: هغوی چې د الله پر ځای يې غلط تکيه‌ځايونه نيولي وو، د هغوی لپاره د عزت مېلمستون نه، بلکې جهنم تيار دی.

يعنې دوی فکر کاوه چې خپل جوړ کړي سرپرستان به يې وژغوري، خو حقيقت دا دی چې د دوی د رسېدو ځای جهنم دی.

## د مهمو کلمو ژوره معنی

### أَفَحَسِبَ

دا يوازې ساده پوښتنه نه ده. دا د انکار، تعجب او ملامتۍ پوښتنه ده.

يعنې:

آيا دوی رښتيا داسې ګومان کړی؟

آيا دوی داسې بې‌فکره شول؟

آيا دوی خيال کاوه چې دا کار به ورته ګټه ورسوي؟

په دې کې د غلط باور رد دی.

### الَّذِينَ كَفَرُوا

دلته هغه خلک مراد دي چې حق يې رد کړ، د الله له ذکر څخه يې مخ واړاوه، د هدايت اورېدلو ته تيار نه شول، او د الله پر ځای يې نور تکيه‌ځايونه ونيول.

دا کلمه له ۱۰۰ او ۱۰۱ آيتونو سره تړلې ده.

### عِبَادِي

زما بندګان

دا کلمه ډېر مهم ادب لري. الله تعالی هغه موجودات چې خلک يې د الله پر ځای نيسي، "زما بندګان" بولي.

يعني هغوی که فرښتې وي، پیغمبران وي، صالحين وي، يا نور مخلوقات وي، ټول د الله بندګان دي. دوی خالق نه دي، مالک نه دي، مستقل ساتونکي نه دي.

نو څنګه د الله پر ځای نيول کېدای شي؟

مِن دُونِي

معنی:

زما پرته،

زما پر ځای،

له ما نه غير،

زما مقام ته په راوړلو سره.

دلته اصلي خطر په همدې کې دی: مخلوق د الله له اجازې پرته د مستقل تکيه‌ځای په توګه نيول.

أَوْلِيَاءَ

أولياء د ولي جمع ده. معنی يې د سياق له مخې کېدای شي:

سرپرستان،

ساتونکي،

مرستندويان،

تکيه‌ځايونه،

نږدې ملګري چې انسان پرې اعتماد کوي.

خو دلته معنى عامه دوستي نه ده؛ دلته د ديني او عقيدوي تکيې خبره ده، يعنې هغه ځوک يا شی چې انسان يې د الله پر ځای د نجات، ساتنې او مرستې مطلق سرچينه وګڼي.

أَعْتَدْنَا

معنى:

مونږ تيار کړی دی،

برابر کړی دی،

چمتو کړی دی.

دا کلمه د يقين معنى ورکوي. يعنې دا خبره مبهمه نه ده؛ انجام تيار دی.

نُزُلًا

دا ډېره ادبي او درنه کلمه ده.

په اصل کې د مېلمه د راتګ لپاره تيار شوي ځای يا مېلمستيا ته ويل کېږي. خو په دې آيت کې دا د سختې ملامتی او وېرې په معنا استعمال شوې ده.

يعني د کافرانو لپاره چې کوم "استقبال" تيار دی، هغه جهنم دی.

دا د آيت ادبي شدت زياتوي: هغوی د خپلو غلطو سرپرستانو نه د خير تمه لرله، خو د هغوی د راتګ ځای جهنم و.

<u>د آيت معاصر او اخلاقي پيغام</u>

دا آيت يوازې د پخوانيو بوتپرستانو خبره نه ده. دا د هر زماني انسان ته يو سخت خبرداری دی.

نن هم انسان کله کله د الله پر ځای په نورو شيانو مطلقه تکيه کوي.

په پیسو دومره تکیه کوي چې ګومان کوي پیسې به یې هر درد حل کړي.

په قدرت دومره تکیه کوي چې ځان نه ماتېدونکی ګڼي.

په خلکو دومره تکیه کوي چې د الله رضا هېروي.

په عقل دومره غرور کوي چې وحی ته اړتیا نهویني.

په اسبابو کې دومره ډوبېږي چې د اسبابو رب هېر کړي.

خو آیت انسان ته وایي:

مخلوق ته د مخلوق مقام ورکړه، خو د خالق ځای مه ورکوئ.

اسباب استعمال کړه، خو اسباب خدایان مه جوړوه.

له خلکو مرسته واخله، خو زړه دې یوازې الله ته وسپاره.

د دنیا له وسیلو ګټه واخله، خو نجات، عزت، رزق او انجام یوازې د الله په لاس کې وګڼه.

تر ټولو لویه تېروتنه دا ده چې انسان هغه شی خپل تکیه‌ځای کړي چې خپله هم محتاج وي.

د انسان لپاره پیغام

د انسان زړه باید په مخلوق پورې داسې ونه تړل شي چې الله هېر شي. مخلوق وسیله ده، خالق مقصد دی. وسیله استعمالیږي، خو عبادت، توکل او وروستی اعتماد یوازې د الله حق دی.

دا آیت انسان ته وایي:

د مخلوق احترام وکړه، خو عبادت یې مه کوه.

له وسیلو ګټه واخله، خو زړه دې پرې مه تړه.

له خلکو مرسته واخله، خو نجات ترې مه غواړه.

ځکه ساتونکی، مالک، نجات ورکوونکی او د انجام واکمن یوازې الله دی.

هغه څوک چې د خالق پر ځای مخلوق خپل وروستی تکیه‌ځای کړي، په حقیقت کې یې خپل زړه د کمزوري شي لاس ته سپارلی دی. او هغه څوک چې زړه له الله سره وتړي، نو که ټول مخلوق کمزوری شي، هغه بیا هم بې‌تکیې نه وي.

---

سورة الكهف ـ ۱۰۳ آیت

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا(۱۰۳)

د آیت د سیاق اړیکه

په ۱۰۰ آیت کې جهنم د کافرانو مخې ته وړاندې کیږي.

په ۱۰۱ آیت کې د هغوی حالت بیان شو: سترګې یې د الله له ذکر څخه په پرده کې وې، او د حق اورېدلو توان یې نه درلود.

په ۱۰۲ آیت کې د هغوی غلط ګومان رد شو: دوی د الله پر ځای نور تکیه‌ځایونه نیولي وو.

اوس ۱۰۳ آیت یو ډېر قوي سوال کوي:

آیا تاسو ته ووایو چې د عملونو له لحاظه تر ټولو زیات تاوانیان څوک دي؟

دا سوال د عادي معلوماتو لپاره نه دی؛ دا د انسان د ویښولو لپاره دی.
ځکه ډېر خلک فکر کوي چې دوی ښه کار کوي، خو د الله په نزد د

هغوی کارونه بېارزښته شي. د دې پوښتنې بشپړ جواب په ۱۰۴ آیت کې راځي، خو ۱۰۳ آیت د هغې لویې خبرې دروازه خلاصوي.

## ټکی په ټکی ترجمه

قُلْ ــــ ووایه / هَلْ ــــ آیا / نُنَبِّئُكُم ــــ موږ تاسو ته خبر درکړو / بِالْأَخْسَرِينَ ــــ د تر ټولو زیاتو تاوانیانو په اړه / أَعْمَالًا ــــ د عملونو له لحاظه

## روانه ترجمه

ووایه: آیا موږ تاسو ته د هغو خلکو خبر درکړو چې د خپلو عملونو له لحاظه تر ټولو زیات تاوانیان دي؟

## تفسیر

دا آیت ډېر لنډ دی، خو د انسان زړه ته ډېر سخت سوال ږدي.

الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته وایي: خلکو ته ووایه، آیا تاسو ته تر ټولو لویو تاوانیانو په اړه خبر درکړو؟

دلته تاوان د پیسو تاوان نه دی. دا د دوکان، کور، موټر، تجارت یا دنیاوي مقام تاوان نه دی. دا د انسان د ټول ژوند تاوان دی. یعني انسان عمر تېر کړي، کارونه وکړي، منډې ووهي، کوششونه وکړي، ځان کامیاب وګڼي، خو د الله په نزد یې عملونه بېګټې شي.

دا ډېر خطرناک حالت دی.

ځینې خلک ګناه کوي او پوهېږي چې غلط دي؛ هغوی ته د توبې دروازه خلاصه وي. خو دلته خبره د داسې خلکو ده چې غلطه لاره نیسي، خو فکر کوي چې موږ سم روان یو. عمل کوي، خو عمل یې د هدایت پر بنیاد نه وي. کوشش کوي، خو کوشش یې د الله د رضا لپاره نه وي. ځان کامیاب ګڼي، خو اصل کې له لوی تاوان سره مخ وي.

آیت پوښتنه کوي، خو جواب یې په راتلونکي آیت کې راځي. دا د قرآن ډېر ښکلی اسلوب دی: لومړی د انسان پام راواړوي، بیا حقیقت بیانوي. لکه یو څوک چې ووایي: "ایا درته ووایم تر ټولو لوی تاوان څه دی؟" انسان سمدستي متوجه کیږي.

نو دلته هم الله تعالی انسان ته وایي: یوازې دې ته مه ګوره چې ته کار کوې؛ دا وګوره چې ستا کار د الله په نزد ارزښت لري که نه. یوازې دې ته مه ګوره چې خلک دې ستایي؛ دا وګوره چې الله دې عمل قبولوي که نه. یوازې دې ته مه ګوره چې ته ځان ښه ګڼې؛ دا وګوره چې ستا لاره د حق مطابق ده که نه.

## د مهمو کلمو ژوره معنی

### قُلْ

قُلْ یعني: ووایه

دا خطاب رسول الله ﷺ ته دی. یعنې دا خبره باید خلکو ته ښکاره اعلان شي؛ ځکه دا د هر انسان لپاره د فکر وړ حقیقت دی.

### هَلْ

هَلْ د پوښتنې کلمه ده: آیا؟

خو دلته پوښتنه یوازې د معلوماتو لپاره نه ده. دا د متوجه کولو لپاره ده. یعنې الله تعالی د انسان پام یوې ډېرې مهمې خبرې ته راواړوي

### نُنَبِّئُكُم

دا له نبأ څخه ده. نبأ عادي خبر ته نه، بلکې مهم، درووند او د پام وړ خبر ته ویل کیږي.

نو نُنَبِّئُكُم معنی داسې ده:

موږ تاسو ته يو مهم حقيقت خبر کړو؟

موږ تاسو ته د داسې تاوان خبر درکړو چې باید انسان پرې ولړزيږي؟

الْأَخْسَرِينَ

دا د خساره له مادې څخه ده، يعنې تاوان

أخسرين معنی:

تر ټولو زيات تاوانيان،

ډېر سخت زيانمن شوي خلک،

هغه خلک چې د تاوان درجه يې تر نورو ډېره ده.

دا يوازې عام تاوان نه دی؛ دا د آخرت تاوان دی.

أَعْمَالًا

دلته أعمالاً ډېر مهم دی. معنی يې ده:

د عملونو له لحاظه،

په خپلو کارونو کې،

د خپلو کوششونو په حساب.

يعني دا خلک بنايي عملونه ولري، خو ستونزه دا ده چې هغه عملونه د الله په نزد ګټور نه شي.

<u>د آيت اخلاقي او عملي پيغام</u>

دا آيت انسان ته وايي:

يوازې ډېر عمل کول بس نه دي؛ عمل بايد سم وي.

يوازې کوشش کول بس نه دي؛ کوشش بايد د حق په لاره کې وي.

یوازې ځان ښه ګڼل بس نه دي؛ انسان باید وګوري چې الله ته یې لاره سمه ده که نه.

یوازې د خلکو تعریف بس نه دی؛ اصل دا دی چې عمل د الله په نزد قبول شي.

په ژوند کې تر ټولو دردناک تاوان دا دی چې انسان فکر کوي زه کامیاب یم، خو په حقیقت کې د تاوان پر لاره روان وي.

یو انسان ټول عمر د دنیا لپاره منډې وهي، خو آخرت هېر کړي.

یو انسان عمل کوي، خو اخلاص نه لري.

یو انسان مذهبي یا فکري غرور لري، خو حق ته غاړه نه ږدي.

یو انسان ځان په سمه لار ګڼي، خو د الله هدایت نه مني.

نو دا آیت موږ ته د ځان د حساب درس راکوي.

انسان باید هر وخت له ځانه پوښتنه وکړي:

زما عمل د الله لپاره دی که د خلکو لپاره؟

زما لاره د حق مطابق ده که یوازې د خپل نفس مطابق؟

زه رښتیا هدایت غواړم که یوازې خپل نظر ثابتول غواړم؟

زما عمل به د قیامت په ورځ وزن ولري که ضایع به شي؟

تر ټولو لوی تاوان دا نه دی چې انسان دنیا له لاسه ورکړي؛

تر ټولو لوی تاوان دا دی چې انسان خپل عمر، عملونه او آخرت له لاسه ورکړي، خو بیا هم فکر کوي چې زه سم روان یم.

---

سورة الكهف ـ ۱۰۴ آیت

الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا(۱۰۴)

## د آیت د سیاق اړیکه

په ۱۰۳ آیت کې الله تعالی پوښتنه وکړه:

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا

یعنې:

ووایه: آیا تاسو ته د هغو خلکو خبر درکړو چې د عملونو له لحاظه تر ټولو ډېر تاوانیان دي؟

اوس ۱۰۴ آیت د همدې پوښتنې جواب دی. الله تعالی وایي: دا تر ټولو لوی تاوانیان هغه دي چې ټول کوشش، منډې، عملونه او هڅې یې د دنیا په ژوند کې ضایع او بې‌لارې شوې، خو دوی بیا هم ګومان کوي چې ډېر ښه کارونه کوي.

دا د آیت تر ټولو دردناک ځای دی.

دوی بې‌عمله نه دي، بلکې کوشش کوي.

خو کوشش یې په غلطه لار کې دی.

دوی ځان ناکام نه ګڼي، بلکې ځان کامیاب ګڼي.

خو د الله په نزد یې عملونه ضایع دي.

## ټکی په ټکی ژباړه

الَّذِينَ ـــ هغه کسان چې / ضَلَّ ـــ ضایع او بې‌لارې شو / سَعْيُهُمْ ـــ د هغوی کوشش او هڅه / فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ـــ د دنیا په ژوند کې / وَهُمْ ـــ په داسې حال کې چې هغوی / يَحْسَبُونَ ـــ ګومان کوي / أَنَّهُمْ ـــ چې دوی / يُحْسِنُونَ ـــ ښه کوي / صُنْعًا ـــ په خپل کار او عمل کې

## روانه ژباړه

دا هغه کسان دي چې د دنيا په ژوند کې يې ټول کوشش او هڅه بې‌لارې او ضايع شوې، خو هغوی بيا هم ګومان کوي چې موږ ډېر ښه کارونه کوو.

## يا د سياق مطابق

تر ټولو لوی تاوانيان هغه خلک دي چې خپل عمر، کوششونه او عملونه يې د دنيا په ژوند کې په غلطه لارکې لګولي وي، خو دوی ته ځان داسې ښکاري چې موږ خو ډېر ښه او کامياب کار کوو.

## تفسير

دا آيت د انسان د ژوند يو ډېر خطرناک حقيقت بيانوي.

ځينې خلک ګناه کوي او پوهېږي چې غلط دي. دا هم خطرناک دی، خو بيا هم د داسې انسان لپاره د توبې دروازه ژر خلاصېدای شي، ځکه هغه لږ تر لږه پوهېږي چې زه غلط يم.

خو په دې آيت کې خبره تر دې هم خطرناکه ده. دلته د داسې خلکو خبره ده چې په غلطه لار روان وي، خو ځان سم ګڼي. عمل کوي، خو عمل يې د هدايت پر بنياد نه وي. کوشش کوي، خو کوشش يې د الله د رضا لپاره نه وي. خپل عمر مصرفوي، خو منزل يې غلط وي. او تر ټولو سخته دا ده چې دوی فکر کوي: موږ خو ښه کار کوو.

دا د انسان تر ټولو لوی تاوان دی.

که يو څوک غلط لوري ته روان وي، خو پوهېږي چې زه غلط روان يم، نو امکان شته چې راوګرځي. خو که يو څوک غلط لوري ته روان وي او ځان سم ګڼي، نو هغه به ولې راوګرځي؟

همدا د آيت ژور درد دی.

ضَلَّ سَعْيُهُمْ معنا دا نه ده چې هغوی هېڅ کار نه کاوه. نه، هغوی کوشش کاوه، منډې يې وهلې، کارونه يې کول، پلانونه يې جوړول، ځانونه يې کامياب ګڼل. خو د هغوی هڅه د حق له لارې بې‌لارې شوې وه. لکه يو انسان چې ډېر په تيزۍ روان وي، خو په غلطه لار. د هغه تيز مزل ګټه نه کوي، ځکه هر قدم يې له مقصد نه لرې کوي.

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا دا ښيي چې د هغوی کوشش د دنيا په ژوند کې بند پاتې و. د دنيا ظاهر يې هدف ګرځولی و. شهرت، طاقت، غرور، غلط عقيده، باطل عبادت، د خلکو تعريف، د خپل نفس خوښه، او د دنيا کاميابي يې اصل مقصد ګرځولی و. خو آخرت، حق، الله، هدايت او قبوليت يې هېر کړي وو.

بيا الله تعالى فرمايي:

وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا

يعني دوی ګومان کوي چې ښه کار کوي.

دا آيت انسان ته وايي: يوازې دا بس نه ده چې ته مصروف يې. يوازې دا بس نه ده چې ته کوشش کوې. يوازې دا بس نه ده چې ته ځان ښه ګڼې. اصل پوښتنه دا ده: ستا کوشش د الله په نزد سم دی که نه؟ ستا نيت پاک دی که نه؟ ستا عقيده حق ده که نه؟ ستا عمل د هدايت مطابق دی که نه؟

ځکه که نيت غلط وي، لاره غلطه وي، عقيده غلطه وي، يا عمل د الله د رضا لپاره نه وي، نو ډېر کوشش هم انسان نه ژغوري.

د مهمو کلمو ژوره معنا

الَّذِينَ

دا د ۱۰۳ آيت د پوښتنې جواب دی.

په ۱۰۳ آیت کې پوښتنه وشوه:

تر ټولو لوی تاوانیان څوک دي؟

۱۰۴ ایت جواب ورکوي:

هغه کسان چې ...

نو د آیت ترجمه باید له همدې تړاو سره وشي. دا آیت د مخکینۍ پوښتنې جواب دی، بېله مستقله جمله نه ده.

ضَلَّ

ضَلَّ یوازې "ورک شو" نه دی. د سیاق مطابق معنا یې ده:

بې‌لارې شو،

خپل صحیح مقصد ته ونه رسېد،

له حقه واوښت،

او نتیجه یې ضایع شوه.

کله چې کوشش د حق پر لاره نه وي، هغه کوشش که ډېر هم وي، ضایع کېږي.

سَعْيُهُمْ

سعي یوازې یو عمل نه دی. دا د انسان ټولې هڅې، منډې، کوښښونه، ژوند، انرژي، فکر او عملي کارونه رانغاړي.

یعنې د هغوی یوازې یوه کړنه نه، بلکې د ژوند ټوله هڅه غلطې لارې ته تللې وه.

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

دا ښيي چې د هغوی ټول فکر د دنیا په محدود ژوند کې بند و.

دوی دنیا ته کار کاوه،

دنیا ته یې ځان ښود،

دنیا ته یې کامیابي غوښتله،

دنیا ته یې زحمت ایست،

خو آخرت، حق او د الله قبولیت یې له نظره غورځولی و.

يَحْسَبُونَ

يَحْسَبُونَ معنا لري:

ګومان کوي،

خیال کوي،

داسې انګېري.

دا یقیني علم نه دی؛ دا غلط تصور دی. دوی فکر کوي چې ښه روان دي، خو حقیقت بل دی.

يُحْسِنُونَ صُنْعًا

معنا:

ښه کار کوي،

خپل عمل ښه ترسره کوي،

دوی په خپل کار کې ځان کامیاب او سم ګڼي.

دلته دردناک ټکی دا دی چې دوی خپل عمل بد نه ګڼي؛ بلکې ښه یې ګڼي. همدا د ځانغولونې خطرناک حالت دی.

د آیت اخلاقي او عملي پیغام

دا آیت انسان ته د ځان د حساب درس ورکوي

انسان باید یوازې دا ونه ګوري چې زه څومره مصروف یم. باید دا وګوري چې زه په کومه لاره مصروف یم.

باید یوازې دا ونه ګوري چې خلک مې ستایي. باید دا وګوري چې الله مې عمل قبولوي که نه.

باید یوازې دا ونه وایي چې زما نیت ښه دی. باید دا هم وګوري چې زما لاره د حق مطابق ده که نه.

ځینې خلک د دنیا لپاره شپه او ورځ منډې وهي، خو آخرت هېروي

ځینې خلک د شهرت لپاره کار کوي، خو اخلاص نه لري.

ځینې خلک د خپل فکر، ډلې، قوم، غرور یا نفس لپاره قرباني ورکوي، خو د الله د رضا لپاره نه.

ځینې خلک د باطل خدمت کوي، خو ځان د حق خدمتګار ګڼي.

دا آیت وایي: له داسې حالت نه ووېرېږه.

ځکه ډېر کار کول انسان نه ژغوري، که کار په غلطه لاره وي. ډېر یقین انسان نه ژغوري، که یقین پر باطل وي. ډېر شهرت انسان نه ژغوري، که د الله په نزد عمل بېوزنه وي.

نو:

انسان باید خپل عمل، نیت، عقیده او لاره تل د حق په رڼا کې وازمویي. یوازې ځان ښه ګڼل کافي نه دي؛ اصل دا دی چې عمل د الله په نزد ښه وي.

---

سورة الکهف ـ ۱۰۵ آیت

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا(۱۰۵)

## د آیت د سیاق اړیکه

په ۱۰۳ آیت کې پوښتنه وشوه چې تر ټولو لوی تاوانیان څوک دي؟

په ۱۰۴ آیت کې جواب راغی: هغه کسان چې د دنیا په ژوند کې یې کوششونه ضایع شول، خو دوی فکر کاوه چې ښه کار کوي.

اوس ۱۰۵ آیت د دې تاوان اصلي سبب بیانوي: دوی د خپل رب آیتونه او د الله سره ملاقات رد کړ؛ نو عملونه یې د آخرت په لحاظ بېوزنه شول.

## لفظي ترجمه

أُولَٰئِكَ — همدغه کسان / الَّذِينَ — هغه دي چې / كَفَرُوا — منکر شول / بِآيَاتِ رَبِّهِمْ — د خپل رب له آیتونو او نښو څخه / وَلِقَائِهِ — او د هغه له ملاقات څخه / فَحَبِطَتْ — نو بېارزښته او بېثوابه شول / أَعْمَالُهُمْ — د هغوی عملونه / فَلَا نُقِيمُ — نو موږ به ارزښت ورنه کړو / لَهُمْ — د هغوی لپاره / يَوْمَ الْقِيَامَةِ — د قیامت په ورځ / وَزْنًا — هېڅ وزن او قدر.

## روانه ترجمه

همدغه کسان هغه دي چې د خپل رب له آیتونو او د هغه له ملاقات څخه منکر شول؛ نو د هغوی عملونه بېارزښته شول، او د قیامت په ورځ به موږ د هغوی لپاره هېڅ وزن او قدر قائم نه کړو.

## یا لا روانه معنا:

دا هماغه لوی تاوانیان دي چې د خپل رب نښې او د الله حضور ته ورتګ یې رد کړ؛ له همدې امله د دوی عملونه له ارزښته ولوېدل، او د قیامت په ورځ به د الله په میزان کې هېڅ وزن ونه لري.

تفسیر

دا آیت د ۱۰۳ او ۱۰۴ آیتونو نتیجه او وضاحت دی. هلته وویل شول چې تر ټولو لوی تاوانیان هغه خلک دي چې کوششونه یې په دنیا کې ضایع شول، خو دوی فکر کاوه چې ښه کار کوي. اوس الله تعالی وایي چې د هغوی عملونه ولې ضایع شول: ځکه دوی د خپل رب آیتونه او د هغه ملاقات رد کړی و.

د آیاتِ ربهم معنا یوازې د قرآن الفاظ نه دي، بلکې د الله نښې، دلیلونه، هدایت، نصیحتونه او هغه حقیقتونه هم پکې راځي چې انسان د خپل رب پېژندلو ته رابولي. کله چې انسان دا نښې ویني، خو نه یې مني؛ نصیحت اوري، خو زړه نه ورته خلاصوي؛ د حق دلیل ورته راځي، خو د غرور یا غفلت له امله یې ردوي؛ نو دا د زړه لویه ناروغي ده

ولقائه د الله سره ملاقات ته اشاره ده، یعنې د قیامت په ورځ د الله حضور ته درېدل، حساب ورکول او د خپلو عملونو نتیجه لیدل. که انسان دا عقیده له زړه وباسي، نو ژوند یې یوازې د دنیا په ګټه، نوم، شهرت او ظاهري کامیابۍ پورې ترلی پاتې کېږي. بیا عمل کوي، خو د آخرت د حساب فکر ورسره نه وي؛ کوشش کوي، خو د الله رضا یې هدف نه وي.

د آیت تر ټولو درنه برخه دا ده: فحبطت أعمالهم. دا معنا نه لري چې هغوی هېڅ عمل نه درلود. عملونه یې وو، کوششونه یې وو، ممکن په دنیا کې یې نوم هم درلود، خو د ایمان، حق او د الله د رضا له بنسټ پرته هغه عملونه د آخرت په لحاظ بېوزنه شول. لکه یو ښکلی کور

چې بنیاد یې کمزوری وي؛ په ظاهر کې ښه ښکاري، خو د ازموینې پر وخت نه دریږي.

بیا الله تعالی فرمايي: فلا نقيم لهم يوم القيامة وزنا. یعنې د قیامت په ورځ به د هغوی لپاره هېڅ وزن نه وي. دلته وزن د قدر، ارزښت، قبولیت او ثواب معنا لري. په دنیا کې خلک عملونه د شهرت، پیسو، مقام او خلکو د تعریف له مخې ارزوي؛ خو د قیامت په ورځ معیار د الله میزان دی. هلته به یوازې هغه عمل وزن لري چې د ایمان، اخلاص، حق منلو او د الله د رضا پر بنیاد وي.

د معاصرو مفسرینو له نظره هم دا آیت د انسان د ځان‌غولونې ډېر ژور خبرداری دی. نن هم انسان ډېر مصروف وي، ډېر کار کوي، ډېرې لاسته راوړنې لري، خو که د ژوند لوری یې له الله، آخرت او حق څخه پرې شوی وي، نو د هغه ظاهري کامیابي د آخرت ضمانت نه شي کېدای.

د علمي او رواني اړخ له مخې، انسان کله کله خپل کارونه د خپل ذهن په خوښه ښه ګڼي، ځکه نفس غواړي ځان سم ثابت کړي. انسان ممکن د خپل عمل لپاره دلیلونه جوړ کړي، خو قرآن انسان ته وايي چې خپل عمل یوازې د خپل احساس او د خلکو د تعریف له مخې مه ارزوه؛ د حق په رڼا کې یې وارزوه.

د اوسني وخت تطبیق ډېر واضح دی. نن یو څوک د دنیا لپاره شپه او ورځ منډې وهي، خو آخرت هېر کړي. یو څوک د شهرت لپاره کار کوي، خو اخلاص نه لري. یو څوک ځان د حق پلوی ګڼي، خو د الله آیتونو ته تسلیم نه وي. یو څوک ډېر "ښه کارونه" کوي، خو د الله سره د ملاقات فکر یې په ژوند کې ځای نه لري. دا آیت داسې انسان ته وايي: یوازې مصروفیت کامیابي نه ده؛ یوازې ښه نیت دعوه نه ده؛ اصل دا دی چې عمل دې د الله په نزد وزن لري که نه.

نو د دې آيت اصلي پيغام دا دی چې د عمل حقيقي ارزښت د ظاهر په لويوالي کې نه دی، بلکې په ايمان، حق، اخلاص او د الله د رضا په نيت کې دی. که دا بنسټ نه وي، نو عمل په دنيا کې ښايي لوی ښکاره شي، خو په آخرت کې بېوزنه وي.

نو انسان بايد هره ورځ له ځانه وپوښتي چې ايا:

زما عمل د الله په ميزان کې وزن لري، که يوازې د خلکو په سترګو کې ښه ښکاري؟

---

سورة الكهف ـ ۱۰۶ آيت

ذَٰلِكَ جَزَاؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَرُسُلِي هُزُوًا(۱۰۶)

د آيت د سياق اړيکه

په ۱۰۳ آيت کې پوښتنه وشوه چې تر ټولو لوی تاوانيان څوک دي؟

په ۱۰۴ آيت کې وويل شول: هغه کسان چې هڅې يې د دنيا په ژوند کې ضايع شوې، خو دوی فکر کاوه چې ښه کار کوي.

په ۱۰۵ آيت کې د هغوی د تاوان سبب بيان شو: د خپل رب آيتونه او د الله سره ملاقات يې رد کړ؛ نو عملونه يې بېوزنه شول.

اوس ۱۰۶ آيت د هغوی وروستۍ نتيجه بيانوي: د دوی بدله جهنم ده، ځکه دوی کفر وکړ او د الله آيتونه او رسولان يې د ټوکو او مسخرو موضوع وګرځول.

لفظي ترجمه

ذَٰلِكَ ـــ همدا / جَزَاؤُهُمْ ـــ د هغوی بدله ده / جَهَنَّمُ ـــ جهنم / بِمَا ـــ له دې امله چې (ځکه چې) / كَفَرُوا ـــ دوی کفر وکړ او حق يې رد

کړ / وَاتَّخَذُوا ـــ او ويې نيول( ويې ګرځول) / آيَاتِي ـــ آيتونه او نبښې زما / وَرُسُلِي ـــ او رسولان زما / هُزُوًا ـــ د ټوکو او مسخرو موضوع.

روانه ترجمه

همدا د هغوی بدله ده: جهنم؛ ځکه چې دوی کفر وکړ، او زما آيتونه او زما رسولان يې د ټوکو، سپکاوي او مسخرو موضوع وګرځول.

تفسير

دا آيت د مخکښنيو آيتونو نتيجه ده. الله تعالی لومړی د هغو خلکو حالت بيان کړ چې په دنيا کې يې ډېر کوششونه وکړل، خو د حق له لارې بې‌لارې شول. دوی ځانونه کامياب ګڼل، خو د الله په نزد يې عملونه بې‌وزنه شول. اوس الله تعالی د دې بې‌وزنۍ او تاوان وروستۍ سزا بيانوي: جهنم.

د آيت په شروع کې ذَٰلِكَ راغلی دی. دا کلمه مخکې ټولې نتيجې ته اشاره کوي: د کوششونو ضايع کېدل، د عملونو بې‌ارزښته کېدل، او د قيامت په ورځ د وزن نه لرل. يعنې همدا حالت د هغوی د انجام سبب شو.

جَزَاؤُهُمْ جَهَنَّمُ معنا دا ده چې د هغوی بدله جهنم ده. دلته سزا بې‌دليله نه ده؛ آيت خپله سبب بيانوي: بِمَا كَفَرُوا، يعنې ځکه چې دوی کفر وکړ، حق يې رد کړ، د الله نبښې يې ونه منلې، او د آخرت حقيقت يې سپک وګاڼه.

بيا آيت د هغوی بله لويه ګناه بيانوي: وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَرُسُلِي هُزُوًا. يعنې هغوی يوازې منکران نه وو، بلکې د الله آيتونه او رسولان يې د ټوکو او مسخرو موضوع هم ګرځولي وو. دا ډېر خطرناک حالت دی، ځکه يو ځوک کله ناکله د ناپوهۍ له امله حق نه پېژني؛ خو دلته خبره د

داسې خلکو ده چې حق ورته راغلی، رسولان ورته راغلي، آيتونه ورته ښکاره شوي، خو دوی يې سپک کړي، ملنډې يې پرې وهلي، او د هدايت خبره يې د خندا موضوع ګرځولې.

د مفسرينو د عمومي تفسير له مخې، دا آيت د هغو خلکو په اړه دی چې د الله آيتونه، د هغه رسولان، او د آخرت حقيقت يې رد کړی او سپک کړی و. د دوی ظاهري عملونه که په دنيا کې خلکو ته لوی ښکاره کېدل، خو د کفر، انکار او سپکاوي له امله د آخرت په ميزان کې بېارزښته شول.

دا آيت د نن زمانې لپاره هم ډېر ژور پيغام لري. نن سبا د دين، قرآن، پيغمبرانو، آخرت، جنت او جهنم خبرې کله کله په مجلسونو، رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د ټوکو موضوع ګرځي. ځينې خلک فکر کوي چې دا يوازې خندا ده، خو د الله په نزد د حق سپکاوی عادي خبره نه ده. د دين په اړه پوښتنه کول، پوهه غوښتل او تحقيق کول بد نه دي؛ خو د الله آيتونه او رسولان مسخره کول د زړه د سختوالي نښه ده.

په دې آيت کې ساينسي بحث نشته؛ دا د عقيدې، اخلاقو او آخرت آيت دی. خو د انسان د چلند له نظره يوه خبره روښانه ده: کله چې انسان يو مقدس حقيقت بيا بيا مسخره کړي، ورو ورو يې زړه له احترام، وېرې او منلو خالي کېږي. بيا نصيحت پرې اثر نه کوي، آيت ورته عادي ښکاري، او د حق خبره ورته د ټوکې په شان معلومېږي. دا هماغه خطرناک روحاني حالت دی چې مخکې آيتونو کې يې يادونه وشوه: سترګې له هدايت څخه په پرده کې، غوږونه د حق اورېدلو ته درانه، او عملونه بېوزنه.

دا آيت موږ ته دوه لوی درسونه راکوي: لومړی، د کفر او د حق د انکار انجام ډېر سخت دی. دوهم، د الله آيتونه او د هغه رسولان سپک ګڼل د انسان د ايمان لپاره ډېر خطرناک کار دی. مسلمان ته پکار ده

چې د دین په مسئلو کې ادب وساتي، د پوهېدو لپاره پوښتنه وکړي، خو د الله د نښو، قرآن، رسولانو او آخرت د حقیقت سپکاوی هېڅکله عادي ونه ګڼي.

لنډه خبره دا ده: د عمل ارزښت یوازې په ظاهري کارونو کې نه دی؛ د عمل وزن د ایمان، ادب، اخلاص او د حق منلو سره تړلی دی.
څوک چې حق رد کړي او د الله آیتونه مسخره کړي، د هغه لپاره ظاهري کامیابي د آخرت تاوان نه شي پټولای.

---

سورة الکهف ـ ۱۰۷ آیت

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا(۱۰۷)

د آیت د سیاق اړیکه

په ۱۰۳ تر ۱۰۶ آیتونو کې د هغو خلکو انجام بیان شو چې کوششونه یې ضایع شول، د الله آیتونه او د هغه ملاقات یې رد کړل، او د الله آیتونه او رسولان یې مسخره کړل. د هغوی بدله جهنم وګرځول شو.

اوس ۱۰۷ آیت فرمایي: هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي، د هغوی لپاره د فردوس جنتونه د عزت، مېلمستیا او دایمي استوګنې په توګه تیار دي.

لفظي ترجمه

إِنَّ ـــ بېشکه / الَّذِينَ ـــ هغه کسان چې / آمَنُوا ـــ ایمان یې راوړی / وَعَمِلُوا ـــ او عملونه یې کړي / الصَّالِحَاتِ ـــ نېک او صالح / كَانَتْ لَهُمْ ـــ د هغوی لپاره به وي / جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ ـــ د فردوس جنتونه / نُزُلًا ـــ د عزتمنې مېلمستیا او استوګنې ځای.

روانه ترجمه

بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي دي، د هغوی لپاره به د فردوس جنتونه د عزتمنې مېلمستیا او استوګنې ځای وي.

تفسیر

دا آیت د مؤمنانو د کامیابۍ اعلان دی. مخکې د هغو خلکو حال بیان شو چې عملونه یې ضایع شول، ځکه هغوی د الله آیتونه، د آخرت ملاقات، او د رسولانو پیغام رد کړی و. اوس الله تعالی د هغو خلکو انجام بیانوي چې لاره یې برعکس ده: ایمان لري او صالح عمل کوي.

په دې آیت کې دوه شیان د نجات بنیاد ګرځول شوي دي: ایمان او صالح عمل. یوازې ظاهري ښه کار کافي نه دی که ایمان نه وي، او یوازې د ایمان دعوه هم بشپړه نه ده که عمل ورسره نه وي. ایمان د زړه بنیاد دی، او صالح عمل د هغه ایمان عملي ثبوت دی.

الصالحات هغه عملونو ته ویل کیږي چې د الله د رضا، هدایت، اخلاص او شریعت سره سم وي. په دې کې لمونځ، عبادت، صداقت، حلال رزق، د خلکو حق ساتل، عدل، رحم، ښه اخلاق، د والدینو احترام، د ظلم نه ډډه کول، او د الله د امرونو منل شامل دي.

د دې خلکو بدله جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ ده. فردوس د جنت ډېر لوړ، غوره او عزتمند مقام ګڼل شوی. د آیت الفاظ دا ښکاره کوي چې د مؤمنانو لپاره یوازې یو عادي ځای نه، بلکې د فردوس جنتونه تیار دي؛ داسې ځای چې د الله د رحمت، عزت او نعمت نښه ده.

دلته کلمه نُزُلًا ډېره ښکلې معنا لري. په ۱۰۲ آیت کې هم نُزُلًا راغلې وه، خو هلته د کافرانو لپاره د جهنم د سختې او سپکوونکې "مېلمستیا" په معنا وه. دلته هماغه کلمه د مؤمنانو لپاره په رحمت، عزت او

کرامت کې کارول شوې ده. يعنې د کافرانو لپاره د انکار نتيجه جهنم وه، او د مؤمنانو لپاره د ايمان او صالح عمل نتيجه فردوس دی.

دا آيت د نن زمانې لپاره ډېر عملي پيغام لري. نن خلک کاميابي په پيسو، شهرت، مقام، تعليم، کاروبار او د خلکو په تعريف کې لټوي. دا شيان که حلال او سم استعمال شي بد نه دي، خو حقيقي کاميابي هغه ده چې د انسان اعمال د الله په نزد قبول شي. که انسان ايمان، صالح عمل او آخرت له ژوند ځخه وباسي، نو د دنيا لاسته راوړنې يې په آخرت کې ورته ګټه نه کوي.

له بلې خوا، دا آيت مؤمن ته اميد ورکوي. که څوک په اخلاص ايمان وساتي، د حق لاره ونيسي، او د خپل وس مطابق نېک عمل وکړي، نو الله تعالی د هغه کوشش نه ضايع کوي.که د دنيا خلک يې ونه ستايي، الله يېويني. که عمل يې په خلکو کې مشهور نه وي، د الله په نزد وزن لري.

نو د آيت پيغام دا دی: د حقيقي کاميابۍ لاره ايمان او صالح عمل دی. هغه څوک چې په دنيا کې خپل ژوند د الله د رضا لپاره سم کړي، الله به يې په آخرت کې د فردوس په عزتمن ځای کې ځای پر ځای کړي.

---

## سورة الکهف ـ ۱۰۸ آيت

په ۱۰۷ آيت کې د ايمان او نېک عمل لرونکو لپاره جنت الفردوس د مېلمستيا او ځای په توګه ياد شو؛ ۱۰۸ آيت بيا وايي چې دا نعمت لنډمهاله نه دی، بلکې تلپاتې دی.

خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا(۱۰۸)

### لفظي ترجمه

خَالِدِينَ ـــ تل پاتې به وي / فِيهَا ـــ په هغې کې / لَا يَبْغُونَ ـــ نه به غواړي / عَنْهَا ـــ له هغې څخه / حِوَلًا ـــ بل ځای ته بدلون یا انتقال.

روانه ترجمه

د ایمان او نېک عمل خاوندان به په جنت الفردوس کې د تل لپاره اوسېږي، او هېڅکله به دا ونه غواړي چې له هغه ځایه بل ځای ته بدل شي.

تفسیر

دا آیت د ۱۰۷ آیت تکمیل دی. مخکې آیت کې الله تعالی وفرمایل چې ایمان لرونکي او نېک عمل کوونکي به د جنت الفردوس مېلمانه وي. اوس ۱۰۸ آیت وایي چې دا مېلمستیا لنډمهاله نه ده، بلکې تلپاتې ده.

خالدین فیها معنا دا ده چې هغوی به په جنت کې همېشه پاتې وي. د دنیا نعمتونه که هر څومره ښکلي وي، پای لري. ځواني ختمېږي، صحت کمزورېږي، شتمني پاتې کېږي یا ختمېږي، خوشحالي بدلېږي، او انسان له هر شي نه آخر ستړی کېږي. خو د جنت نعمت داسې نه دی. هلته نه ختمېدل شته، نه زوال، نه مرګ، نه وېره، نه غم، او نه د نعمتونو کمېدل.

لا یبغون عنها حولا د آیت ډېر خوږ او ژور ځای دی. معنا یې دا ده چې د جنت خلک به هېڅکله دا ونه غواړي چې له جنت څخه بل ځای ته لاړ شي. په دنیا کې انسان له یو ځایه بل ځای ته زړه کوي. یو کور ولري، بل غواړي. یو نعمت ولري، بل غواړي. یو خوند ژر ورته عادي شي. خو جنت داسې ځای دی، انسان پکې نه ستړی کېږي، نه یې زړه تنګېږي، نه بدلون غواړي، او نه له هغه نه ښه تصور کوي.

د مفسرینو د بیان له مخې، دا جمله د جنت د کمال دلیل دی: جنت یوازې ښکلی ځای نه دی، بلکې داسې کامل نعمت دی چې د انسان زړه پکې بشپړ مطمئن کېږي. هلته د انسان غوښتنې هم پاکې وي، نعمتونه هم کامل وي، او د زړه سکون هم بشپړ وي.

د اوسني ژوند لپاره د دې آیت پیغام ډېر مهم دی. نن انسان د سکون لپاره له یو شي نه بل شي ته منډې وهي: یو کار، بل کار؛ یو ځای، بل ځای؛ یو موبایل، بل موبایل؛ یو نعمت، بل نعمت. خو زړه بیا هم پوره نه ډکېږي. دا آیت موږ ته وایي چې د انسان د زړه حقیقي پوره کېدل یوازې په جنت کې دي، او جنت د ایمان او نېک عمل نتیجه ده.

نو دا آیت موږ ته دوه خبرې را زده کوي: لومړی، د دنیا هېڅ نعمت باید انسان دومره مصروف نه کړي چې جنت هېر کړي. دوهم، که انسان د تلپاتې سکون غوښتونکی وي، نو باید ایمان، نېک عمل، اخلاص او د الله رضا خپل اصل هدف وګرځوي.

دا آیت د امید آیت دی. مخکې آیتونو کې د هغو خلکو تاوان بیان شو چې عملونه یې ضایع شول، خو دلته د مؤمنانو انجام بیانېږي: هغوی ته داسې جنت ورکول کېږي چې نه ختمېږي، نه زړېږي، او نه یې انسان پرېښودل غواړي.

---

د سورت الکهف – ۱۰۹ آیت

قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا(۱۰۹)

د مخکیني آیت (۱۰۸) سره اړیکه

په ۱۰۸ آيت کې الله تعالی د جنتيانو د تلپاتې نعمتونو او همېشنۍ استوګنې يادونه وکړه. په ۱۰۹ آيت کې بيا د الله تعالی د علم، حکمت او کلماتو د بېپايۍ بيان راځي، ترڅو انسان پوه شي چې د جنت، کايناتو او آخرت په اړه هغه څه چې موږ پوهېږو، د الله د بېپايه علم پوازې يوه کوچنۍ برخه ده.

## لفظي ژباړه

قُل ووايه — لَّوْ كَانَ که چېرې وای — الْبَحْرُ سمندر — مِدَادًا سياهي — لِّكَلِمَاتِ رَبِّي زما د رب د کلماتو(د ليکلو) لپاره — لَنَفِدَ الْبَحْرُ خامخا به سمندر ختم شوی وای — قَبْلَ أَن تَنفَدَ مخکې له دې چې ختم شي — كَلِمَاتُ رَبِّي زما د رب کلمات — وَلَوْ جِئْنَا او که موږ راوړی و — بِمِثْلِهِ د هغه په شان بل — مَدَدًا د مرستې او زياتوالي لپاره(هغه به هم ختم شوی وای خو د الله تعالی کليمات به نه وای ختم شوي).

## روانه ژباړه

ووايه: که سمندر زما د رب د کلماتو د ليکلو لپاره سياهي وای، نو زما د رب تر کلماتو مخکې به سمندر ختم شوی وای، که څه هم موږ د هغه په شان يو بل سمندر هم د مرستې لپاره راوړو(هغه به هم ختم شي خو د الله تعالی کليمات به ختم نه شي).

## تفسير

دا آيت د قرآن له تر ټولو ژورو آيتونو څخه دی چې د الله تعالی د علم، حکمت او قدرت د بېپايۍ بيان کوي. د «کلمات ربي» څخه پوازې الفاظ نه مراديږي، بلکې د الله علم، حکمت، تقدير، فيصلې او هغه نه ختمېدونکي حقيقتونه هم پکې شامل دي چې انسان يې بشپړ درک نه شي کولای.

الله تعالی د مثال په ډول فرمايي چې که د ځمکې ټول سمندرونه د ليکلو لپاره سياهي شي، بيا به هم د هغه د علم او کلماتو پای ته ونه رسيږي. مقصد دا نه دی چې د الله کلمات محدود شمېر لري، بلکې مقصد دا دی چې د هغه علم او حکمت هېڅ پای نه لري.

دا آيت انسان ته د تواضع او عاجزۍ درس ورکوي. هر څومره چې انسان علم ترلاسه کوي، بايد هماغومره پوه شي چې لا ډېر څه شته چې پرې نه پوهېږي. نن ورځ انسان فضا ته رسېدلی، د مصنوعي ځيرکتيا نظامونه يې جوړ کړي او د طبيعت ډېر رازونه يې کشف کړي دي، خو بيا هم هره ورځ نوې پوښتنې او نوي رازونه راښکاره کېږي.

په حقيقت کې، هره نوې علمي موندنه موږ ته دا را يادوي چې د انسان ټوله پوهه د الله د بېپايه علم په وړاندې د سمندر په مقابل کې د يوه څاڅکي څخه هم کمه ده.

---

د سورت الکهف – ۱۱۰ آيت

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا(۱۱۰)

د مخکيني آيت (۱۰۹) سره اړيکه

په ۱۰۹ آيت کې الله تعالی د خپل بېپايه علم او کلماتو عظمت بيان کړ. په ۱۱۰ آيت کې، چې د سورت الکهف وروستی آيت دی، الله تعالی د رسول الله ﷺ مقام روښانه کوي او د ټول سورت پيغام په دريو ټکو کې راټولوي: توحيد، نېک عمل او اخلاص.

لفظي ترجمه

قُلْ ووايه ـــ إِنَّمَا بېشكه ـــ أَنَا زه ـــ بَشَرٌ يو انسان يم ـــ مِّثْلُكُمْ ستاسو په شان ـــ يُوحَىٰ إِلَيَّ ماته وحى كېږي ـــ أَنَّمَا چې بېشكه ـــ إِلَٰهُكُمْ ستاسو معبود ـــ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ يو معبود دى ـــ فَمَن نو هر څوک چې ـــ كَانَ يَرْجُو هيله لري ـــ لِقَاءَ رَبِّهِ د خپل رب د ملاقات ـــ فَلْيَعْمَلْ نو بايد عمل وکړي ـــ عَمَلًا صَالِحًا نېک عمل ـــ وَلَا يُشْرِكْ او نه دې شريک کوي ـــ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ د خپل رب په عبادت کې ـــ أَحَدًا هېڅوک.

## روانه ترجمه

ووايه: "زه ستاسو په شان يوازې يو انسان يم، ماته وحى کېږي چې ستاسو معبود يوازې يو معبود دى. نو څوک چې د خپل رب د ملاقات هيله لري، هغه دې نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هېڅوک شريک نه کړي.

## تفسير

دا د سورت الکهف وروستى آيت دى او د ټول سورت پيغام په ډېره ښکلي او جامع بڼه رانغاړي. الله تعالى موږ ته درې اساسي حقيقتونه را زده کوي: رسول الله ﷺ يو بشر دى چې وحى ورته کېږي، الله يو دى او يوازې د هغه عبادت کېږي، او د نجات لپاره نېک عمل او اخلاص دواړه ضروري دي.

د «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ» جمله موږ ته دا را ښيي چې اسلام پيغمبران د خداى مقام ته نه پورته کوي، بلکې هغوى د انسانانو تر ټولو غوره او د الله تعالى غوره شوي بندګان ګڼي.

وروستي آيت ايمان له عمل سره تړي. يوازې ادعا کافي نه ده؛ انسان بايد نېک عمل هم وکړي. خو نېک عمل هم هغه وخت ارزښت لري چې د الله لپاره وي، نه د شهرت، ستاينې او دنيايي ګټې لپاره.

مفسرينو ويلي چې د عمل د قبول لپاره دوه شرطونه دي: اخلاص او د رسول الله ﷺ د سنتو موافقت.

د دې آيت د نن عصر لپاره يو ډېر مهم پيغام دا دی چې موږ د داسې زمانې خلک يو چې ډېر کارونه د خلکو د ليدلو لپاره کوو. خلک خپل عبادتونه، صدقې او نېک کارونه د ستاينې او شهرت لپاره خپروي. دا آيت موږ ته را يادوي چې د قيامت په ورځ به اصلي پوښتنه دا نه وي چې څو کسانو زموږ عمل وليد، بلکې دا به وي چې آيا الله تعالی هغه قبول کړ که نه.

په حقيقت کې، سورت الکهف په همدې آيت پای ته رسېږي: توحيد، نېک عمل او اخلاص؛ او همدا د يو مؤمن د ژوند بنسټونه دي.

---

۲۶-۲-۰۷-۲۵

# سورة مريم

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كٓهيعٓصٓ (١)

-----------------------------------------------------------------

د سورت مريم ـــ ۲ آيت

ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا(٢)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په لومړي آيت کې الله تعالی سورت د حروف مقطعاتو په وسيله پيل کړ. په دوهم آيت کې د سورت اصلي موضوع پيلېږي، چې هغه د خپل بنده حضرت زکريا عليه السلام سره د الله تعالی د رحمت يادونه ده. دا ښيي چې د دې سورت راتلونکې کيسې يوازې تاريخي پېښې نه دي، بلکې د الله د رحمت بېلګې دي.

لفظي ترجمه

ذِكْرُ يادونه ـــ رَحْمَتِ رَبِّكَ ستا د رب د رحمت ـــ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا پر خپل بنده زکريا عليه السلام.

روانه ترجمه

دا ستا د رب د هغه رحمت يادونه ده چې پر خپل بنده زکريا عليه السلام يې کړی و.

تفسير

دا آیت د حضرت زکریا علیه السلام د کیسې پیل دی. الله تعالی د هغه د دعا او د زوی د زېږي له بیانولو مخکې د رحمت یادونه کوي. دا ښيي چې د دې کیسې بنسټ د الله رحمت دی، نه یوازې معجزه

الله تعالی حضرت زکریا علیه السلام ته د «خپل بنده» لقب ورکوي، او دا په قرآن کې د انسان تر ټولو ستر ویاړ دی. د الله رښتینی بنده کېدل له هر مقام، شتمنۍ او شهرت څخه لوړ مقام دی. رسول الله ﷺ هم په قرآن کې د ډېرو سترو مقامونو پر مهال د عبد په لقب یاد شوی دی.

دا آیت موږ ته دا هم را زده کوي چې د الله رحمت د هر نعمت پیل دی. تر دې چې اسباب برابر شي، د الله رحمت مخکې رسېدلی وي.

د نننۍ عصر لپاره هم دا آیت یو مهم پیغام لري. ډېر خلک فکر کوي چې بریا یوازې په پیسو، اړیکو، ټکنالوژۍ او انساني وړتیاوو پورې تړلې ده، خو دا آیت یادونه کوي چې د هر خیر او هرې حقیقي بریا اصل د الله رحمت دی. کله چې د الله رحمت له انسان سره وي، هغه څه هم ممکن کېږي چې د انسان په نظر ناممکن ښکاري.

---

د سورت مریم – ۳ آیت

إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا(۳)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په دوهم آیت کې الله تعالی وفرمایل چې دا د خپل بنده حضرت زکریا علیه السلام سره د هغه د رحمت یادونه ده. په درېیم آیت کې د همدې رحمت پیل بیانېږي؛ یعنې حضرت زکریا علیه السلام خپل رب ته په ډېر اخلاص، عاجزۍ او پټه دعا وکړه.

لفظي ترجمه

إِذْ کله چې ــــ نَادَىٰ رَبَّهُ خپل رب ته يې دعا وکړه ــــ نِدَاءً خَفِيًّا په پټه او ورو غږ.

روانه ترجمه

کله چې هغه خپل رب ته په پټه او په ډېر ارام سره دعا وکړه.

تفسير

دا آيت موږ ته د دعا کولو يو ډېر ښکلی ادب راښيي. حضرت زکريا عليه السلام خپل رب ته په داسي ډول دعا وکړه چې يوازې د الله د رضا لپاره وه. هغه نه غوښتل چې خلک يې واوري، ځکه هغه باور درلود چې الله تعالی د زړه پټې خبرې او ورو غږ هم اوري.

د «نِدَاءً خَفِيًّا» تعبير د اخلاص، عاجزۍ او د الله سره د نږدې اړيکي څرګندونه کوي. دا را زده کوي چې د دعا ارزښت د غږ په لوړوالي کې نه، بلکې د زړه په صداقت او اخلاص کې دی.

د نننۍ عصر لپاره دا آيت يو مهم درس لري. په داسي زمانه کې چې ډېر خلک خپل عبادتونه، دعاګاني او نېک عملونه د خلکو د ليدلو لپاره خپروي، دا آيت موږ ته يادونه کوي چې تر ټولو قيمتي عبادت هغه دی چې يوازې د الله لپاره وي. الله تعالی زموږ د زړه خبرې هم اوري؛ نو د هغه د اورېدو لپاره لوړ غږ او د خلکو حضور ته اړتيا نشته.

---

د سورت مريم ــ ۴ آيت

قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُن بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا(۴)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په درېيم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام خپل رب ته په پټه او له اخلاصه ډکه دعا وکړه. په څلورم آيت کې الله تعالی د هغه د دعا الفاظ بيانوي. زکريا عليه السلام د خپلې غوښتنې له وړاندې کولو مخکې خپل کمزورى حالت او د الله پر رحمت خپل بشپړ باور څرګندوي.

## لفظي ترجمه

قَالَ ويې ويل ـــ رَبِّ زما ربه ـــ إِنِّي بېشکه زه ـــ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي زما هډوکي کمزوري شوي دي ـــ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا او سر مې د بوډاوالي نه سپين شو(د سر وېښتان مې سپين شو)ـــ وَلَمْ أَكُنْ او هېڅکله نه يم پاتې شوى ـــ بِدُعَائِكَ رَبِّ زما ربه! تا ته په دعا کولو کې ـــ شَقِيًّا نامراده او بېبرخې.

## روانه ترجمه

هغه وويل: «زما ربه! بېشکه زما هډوکي کمزوري شوي دي، او سر مې د بوډاوالي نه سپين شوى دى، او زما ربه! ما هېڅکله هم تا ته په دعا کولو کې نامرادي نه ده ليدلې».

## تفسير

دا آيت د دعا د ادب يو له تر ټولو ښکلو بېلګو څخه دى. حضرت زکريا عليه السلام د خپلې غوښتنې له وړاندې کولو مخکې خپل کمزورى حالت بيانوي، خو دا د شکايت په ډول نه، بلکې د عاجزۍ او د الله د قدرت د اعتراف په توګه.

د «وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي» جمله ښيي چې کمزوري د بدن تر ټولو قوي برخې، يعنې هډوکو، ته رسېدلې ده. دا د هغه د ډېر زوړ عمر او جسمي کمزورۍ څرګندونه کوي.

د «وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا» تعبير د قرآن د بلاغت له ښکلو بېلګو څخه دی. داسې انځور وړاندې کوي لکه سپين وېښتان چې د اور د لمبو په څېر په ټول سر خپاره شوي وي، يعنې بوډاتوب بشپړ غالب شوی دی.

سره له دې، حضرت زکريا عليه السلام هېڅکله نهيلي نه شو. هغه د الله د پخوانيو نعمتونو يادونه کوي او وايي چې: «ما هېڅکله تا ته په دعا کولو کې نامرادي نه ده ليدلې.» دا مؤمن ته دا درس ورکوي چې د الله پخواني احسانونه بايد د راتلونکي لپاره د اميد سرچينه وګرځي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت لوی پيغام دا دی چې انسان بايد د عمر، ناروغۍ، بېاولادۍ، اقتصادي ستونزو او يا پرلهپسې ناکاميو له امله له الله څخه هيله پرې نه کړي. د انسان کمزوري د الله د قدرت کمزوري نه ده. کله چې د دنيا اسباب پای ته ورسېږي، د الله د رحمت دروازه لا هم پرانيستې وي.

---

د سورت مريم – ۵ آيت

وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا (۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په څلورم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام خپل بوډاتوب، کمزوري او د الله پر رحمت خپل باور بيان کړ. په پنځم آيت کې هغه د خپلې دعا اصلي سبب څرګندوي. د هغه اندېښنه د دنيا د ميراث نه وه، بلکې دا وه

چې له ده وروسته به د دین د ساتنې او د خلکو د لارښوونې مسؤلیت څوک پر غاړه اخلي.

## لفظي ترجمه

وَإِنِّي او بېشکه زه — خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي له هغو کسانو وېرېږم چې له ما وروسته راځي — وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا او زما مېرمن شنډه ده — فَهَبْ لِي نو ما ته راوبخښه — مِن لَّدُنكَ له خپل لوري — وَلِيًّا یو صالح وارث او سرپرست.

## روانه ترجمه

او بېشکه زه له هغو کسانو وېرېږم چې له ما وروسته به راشي، او زما مېرمن هم شنډه ده؛ نو ته له خپل ځانګړي فضل څخه ما ته یو صالح وارث راوبخښه.

## تفسیر

په دې آیت کې حضرت زکریا علیه السلام د خپلې دعا اصلي علت بیانوي. د هغه غوښتنه د مال، شتمنۍ او دنیایي نوم لپاره نه وه، بلکې هغه غوښتل چې له ده وروسته یو صالح انسان وي چې د الله د دین خدمت، د خلکو لارښوونه او د نبوت د پیغام ساتنه وکړي.

د «خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي» مطلب دا نه دی چې هغه د الله په وعده شک درلود، بلکې وېره یې دا وه چې ښایي له ده وروسته راتلونکي خلک د دین مسؤلیت په سمه توګه ترسره نه کړي.

کله چې وایي: «زما مېرمن شنډه ده» نو دا د ظاهري اسبابو بشپړې نشتوالي ته اشاره ده. زکریا علیه السلام ډېر بوډا شوی و او مېرمن یې هم د اولاد د زېږولو توان نه درلود، خو بیا هم د الله له رحمت څخه ناامیده نه شو.

د «مِن لَّدُنكَ» تعبير ډېر ژور مفهوم لري. یعنې: «له خپل ځانګړي فضل او رحمت څخه.» دا را زده کوي چې هر حقيقي نعمت د الله ځانګړې ډالۍ ده، نه يوازې د انساني اسبابو پايله.

د نننی عصر لپاره د دې آيت مهم پيغام دا دی چې ډېر خلک هڅه کوي خپلو اولادونو ته مال، کوروونه او شتمني پرېږدي، خو د حضرت زکريا عليه السلام تر ټولو لويه اندېښنه د دين، اخلاقو او هدايت وارث و. دا آيت موږ ته را زده کوي چې تر ټولو ستر ميراث صالح اولاد، علم، ايمان او نېک اخلاق دي، ځکه مادي شتمني يوه ورځ ختمېږي، خو صالح انسانان او نېک عملونه تر نسلونو پورې اغېز او اثر پرېږدي.

---

د سورت مريم – ۶ آيت

يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا(۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په پنځم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام له الله تعالی څخه د يو صالح وارث غوښتنه وکړه. په شپږم آيت کې هغه روښانوي چې دا وارث بايد کومې ځانګړنې ولري؛ يعنې داسې څوک وي چې د ده او د آل يعقوب د مبارک ميراث وارث شي، او د الله په نزد د خوښې وړ انسان وي.

لفظي ترجمه

يَرِثُنِي زما وارث شي — وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ او د آل يعقوب له ميراث څخه هم وارث شي — وَاجْعَلْهُ رَبِّ او زما ربه! هغه وګرځوه — رَضِيًّا داسې څوک چې ستا خوښ وي.

روانه ترجمه

چې زما وارث شي او د آل یعقوب له میراث څخه هم وارث شي، او زما ربه! هغه داسې انسان وګرځوه چې ستا خوښ وي.

تفسير

دا آیت د مخکیني آیت تشریح کوي. حضرت زکریا علیه السلام یوازې د اولاد غوښتنه نه کوله، بلکې د داسې وارث غوښتنه يې کوله چې د ایمان، علم، حکمت او د الله د دین د خدمت مسؤلیت ته دوام ورکړي.

د «يَرِثُنِي» په اړه ډېرى مفسرين وايي چې مراد ترې د نبوت، علم او صالحو اخلاقو میراث دی، نه د مال میراث. دا معنا د رسول الله ﷺ له صحیح حدیث سره هم سمون لري چې انبیا د مال میراث نه پرېږدي، بلکې علم پرېږدي.

د «وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ» معنا دا ده چې هغه دې د آل یعقوب د ایمان، تقوا، نبوت او نیکو اخلاقو وارث وي.

په پای کې حضرت زکریا علیه السلام تر ټولو مهمه غوښتنه کوي:
«او زما ربه! هغه داسې انسان وګرځوه چې ستا خوښ وي.» دا ښيي چې د ماشوم تر زیږېدو هم مهمه خبره د هغه صالح او د الله د رضا وړ کېدل دي.

د دې آیت د نن عصر لپاره ستر درس دا دی چې ډېر مور او پلار د خپلو اولادونو لپاره د لوړو زده کړو، شتمنۍ او شهرت هیله لري، خو د حضرت زکریا علیه السلام لومړنۍ هیله دا وه چې اولاد يې د الله خوښ بنده وي. که یو انسان د الله رضا ترلاسه کړي، نو تر ټولو ستره بریا يې ترلاسه کړې ده.

د سورت مريم ـــ ۷ آيت

يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا(۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په شپږم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام له الله تعالى څخه د يو صالح وارث غوښتنه وکړه. په اووم آيت کې الله تعالى سمدستي د هغه دعا قبلوي او د يو زوی زيری ورکوي، بلکې د هغه نوم هم له زيږېدو مخکې ټاکي.

لفظي ترجمه

يَا زَكَرِيَّا اې زکريا«عليه السلام»! ـــ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بېشکه موږ تا ته زيری درکوو ـــ بِغُلَامٍ د يوه هلک ـــ اسْمُهُ يَحْيَىٰ چې نوم يې يحيى دی ـــ لَمْ نَجْعَل لَّهُ موږ هغه ته نه دی ټاکلی ـــ مِن قَبْلُ تر دې مخکې ـــ سَمِيًّا هېڅ همنومی.

روانه ترجمه

اې زکريا«عليه السلام»! بېشکه موږ تا ته د يوه هلک زيری درکوو چې نوم يې يحيى دی. تر دې مخکې موږ دا نوم هېچا ته نه و ايښی.

تفسير

دا آيت د حضرت زکريا عليه السلام د مخلصانه دعا مستقيم ځواب دی. الله تعالى هغه ته يوازې د زوی زيری نه ورکوي، بلکې د زوی نوم هم پخپله ټاکي. دا د حضرت يحيى عليه السلام لپاره يو ځانګړی عزت او امتياز و.

د «لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا» په اړه ډېری مفسرين وايي چې تر حضرت يحيى عليه السلام مخکې هېڅوک په دې نوم نه و نومول

شوی. ځینو مفسرینو دا هم ویلي چې د دې جملې مقصد د هغه ځانګړی مقام، بېساری شخصیت او لوړ منزلت هم دی.

دا آیت موږ ته دا درس راکوي چې کله الله تعالی د یوه بنده دعا قبلوي، نو ځیني وخت هغه ته تر غوښتنې هم ډېر او غوره څه ورکوي.
حضرت زکریا علیه السلام یوازې د صالح وارث غوښتنه کړې وه، خو الله تعالی هغه ته یو داسې زوی ورکړ چې پیغمبر شو او ځانګړی نوم او لوړ مقام یې درلود.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې مؤمن باید هېڅکله د دعا له قبلېدو نه ناهیلی نه شي. ځیني دعاګانې سمدستي نه قبلېږي، خو الله تعالی یې په هغه وخت کې قبلوي چې د بنده لپاره غوره وي. کله چې د الله ځواب راځي، ډېر وخت د انسان له هیلو او تصور څخه هم غوره وي.

---

---

د سورت مریم – ۸ آیت

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا(۸)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په اووم آیت کې الله تعالی حضرت زکریا علیه السلام ته د حضرت یحیی علیه السلام د زېږېدو زېری ورکړ. په اتم آیت کې حضرت زکریا علیه السلام د الله په قدرت شک نه کوي، بلکې پوښتنه کوي چې دا معجزه به څنګه واقع کېږي، په داسې حال کې چې ټول ظاهري اسباب ناممکن ښکاري.

لفظي ترجمه

قَالَ ويې ويل — رَبِّ زما ربه! — أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ څنګه به زما لپاره يو هلک وي؟ — وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا حال دا چې زما مېرمن شنډه ده — وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا او زه د ډېر زوړ عمر او سختې کمزورۍ مرحلې ته رسېدلی یم.

## روانه ترجمه

هغه وويل: زما ربه! زه به څنګه يو زوی ولرم، حال دا چې زما مېرمن شنډه ده او زه د ډېر بوډاتوب او سختې کمزورۍ عمر ته رسېدلی يم؟

## تفسير

حضرت زکريا عليه السلام د الله تعالی په قدرت شک نه درلود. د هغه پوښتنه دا نه وه چې ايا دا کار ممکن نه دی، بلکې دا وه چې څنګه به دا کار ترسره کېږي. هغه غوښتل د دې معجزې طريقه وپېژني، نه دا چې د الله په قدرت کې شک وکړي.

قرآن کريم ورته بېلګې هم بيانوي. حضرت ابراهيم عليه السلام هم د مړو د ژوندي کولو په اړه وپوښتل، خو الله تعالی ورته وفرمايل: «آيا ايمان نه لرې؟» هغه عرض وکړ: «ولې نه، ايمان لرم، خو غواړم زړه مې لا ډېر ډاډه شي.» همدارنګه حضرت مريم عليها السلام هم وپوښتل چې څنګه به زوی ولري، په داسې حال کې چې هېڅ انسان يې نه و لمس کړی. په دواړو ځايونو کې پوښتنه د څنګه په اړه ده، نه د الله د قدرت په اړه.

د «عِتِيًّا» کلمه د ډېر زوړ عمر، سختې کمزورۍ او د بدن د ځواک د له منځه تلو معنا لري. حضرت زکريا عليه السلام دواړه ظاهري خنډونه يادوي: خپله ډېر بوډا شوی و، او مېرمن يې هم شنډه وه.

د دې آيت د نن عصر لپاره پيغام دا دى چې انسان بايد د ظاهري اسبابو بندي نه شي. ډاکټران، امکانات او اسباب خپل ځاى لري، خو د مؤمن باور بايد تر اسبابو لوړ وي. کله چې الله تعالى د يو کار اراده وفرمايي، هغه ته اسباب هم پيدا کوي، او که وغواړي، بې له اسبابو يې هم ترسره کوي.

---

د سورت مريم – ۹ آيت

قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْئًا(۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په اتم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام وپوښتل چې د خپل ډېر بوډاتوب او د خپلې مېرمنې د شنډوالي سره سره به څنګه زوى ولري.
په نهم آيت کې الله تعالى د هغه ځواب ورکوي او ورته يادونه کوي چې د هغه لپاره دا کار ډېر اسانه دى، څکه هماغه ذات دى چې زکريا«عليه السلام» يې له هېڅ شي څخه پيدا کړى دى.

لفظي ترجمه

قَالَ ويې فرمايل — كَذَٰلِكَ همداسې به وي — قَالَ رَبُّكَ ستا رب فرمايلي دي — هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ دا زما لپاره ډېر اسانه دي — وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ او ما ته تر دې مخکې پيدا کړى يې — وَلَمْ تَكُ شَيْئًا حال دا چې ته هېڅ شى نه وې.

روانه ترجمه

الله وفرمايل:همداسې به وي. ستا رب فرمايي: دا زما لپاره ډېر اسانه دي، او ما تا تر دې مخکې پيدا کړى وې، په داسې حال کې چې ته هېڅ شى نه وې

تفسير

الله تعالی د حضرت زکريا عليه السلام پوښتنې ته مستقيم ځواب ورکوي، خو د دې پر ځای چې د معجزې طريقه بيان کړي، د خپل قدرت لوري ته يې پام رااړوي.

د «هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ» معنا دا نه ده چې ځينې کارونه د الله لپاره اسانه او ځينې نور سخت دي، ځکه د الله لپاره هېڅ شی ستونزمن نه دی. دا تعبير د انسان د پوهې له مخې دی، ترڅو وښيي چې هغه څه چې انسان ته ناممکن ښکاري، د الله لپاره هېڅ ستونزه نه لري.

وروسته الله تعالی يو ډېر قوي دليل وړاندې کوي: «ما تا تر دې مخکې پيدا کړی وې، حال دا چې ته هېڅ شی نه وې.» که الله انسان له نشتوالي څخه پيدا کړ، نو بيا يو ډېر بوډا سړي او د هغه شنډې مېرمنې ته د اولاد ورکول لا اسانه دي.

دا آيت موږ ته د ايمان يو ستر اصل را زده کوي: کله چې انسان له داسې حالت سره مخ شي چې د خلکو په نظر ناممکن وي، بايد د الله پخواني قدرتونه او نعمتونه په ياد راوړي. هماغه الله چې انسان يې له نشتوالي څخه پيدا کړ، د هرې ستونزې د حل او هرې معجزې قدرت هم لري.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې که څه هم اسلام موږ ته د اسبابو د کارولو امر کوي، خو زموږ باور بايد يوازې په ظاهري اسبابو پورې محدود نه وي. الله تعالی د طبيعي قوانينو خالق دی؛ نو هر کله چې وغواړي، د همدغو قوانينو څخه پورته او د انسان د تمې خلاف هم خپل قدرت ښکاره کولای شي.

---

د سورت مريم – ۱۰ آيت

قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً ۚ قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا(۱۰)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په نهم آيت کې الله تعالی حضرت زکريا عليه السلام ته ډاډ ورکړ چې د زوی ورکول د هغه لپاره اسانه دي. په لسم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام له الله تعالی څخه يوه نښه غواړي، ترڅو پوه شي چې د الله وعده د پوره کېدو په حال کې ده. الله تعالی هم ورته يوه ځانګړې نښه ټاکي.

## لفظي ترجمه

قَالَ ويې ويل ـــ رَبِّ زما ربه! ـــ اجْعَل لِّي آيَةً زما لپاره يوه نښه وټاکه ـــ قَالَ ويې فرمايل ـــ آيَتُكَ ستا نښه دا ده ـــ أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ چې ته به د خلکو سره خبرې نه کوې ـــ ثَلَاثَ لَيَالٍ درې شپې ـــ سَوِيًّا په داسې حال کې چې روغ او جوړ به يې.

## روانه ترجمه

هغه وويل: «زما ربه! زما لپاره يوه نښه وټاکه.» الله تعالی وفرمايل: ستا نښه دا ده چې ته به درې شپې له خلکو سره خبرې نه شې کولای، حال دا چې روغ او جوړ به يې.

## تفسير

حضرت زکريا عليه السلام د الله په وعده شک نه درلود، بلکې له الله تعالی څخه يې يوه نښه وغوښته، ترڅو د وعدې د پوره کېدو پيل پرې وپېژني او زړه يې لا زيات ډاډه شي.

الله تعالی ورته داسې نښه ورکړه چې د درېو شپو لپاره به له خلکو سره خبرې نه شي کولای، سره له دې چې په بشپړه توګه روغ او سالم

به وي. دا کومه ناروغي یا جسمي نیمګړتیا نه وه، بلکې د الله له لوري یوه معجزه او ځانګړې نښه وه.

د «سَوِيًّا» کلمه ښیي چې حضرت زکریا علیه السلام په بشپړه توګه روغ، سالم او بې له هر ډول جسمي عیب څخه و. د هغه د خبرو نه کول یوازې د خلکو له عادي خبرو سره محدود و. د قرآن له نورو آیتونو څخه څرګندېږي چې هغه بیا هم د الله ذکر او تسبیح کولای شو.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د الله نښې تل د لویو او غیرعادي معجزو په بڼه نه وي. ځینې وخت الله تعالی خپلو بندګانو ته داسې شخصي نښې ورکوي چې د هغوی ایمان، ډاډ او باور پیاوړی کړي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت مهم پیغام دا دی چې مؤمن باید د الله په حکمت باور ولري. موږ ډېر وخت غواړو چې دعاګانې مو سمدستي قبولې شي او نښې مو د خپلې خوښې مطابق ووینو، خو الله تعالی هر بنده ته هغه نښه او هغه وخت ټاکي چې د هغه د ایمان او مصلحت لپاره تر ټولو غوره وي.

---

د سورت مریم – ۱۱ آیت

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ مِنَ الْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ أَنْ سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا(۱۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په لسم آیت کې الله تعالی حضرت زکریا علیه السلام ته نښه وټاکله چې درې شپې به له خلکو سره خبرې نه شي کولای، سره له دې چې روغ او جوړ به وي. په یوولسم آیت کې همدا نښه عملي کېږي. حضرت زکریا علیه السلام خپلو خلکو ته راوځي، خو د خبرو پر ځای په اشاره ورسره خبرې کوي او هغوی ته د الله د تسبیح کولو لارښوونه کوي.

لفظي ترجمه

فَخَرَجَ نو راووت ــــ عَلَىٰ قَوْمِهِ خپلو خلکو ته ــــ مِنَ الْمِحْرَابِ له عبادتځاى څخه ــــ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ نو هغوى ته يې په اشاره وويل ــــ أَنْ سَبِّحُوا چې د الله تسبيح وكړئ ــــ بُكْرَةً وَعَشِيًّا سهار او ماښام

روانه ترجمه

نو هغه له خپل عبادتځاى څخه خپلو خلكو ته راووت، او هغوى ته يې په اشاره وويل: «سهار او ماښام د الله تسبيح وكړئ»

تفسير

دا آيت د الله تعالى د هغې نښې عملي كېدل بيانوي چې په مخكيني آيت كې يې حضرت زكريا عليه السلام ته وركړې وه. هغه نور له خلكو سره خبرې نه شو كولاى، نو خپل پيغام يې په اشاره ورساوه.

د «الْمِحْرَابِ» كلمه دلته د عبادت ځانګړي ځاى ته اشاره كوي؛ هغه ځاى چې حضرت زكريا عليه السلام به پكې عبادت، دعا او د الله ذكر كاوه. دا ښيي چې د هغه ژوند له عبادت او د الله سره له نږدې اړيكې ډک و.

د «فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ» معنا دلته د نبوت وحي نه ده، بلكې په اشاره، اشاره وركولو او خاموشه پيغام رسولو معنا لري. د قرآن په عربي ژبه كې د وحى كلمه د سياق له مخې بېلابېلې معناوې لري، او دلته د اشارې او خاموشه پيغام مفهوم لري.

د پام وړ خبره دا ده چې حضرت زكريا عليه السلام، سره له دې چې خپله په يوه معجزه كې و، د خپل ځان پر ځاى يې د خلكو د الله يادولو ته لومړيتوب وركړ. هغه هغوى ته امر وكړ چې سهار او ماښام د الله

تسبيح وکړي. دا ښيي چې د الله ذکر بايد د مؤمن د ژوند دوامداره برخه وي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې د ژوند مصروفيتونه، ټکنالوژي او ورځنۍ چارې بايد انسان د الله له ياد څخه غافل نه کړي. همدارنګه، انسان يوازې په خبرو نه، بلکې په خپل عمل، اخلاقو او ښه چلند هم نور خلک د الله لوري ته بللای شي.

---

د سورت مريم – ۱۲ آيت

يَا يَحْيَىٰ خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ ۖ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا(۱۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په يوولسم آيت کې حضرت زکريا عليه السلام خپل قوم ته د الله د تسبيح کولو امر وکړ. په دولسم آيت کې د حضرت يحيی عليه السلام د ژوند نوی پړاو پيلېږي.دا ايت ښيي چې د حضرت زکريا عليه السلام دعا الله تعالی قبوله کړه او زوی يې د ماشومتوب له وخته په علم، حکمت او پوهه ونازاوه.

لفظي ترجمه

يَا يَحْيَىٰ اې يحيی! — خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ كتاب په ټينګښت سره ونيسه — وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ او موږ هغه ته حکمت او سمه پرېکړه ورکړه — صَبِيًّا په داسې حال کې چې ماشوم و.

روانه ترجمه

اې يحيی!« کتاب په ټينګښت سره ونيسه.» او موږ هغه ته په ماشومتوب کې حکمت او سمه پرېکړه ورکړه.

تفسير

دا آیت د حضرت یحیی علیه السلام د ځانګړي مقام پیل بیانوي. الله تعالی هغه ته په مستقیم ډول امر کوي چې د الله کتاب په ټینګښت سره ونیسي. له «خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ» څخه مقصد یوازې د کتاب لوستل نه دي، بلکې د هغه زده کړه، پوهېدل، عمل پرې کول، د هغه دفاع کول او په کلکه پرې ټینګ پاتې کېدل دي.

د «بِقُوَّةٍ» معنا یوازې بدني ځواک نه دی، بلکې اراده، اخلاص، جدیت او ثابتقدمي هم پکې شامله ده. یعنې د الله دین باید په پوره عزم او ژمنتیا ومنل شي.

د «وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا» جمله ښیي چې الله تعالی حضرت یحیی علیه السلام ته په ماشومتوب کې ځانګړی حکمت، ژوره پوهه او د حق او باطل ترمنځ د سمې پرېکړې وړتیا ورکړه. دا د الله ځانګړې لورینه وه او د نبوت لپاره یې چمتو کاوه.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د حکمت او علم معیار یوازې عمر نه دی. الله تعالی چې هر چا ته وغواړي، په کم عمر کې هم ژوره پوهه، تقوا او بصیرت ورکوي.

د نننی عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې ځوانان باید د دین زده کړه، د قرآن اړیکه او نیک اخلاق تر زړښت پورې و نه ځنډوي. د ځوانۍ دوره د علم، ایمان او شخصیت د جوړېدو تر ټولو غوره وخت دی. هغه ځوان چې خپل ژوند د الله د هدایت پر بنسټ جوړ کړي، کولای شي پر خپلې کورنۍ، ټولنې او راتلونکو نسلونو مثبت او دوامداره اغېزه ولري.

---

د سورت مریم ــ ۱۳ آیت

وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَاةً ۖ وَكَانَ تَقِيًّا(۱۳)

د مخکینۍ آیت سره اړیکه

په دولسم آیت کې الله تعالی وفرمایل چې حضرت یحیی علیه السلام ته یې په ماشومتوب کې حکمت ورکړ. په دیارلسم آیت کې الله تعالی د هغه نورې ځانګړنې بیانوي؛ یعنې مهرباني، پاکي او تقوا، چې د هغه شخصیت یې د نبوت لپاره بشپړ کړ.

لفظي ترجمه

وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا او(ورکړه مونږ) زمونږ له لوري ځانګړې مهرباني ــــ وَزَكَاةً او پاکي ــــ وَكَانَ تَقِيًّا او هغه ډېر پرهېزګار و.

روانه ترجمه

او مونږ هغه ته له خپل لوري ځانګړې مهرباني او پاکي ورکړه، او هغه ډېر پرهېزګار و.

تفسیر

له دې وروسته چې الله تعالی حضرت یحیی علیه السلام ته د حکمت د ورکړې یادونه وکړه، اوس د هغه د شخصیت او اخلاقو درې سترې ځانګړنې بیانوي.

د «حَنَانًا» کلمه د ژورې مهربانۍ، نرمۍ، شفقت او زړهسواندی معنا لري. الله تعالی حضرت یحیی علیه السلام ته داسې زړه ورکړی و چې له خلکو سره د رحم، مینې او شفقت څخه ډک و. د «مِّن لَّدُنَّا» تعبیر ښیي چې دا ځانګړې مهرباني د الله ځانګړې ډالۍ وه.

د «زَكَاةً» معنا دلته د مال زکات نه ده، بلکې د زړه، نفس، اخلاقو او کردار پاکوالی دی. الله تعالی هغه له دننه او بهر پاک او سپېڅلی ګرځولی و.

د «وَكَانَ تَقِيًّا» معنا دا ده چې حضرت یحیی علیه السلام تل د الله څخه وېرېدونکی، له ګناه څخه ځان ساتونکی او د الله د رضا غوښتونکی و. تقوا د هغه د ژوند یو دوامدار صفت و، نه یو لنډمهالی حالت.

---

د سورت مریم – ۱۴ آیت

وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا (۱۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په دیارلسم آیت کې الله تعالی د حضرت یحیی علیه السلام د زړه او شخصیت ځانګړنې بیان کړې؛ لکه مهرباني، پاکي او تقوا. په څوارلسم آیت کې ښيي چې دا نېک صفات د هغه په عملي ژوند کې هم څرګند وو. هغه له خپلو مور او پلار سره ډېر نېک چلند کاوه او نه متکبر و او نه نافرمان.

لفظي ترجمه

وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ او له خپلو مور او پلار سره ډېر نېک چلند کوونکی و — وَلَمْ يَكُن او نه و — جَبَّارًا متکبر او زورزیاتی کوونکی — عَصِيًّا نافرمان.

روانه ترجمه

او هغه له خپلو مور او پلار سره ډېر نېک چلند کوونکی و، او نه متکبر و او نه نافرمان.

تفسير

له دې وروسته چې الله تعالی د حضرت يحيی عليه السلام د تقوا، مهربانۍ او پاکۍ يادونه وکړه، اوس د هغه د عملي ژوند يوه مهمه ځانګړنه بيانوي. هغه له خپلو مور او پلار سره د ډېر احترام، احسان، خدمت او ښه چلند خاوند و. سره له دې چې هغه د الله پيغمبر و، هېڅکله يې ځان تر خپلو مور او پلار لوړ ونه ګاڼه.

د «جَبَّارًا» کلمه هغه چا ته ويل کېږي چې متکبر، سختزړی، زورواکی او پر نورو د خپل زور او ارادې د تپلو هڅه کوي. حضرت يحيی عليه السلام له دې ټولو صفاتو پاک و.

د «عَصِيًّا» معنا دوامدار نافرمان او سرغړوونکی ده، يعني هغه نه د الله نافرماني کوله او نه يې د خپلو مور او پلار حقونه تر پښو لاندې کول

دا آيت ښيي چې رښتينی ايمان يوازې په عبادت او علم نه بشپړېږي، بلکې بايد د انسان په اخلاقو، عاجزۍ او له مور او پلار سره په ښه چلند کې هم ښکاره شي. علم او عبادت هغه وخت بشپړ ارزښت لري چې له ښه اخلاقو او تواضع سره مل وي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت مهم پيغام دا دی چې نن ډېر خلک بريا يوازې په شتمنۍ، لوړو زده کړو او مقام کې ويني، خو الله تعالی د يحيی عليه السلام ستاينه د هغه د مور او پلار سره د نېک چلند، عاجزۍ او د نافرمانۍ څخه د لرې والي له امله کوي. نو حقيقي عزت

د الله په نزد په ښه اخلاق، تواضع او د والدینو په خدمت کې دی، نه یوازې په دنیایي لاسته راوړنو کې.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې یوازې علم د انسان د کمال لپاره بسنه نه کوي. علم هغه وخت بشپړېږي چې له مهربانی، د زړه له پاکوالي او تقوا سره یو ځای شي.

---

د سورت مریم – ۱۵ آیت

وَسَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا(۱۵)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په څوارلسم آیت کې الله تعالی د حضرت یحیی علیه السلام د غوره اخلاقو یادونه وکړه؛ دا چې له خپلو مور او پلار سره یې نېک چلند کاوه او نه متکبر و او نه نافرمان. په پنځلسم آیت کې الله تعالی د هغه د ژوند دا بیان په دې اعلان پای ته رسوي چې د ژوند په درېیو مهمو پړاوونو کې دې پر هغه سلامتي او امن وي.

لفظي ترجمه

وَسَلَامٌ عَلَيْهِ او پر هغه سلامتي ده — يَوْمَ وُلِدَ په هغه ورځ چې وزیږېد — وَيَوْمَ يَمُوتُ او په هغه ورځ چې وفات کیږي — وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا او په هغه ورځ چې ژوندی راپاځول کیږي.

روانه ترجمه

او پر هغه سلامتي ده؛ په هغه ورځ چې وزیږېد، په هغه ورځ چې وفات کیږي، او په هغه ورځ چې بیرته ژوندی راپاځول کیږي.

تفسیر

الله تعالی د حضرت یحیی علیه السلام د ژوند د ستاینې په پای کې اعلان کوي چې د ژوند په درېیو تر ټولو مهمو او حساسو پړاوونو کې پرې سلامتي، امن او د الله ځانګړې ساتنه ده.

د «سَلَامٌ» کلمه دلته یوازې د سلام ویلو معنا نه لري، بلکې د الله له لوري د امن، ساتنې، رحمت، عزت او له هر ډول ضرر څخه د خوندیتوب معنا هم لري.

په آیت کې درې حالتونه یاد شوي دي: د زېږېدو ورځ، د مرګ ورځ او د قیامت په ورځ بیا راژوندي کېدل. دا د انسان د ژوند تر ټولو ستر او حساس پړاوونه دي. الله تعالی حضرت یحیی علیه السلام ته په دغو ټولو مرحلو کې خپل ځانګړی امن او رحمت ورپه برخه کړی.

دا آیت موږ ته دا هم را زده کوي چې حقیقي سلامتي یوازې د دنیا ظاهري امن نه دی. تر ټولو ستره سلامتي دا ده چې انسان د الله تر ساتنې لاندې وي، په ایمان سره له دنیا ولاړ شي، او د قیامت په ورځ د الله له رحمت او امن څخه برخمن وي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت مهم پیغام دا دی چې خلک د خپل امنیت لپاره پر مال، مقام، ټکنالوژۍ او ځواک تکیه کوي، خو دا ټول موقتي دي. تلپاتې امن او سکون یوازې د الله له لوري دی. هغه څوک چې په ایمان، تقوا او اطاعت ژوند وکړي، د مرګ پر مهال او د قیامت په ورځ به د الله له ځانګړي امن او رحمت څخه برخمن وي.

---

د سورت مریم – ۱۶ آیت

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا(۱۶)

د مخکیني آیت سره اړیکه

الله تعالی د حضرت یحیی علیه السلام د ژوند بیان پای ته رسوي، او وروسته د حضرت مریم علیها السلام کیسه پیلوي. دا دواړه کیسې سره تړاو لري، ځکه حضرت یحیی علیه السلام د ډېر بوډا مور او پلار له لارې په معجزانه توګه وزېږېد، او حضرت عیسی علیه السلام د پلار له شتون پرته وزېږېد. دواړه د الله د قدرت سترې نښې دي.

## لفظي ترجمه

وَاذْكُرْ او یاد کړه — فِي الْكِتَابِ په کتاب کې — مَرْيَمَ د مریم یاد — إِذِ ٱنتَبَذَتْ کله چې جلا شوه — مِنْ أَهْلِهَا له خپلې کورنۍ څخه — مَكَانًا شَرْقِيًّا د ختیځ لوري یوه ځای ته.

## روانه ترجمه

او په کتاب کې د مریم«علیها السلام» یادونه وکړه، کله چې هغه له خپلې کورنۍ څخه جلا شوه او د ختیځ لوري یوه ځای ته ولاړه.

## تفسیر

الله تعالی رسول الله ﷺ ته امر کوي چې د مریم علیها السلام کیسه بیان کړي، ځکه دا یوازې تاریخي پېښه نه ده، بلکې د ایمان، پاکۍ او د الله د قدرت یوه ستره نښه ده.

د مریم علیها السلام د ژوند پیل د سورت آل عمران په ۳۵–۳۷ آیتونو کې بیان شوی دی. د هغې مور نذر وکړ چې خپل ماشوم به د الله د عبادت لپاره وقف کړي. الله تعالی هغه په ښه ډول قبول کړ، زکریا علیه السلام یې سرپرست وګرځاوه، او مریم علیها السلام به په محراب(عبادت خانه) کې اوسېده او عبادت به یې کاوه.

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ...

(آل عمران: 37)

له همدې امله، کله چې دلته فرمايي:

﴿إِذِ ٱنتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا﴾

نو ډېرو مفسرينو لکه ابن جرير طبري، ابن کثير، بغوي او قرطبي ويلي دي چې مراد يې د بيت المقدس ختيځه برخه ده. يعنې مريم عليها السلام له هغه ځايه چې د عبادت لپاره يې ټاکل شوی و، د عبادت او خلوت لپاره د بيت المقدس ختيځ لوري ته ولاړه.

د «ٱنتَبَذَتْ» کلمه دا ښيي چې هغې په خپله خوښه له خلکو څخه ځان ګوښه کړ. دا بېلتون د کورنۍ د شخړې له امله نه و، بلکې د عبادت، اخلاص او د الله سره د خلوت لپاره و.

همدارنګه، د «مَكَانًا شَرْقِيًّا» يادونه د راتلونکي سترې معجزې لپاره زمينه برابروي، ځکه همدلته جبرائيل عليه السلام د انسان په بڼه هغې ته راځي او د عيسى عليه السلام د زېږېدو زېرى ورکوي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې کله الله تعالى يو ستر مسئوليت او لوی نعمت يو بنده ته ورکول غواړي، نو لومړی يې په عبادت، اخلاص او د زړه په پاکوالي روزي. د مريم عليها السلام اوږده عبادت، په محراب کې اوسېدل او د خلوت غوره کول د دې الهي روزنې برخه وه.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې د ايمان، علم او د الله سره د ژورې اړيکې د پياوړتيا لپاره انسان کله ناکله د ژوند له شور، ټولنيزو رسنيو او بې ګټې مصروفيتونو څخه د سکون او عبادت وخت ته اړتيا لري. هماغسې چې مريم عليها السلام د خپل رب د عبادت لپاره خلوت غوره کړ، مؤمن هم بايد د خپل زړه د اصلاح لپاره د قرآن، دعا او تفکر ځانګړی وخت ولري.

---

د سورت مريم – ۱۷ آيت

فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا(۱۷)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې حضرت مريم عليها السلام له خپلې کورنۍ څخه جلا شوه او د بيت المقدس ختيځ لورې ته د عبادت لپاره ولاړه. په دې آيت کې هغې د ځان او خلکو ترمنځ يوه پرده واچوله، ترڅو په بشپړ سکون او خلوت کې عبادت وکړي. په همدې وخت کې الله تعالی حضرت جبرائيل عليه السلام ورولېږه، او هغه د يوه بشپړ انسان په بڼه ورته ښکاره شو.

## لفظي ترجمه

فَاتَّخَذَتْ نو هغې ونيوله — مِن دُونِهِمْ د هغوی له مخې — حِجَابًا يوه پرده — فَأَرْسَلْنَا نو موږ ولېږه — إِلَيْهَا هغې ته — رُوحَنَا خپل روح (جبرائيل) — فَتَمَثَّلَ لَهَا نو هغه هغې ته څرګند شو — بَشَرًا د يوه انسان په بڼه — سَوِيًّا بشپړ او سالم.

## روانه ترجمه

نو هغې د خپل ځان او خلکو ترمنځ يوه پرده واچوله. بيا موږ خپل » روح (جبرائيل عليه السلام) هغې ته ولېږه، نو هغه د يوه بشپړ او سالم انسان په بڼه هغې ته څرګند شو.

## تفسير

حضرت مريم عليها السلام د عبادت لپاره بشپړ خلوت غوښت. له همدې امله يې د خپل ځان او خلکو ترمنځ يوه پرده يا حايل جوړ کړ، ترڅو په ارام او اخلاص سره د خپل رب عبادت وکړي.

دلته د «حجاب» کلمه د پردې، حايل يا جلا کوونکي خنډ په معنا ده، نه د ښځې د لباس په معنا. د دې معنا د آيت له سياق څخه څرګندېږي.

وروسته الله تعالی فرمايي:

﴿فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا﴾

د قرآن نور آيتونه دا روښانوي چې دلته له «روح» څخه مراد حضرت جبرائيل عليه السلام دی. الله تعالی فرمايي:

﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ﴾

«دا قرآن روح الأمين (جبرائيل) را نازل کړی دی.»

(الشعراء: ۱۹۳)

او فرمايي:

﴿قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ﴾

ووايه: روح القدس (جبرائيل) دا قرآن ستا د رب له لوري نازل کړی دی.

(النحل: ۱۰۲)

له دې آيتونو څرګندېږي چې روح، روح الأمين او روح القدس ټول د جبرائيل عليه السلام لپاره کارول شوي دي.

د «رُوحَنَا» معنا دا نه ده چې جبرائيل عليه السلام د الله د ذات کومه برخه ده، بلکې دا د عزت او تشريف نسبت دی؛ لکه قرآن چې وايي: بيت الله (د الله کور) او ناقة الله (د الله اوښه). دا نسبت د عزت لپاره دی، نه دا چې هغه د الله د ذات برخه وي.

جبرائيل عليه السلام د يوه بشپړ او سالم انسان په بڼه را څرګند شو. دا د هغه اصلي بڼه نه وه، بلکې الله تعالی ملائکو ته دا توان ورکړی چې

کله وغواړي د انسان په بڼه ښکاره شي. قرآن هم بیانوي چې ملائکې حضرت ابراهیم او حضرت لوط علیهما السلام ته هم د انسانانو په بڼه ورغلي وو (هود: ۶۹–۸۱)

مریم علیها السلام نه پوهېده چې دا جبرائیل علیه السلام دی. هغې یوازې یو ناپېژندل شوی سړی ولید. د خپلې حیا، عفت او تقوا له امله یې سمدستي د الله پناه وغوښته، لکه په راتلونکي آیت کې چې راځي.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د الله غیبي نړۍ یو حقیقت دی، که څه هم زموږ سترګې یې هر وخت نه شي لیدلای. همدارنګه، دا آیت د مریم علیها السلام د حیا، پاکۍ او اخلاص ښکلی انځور وړاندې کوي. الله تعالی د حضرت عیسی علیه السلام د معجزانه زېږېدو له ستر مسؤلیت څخه مخکې، هغې ته د عبادت، پاکۍ او الله ته د نږدېوالي له لارې ځانګړې روزنه ورکړه.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې مؤمن باید د عبادت، دعا او د قرآن د تدبر لپاره د سکون او خلوت وخت ولري. همدارنګه، باید د الله په ټولو هغو غیبي حقیقتونو ایمان ولري چې قرآن بیان کړي دي، که څه هم د انسان عقل او حواس یې ټول جزئیات نه شي درک کولای.

---

د سورت مریم – ۱۸ آیت

قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا (۱۸)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې حضرت جبرائیل علیه السلام د یوه بشپړ انسان په بڼه حضرت مریم علیها السلام ته ښکاره شو. حضرت مریم نه پوهېده چې دا فرښته ده، بلکې داسې یې وګڼله چې یو ناپېژندل شوی سړی د

هغې د خلوت ځای ته راغلی دی. له همدې امله یې سمدستي د الله پناه وغوښته.

## لفظي ترجمه

قَالَتْ هغې وویل — إِنّي بېشکه زه — أَعُوذُ پناه غواړم — بِالرَّحْمَٰنِ په ډېر مهربان الله — مِنكَ له تا څخه — إِن كُنتَ که ته یې — تَقِيًّا پرهېزګار.

## روانه ترجمه

هغې وویل: بېشکه زه له تا څخه په ډېر مهربان الله پناه غواړم، که ته پرهېزګار یې.

## تفسیر

کله چې مریم علیها السلام یو ناپېژندل شوی سړی د خپل عبادت او خلوت په ځای کې ولید، نه پوهېده چې دا جبرائیل علیه السلام دی. ځکه یې سمدستي د الله پناه وغوښته.

هغې وویل:

﴿إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ﴾

یعنې: «زه له تا څخه په ډېر مهربان الله پناه غواړم»

هغې د الله د «الرَّحْمَٰن» نوم یاد کړ، ځکه هغې د الله په رحمت، ساتنه او قدرت بشپړ باور درلود.

وروسته یې وویل:

﴿إِن كُنتَ تَقِيًّا﴾

یعنې: که ته د الله څخه وېرېدونکی انسان یې.

دا د ګواښ جمله نه وه، بلکې د نصیحت جمله وه. هغې غوښتل د هغه زړه د الله په یاد نرم کړي، یعنې: که ته رښتیا هم د الله څخه وېرېږې، نو ما ته مه رانږدې کیږه او هېڅ بد کار مه کوه.

وروسته قرآن په بل آیت کې حقیقت بیانوي:

﴿قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا﴾ (مریم: ۱۹)

هغه وویل: زه خو یوازې ستا د رب استازی یم، ترڅو تا ته د یو پاک زوی زېری درکړم.

له دې څخه څرګندېږي چې د مریم علیها السلام وېره طبیعي وه، ځکه هغه لا نه پوهېده چې دا د الله فرښته ده.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د خطر او وېرې پر مهال باید لومړی الله ته رجوع وکړو. همدارنګه، د مریم علیها السلام حیا، عفت او پر الله توکل د هر مؤمن لپاره غوره بېلګه ده.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې مؤمن باید خپل عفت، حیا او پاکي وساتي او په هر سخت حالت کې له هر چا مخکې د الله مرسته وغواړي. د الله یاد انسان ته زړه ورتیا، ډاډ او ساتنه ورکوي، او دا هغه اخلاق دي چې د هر وخت لپاره ارزښت لري.

---

د سورت مریم – ۱۹ آیت

قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا(۱۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې مریم علیها السلام، ځکه چې حضرت جبرائیل علیه السلام یې نه پېژانده، د الله پناه وغوښته. په دې آیت کې جبرائیل علیه

السلام د هغې ویره ختموي او ورته وايي چې هغه عادي انسان نه، بلکې د الله استازی دی او د یوه پاک زوی زیری ورکوې.

لفظي ترجمه

قَالَ هغه وویل — إِنَّمَا بېشکه یوازې — أَنَا زه — رَسُولُ استازی یم — رَبِّكِ ستا د رب — لِأَهَبَ ترڅو درکړم — لَكِ تا ته — غُلَامًا یو هلک — زَكِيًّا پاک.

روانه ترجمه

هغه وویل: «زه یوازې ستا د رب استازی یم، ترڅو تا ته د یوه پاک زوی زیری درکړم.

تفسیر

جبرائیل علیه السلام سمدستي د حضرت مریم علیها السلام ویره ختمه کړه او ورته يې وویل چې هغه عادي انسان نه دی، بلکې د الله له لوري رالیږل شوی استازی دی.

د «إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ» جمله ښيي چې ملائکې د خپل ځان له خوا هېڅ کار نه کوي، بلکې یوازې د الله حکم رسوي او عملي کوي.

الله تعالی د ملائکو په اړه فرمايي:

﴿لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾

هغوی د الله په هېڅ حکم کې نافرماني نه کوي، او هغه څه ترسره کوي چې امر ورته شوی وي. (التحريم: ۶)

په آیت کې راغلي:

﴿لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا﴾

په ظاهره داسې ښکاري چې ګواکې جبرائيل عليه السلام زوی ورکوي، خو د قرآن د نورو آيتونو له سياقه څرګندېږي چې ورکوونکی يوازې الله تعالی دی. جبرائيل عليه السلام يوازې د الله د زېري او امر رسول و.

قرآن په بل ځای کې د مريم عليها اسلام په ځواب کې فرمايي:

﴿إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾

کله چې الله تعالی د يوه کار پرېکړه وکړي، نو يوازې ورته وايي: "وشه"، نو هغه کېږي. (آل عمران: ۴۷)

له همدې امله، «لِأَهَبَ» د دې معنا نه لري چې جبرائيل عليه السلام خالق يا ورکوونکی دی؛ بلکې هغه د الله د امر او زېري رسوونکی دی. په قرآن کې ډېر ځله يو عمل هغه چا ته هم نسبت کېږي چې د الله د حکم وسيله وي، خو اصلي فاعل او خالق الله تعالی دی.

د «زَكِيًّا» کلمه د پاک، سپېڅلي، نېک او له ګناه او بدو اخلاقو څخه د پاک انسان معنا لري. دا د عيسی عليه السلام د پاک شخصيت او لوړ مقام څرګندونه کوي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې هر نعمت، هره لورينه او هره ډالۍ په حقيقت کې د الله له لوري ده، که څه هم د هغې د رسولو لپاره الله ملائکې يا نور اسباب وکاروي. مؤمن بايد تل د اسبابو تر شا د الله قدرت ووينې.

د نننې عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې انسان بايد يوازې پر ظاهري اسبابو تکيه ونه کړي. ډاکټر، درمل، ملائکه او نور اسباب

ټول د الله د امر تابع دي. ورکوونکی، خالق او د هر نعمت حقیقي مالک یوازې الله تعالی دی.

---

د سورت مریم – ۲۰ آیت

قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا(۲۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې جبرائیل علیه السلام مریم علیها السلام ته د یوه پاک زوی زیری ورکړ. په دې آیت کې مریم پوښتنه کوي چې دا څنګه ممکنه ده، په داسې حال کې چې هېڅ سړي هغې ته لاس نه دی رسولی او هغې هېڅکله بې‌عفته ژوند نه دی کړی.

لفظي ترجمه

قَالَتْ هغې وویل — أَنَّىٰ څنګه — يَكُونُ کېدای شي — لِي ما ته — غُلَامٌ یو هلک — وَلَمْ يَمْسَسْنِي حال دا چې ما ته لاس نه دی رسولی(ما ته لاس نه دی راوړی) — بَشَرٌ هېڅ انسان — وَلَمْ أَكُ او زه هېڅکله نه یم — بَغِيًّا بې‌عفته ښځه

روانه ترجمه

هغې وویل: څنګه به زه یو زوی ولرم، په داسې حال کې چې هېڅ انسان ما ته لاس نه دی رسولی او زه هېڅکله بې‌عفته ښځه نه یم؟

تفسیر

د مریم علیها السلام دا پوښتنه د الله په قدرت کې د شک له امله نه وه، بلکې هغې غوښتل پوه شي چې دا معجزه به په کوم ډول ترسره کېږي.

د همدې ډول پوښتنې ښېلګه د زکريا عليه السلام په کيسه کې هم شته.
کله چې هغه ته د حضرت يحيى عليه السلام زېرى ورکړل شو، ويې
ويل:

﴿أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ ﴾

زما لپاره به څنګه زوى وي؟ (مريم: ۸)

نه زکريا عليه السلام د الله په قدرت شک درلود، او نه مريم عليها
السلام. دواړو يوازې د طريقې په اړه پوښتنه وکړه.

مريم عليها السلام وويل:

﴿وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ﴾

يعنې هېڅ سړي ما ته لاس نه دى رسولى. مقصد دا دى چې هغې نه
واده کړى و او نه يې له کوم سړي سره داسې اړيکه لرله چې له هغې
څخه ماشوم پيدا شي.

وروسته يې وويل:

﴿وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا﴾

يعنې: زه هېڅکله بېعفته ښځه نه يم.

قرآن په بل ځاى کې هم د مريم عليها السلام د پاکى ستاينه کوي:

﴿وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾

او مريم د عمران لور، چې خپل عفت يې خوندي ساتلى و. (التحريم:
۱۲)

دا آيتونه په څرګنده ثابتوي چې د عيسى عليه السلام زېږېدل د الله يوه
معجزه وه، نه د کوم انساني سبب پايله.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د الله قدرت د طبیعت د قوانینو محدود نه دی. هماغه الله چې د طبیعت قوانین پیدا کړي، د خپل حکمت له مخې له هغو پرته هم کار کولای شي. د عیسی علیه السلام بې پلاره زیږیدل د الله د نامحدود قدرت له سترو نښو څخه دي.

د نننې عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې مؤمن باید په معجزو ایمان ولري، ځکه د الله قدرت د انسان د عقل او ساینس له حدودو لوړ دی. ساینس د الله د پیدا کړو قوانینو مطالعه کوي، خو الله تعالی د هماغو قوانینو خالق دی او هر وخت چې وغواړي، د خپل حکمت له مخې له عادي اسبابو پرته هم خپل امر نافذوي.

---

د سورت مریم – ۲۱ آیت

قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا(۲۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې مریم علیها السلام وپوښتل چې څنګه به زوی ولرم، په داسې حال کې چې هیڅ سړي ما ته لاس نه دی رسولی. په دې آیت کې حضرت جبرائیل علیه السلام ځواب ورکوي چې دا د الله پریکړه ده. د الله لپاره هیڅ شی ستونزمن نه دی، او عیسی علیه السلام به د خلکو لپاره یوه نښه او د الله له لوري رحمت وي.

لفظي ترجمه

قَالَ هغه وویل ـــ كَذَٰلِكِ همداسې به وي ـــ قَالَ رَبُّكِ ستا رب ویلي دي ـــ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ دا زما لپاره اسانه ده ـــ وَلِنَجْعَلَهُ او ترڅو هغه

وګرځوو ـــ آيَةً لِّلنَّاسِ د خلکو لپاره يوه نښه ـــ وَرَحْمَةً مِّنَّا او زموږ له لوري رحمت ـــ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا او دا يوه فيصله شوې خبره ده

روانه ترجمه

هغه وويل: همداسې به وي. ستا رب فرمايلي دي: دا زما لپاره ډېر اسانه دي. موږ به هغه د خلکو لپاره يوه نښه او زموږ له لوري رحمت وګرځوو، او دا يوه فيصله شوې خبره ده.

تفسير

جبرائيل عليه السلام د مريم عليها السلام پوښتنې ته ځواب ورکړ او ورته وويل:

همداسې به وي.

يعنې دا د الله پرېکړه ده، او د الله پرېکړه حتماً عملي کېږي.

وروسته د الله تعالی دا خبره بيانوي:

﴿هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ﴾

يعنې: دا زما لپاره اسانه ده.

د الله لپاره هېڅ کار ستونزمن نه دی. هماغه الله چې آدم عليه السلام يې له مور او پلار پرته پيدا کړ، حوا يې له آدم عليه السلام څخه پيدا کړه، او نور انسانان يې له مور او پلار څخه پيدا کړل، د عيسی عليه السلام بې پلاره پيدا کول هم ورته اسانه دي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾

د الله په نزد د عيسی مثال د آدم په څېر دی. هغه يې له خاورې پيدا کړ، بيا يې ورته وويل: "وشه"، نو هغه شو. (آل عمران: ۵۹)

الله تعالی بیا فرمايي:

﴿وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ﴾

يعني د عيسی عليه السلام بې پلاره زيږېدل د ټولو خلکو لپاره د الله د قدرت يوه څرګنده نښه ده، ترڅو پوه شي چې الله تعالی چې هر څه وغواړي، ترسره کولای شي.

وروسته فرمايي:

﴿وَرَحْمَةً مِّنَّا﴾

يعني عيسی عليه السلام د الله تعالی له لوري رحمت هم و، ځکه هغه د بني اسرائيلو لپاره د هدايت، حق او معجزو سره رالېږل شوی و. هر چا چې د هغه په اصلي پيغام ايمان راوړ، د الله له رحمت څخه برخمن شو.

په پای کې فرمايي:

﴿وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا﴾

يعني دا د الله له مخکې ټاکل شوې او پرېکړه شوې فيصله وه. هېڅوک يې نه شي بدلولای او نه يې مخه نيولای شي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې کله الله د يوه کار پرېکړه وکړي، نو هغه خامخا ترسره کېږي، که څه هم د انسان عقل ته ناممکن ښکاره شي.

د نننې عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې انسان بايد د الله قدرت د طبيعت په عادي قوانينو محدود ونه ګڼي. ساينس د الله د پيدا کړو قوانينو مطالعه کوي، خو الله تعالی د هماغو قوانينو خالق دی او هر وخت چې وغواړي، د خپل حکمت له مخې له عادي اسبابو پرته هم خپل امر نافذوي.

---

د سورت مريم – ۲۲ آيت

فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا(۲۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې حضرت عيسی عليه السلام به د خلکو لپاره يوه نښه او د الله له لوري رحمت وي. په دې آيت کې الله تعالی بيانوي چې حضرت مريم عليها السلام د الله په امر حامله شوه او بيا له خلکو څخه يو لرې ځای ته ولاړه.

لفظي ترجمه

فَحَمَلَتْهُ نو هغه پرې حامله شوه — فَانْتَبَذَتْ نو جلا شوه — بِهِ له هغه سره — مَكَانًا يوه ځای ته — قَصِيًّا ډېر لرې.

روانه ترجمه

نو هغه پرې حامله شوه، او بيا له هغه سره يو ډېر لرې ځای ته ولاړه.

تفسير

د جبرائيل عليه السلام له زېري وروسته، مريم عليها السلام د الله تعالی په امر په عيسی عليه السلام حامله شوه.

قرآن په بل ځای کې د دې معجزې څرنګوالی داسې بيانوي.

﴿فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا﴾

نو موږ په هغې کې د خپل روح له لارې وپوکل.» (التحريم: ۱۲، « الأنبياء: ۹۱)

د دې آيتونو په رڼا کې، «روحنا» څخه مراد جبرائيل عليه السلام دی، لکه مخکې مو د النحل: ۱۰۲ او الشعراء: ۱۹۳ له آيتونو څخه څرګنده کړه. حضرت جبرائيل عليه السلام يوازې د الله د امر وسيله و؛ خالق او پيدا کوونکی يوازې الله تعالی دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾

کله چې الله د يوه کار پرېکړه وکړي، يوازې ورته وايي: "وشه"، نو هغه کيږي. (آل عمران: ۴۷)

وروسته حضرت مريم عليها السلام يو ډېر لرې ځای ته ولاړه.

د «قَصِيًّا» کلمه د ډېر لرې، ګوښه او له خلکو لرې ځای معنا لري. قرآن د هغه ځای نوم نه يادوي، نو موږ هم بايد يوازې هماغه څه ووايو چې قرآن او معتبر دلايل يې بيانوي.

ډېرو مفسرينو ويلي چې مريم عليها السلام ځکه له خلکو لرې شوه چې پوهېده خلک به د هغې د حمل حقيقت نه درک کوي. الله تعالی غوښتل هغه د يوې سترې ازموينې لپاره چمتو کړي، ځکه ډېر ژر به د خلکو له سختو خبرو او تورونو سره مخامخ کېده.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې الله تعالی کله ناکله خپل نېک بندګان له لويو نعمتونو مخکې په سختو ازموينو کې اچوي. مريم عليها السلام د يوازيتوب، اندېښنې او د خلکو د خبرو ازموينه تېره کړه، خو الله تعالی هر وخت ورسره و.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې کله انسان د حق پر لاره روان وي، کېدای شي د خلکو له ناسم قضاوت، تورونو او ستونزو سره مخ شي. خو مؤمن بايد صبر وکړي او پر الله باور ولري، ځکه

الله تعالی په حقیقت پوهېږي او د هغه مرسته په خپل مناسب وخت را رسيږي.

---

د سورت مريم – ۲۳ آيت

فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا(۲۳) >

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې مريم عليها السلام حامله شوه او يو لرې ځای ته ولاړه. په دې آيت کې د ولادت وخت راورسېد. د ولادت دردونه هغه د کجورې د ونې تر تنې پورې ورسوله، او د سخت درد، يوازيتوب او د خلکو د خبرو د اندېښنې له امله يې دا هيله وکړه چې کاش له دې مخکې مړه شوې وای.

لفظي ترجمه

فَأَجَاءَهَا نو هغه ورسوله — الْمَخَاضُ د ولادت دردونو — إِلَىٰ تر — جِذْعِ النَّخْلَةِ د کجورې د ونې تنې ته — قَالَتْ هغې وويل — يَا لَيْتَنِي کاشکې زه — مِتُّ مړه شوې وای — قَبْلَ هَٰذَا له دې مخکې — وَكُنتُ او وای — نَسْيًا مَّنسِيًّا داسې هېره شوې چې هېڅوک مې ياده نه کړي(يعنې چې نوم او نښان مې نه و پاتې شوی).

روانه ترجمه

نو د ولادت دردونو هغه د کجورې د ونې تر تنې پورې ورسوله. هغې وويل: کاشکې زه له دې مخکې مړه شوې وای او په بشپړه توګه هېره شوې وای(يعنې چې نوم او نښان مې نه و پاتې شوی)..

تفسير

کله چې د عیسی علیه السلام د زیږېدو وخت راورسېد، د ولادت سختو دردونو مریم علیها السلام د کجورې د ونې تر تنې پورې ورسوله.

د «الْمَخَاضُ» کلمه د ولادت دردونو ته ویل کېږي. دا ښيي چې که څه هم مریم علیها السلام د الله غوره بنده وه، بیا هم د زېږون طبیعي دردونه یې احساس کړل. د الله نېک بنده کېدل دا معنا نه لري چې انسان به له هر ډول ازموینې او سختۍ خوندي وي.

هغې وویل:

﴿يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا﴾

دا د الله په پرېکړه اعتراض نه و، بلکې د سخت درد، یوازیتوب او د خلکو د احتمالي تورونو له وېرې ښخه راوتلې خبره وه.

د قرآن راتلونکې آیتونه ښيي چې الله تعالی هغه یوازې پرې نه ښوده، بلکې هغې ته یې ډاډ ورکړ، اوبه او خواړه یې ورته برابر کړل او د هغې عزت یې وساته (مریم: ۲۴–۲۶)

د «نَسْيًا مَّنسِيًّا» معنا دا ده چې هغې هیله کوله داسې هېره شوې وای چې هېڅوک یې نوم هم نه وای یاد کړی، ترڅو له دې سترې ازموینې او د خلکو له تورونو سره نه وای مخ شوې.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې حتی د الله تر ټولو غوره بندګان هم د سختو ازموینو پر مهال د غم، درد او کمزورۍ احساس کولی شي. دا احساس ګناه نه ده؛ مهمه دا ده چې انسان پر الله باور وساتي او د هغه له رحمته نا امېده نه شي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې که مؤمن د سختو ستونزو، غمونو او یوازیتوب سره مخ شي، باید فکر ونه کړي چې الله هغه پرېښی دی. الله تعالی د مریم علیها السلام درد، غم او اندېښنه لیدله

او په مناسب وخت یې مرسته ورسره وکړه. همداسې، الله د هر مؤمن په حالت پوهېږي، او د هغه مرسته په خپل غوره وخت را رسېږي.

---

د سورت مريم – ۲۴ آيت

فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا(۲۴)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې مريم عليها السلام د ولادت د سختو دردونو، يوازيتوب او انديښنې له امله وويل: «کاشکې زه له دې مخکې مړه شوې وای.» په دې آيت کې الله تعالى هغې ته ډاډ ورکوي، غم يې لرې کوي او د هغې لپاره د اوبو چينه برابروي.

لفظي ترجمه

فَنَادَاهَا نو هغه ورته غږ وکړ — مِن تَحْتِهَا د هغې له لاندې — أَلَّا تَحْزَنِي چې غم مه کوه — قَدْ جَعَلَ يقيناً پيدا کړی دی — رَبُّكِ ستا رب — تَحْتَكِ ستا لاندې — سَرِيًّا يوه روانه وياله(د اوبو يوه چينه)

روانه ترجمه

نو د هغې له لاندې ښخه چا غږ وکړ: غم مه کوه، ستا رب ستا تر لاندې يوه روانه وياله(يا د اوبو يوه چينه) پيدا کړې ده.

تفسير

کله چې مريم عليها السلام د خپلې ازموينې تر ټولو سخت پړاو ته ورسېده، الله تعالى هغه يوازې پرې نه ښوده، بلکې سمدستي يې د ډاډ او رحمت پيغام ورواستاوه.

د ﴿فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا﴾ په اړه د مفسرينو ترمنځ دوه مشهور نظرونه شته

ډېرى مفسرين، لکه ابن کثير، وايي چې غږ کوونکى عيسى عليه السلام و، چې د الله په معجزه يې د زېږېدو په لومړيو شيبو کې خبرې وکړې. دا نظر د راتلونکو آيتونو سره هم سمون لري، ځکه عيسى عليه السلام وروسته په زانګو کې هم خبرې کوي.

ځينې مفسرين وايي چې غږ کوونکى جبرائيل عليه السلام و.

قرآن په دې آيت کې د غږ کوونکي نوم په څرګند ډول نه دى ياد کړى، نو غوره ده چې دواړه مشهور نظرونه ياد کړو او په هغه څه کې پرېکنده خبره ونه کړو چې قرآن يې صراحت نه دى کړى.

غږ کوونکي وويل:

﴿أَلَّا تَحْزَنِي﴾

يعنې: غم مه کوه.

دا د الله له لوري د مريم عليها السلام لپاره د رحمت او ډاډ لومړۍ خبرې وې. دا ښيي چې الله د خپلو بندګانو په درد، غم او اړتياوو پوهېږي او په مناسب وخت يې مرسته کوي.

وروسته وويل:

﴿قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا﴾

د «سَرِيًّا» معنا د ډېرى مفسرينو په نزد روانه وياله يا د اوبو چينه ده. الله تعالى د مريم عليها السلام لپاره په هغه ځاى کې تازه اوبه پيدا کړې.

په راتلونکي آيت کې الله تعالى هغې ته د کجورې تازه مېوې هم برابروي. يعنې الله د هغې روحي اړتيا (ډاډ) او جسمي اړتيا (اوبه او خواړه) دواړه پوره کړل.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د سختو تیارو شپېو وروسته د الله مرسته را رسیږي. کله چې انسان ځان یوازې احساس کړي، الله داسې لارې پرانیزي چې انسان یې تصور هم نه شي کولای.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې که مؤمن د ژوند په سختو ازموینو کې غمجن او ناهیلی شي، باید د الله له رحمته ناامېده نه شي. لکه څنګه چې الله تعالی مریم علیها السلام ته د درد په وخت کې ډاډ، اوبه او روزي ورکړه، همداسې د هر مؤمن لپاره هم د هغه د حکمت مطابق د خلاصون او رحمت لارې برابروي.

---

د سورت مریم – ۲۵ آیت

وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا(۲۵)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی مریم علیها السلام ته د اوبو یوه روانه ویاله ورکړه. په دې آیت کې الله تعالی د هغې د خوړو اړتیا هم پوره کوي او امر ورته کوي چې د کجورې د ونې تنه وخوځوي، ترڅو پرې تازه او پخې کجورې راولویږي.

لفظي ترجمه

وَهُزِّي او وخوځوه — إِلَيْكِ خپل لور ته — بِجِذْعِ النَّخْلَةِ د کجورې د ونې تنه — تُسَاقِطْ عَلَيْكِ پر تا به راولویږي — رُطَبًا تازه او پخې کجورې — جَنِيًّا چې د خوړلو لپاره چمتو وي.

روانه ترجمه

او د کجورې د ونې تنه خپل لور ته وخوځوه، تازه او پخې کجورې به پر تا راولوېږي.

تفسير

له دې وروسته چې الله تعالى حضرت مريم عليها السلام ته اوبه برابرې کړې، اوس يې د خوړو انتظام هم ورته وکړ.

الله تعالى وفرمايل:

﴿وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ﴾

يعنې: د کجورې د ونې تنه وخوځوه.

که څه هم مريم عليها السلام تازه ماشوم زېږولی و او په ظاهري توګه کمزورې وه، بيا هم الله تعالى ورته د هڅې کولو امر وکړ. الله کولای شول چې کجورې له خوځولو پرته هم راولوېږي، خو غوښتل يې يو مهم اصل انسانانو ته وښيي: بنده بايد د خپل توان په اندازه هڅه وکړي، او پايله الله ته وسپاري.

دا اصل د قرآن په نورو آيتونو کې هم ليدل کيږي؛ الله تعالى انسان ته د اسبابو د کارولو امر کوي، خو بريا او نتيجه يوازې د هغه په لاس کې ده.

الله تعالى د مريم عليها السلام لپاره تازه، پخې او د خوړلو لپاره تيارې کجورې برابرې کړې. دا د الله د رحمت او پاملرنې ښکاره نښه وه، ځکه هغې ته يې هم اوبه ورکړې او هم مناسب خواړه.

په بل آيت کې الله تعالى ورته فرمايي:

﴿فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا﴾ (مريم: ۲۶)

«نو وخوره، وڅښه او سترګې دې يخې کړه (خوشحاله او ډاډه اوسه)»

دا ښيي چې الله تعالی د مريم عليها السلام د بدن اړتياوې (خواړه او اوبه) او د زړه اړتيا (ډاډ او سکون) دواړه پوره کړل.

ځينې خلک پوښتنه کوي چې يوې کمزورې ښځې څنګه د کجورې د ونې تنه خوځولای شوه؟ د آيت مقصد د مريم عليه السلام د بدني ځواک بيانول نه دي، بلکې دا ښيي چې هغې د الله امر ومنلو، او الله تعالی په خپل قدرت معجزه ښکاره کړه. د کجورو لوېدل د الله کار و، نه د مريم عليها السلام د ځواک نتيجه.

د نننې عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې مؤمن بايد تل هڅه وکړي، اسباب وکاروي او خپل مسؤليت ترسره کړي، خو زړه يې بايد يوازې پر الله تکيه ولري. هڅه د بنده دنده ده، او بريا د الله له لوري ده.

---

د سورت مريم – ۲۶ آيت

فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا(۲۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی مريم عليها السلام ته تازه کجورې برابرې کړې. په دې آيت کې الله تعالی هغې ته امر کوي چې وخوري، وڅښي او ډاډه شي. همدارنګه، هغې ته لارښوونه کوي چې کله له خلکو سره مخ شي، څه ډول چلند وکړي.

## لفظي ترجمه

فَكُلِي نو وخوره ــــ وَاشْرَبِي او وڅښه ــــ وَقَرِّي عَيْنًا او سترګې دې یخې کړه (ډاډه او خوشحاله اوسه) ــــ فَإِمَّا نو که ــــ تَرَيِنَّ ووینې ــــ مِنَ الْبَشَرِ له خلکو څخه ــــ أَحَدًا څوک ــــ فَقُولِي نو ووایه ــــ إِنِّي بېشکه ما ــــ نَذَرْتُ نذر کړی دی ــــ لِلرَّحْمَٰنِ ډېر مهربان الله ته ــــ صَوْمًا روژه ــــ فَلَنْ أُكَلِّمَ نو خبرې به ونه کړم ــــ الْيَوْمَ نن ــــ إِنسِيًّا له هېڅ انسان سره.

## روانه ترجمه

نو وخوره، وڅښه او ډاډه اوسه. که له خلکو څخه دې څوک ولید، نو ووایه: ما د ډېر مهربان الله لپاره د چوپتیا نذر کړی دی، نو نن به له هېڅ انسان سره خبرې ونه کړم.

## تفسیر

له سختې ازموینې وروسته الله تعالی مریم علیها السلام ته خپل رحمت ښکاره کړ. لومړی یې د هغې د بدن اړتیاوې پوره کړې، اوبه او خواړه یې ورکړل، او بیا یې د زړه د سکون لپاره وفرمایل.

﴿وَقَرِّي عَيْنًا﴾

دا یوه عربي اصطلاح ده، چې معنا یې دا ده: ډاډه اوسه، غم مه کوه، زړه دې آرام او خوشحاله کړه.

وروسته الله تعالی هغه د خلکو د مخامخ کېدو لپاره چمتو کړه.

هغه وفرمایل:

﴿إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا﴾

دلته د «صَوْم» معنا د خوراک او څښاک روژه نه ده، بلکې د خبرو نه کول دي. قرآن خپله دا معنا بیانوي، ځکه سمدستي وریسې وایي.

﴿فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا﴾

«نن به له هېڅ انسان سره خبرې ونه کړم»

دا د مریم علیها السلام لپاره د هغه وخت ځانګړی حکم و.

په اسلام کې د عبادت په توګه د تلپاتې چوپتیا نذر نشته. رسول الله ﷺ د داسې نذر اجازه نه ده ورکړې، نو دا حکم یوازې د مریم علیها السلام د ځانګړي حالت لپاره و.

الله تعالی پوهېده چې خلک به پر مریم علیها السلام ناحقه تورونه ولګوي. له همدې امله یې هغې ته د بحث او خپل ځان د دفاع کولو امر ونه کړ، بلکې د چوپ پاتې کېدو لارښوونه یې وکړه. وروسته الله تعالی خپله د عیسی علیه السلام په معجزه سره، چې په زانګو کې یې خبرې وکړې، د مریم بې‌ګناهي خلکو ته ښکاره کړه.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې هر تور او هر بحث ته سمدستي ځواب ورکول اړین نه دي. کله ناکله صبر، چوپتیا او پر الله توکل تر اوږدو بحثونو ډېر تاثیر لري، او الله تعالی په خپل وخت حقیقت ښکاره کوي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې که یو مؤمن د ناحقه تورونو او بدو خبرو سره مخ شي، باید هر وخت په غوسه او شخړه ځواب ورنه کړي. کله ناکله تر ټولو غوره لاره دا ده چې پر الله باور ولري، صبر وکړي او یقین ولري چې الله تعالی به حقیقت په خپل مناسب وخت څرګند کړي.

---

د سورت مریم – ۲۷ آیت

فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥۖ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا(۲۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی مريم عليها السلام ته امر وکړ چې کله خپل قوم ته ورشي، خبرې دې نه کوي. په دې آيت کې هغې خپل ماشوم په غيږ کې قوم ته راوستلو، او خلک د دې منظر په ليدو سخت حيران شول.

## لفظي ترجمه

فَأَتَتْ نو راغله ـــ بِهِ د هغه سره ـــ قَوْمَهَا خپل قوم ته ـــ تَحْمِلُهُ هغه يې په غيږ کې وړی و ـــ قَالُوا هغوی وويل ـــ يَا مَرْيَمُ اې مريم! ـــ لَقَدْ جِئْتِ يقيناً تا راوړی دی ـــ شَيْئًا يو شی(يو کار) ـــ فَرِيًّا ډېر ستر او حيرانوونکی.

## روانه ترجمه

نو هغې خپل ماشوم په غيږ کې، خپل قوم ته راغله. هغوی وويل: اې مريم! يقيناً تا يو ډېر ستر او حيرانوونکی کار کړی دی.

## تفسير

مريم عليها السلام، لکه څنګه چې الله تعالی ورته امر کړی و، خپل ماشوم يې په غيږ کې واخيست او خپل قوم ته ورغله. هغه له خلکو ونه تښتېده او ځان يې پټ نه کړ، ځکه پر خپل رب يې بشپړ باور درلود.

کله چې خلکو هغه د ماشوم سره وليده، حيران شول. هغوی مريم عليها السلام د پاکۍ، عبادت او عفت له امله پېژندله. له همدې امله، د ماشوم ليدل د دوی لپاره داسې ښېښه وه چې د عادي اسبابو له مخې يې هېڅ توجيه نه درلوده.

هغوی وويل:

﴿لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا﴾

د «فَرِيًّا» کلمه د داسې ستر، سخت او حیرانوونکي کار لپاره کارول کېږي چې خلک یې ډېر لوی او بېساری وبولي. په هغه وخت کې دوی په حقیقت نه پوهېدل، نو د ظاهري حالت له مخې یې دا خبره وکړه.

خو قرآن وروسته روښانوي چې د دوی دا ګومان ناسم و. الله تعالی خپله د عیسی علیه السلام په معجزه سره د مریم علیها السلام بېګناهي ثابته کړه، کله چې هغه په زانګو کې خبرې وکړې (مریم: ۲۹–۳۰)

دا آیت موږ ته را زده کوي چې یوازې د ظاهري حالت له مخې پر خلکو حکم کول سم نه دي. انسان باید تر هغې د چا په اړه پرېکړه ونه کړي، څو حقیقت روښانه نه وي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې نن هم ډېر خلک د نیمګړو معلوماتو، اوازو او ظاهري بڼې پر اساس پر نورو تورونه لګوي. قرآن موږ ته را زده کوي چې له دلیل او حقیقت پرته قضاوت ونه کړو، او که پر موږ ناحقه تور ولګېږي، نو د مریم علیها السلام په څېر پر الله توکل ولرو، ځکه حقیقت په پای کې څرګندېږي.

---

د سورت مریم – ۲۸ آیت

يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا(٢٨)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې خلکو مریم علیها السلام ماشوم په غېږ کې ولیده او حیران شول. په دې آیت کې هغوی د هغې د پاکې کورنۍ یادونه کوي او وایي چې نه یې پلار بد انسان و او نه یې مور بېعفته ښځه وه.

لفظي ترجمه

یَا اې — أُخْتَ خور د — هَارُونَ هارون — مَا كَانَ نه و — أَبُوكِ ستا پلار — امْرَأَ سَوْءٍ بد سړی — وَمَا كَانَتْ او نه وه — أُمُّكِ ستا مور — بَغِيًّا بې‌عفته ښځه

(عفت عربي کلیمه ده معنی یې ده:پاکدامني،پاکي،حیا او پاک اخلاق او ځان د حرامو کارونو څخه ساتل)

روانه ترجمه

اې د هارون خورې! نه دې پلار بد انسان و، او نه دې مور بې‌عفته ښځه وه.

تفسیر

خلکو حضرت مریم علیها السلام ته وویل:

﴿یَا أُخْتَ هَارُونَ﴾

یعني: «اې د هارون خورې»!

ځینو خلکو پر قرآن اعتراض کړی چې ګواکې دلته د مریم علیها السلام (د عیسی علیه السلام مور) او د موسی او هارون علیهما السلام د خور ترمنځ ګډوډي شوې ده. خو دا اعتراض سم نه دی.

صحیح مسلم روایت کوي چې کله د نجران عیسویانو دا پوښتنه راپورته کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل:

هغوی به خپل اولادونه د خپلو پیغمبرانو او نیکو خلکو په نومونو نومول.

یعني دلته یاد شوی هارون د موسی علیه السلام ورور نه و، بلکې د بني اسرائیلو یو نیک او مشهور سړی و، او مریم علیها السلام د هغه د کورنۍ، نسل یا د هغه د نېکۍ له امله ورته منسوبه شوې ده.

ځینو مفسرینو دا هم ویلي چې «د هارون خور» یوه عربي اصطلاح ده، چې معنا یې ده: اې هغه ښځې چې د هارون په څېر د نېکو خلکو له کورنۍ یا لارې څخه یې.

بیا خلکو وویل:

﴿مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا﴾

یعني: ستا پلار بد انسان نه و، او ستا مور هم بېعفته ښځه نه وه.

د دوی مطلب دا و چې: ته د یوې پاکې او عزتمندې کورنۍ لور یې، نو دا ماشوم دې څنګه راوست؟

خو هغوی یوازې ظاهري حالت ته کتل او د الله د معجزې په حقیقت نه پوهېدل. لږ وروسته الله تعالی خپله د عیسی علیه السلام په معجزه سره د مریم علیها السلام بېګناهي ښکاره کړه.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د انسان د کورنۍ ښه نوم د هغه د عزت نښه ده، خو خلک باید یوازې د ظاهري حالاتو پر بنسټ پرېکړه ونه کړي. حقیقت هغه دی چې الله پرې پوهېږي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې انسان باید د اوازو، ظاهري بڼې او نیمګړو معلوماتو پر اساس پر خلکو تورونه ونه لګوي. د مؤمن دنده دا ده چې تر حقیقت معلومېدو مخکې عادلانه چلند وکړي، ځکه الله تعالی د هر پټ او ښکاره حقیقت بشپړ علم لري.

---

د سورت مريم – ۲۹ آیت

فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا(۲۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې خلکو مريم عليها السلام ته سختې خبرې وکړې. الله تعالی هغې ته امر کړی و چې خبرې ونه کړي. په دې آيت کې مريم عليها السلام د الله امر عملي کوي؛ د خلکو پوښتنو ته ځواب نه ورکوي، بلکې خپل ماشوم ته اشاره کوي. خلک حيرانېږي او وايي: څنګه له داسې ماشوم سره خبرې وکړو چې لا په زانګو کې پروت دی؟

لفظي ترجمه

فَأَشَارَتْ نو هغې اشاره وکړه — إِلَيْهِ هغه ته — قَالُوا هغوی وويل — كَيْفَ څنګه — نُكَلِّمُ خبرې وکړو — مَن له هغه چا سره چې — كَانَ دی — فِي الْمَهْدِ په زانګو کې — صَبِيًّا يو ماشوم.

روانه ترجمه

نو هغې هغه (ماشوم) ته اشاره وکړه. هغوی وويل: موږ څنګه له داسې ماشوم سره خبرې وکړو چې لا په زانګو کې دی؟

تفسير

مريم عليها السلام د الله امر ته غاړه کېښوده. هغې د خلکو د تورونو ځواب ورنه کړ، بلکې يوازې يې عيسی عليه السلام ته اشاره وکړه.

دا اشاره د هغې د الله پر وعده د بشپړ باور نښه وه. هغې يقين درلود چې الله به خپله د هغې بېګناهي ښکاره کړي.

کله چې خلکو دا اشاره وليده، په حيرانتيا يې وويل:

﴿كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا﴾

يعنې: موږ څنګه له داسې ماشوم سره خبرې وکړو چې لا په زانګو کې پروت دی؟

د «المهد» کلمې معنی ده: زانګو یا هغه ځای چې ماشوم پکې پروت وي. دا ښيي چې عیسی علیه السلام لا نوی زیږېدلی ماشوم و.

د انسان د عادي تجربې له مخې، نوی زیږېدلی ماشوم خبرې نه شي کولای. خو الله تعالی غوښتل د مریم علیها السلام بېګناهي په داسې معجزه ثابته کړي چې هېڅوک یې انکار ونه شي کړای.

الله تعالی مخکې هم د عیسی علیه السلام په اړه فرمایلي وو:

﴿وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا﴾

او هغه به له خلکو سره په زانګو کې او د لویوالي په عمر کې خبرې کوي. (آل عمران: ۴۶)

نو په زانګو کې خبرې کول د عیسی علیه السلام له ځانګړو معجزو څخه وه، چې الله تعالی د مریم علیها السلام د عزت او د خپل قدرت د ښکاره کولو لپاره ورکړه.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې کله الله د خپل بنده د مرستې وعده وکړي، نو د هغه مرسته حتمي ده، که څه هم د انسان له عقل او عادت څخه لوړه وي. مریم علیها السلام چوپ پاتې شوه، او الله تعالی خپله د هغې دفاع وکړه.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې که یو مؤمن د ناحقه تورونو او بدګمانیو سره مخ شي، باید هر وخت په غوسه او شخړه ځواب ورنه کړي. کله ناکله پر الله توکل، صبر او د هغه د مرستې انتظار تر ټولو قوي ځواب وي، ځکه الله کولی شي حقیقت په داسې ډول ښکاره کړي چې انسان یې تصور هم نه کوي.

---

د سورت مریم – ۳۰ آیت

قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا(۳۰)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې خلکو وويل: «موږ څنګه له داسې ماشوم سره خبرې وکړو چې لا په زانګو کې دی؟» په دې آيت کې الله تعالی خپله معجزه ښکاره کړه، او عيسی عليه السلام، چې لا نوی زيږېدلی ماشوم و، خبرې پيل کړې.

## لفظي ترجمه

قَالَ هغه وويل — إِنِّي بېشکه زه — عَبْدُ اللَّهِ د الله بنده يم — آتَانِيَ ماته يې راکړی دی — الْكِتَابَ کتاب — وَجَعَلَنِي او زه يې ګرځولی يم — نَبِيًّا پيغمبر.

## روانه ترجمه

هغه وويل: بېشکه زه د الله بنده يم. هغه ماته کتاب راکړی دی او زه يې پيغمبر ګرځولی يم.

## تفسير

د الله تعالی په امر، عيسی عليه السلام په زانګو کې خبرې وکړې. دا د هغه له سترو معجزو څخه يوه وه.

د هغه لومړۍ جمله دا وه:

﴿إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ﴾

«بېشکه زه د الله بنده يم»

دا د دې آيت تر ټولو مهم پيغام دی. عيسی عليه السلام تر هر څه مخکې خپل ځان د الله بنده معرفي کړ. نه يې وويل چې زه د الله زوی يم او نه يې د ځان لپاره د الوهيت کومه دعوه وکړه.

قرآن په بل ځای کې هم دا حقیقت بیانوي:

﴿لَّن يَسْتَنكِفَ الْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ﴾

مسیح هېڅکله دا نه ګڼي «چې د الله بنده کېدل د هغه لپاره د شرم خبره ده.» (النساء: ۱۷۲)

او الله تعالی فرمايي:

﴿إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ﴾

هغه یوازې یو بنده و چې موږ پرې خپل نعمت کړی و. (الزخرف: ۵۹)

.دا آیتونه په څرګنده ښيي چې عیسی علیه السلام د الله بنده او رسول و.

وروسته حضرت عیسی علیه السلام وویل:

﴿آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا﴾

یعنې: الله ماته کتاب راکړی او زه يې پيغمبر ګرځولی يم.

که څه هم هغه لا ماشوم و، خو د الله له علم او پرېکړې سره سم يې د خپل راتلونکي رسالت خبر ورکړ. په قرآن کې ډېر ځای راتلونکي پېښې د يقين له امله د تېر وخت په بڼه بيانېږي.

دلته له «الْكِتَابَ» څخه مراد انجيل دی، چې الله تعالی وروسته پر عیسی علیه السلام نازل کړ.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د ټولو پیغمبرانو تر ټولو ستر مقام د الله بندګي ده. د هغوی عزت په دې کې و چې د الله بندګان او د هغه د پيغام رسوونکي وو، نه دا چې د الوهيت کومه برخه ولري.

د نننې عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې موږ باید عیسی علیه السلام ته د الله د ستر پيغمبر په توګه درناوی وکړو، خو د قرآن له

ځرګند بیان سره سم ایمان ولرو چې هغه د الله بنده، رسول او پیغمبر و، نه الله او نه هم د الله زوی. دا آیت د توحید یو روښانه او بنسټیز اصل بیانوي.

---

د سورت مریم – ۳۱ آیت

وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا(۳۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې عیسی علیه السلام وویل چې هغه د الله بنده دی، الله ورته کتاب ورکړی او پیغمبر یې ګرځولی دی. په دې آیت کې هغه د الله نور نعمتونه او هغه حکمونه بیانوي چې الله تعالی ورته سپارلي دي.

لفظي ترجمه

وَجَعَلَنِي او زه یې ګرځولی یم — مُبَارَكًا برکتمن — أَيْنَ مَا كُنتُ هر چیرې چې یم — وَأَوْصَانِي او ما ته یې حکم کړی — بِالصَّلَاةِ په لمانځه — وَالزَّكَاةِ او زکات — مَا دُمْتُ تر هغه چې زه — حَيًّا ژوندی یم.

روانه ترجمه

او هغه زه هر چیرې چې یم، برکتمن ګرځولی یم، او تر هغه چې ژوندی یم، د لمانځه او زکات حکم یې راته کړی ده.

تفسیر

عیسی علیه السلام خپلې خبرې ته دوام ورکړ او ویې فرمایل:

﴿وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ﴾

«الله زه هر چېرې چې یم، برکتمن ګرځولی یم»

د «مُبَارَكًا» معنا دا نه ده چې عیسی علیه السلام پخپله د برکت سرچینه وه، بلکې معنا یې دا ده چې الله هغه د برکت وسیله ګرځولی و. یعنې د هغه په لاس به خلک د الله هدایت، علم، حکمت او خیر ته رسېدل.

برکت ورکوونکی یوازې الله تعالی دی، او پېغمبران د هغه د رحمت او هدایت وسیلې دي.

وروسته یې وویل:

﴿وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ﴾

او الله ماته د لمانځه او زکات حکم کړی دی»

دا آیت ښیي چې لمونځ او زکات یوازې د محمد ﷺ د امت ځانګړتیا نه ده، بلکې پخوانیو پېغمبرانو ته هم د الله له لورې د عبادت او د مال د پاکولو حکم ورکړل شوی و.

دلته زکات د هغه وخت د شریعت مطابق د مال پاکول او د اړتیا وړ خلکو سره مرسته هم رانغاړي.

وروسته یې وویل:

﴿مَا دُمْتُ حَيًّا﴾

«تر هغه چې ژوندی یم»

یعنې د الله عبادت او اطاعت د ټول عمر مسؤلیت دی. انسان د عمر، مقام یا شهرت له امله د عبادت څخه نه خلاصیږي.

دا آیت د هغو خلکو ادعا هم ردوي چې وایي عیسی علیه السلام د الله احکام ختم کړي وو. د هغه خپله خبره دا ده چې الله ورته د لمانځه او زکات حکم کړی و.

د ننني عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې برکتمن انسان هغه دی چې د خلکو لپاره د خير، هدايت او ګټې سبب شي، نه هغه چې يوازې نوم او شهرت ولري. همدارنګه، دا آيت موږ ته را زده کوي چې لمونځ، د مال پاکوالی او د الله اطاعت د مؤمن د ټول ژوند مسؤليت دی.

---

د سورت مريم – ۳۲ آيت

وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا(۳۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې عيسی عليه السلام وويل چې الله تعالی هغه هر ځای برکتمن ګرځولی او د ټول عمر لپاره يې د لمانځه او زکات حکم ورته کړی دی. په دې آيت کې هغه د الله دوه نور لوی نعمتونه يادوي: له خپلې مور سره نېکي، او له کبر او بدبختۍ څخه ساتنه.

لفظي ترجمه

وَبَرًّا او نېک چلند کوونکی — بِوَالِدَتِي له خپلې مور سره — وَلَمْ يَجْعَلْنِي او زه يې نه يم ګرځولی — جَبَّارًا سرکښ او زورواک — شَقِيًّا بدبخته

روانه ترجمه

او زه يې له خپلې مور سره نېک چلند کوونکی ګرځولی يم، او زه يې سرکښ او بدبخته نه يم ګرځولی.

تفسير

عيسی عليه السلام د الله د نعمتونو يادولو ته دوام ورکړ.

لومړی يې وفرمايل:

﴿وَبَرًّا بِوَالِدَتِي﴾

«او زه يې له خپلې مور سره نېک چلند کوونکی ګرځولی يم»

عيسى عليه السلام يوازې خپله مور يادوي، ځکه هغه د انسان له پلوه پلار نه درلود. له همدې امله قرآن د مور د حق ځانګړې يادونه کوي.

د «بَرًّا» کلمه يوازې د ادب معنا نه لري، بلکې د ژورې نېکۍ، مينې، احترام، خدمت او د مور د حق ادا کولو معنا لري.

دا آيت د مور د لوړ مقام څرګندونه هم کوي او ښيي چې د الله د نېکو بندګانو له ځانګړنو څخه يوه دا ده چې له خپلو والدينو، په ځانګړي ډول له مور سره، غوره چلند کوي.

وروسته عيسى عليه السلام وفرمايل:

﴿وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا﴾

«او زه يې سرکښ او بدبخته نه يم ګرځولی»

د «جَبَّارًا» معنا ده: متکبر، زورزياتی کوونکی، سرکښ او هغه څوک چې پر خلکو په ناحقه زور چلوي.

او «شَقِيًّا» هغه چا ته ويل کېږي چې د الله له اطاعته د مخ اړولو او بدو اعمالو له امله بدمرغه او بدبخته شي.

عيسى عليه السلام وايي چې الله تعالى هغه له دې بدو اخلاقو څخه ساتلی دی.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې د انسان حقيقي لويوالی په کبر، زور او شهرت کې نه دی، بلکې په تواضع، د والدينو په خدمت او د الله په اطاعت کې دی.

د ننني عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې انسان باید عزت په مال، ځواک او شهرت کې ونه لټوي، بلکې په ښه اخلاقو، د مور او پلار په خدمت او د الله په بندګۍ کې يې ولټوي، ځکه همدا د الله د نيکو بندګانو لاره ده.

---

د سورت مریم – ۳۳ آیت

وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا(۳۳)

د مخکيني آیت سره اړيکه

په مخکيني آیت کې عيسى عليه السلام وويل چې الله تعالى هغه له خپلې مور سره نېک چلند کوونکی ګرځولی او سرکښ او بدبخته کړی يې نه دی. په دې آیت کې هغه خپلې خبرې د دې په بيانولو پای ته رسوي چې د ژوند په درې مهمو پړاوونو کې د الله سلامتي او ساتنه ورسره وي.

لفظي ترجمه

وَالسَّلَامُ او سلامتي(ده) — عَلَيَّ پر ما — يَوْمَ په هغه ورځ چې — وُلِدتُّ وزیږیدم — وَيَوْمَ او په هغه ورځ چې — أَمُوتُ مړ کيږم — وَيَوْمَ او په هغه ورځ چې — أُبْعَثُ بيا راپاڅول کيږم — حَيًّا ژوندی

روانه ترجمه

او پر ما سلامتي ده، په هغه ورځ چې وزیږیدم،او په هغه ورځ چې مړ کيږم، او په هغه ورځ چې بيرته ژوندی راپاڅول کيږم.

تفسير

عيسى عليه السلام د خپلو خبرو په پای کې د انسان د ژوند درې ډېر مهم پړاوونه ياد کړل:

﴿وَالسَّلَامُ عَلَيَّ﴾

»او پر ما سلامتي ده«

دلته سلام يوازې د سلام اچولو معنا نه لري، بلکې د الله له لوري امن، ساتنه، رحمت او حفاظت معنا لري.

هغه درې پړاوونه يادوي:

د زيږېدو ورځ .

﴿يَوْمَ وُلِدتُّ﴾

الله تعالى د هغه د زيږېدو له لومړۍ شېبې څخه ساتنه وکړه او د هغه زيږېدل يې د خلکو لپاره يوه ستره نښه وګرځوله.

د مرګ ورځ .

﴿وَيَوْمَ أَمُوتُ﴾

دا آيت نه وايي چې عيسى عليه السلام هماغه وخت مړ شوی و. بلکې د هغه د مرګ د راتلونکې ورځې يادونه کوي.

قرآن په بل ځای کې فرمايي:

﴿بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ﴾

بلکې الله هغه خپل لوري ته پورته کړ. (النساء: ۱۵۸)

نو د «أَمُوتُ» معنا دا ده چې کله چې د الله د تقدير له مخې د هغه د مرګ وخت راشي، نه دا چې هغه مخکې مړ شوی وي.

د بيا راژوندي کېدو ورځ .

﴿وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا﴾

لکه د نورو انسانانو په څېر، عیسی علیه السلام به هم د قیامت په ورځ بېرته راژوندی کړل شي.

دا درې پړاوونه ــــ زېږېدل، مرګ او بیا راپاڅېدل ــــ د انسان د ژوند تر ټولو مهم او حساسو مرحلو څخه دي، او عیسی علیه السلام د الله د امن او ساتنې دعا پکې بیانوي.

دا آیت د یحیی علیه السلام د آیت سره ورته دی:

﴿وَسَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا﴾ (مریم: ۱۵)

خو یو ښکلی توپیر لري:

د یحیی علیه السلام په اړه الله تعالی فرمايي: پر هغه سلامتي ده.

د عیسی علیه السلام په اړه عیسی علیه السلام خپله وايي: «پر ما سلامتي ده.

دواړه آیتونه د الله د خپلو پیغمبرانو د عزت، ساتنې او رحمت څرګندونه کوي.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې حتی د الله سترو پیغمبرانو هم د الله امن، رحمت او ساتنې ته اړتیا لرله. که هغوی د الله سلامتي غوښتله، نو موږ ورته لا ډېره اړتیا لرو چې د ژوند په هر پړاو کې د الله پر ساتنه او رحمت تکیه وکړو.

---

د سورت مریم – ۳۴ آیت

ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ(۳۴)

د مخکینې آیت سره اړیکه

په مخکينيو آيتونو کې الله تعالى د عيسى عليه السلام معجزانه زيږېدل، په زانګو کې د هغه خبرې، او دا حقيقت بيان کړ چې هغه د الله بنده او پيغمبر دی. په دې آيت کې الله تعالى د دې کيسې پايله بيانوي او روښانوي چې د عيسى عليه السلام په اړه همدا حق خبره ده، که څه هم خلک پکې اختلاف کوي.

## لفظي ترجمه

ذَٰلِكَ همدغه دی — عِيسَى عيسى — ابْنُ مَرْيَمَ د مريم زوی — قَوْلَ الْحَقِّ دا د حق خبره ده — الَّذِي چې — فِيهِ د هغه په اړه — يَمْتَرُونَ خلک شک او اختلاف کوي.

## روانه ترجمه

همدغه عيسى، د مريم زوی دی. دا د هغه په اړه هغه حق خبره ده چې خلک پکې شک او اختلاف کوي

## تفسير

د عيسى عليه السلام د زيږېدو، معجزو او د هغه د خبرو له بيانولو وروسته، الله تعالى فرمايي:

﴿ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ﴾

«همدغه عيسى، د مريم زوی دی»

الله تعالى عيسى عليه السلام د خپلې مور په نوم يادوي، ځکه هغه د انسان له پلوه پلار نه درلود. دا د مريم عليها السلام د عزت څرګندونه هم ده او د هغه د معجزانه زيږېدو حقيقت هم يادوي.

وروسته فرمايي:

﴿قَوْلَ الْحَقِّ﴾

«دا د حق خبره ده»

يعني هغه ټول څه چې الله تعالى د عيسى عليه السلام په اړه بيان کړل، بشپړ حق او حقيقت دی، نه افسانه، نه د خلکو جوړې شوې کيسې، او نه هم ګومان.

بيا فرمايي:

﴿الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ﴾

«هغه چې خلک يې په اړه شک او اختلاف کوي»

د عيسى عليه السلام په اړه بېلابېل خلک بېلابېلې عقيدې لري.

ځينو د هغه نبوت رد کړ.

ځينو هغه د الله زوی وباله.

او ځينو حتى هغه الله وباله.

قرآن دا ټولې ناسمې عقيدې ردوي او روښانوي چې عيسى عليه السلام د مريم زوی، د الله بنده او د هغه پيغمبر دی.

دا آيت د راتلونکي آيت (۳۵) لپاره هم زمينه برابروي، چې الله تعالى په څرګنده فرمايي:

﴿مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ﴾

«د الله لپاره هېڅکله دا مناسب نه دي چې هغه اولاد ولري»

دا آيت موږ ته را زده کوي چې د دين حقيقت د خلکو د نظرونو او اختلافونو پر بنسټ نه پېژندل کېږي، بلکې د الله د وحې له لارې معلومېږي. کله چې خلک اختلاف وکړي، د حق معيار د الله کتاب دی.

د ننني عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې د عيسی عليه السلام په اړه نن هم بېلابېلې عقيدې شته، خو مؤمن بايد هغه څه ومني چې الله تعالی په قرآن کې بيان کړي دي، ځکه د حق خبره يوازې د الله خبره ده.

---

- سورت مريم – ۳۵ آيت

مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ(۳۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی د عيسی عليه السلام په اړه حق حقيقت بيان کړ: هغه د مريم زوی، د الله بنده او د هغه پيغمبر دی. په دې آيت کې الله تعالی په ښکاره دا عقيده ردوي چې ګواکې هغه اولاد لري، او بيانوي چې هر څه په خپل امر پيدا کوي.

لفظي ترجمه

مَا كَانَ لِلَّهِ د الله لپاره مناسب نه دي — أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ چې کوم اولاد ونيسي — سُبْحَانَهُ هغه پاک دی — إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا کله چې د يوه کار پرېکړه وکړي — فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ نو يوازې ورته وايي — كُن وشه — فَيَكُونُ نو هغه کيږي.

روانه ترجمه

د الله لپاره دا مناسب نه دي چې کوم اولاد ولري. هغه له دې خبرې پاک دی. کله چې د يوه کار پرېکړه وکړي، يوازې ورته وايي: "وشه"، نو هغه کيږي.

تفسير

دا آیت د عیسی علیه السلام په اړه د حق بیان وروسته راځي او د هغه په اړه یوه مهمه ناسمه عقیده ردوي.

الله تعالی فرمايي.

﴿مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ﴾

يعني الله تعالی اولاد ته اړتيا نه لري. اولاد هغه موجود ته پکار وي چې کمزورى، محدود یا د مرستې محتاج وي، خو الله تعالی د ټولو موجوداتو خالق او له هرې اړتيا څخه پاک دى.

قرآن په بل ځای کې فرمايي:

﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾

نه يې څوک زيږولی او نه دی زيږول شوی.» (الإخلاص: ۳)»

او فرمايي:

﴿أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُ صَاحِبَةٌ﴾

هغه ته به څنګه اولاد وي، حال دا چې مېرمن نه لري؟» (الأنعام: « ۱۰۱)

وروسته فرمايي:

﴿سُبْحَانَهُ﴾

يعني الله تعالی له هرې نيمګړتيا، اړتيا او ناسمې عقيدې څخه پاک دی.

بيا د عيسی عليه السلام د بې‌پلاره زيږېدو حقيقت بيانوي:

﴿إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾

يعني کله چې الله د يوه کار اراده وکړي، د هغه امر کافي وي. هېڅوک د هغه د ارادې مخه نه شي نيولای.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾

د الله په نزد د عیسی علیه السلام مثال د آدم علیه السلام په څېر دی. هغه يې له خاورې پيدا کړ، بيا يې ورته وويل: "وشه"، نو هغه شو. (آل عمران: ۵۹)

نو د عیسی علیه السلام بېپلاره زيږېدل د هغه د خدای کېدو دليل نه دی. آدم علیه السلام نه پلار درلود او نه مور، خو بيا هم د الله بنده او مخلوق و.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې الله تعالی د طبيعت د قوانينو خالق دی. هغه کله د عادي اسبابو له لارې پيدا کوي او کله له عادي اسبابو پرته. خالق هېڅکله د خپل مخلوق په شان نه وي.

---

د سورت مريم – ۳۶ آيت

وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ(۳۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی دا ناسمه عقيده رد کړه چې ګواکې هغه اولاد لري، او بيان يې کړه چې هر څه په خپل امر پيدا کوي. په دې آيت کې د عیسی علیه السلام اصلي پيغام څرګندېږي: الله زما رب او ستاسو رب دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ.

لفظي ترجمه

وَإِنَّ اللَّهَ او بېشکه الله — رَبِّي زما رب دی — وَرَبُّكُمْ او ستاسو رب — فَاعْبُدُوهُ نو د هغه عبادت وکړئ — هَٰذَا دا — صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ نېغه لاره ده.

روانه ترجمه

او بېشکه الله زما رب او ستاسو رب دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ. همدا نېغه لاره ده.

تفسير

دا آيت د عيسى عليه السلام د پيغام اصل بيانوي.

عيسى عليه السلام خلک خپل عبادت ته نه رابلل، بلکې د الله عبادت ته يې رابلل.

هغه وويل:

﴿إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ﴾

يعنې: الله زما رب او ستاسو رب دی.

دا جمله په څرګنده ښيي چې عيسى عليه السلام د الله بنده دی، ځکه هغه خپل رب لري، او د هغه رب هماغه د ټولو خلکو رب دی.

قرآن په بل ځای کې هم د عيسى عليه السلام له خولې همدا خبره بيانوي.

﴿إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾

بېشکه الله زما رب او ستاسو رب دی، نو د هغه عبادت وکړئ؛ همدا » نېغه لاره ده.» (آل عمران: ۵۱)

او د قيامت په ورځ به عيسى عليه السلام الله ته ووايي:

﴿مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ﴾

ما هغوی ته يوازې هماغه څه ويلي وو چې تا راته امر کړی و: د الله عبادت وکړئ، چې زما رب او ستاسو رب دی.» (المائدة: ۱۱۷)

دا آیتونه یو بل تشریح کوي او ثابتوي چې د عیسی علیه السلام اصلي پیغام توحید و؛ یعني یوازې د الله عبادت.

وروسته فرمایي:

﴿هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾

یعني: همدا نېغه لاره ده.

نېغه لاره دا ده چې انسان الله یوازېنی رب ومني، یوازې د هغه عبادت وکړي او د هغه د پیغمبرانو لار تعقیب کړي.

دې ته ځکه نېغه لاره ویل کېږي چې انسان د الله رضا ته رسوي او له دې انحراف څخه یې ساتي چې پیغمبر، فرښته یا بل مخلوق د عبادت وړ وګڼي.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د ټولو پیغمبرانو د عقیدې بنسټ یو و: یوازې الله د عبادت وړ دی. د هغوی په شریعتونو کې ځینې فرعي توپیرونه وو، خو د توحید پیغام یې یو شان و.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې د عیسی علیه السلام رښتینی درناوی دا نه دی چې هغه د الله مقام ته پورته شي، بلکې دا دی چې د هغه خپل پیغام ومنل شي: «الله زما رب او ستاسو رب دی، نو یوازې د هغه عبادت وکړئ»

---

د سورت مریم – ۳۷ آیت

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ(۳۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی د عيسی عليه السلام اصلي پيغام بيان کړ: الله زما رب او ستاسو رب دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ. په دې آيت کې الله تعالی فرمايي چې له دې ځرګند حقيقت سره، بېلابېلې ډلې د عيسی عليه السلام په اړه په اختلاف کې ولوېدې. وروسته الله تعالی منکرانو ته د قيامت د سترې ورځې له عذاب څخه خبرداری ورکوي.

## لفظي ترجمه

فَاخْتَلَفَ نو اختلاف وکړ — الْأَحْزَابُ ډلو — مِنْ بَيْنِهِمْ په خپل منځ کې — فَوَيْلٌ نو هلاکت دی — لِّلَّذِينَ هغو کسانو ته چې — كَفَرُوا كفر يې وکړ — مِن مَّشْهَدِ د حاضرېدو (يا د مخامخ کېدو) — يَوْمٍ عَظِيمٍ د يوې سترې ورځې.

## روانه ترجمه

نو بيا ډلو په خپل منځ کې اختلاف وکړ. نو د هغو کسانو لپاره هلاکت دی چې کفر يې وکړ، د يوې سترې ورځې له منظر او حاضرېدو او مخامخ کيدو څخه.(يعنې چې د قيامت د ورځې او حساب څخه يې انکار کړی وي)

## تفسير

وروسته له دې چې الله تعالی د عيسی عليه السلام حقيقت په روښانه ډول بيان کړ، بيا هم خلکو يو شان عقيده خپله نه کړه.

الله تعالی فرمايي:

﴿فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ﴾

«نو ډلو(بېلابېل فرقو) په خپل منځ کې اختلاف وکړ»

د «الأحزاب» معنا بېلابېلې ډلې او فرقې دي.

ځینو د عیسی علیه السلام نبوت رد کړ.

ځینو هغه د الله زوی وباله.

ځینو هغه خپله الله وباله.

او مؤمنانو هغه د الله بنده او رسول ومانه.

بیا الله تعالی فرمايي.

﴿فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا﴾

نو د هغو کسانو لپاره هلاکت او سخت عذاب دی چې کفر يې کړی دی.

د «وَيْلٌ» کلمه د سخت اخطار، هلاکت او دردناک عذاب معنا لري. ځینو مفسرینو ويلي چې ويل د جهنم د يوې درې نوم هم دی، خو د آيت اصلي مقصد د الله د سخت عذاب خبرداری ورکول دي.

وروسته فرمايي:

﴿مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ﴾

د ستري ورځې د حاضرېدو او ليدلو څخه (يعنې د قيامت د ورځې او حساب نه يې انکار کړئ)

له سترې ورځې څخه مراد د قيامت ورځ ده، هغه ورځ چې ټول انسانان به د الله مخې ته حاضرېږي او ټول حقيقتونه به ښکاره شي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې حق د خلکو په اختلاف نه بدلېږي. که هر څومره بېلابېلې نظريې وي، حق هماغه دی چې الله تعالی نازل کړی دی.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پیغام دا دی چې مؤمن باید د خلکو د ډېرو نظرونو تر اغېز لاندې رانشي، بلکې د قرآن، د الله د وحې او د

نبي علیه السلام د سنتو پیروي وکړي، ځکه د هدایت معیار د خلکو اکثریت نه، بلکې د الله حقه وحي او د نبي علیه السلام سنت دي .

---

د سورت مریم – ۳۸ آیت

أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا ۖ لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ(۳۸)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی هغو کسانو ته د قیامت د سترې ورځې خبرداری ورکړ چې حق یې نه و منلی. په دې آیت کې فرمایي چې کله هغوی د قیامت په ورځ د الله حضور ته راشي، نو حق به ډېر روښانه واوري او ووینې؛ خو نن، چې لا د ایمان، توبې او عمل فرصت لري، په ښکاره بېلارۍ کې دي.

لفظي ترجمه

أَسْمِعْ بِهِمْ هغوی به ښه واوري — وَأَبْصِرْ او ښه به ووینې — يَوْمَ يَأْتُونَنَا په هغه ورځ چې موږ ته راشي — لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ خو ظالمان — الْيَوْمَ نن — فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ په ښکاره بېلارۍ کې دي.

روانه ترجمه

په هغه ورځ چې هغوی موږ ته راشي،(نو حقیقت او حق) به ډېر روښانه واوري او ووینې! خو نن ظالمان په ښکاره بېلارۍ کې دي.

تفسیر

الله تعالی په دې آیت کې د هغو خلکو د حالت لوی بدلون بیانوي چې په دنیا کې یې حق نه مانه.

فرمایي:

﴿أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ﴾

یعنې: «هغوی به حق ښه روښانه واوري او ښه روښانه به یې ووینې»

مقصد دا دی چې د قیامت په ورځ به د هغوی سترګې او غوږونه حقیقت په بشپړ وضاحت درک کړي، او هېڅ شک به ورته پاتې نه شي.

په دنیا کې یې د الله پیغام اورېده، خو نه یې مانه؛ د الله نښې یې لیدلې، خو عبرت یې نه ترې اخیست. د قیامت په ورځ به هر څه ورته روښانه شي.

قرآن د هغوی خبره داسې بیانوي:

﴿رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا﴾

زموږ ربه! اوس مو ولیدل او واورېدل؛ نو موږ بېرته ولېږه چې نېک عمل وکړو. (السجدة: ١٢)

خو په هغه وخت کې به دا لیدل، اورېدل او ایمان راوړل ګټه ونه کړي، ځکه د ازموینې وخت به پای ته رسېدلی وي.

وروسته الله تعالی فرمايي:

﴿لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾

یعنې: «خو نن ظالمان په ښکاره بېلارۍ کې دي»

دلته له «نن» څخه مراد د دنیا ژوند دی. همدا هغه وخت دی چې ایمان، توبه او نېک عمل انسان ته ګټه رسولای شي.

له ظالمانو څخه مراد هغه کسان دي چې د الله د هدایت په ردولو، مخلوق ته د الله ځانګړي مقام ورکولو او د حق په نه منلو سره پر خپل ځان ظلم کوي.

آيت د دوی دوه حالتونه سره پرتله کوي:

په دنيا کې سترګې او غوږونه لري، خو حق نه مني.

په آخرت کې به حق په بشپړ وضاحت ويني او واوري، خو بيا به ډېر ناوخته وي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې رښتينی ليد يوازې په سترګو ليدل نه دي، او رښتينی اورېدل يوازې د غوږ اورېدل نه دي؛ بلکې حقيقي ليدل او اورېدل دا دي چې انسان حق وپېژني او په وخت يې ومني.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې انسان کېدای شي قرآن واوري، د الله نښې وويني او ډېر علم ولري، خو د کبر، عادت يا دنيايي غوښتنو له امله حق ونه مني. آيت موږ ته وايي چې خپل عقل، سترګې او غوږونه همدا اوس د حق د منلو لپاره وکاروو، مخکې له دې چې حقيقت په داسې وخت کې څرګند شي چې پښېماني نور هېڅ ګټه ونه کړي.

---

د سورت مريم – ۳۹ آيت

وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ(۳۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې ظالمان به د قيامت په ورځ حق ډېر روښانه وويني او واوري، خو هغه وخت به ناوخته وي. په دې آيت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته امر کوي چې هغوی د پښېمانۍ له ورځې ووېروي؛ هغه ورځ چې وروستۍ پرېکړه به شوې وي.

لفظي ترجمه

وَأَنذِرْهُمْ او هغوى وويروه — يَوْمَ الْحَسْرَةِ د پښېمانۍ له ورځې — إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ كله چې وروستۍ پرېكړه وشي — وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ حال دا چې هغوى په غفلت كې دي — وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ او هغوى ايمان نه راوړي.

روانه ترجمه

او هغوى د پښېمانۍ له ورځې وويروه، كله چې وروستۍ پرېكړه وشي، حال دا چې هغوى اوس په غفلت كې دي او ايمان نه راوړي.

تفسير

الله تعالى رسول الله ﷺ ته امر كوي چې خلک د:

﴿يَوْمَ الْحَسْرَةِ﴾

يعني د پښېمانۍ له ورځې وويروي.

له دې ورځې څخه مراد د قيامت ورځ ده. دې ته ځكه د پښېمانۍ ورځ ويل شوې چې انسانان به په هغه ورځ پر خپلو كارونو او پرېښودل شوو فرصتونو سخت پښېمانه وي.

كافر به پښېمانه وي چې ولې يې ايمان نه راوړ.

ګناهكار به پښېمانه وي چې ولې يې توبه ونه كړه.

او مؤمن به هم د هغو نېكو عملونو پر نه كولو پښېمانه وي چې كولاى يې شول، خو ويې نه كړل.

الله تعالى په بل ځاى كې فرمايي:

﴿يَا حَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنبِ اللَّهِ﴾

افسوس زما پر حال! چې د الله په حق كې مې څومره كوتاهي وكړه.

(الزمر: ۵۶)

وروسته فرمايي:

﴿إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ﴾

يعنې: «کله چې وروستۍ پرېکړه وشي»

مطلب دا دی چې حساب او فیصله به پای ته رسېدلې وي. جنتیان به جنت ته او دوزخیان به دوزخ ته داخل شوي وي. له دې وروسته به نه دنیا ته ستنېدل وي، نه نوی عمل او نه دوهم فرصت.

په صحیح حدیث کې راغلي چې مرګ به د یوه پسه په بڼه راوستل شي او د جنت او دوزخ ترمنځ به حلال کړل شي. بیا به اعلان وشي چې د جنت خلک به تل په جنت کې وي او د دوزخ خلک به تل په دوزخ کې وي. په هغه وخت کې به د فرصت له لاسه ورکولو پښېماني نوره هم زیاته شي.

بیا الله تعالی فرمايي:

﴿وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ﴾

يعنې: «حال دا چې هغوی په غفلت کې دي»

هغوی په دنیا، خواهشونو او ورځنیو مصروفیتونو کې دومره ډوب دي چې د آخرت په اړه جدي فکر نه کوي.

او فرمايي:

﴿وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾

يعنې: «او هغوی ایمان نه راوړي»

دا غفلت یوازې د معلوماتو نشتوالی نه دی، بلکې له روښانه کېدو وروسته د حق نه منل هم پکې شامل دي.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې پښېماني تر هغې ګټه لري چې د عمل وخت پاتې وي. تر څو چې انسان ژوندی وي، د توبې، ایمان او نېک عمل دروازه خلاصه ده.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې ډېر خلک پوهېږي ژوند پای لري، خو بیا هم داسې ژوند کوي لکه هېڅکله چې به نه مري. دا آیت انسان راویښوي چې له هغې ورځې مخکې ځان بدل کړي چې یوازې پښېماني به پاتې وي او عمل به نور ممکن نه وي.

---

د سورت مریم – ۴۰ آیت

إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ(۴۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی خلک د پښېمانۍ له ورځې ووېرول؛ هغه ورځ چې وروستۍ پرېکړه به شوې وي. په دې آیت کې الله تعالی بیانوي چې ټول انسانان به مړه شي، د ځمکې هر څه به پای ته ورسېږي، یوازې الله تعالی به پاتې وي، او ټول به د حساب لپاره هغه ته ورګرځول کېږي.

لفظي ترجمه

إِنَّا نَحْنُ بېشکه یوازې موږ — نَرِثُ الْأَرْضَ د ځمکې وارث کېږو — وَمَنْ عَلَيْهَا او د هر هغه چا چې پر هغې دی — وَإِلَيْنَا او یوازې موږ ته — يُرْجَعُونَ هغوی بېرته راګرځول کېږي.

روانه ترجمه

بېشکه یوازې موږ د ځمکې او د هر هغه چا وارث یو چې پر هغې دی، او ټول به موږ ته بېرته راګرځول کېږي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا﴾

يعنې: «بېشکه يوازې موږ د ځمکې او د ټولو هغو کسانو وارث يو چې پر هغې دي»

دلته د «نَرِثُ» معنا د انسانانو د ميراث په څېر نه ده. انسان هغه مال په ميراث اخلي چې مخکې د بل چا ملکيت و او وروسته ده ته ورپاتې شي.

خو الله تعالی له پيل څخه د ځمکې، انسانانو او ټولو موجوداتو حقيقي مالک دی. دلته د وارث کېدو معنا دا ده چې ټول انسانان به مړه شي، د هغوی ظاهري ملکيتونه به ختم شي، او يوازې الله تعالی به د هر څه د حقيقي او تلپاتې مالک په توګه پاتې وي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾

نن واکمني د چا ده؟ يوازې د يوازيني او ډېر ځواکمن الله ده. (غافر: ۱۶)

او فرمايي:

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ﴾

هر څوک چې پر ځمکه دی، له منځه تلونکی دی، او يوازې ستا د رب ذات به پاتې وي. (الرحمن: ۲۶_۲۷)

انسان کېدای شي د لږ وخت لپاره د کور، ځمکې، مال او ځواک مالک وبلل شي، خو د مرګ په راتلو سره يې ټول ملکيتونه ترې پاتې کېږي.

وروسته الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ﴾

يعنې: «او ټول به موږ ته بېرته راګرځول کيږي»

هر انسان به له مرګ وروسته د الله حضور ته ورشي. هېڅوک د هغه له حساب څخه نه شي تښتېدلای.

دا بېرته ورګرځېدل يوازې د بدن راژوندي کېدل نه دي، بلکې د حساب، جزا او بدلي لپاره د الله حضور ته ورتلل دي.

دا آيت د انسان د ملکيت تصور هم اصلاح کوي. انسان وايي: زما کور، زما ځمکه، زما مال؛ خو په حقيقت کې هر څه د الله دي. د انسان ملکيت لنډمهالی او امانت دی، خو د الله ملکيت حقيقي، بشپړ او تلپاتي دی.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې انسان بايد په مال، ځمکه، مقام او ځواک کبر ونه کړي، ځکه هر څه به ترې پاتې کيږي. يوازې خپل ايمان او عمل به ورسره پاتې وي.

د نننی عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې خلک د مال او ملکيت په راټولولو کې خپل ډېره برخه ژوند تېروي، خو بالاخره به هر څه پرېږدي او يوازې د الله حضور ته به ورځي. په هغه ورځ به دا مهمه نه وي چې څومره مال مو درلود، بلکې دا به مهمه وي چې هغه مو څنګه کارولی و او کوم عملونه مو د آخرت لپاره مخکې لېږلي وو.

---

د سورت مريم – ۴۱ آيت

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا(۴۱)

د مخکيني آيت سره اړيکه

د عیسی علیه السلام د کیسې او د دې حقیقت له بیانولو وروسته چې ټول انسانان به الله ته ورګرځي، قرآن اوس د نورو پېغمبرانو کیسې پیلوي. لومړی د ابراهیم علیه السلام یادونه کوي، ځکه هغه د توحید، رښتینولۍ او الله ته د بلنې ستره بېلګه ده.

## لفظي ترجمه

وَاذْكُرْ او یاد کړه — فِي الْكِتَابِ په کتاب کې — إِبْرَاهِيمَ ابراهیم«علیه السلام» — إِنَّهُ بېشکه هغه — كَانَ و — صِدِّيقًا ډېر رښتینی — نَبِيًّا پیغمبر.

## روانه ترجمه

او په دې کتاب کې د ابراهیم«علیه السلام» یادونه وکړه. بېشکه هغه ډېر رښتینی او یو پیغمبر و.

## تفسیر

د عیسی علیه السلام د کیسې له پای ته رسېدو وروسته، الله تعالی د ابراهیم علیه السلام کیسه پیلوي.

الله تعالی فرمايي.

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ﴾

«او په دې کتاب کې د ابراهیم یادونه وکړه»

دا امر په لومړي سر کې رسول الله ﷺ ته دی چې د ابراهیم علیه السلام کیسه خلکو ته بیان کړي، څو له هغه څخه عبرت واخلي. په عین وخت کې دا د ټولو مؤمنانو لپاره هم لارښوونه ده چې د پیغمبرانو ژوندونه یاد کړي او ترې زده‌کړه وکړي.

بیا الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا﴾

«ښکله هغه ډېر رښتینی او پېغمبر و»

د صِدِّیق کلمه د صادق نه قوي ده. معنا یې دا ده چې هغه په خبرو، عمل، ایمان او اخلاص کې تل رښتینی و. هېڅکله یې دروغ نه ویل او تل یې د حق ملاتړ کاوه.

الله تعالی ابراهیم علیه السلام په دوو لویو ځانګړنو ونازاوه:

صِدِّیق: ډېر رښتینی، صادق او د حق کلک منونکی

نَبِيّ: د الله له لوري ټاکل شوی پېغمبر، چې وحی ورته کېده او خلکو ته یې د الله پیغام رساوه.

قرآن د حضرت ابراهیم علیه السلام کیسه د همدې دوو ځانګړنو په یادولو پیلوي، ځکه د هغه ټول ژوند د همدې رښتینولۍ څرګندونه کوي؛ که له خپل پلار سره خبرې وې، که له خپل قوم سره مناظره، او که د الله په لار کې ازموینې.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې رښتینولي د مؤمن له سترو ځانګړنو څخه ده. الله تعالی د ابراهیم علیه السلام له لویو کارنامو مخکې د هغه د رښتینولۍ یادونه وکړه.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې د الله په نزد حقیقي عزت په مال، مقام او شهرت کې نه دی، بلکې په رښتینولۍ، اخلاص او د حق په پیروۍ کې دی.

---

د سورت مریم – ۴۲ آیت

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا(۴۲)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی ابراهيم عليه السلام ډېر رښتينی او پيغمبر وباله. په دې آيت کې د هغه رښتينولي د خپل پلار سره په نرمو، محترمانه او حکيمانه خبرو کې څرګندېږي، کله چې هغه د بتانو له عبادت څخه منع کوي.

## لفظي ترجمه

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ کله چې يې خپل پلار ته وويل — يَا أَبَتِ اې زما ګرانه پلاره! — لِمَ تَعْبُدُ ولې د هغه څه عبادت کوې — مَا لَا يَسْمَعُ چې نه اوري — وَلَا يُبْصِرُ او نه ويني — وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا او له تا څخه هيڅ ضرر نه شي لرې کولای او هيڅ ګټه نه شي در رسولای

## روانه ترجمه

کله چې هغه خپل پلار ته وويل: اې زما ګرانه پلاره! ته ولې د داسې شي عبادت کوې چې نه اوري، نه ويني او نه درته هيڅ ګټه رسولای شي؟

## تفسير

دا آيت د ابراهيم عليه السلام او د هغه د پلار ترمنځ د خبرو پيل بيانوي.

ابراهيم عليه السلام خپلې خبرې په سپکاوي، سختۍ او بدو الفاظو پيل نه کړې، بلکې ويې ويل:

﴿يَا أَبَتِ﴾

يعنې: «اې زما ګرانه پلاره»!

دا د ميني، احترام او نرمۍ خطاب دی. له دې ښخه معلومېږي چې حق ته بلنه بايد په حکمت او ښه ادب سره وي، په ځانګړي ډول له مور او پلار سره.

وروسته يې يوه ډېره ساده، خو قوي پوښتنه وکړه:

﴿لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ﴾

يعنې: «ولې د داسې شي عبادت کوې چې نه اوري او نه ويني»؟

بت نه د انسان دعا اوري، نه يې حالت ويني او نه يې اړتيا پېژني؛ نو څنګه د عبادت وړ کېدای شي؟

قرآن په بل ځای کې هم د ابراهيم عليه السلام له خولې همدا دليل بيانوي:

﴿هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ۝ أَوْ يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ﴾

کله چې تاسو هغوی رابولئ، ايا هغوی مو اوري؟ يا درته ګټه او ضرر رسولای شي؟

(الشعراء: ۷۲–۷۳)

الله تعالی بل ځای فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا﴾

هغه کسان چې تاسو يې له الله پرته رابولئ، هېڅکله يوه مچ هم نه شي پيدا کولای.

(الحج: ۷۳)

د ﴿وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا﴾ معنا دا ده چې بت نه د انسان ښخه کوم ضرر لرې کولای شي، نه دعا قبلولای شي، نه خطر دفع کولای شي او نه حقيقي ګټه رسولای شي.

دا آیت د حق د بیانولو یوه مهمه طریقه هم را زده کوي. ابراهیم علیه السلام پوازې دا ونه ویل چې ستا عقیده غلطه ده، بلکې په دلیل یې وښودله چې ولې غلطه ده.

همدارنګه، دا را زده کوي چې د مور او پلار احترام دا معنا نه لري چې انسان به په ناسم عقیده کې هم د هغوی اطاعت کوي. مؤمن باید ادب او نرمي وساتي، خو په ګناه او شرک کې د هېچا اطاعت نه کوي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې خلک ممکن د ډبرو بتانو عبادت ونه کړي، خو ځینې خپل ټول باور په مال، قدرت، مقام، شهرت یا نورو مخلوقاتو پورې تړي. دا آیت یادونه کوي چې هېڅ مخلوق د الله ځای نه شي نیولای. یوازې الله هر څه اوري،ویني، مرسته کوي او بشپړ قدرت لري.

---

د سورت مریم – ۴۳ آیت

يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا(۴۳)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې ابراهیم علیه السلام له خپل پلار څخه وپوښتل چې ولې د داسې بتانو عبادت کوي چې نه اوري، نه ویني او نه ګټه رسولای شي. په دې آیت کې هغه خپل پلار ته وایي چې الله ورته داسې علم ورکړی چې پلار ته یې نه دی رسېدلی، او بیا یې په نرمۍ بلنه ورکوي چې د ده پیروي وکړي، ترڅو نېغې لارې ته یې ورسوي.

لفظي ترجمه

يَا أَبَتِ اې زما ګرانه پلاره! — إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ بېشکه ماته له علم څخه څه برخه راغلې ده — مَا لَمْ يَأْتِكَ چې تا ته نه ده راغلې — فَاتَّبِعْنِي نو زما پيروي وکړه — أَهْدِكَ زه به تا ته لار وښيم — صِرَاطًا سَوِيًّا يوې نېغې او سمې لارې ته.

## روانه ترجمه

اې زما ګرانه پلاره! ماته داسې علم راغلی چې تا ته نه دی راغلی؛ نو زما پيروي وکړه، زه به تا يوې نېغې او سمې لارې ته ورسوم.

## تفسير

ابراهيم عليه السلام له خپل پلار سره لا هم په ادب او نرمۍ خبرې کوي.

هغه بيا وايي:

﴿يَا أَبَتِ﴾

يعنې: «اې زما ګرانه پلاره»!

دا تکراري نرم خطاب ښيي چې که موضوع هر څومره مهمه هم وي، مؤمن بايد له مور او پلار سره ادب وساتي.

وروسته وايي:

﴿إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ﴾

يعنې: «ماته داسې علم راغلی چې تا ته نه دی راغلی».

ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته ونه ويل: «ته هېڅ نه پوهېږې» يا «زه له تا غوره يم.» بلکې يوازې يې دا روښانه کړه چې الله تعالی ورته وحي او هدايت ورکړی، او دا علم پلار ته نه و رسېدلی.

دا د بلنې ډېره حکيمانه طريقه ده: حق په ځرګنده ويل، خو له سپکاوي او کبر پرته.

بيا وايي:

﴿فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا﴾

.يعنې: «زما پيروي وکړه، زه به تا يوې نېغې لارې ته ورسوم»

ابراهيم عليه السلام دا نه وايي چې هدايت د ده خپل دی؛ بلکې هغه يوازې هغه لاره ښيي چې الله ورته ور زده کړې وه.

له «صِرَاطًا سَوِيًّا» څخه مراد هغه نېغه، برابره او له کږوالي پاکه لاره ده چې انسان يوازې د الله عبادت ته رسوي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ﴾

«او بېشکه همدا زما نېغه لاره ده، نو د هغې پيروي وکړئ»

(الأنعام: ۱۵۳)

دا آيت موږ ته را زده کوي چې علم د الله امانت دی. څوک چې حق پېژني، بايد هغه په حکمت، صبر او احترام سره نورو ته ورسوي.

همدارنګه، دا آيت ښيي چې يوازې زيات عمر د سم هدايت ضمانت نه دی. کله ناکله الله تعالی ځوان ته داسې علم ورکوي چې مشر ته نه وي رسېدلی؛ خو دا علم بايد په عاجزۍ او نرمو خبرو وړاندې شي، نه په کبر او سپکاوي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې د دين په اختلافونو کې خلک بايد يو بل ته سختې او سپکوونکې خبرې ونه کړي. د ابراهيم

عليه السلام طريقه دا وه: روښانه دليل، نرمي خبرې، درناوی او د بل انسان د هدايت ريښتيني هيله.

---

د سورت مريم – ۴۴ آيت

يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته وويل چې الله تعالی ده ته داسې علم ورکړی چې پلار ته يې نه و رسېدلی، او په ډېرې نرمۍ يې ورته وويل چې زما پيروي وکړه، زه به تا نېغې لارې ته رهنمايي کړم.

په دې آيت کې ابراهيم عليه السلام روښانوي چې د نېغې لارې د خپلولو لپاره بايد څه پرېښودل شي: د شيطان پيروي او د باطلو معبودانو عبادت.

لفظي ترجمه

يَا أَبَتِ اې زما ګرانه پلاره! — لَا تَعْبُدِ عبادت مه کوه — الشَّيْطَانَ د شيطان — إِنَّ الشَّيْطَانَ بېشکه شيطان — كَانَ و / دی — لِلرَّحْمَٰنِ د رحمن — عَصِيًّا ډېر سرکښ او نافرمان.

روانه ترجمه

اې زما ګرانه پلاره! د شيطان عبادت مه کوه؛ بېشکه شيطان د رحمن ډېر سرکښ او نافرمان دی.

تفسير

ابراهیم علیه السلام له خپل پلار سره خپلې خبرې په هماغه نرمه او محترمانه لهجه جاري ساتي.

هغه بیا وايي:

﴿يَا أَبَتِ﴾

«اې زما ګرانه پلاره»!

سره له دې چې ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته د شرک په خطر د یوې ډېرې جدي مسئلې په اړه خبرداری ورکوي، بیا هم هغه ته سپکاوی نه کوي او په سختۍ ورسره خبرې نه کوي.

بیا وايي:

﴿لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ﴾

«د شیطان عبادت مه کوه»

دلته یوه مهمه پوښتنه پیدا کېږي: د ابراهیم علیه السلام پلار خو د بتانو عبادت کاوه؛ نو ولې ورته وايي چې د شیطان عبادت مه کوه؟

مطلب دا نه دی چې هغه به خامخا په مستقیم ډول شیطان ته سجده کوله. بلکې شیطان هغه څوک دی چې انسانان شرک او د غیرالله عبادت ته رابولي. نو د شیطان په خبره د بتانو عبادت کول او د هغه د لارې پیروي کول، په دې معنا د شیطان اطاعت او بندګي ده.

قرآن په بل ځای کې هم فرمايي:

﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ﴾

اې د آدم اولاده! آیا ما تاسو ته هدایت (حکم) نه و کړی چې د شیطان عبادت مه کوئ؟

(یس: ۶۰)

دلته هم د شیطان په عبادت کې د هغه پیروي او په نافرمانۍ کې د هغه اطاعت شامل دی.

وروسته ابراهیم علیه السلام وایي:

﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا﴾

«بېشکه شیطان د رحمن ډېر نافرمان او سرکښ دی»

د عَصِيًّا معنا ده: ډېر نافرمان، سرکښ، او په نافرمانۍ کې ټینګ پاتې کېدونکی.

دلته د الرَّحْمَٰن کلمه هم ډېره معنا لرونکې ده. ابراهیم علیه السلام یوازې دا نه وایي چې شیطان د الله نافرماني وکړه، بلکې وایي چې هغه د رحمن، یعنې ډېر مهربان الله نافرماني وکړه.

یعنې شیطان د هغه ذات پر وړاندې سرکښ شو چې رحمت یې پراخ دی او پر خپلو بندګانو بېشمېره نعمتونه کوي.

نو آیت دوه خبرې یو ځای را زده کوي: د شیطان له لارې ځان وساته، او د رحمن د رحمت او هدایت لورې ته راوګرځه.

همدارنګه آیت موږ ته دا درس راکوي چې انسان باید په پټو سترګو د چا پیروي ونه کړي. باید له ځانه وپوښتي: زه د چا لار تعقیبوم، او دا لار ما چېرته رسوي؟

---

د سورت مریم ــ ۴۵ آیت

يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا (۴۵)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته په مينه او نرمۍ وويل چې د شيطان پيروي مه کوه، ځکه شيطان د رحمن سخت نافرمان دی.

په دې آيت کې ابراهيم عليه السلام بيانوي چې ولې د خپل پلار په اړه دومره اندېښمن دی: هغه وېره لري چې د الله د هدايت د ردولو له امله به عذاب ور ورسېږي، او په پايله کې به د شيطان له ملګرو څخه شي.

ابراهيم عليه السلام بيا هم خپله خبره په دې نرمه جمله پيلوي:

﴿يَا أَبَتِ﴾ — «اې زما ګرانه پلاره»

يعنې حتی د عذاب د خبردارۍ پر مهال هم ادب، مينه او نرمي نه پرېږدي.

## لفظي ترجمه

يَا أَبَتِ اې زما ګرانه پلاره! — إِنِّي بېشکه زه — أَخَافُ وېرېږم — أَن يَمَسَّكَ چې تا ته به ورسېږي / تا به لمس کړي — عَذَابٌ يو عذاب — مِّنَ الرَّحْمَٰنِ د رحمن له لوري — فَتَكُونَ نو ته به شې — لِلشَّيْطَانِ د شيطان — وَلِيًّا ملګری او نږدې همکار.

## روانه ترجمه

اې زما ګرانه پلاره! زه وېرېږم چې د رحمن له لوري به کوم عذاب در ورسېږي، نو بيا به د شيطان له ملګرو څخه شې.

## تفسير

ابراهيم عليه السلام له خپل پلار سره خپلو نرمو خبرو ته دوام ورکوي.

هغه بيا وايي:

﴿يَا أَبَتِ﴾

«اې زما ګرانه پلاره»!

په دې خبرو کې دا څلورم ځل دی چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته په همدې مينه ناک خطاب غږ کوي.

دا تکرار ښيي چې د هغه خبرداری د مينې، شفقت او انديښنې له امله و، نه د غوسې او د بحث د ګټلو لپاره.

بيا وايي:

﴿إِنِّي أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ﴾

«زه وېرېږم چې کوم عذاب به در ورسيږي»

دلته د ابراهيم عليه السلام د خبرو نرمي ډېره د پام وړ ده:

هغه خپل پلار ته په غرور نه وايي: «ته خامخا عذابېږې»

بلکې وايي:

«زه ستا په اړه وېرېږم»

يعني زه انديښمن يم چې ستا د دې لارې پايله به بده وي.

د يَمَسَّكَ لغوي معنا ده:

«تا لمس کړي» يا «تا ته ورسيږي»

نو حتی د عذاب د يادولو پر مهال يې الفاظ نرم دي.

وروسته وايي:

﴿عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ﴾

«د رحمن له لوري عذاب»

دلته بيا الله تعالی د الرَّحْمَٰن ـــــ ډېر مهربان په نوم ياد شوی دی.

دا ډېر ژور مفهوم لري: که د هغه ذات له لوري عذاب راشي چې رحمت يې دومره پراخ دی، نو موضوع يقيناً ډېره جدي ده.

الله تعالی پر هېچا ظلم نه کوي، خو څوک چې په دوامداره توګه د هغه هدايت ردوي، ځان د عذاب له خطر سره مخ کوي.

وروسته وايي:

﴿فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا﴾

«نو ته به د شيطان ملګری شې»

د وَلِيًّا کلمه د سياق له مخې د نږدې ملګري، ملاتړي، همکار او پيرو معنا ورکولای شي.

دلته مطلب دا دی چې که هغه د شيطان په لاره روان پاتې شي، نو په پای کې به د شيطان له ډلې او ملګرو څخه شي او د هغه له بد انجام سره به مخ شي.

دا آيت موږ ته د نصيحت يوه ډېره مهمه طريقه را زده کوي.

ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته دې دپاره خبرداری نه ورکوي چې هغه سپک کړي، بلکې د دې دپاره چې پر هغه يې زړه سوځي او نه غواړي عذاب ورته ورسيږي.

نو حقيقي نصيحت دا نه دی چې په بحث کې بل انسان مات کړو؛ حقيقي نصيحت دا دی چې د هغه خير وغواړو، په نرمۍ حق ورته بيان کړو او له بد انجام څخه يې وساتو.

---

د سورت مريم – ۴۶ آيت

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ۖ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا(۴۶)

## د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته په ډېرې مینې، نرمۍ او اندېښنې سره نصیحت وکړ. خو په دې آیت کې د هغه پلار برعکس سخت ځواب ورکوي؛ نه یوازې د هغه خبره نه مني، بلکې ګواښ هم کوي او وايي چې له ما څخه لرې شه.

## لفظي ترجمه

قَالَ هغه وویل — أَرَاغِبٌ أَنتَ آیا ته مخ اړوونکی یې — عَنْ آلِهَتِي زما له معبودانو څخه — يَا إِبْرَاهِيمُ اې ابراهیم! — لَئِن لَّمْ تَنتَهِ که ته ونه درېدې — لَأَرْجُمَنَّكَ خامخا به دې سنګسار کړم — وَاهْجُرْنِي او له ما لرې شه — مَلِيًّا د اوږدې مودې لپاره.

## روانه ترجمه

هغه وویل: اې ابراهیمه! آیا ته زما له معبودانو څخه مخ اړوې؟ که ته له دې خبرې ونه درېدې، خامخا به دې سنګسار کړم؛ او له ما څخه د اوږدې مودې لپاره لرې شه.

## تفسیر

دا آیت د ابراهیم علیه السلام او د هغه د پلار د چلند ترمنځ لوی توپیر ښکاره کوي.

ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته ویل:

﴿يَا أَبَتِ﴾

«اې زما ګرانه پلاره»!

خو پلار يې په همدې نرمه لهجه ځواب نه ورکوي، بلکې وايي:

﴿أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي﴾

يعنې: «ايا ته زما له معبودانو څخه مخ اړوې او هغوی ردوې؟

د راغب عن معنا ده: له يو شي مخ اړول، پرېښودل يا نه منل وروسته يې ګواښ وکړ.

﴿لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ﴾

يعنې: «که ته ونه درېدې، خامخا به دې سنګسار کړم»

د لَأَرْجُمَنَّكَ اصلي معنا د ډبرو ويشتل يا سنګسار کول دي. ځينو مفسرينو د سخت سپکاوي يا شړلو معنا هم ذکر کړې، خو ښکاره معنا يې جدي ګواښ دی.

وروسته وايي:

﴿وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا﴾

يعنې: «له ما څخه د اوږدې مودې لپاره لرې شه»

د مَلِيًّا معنا ده: ډېر وخت، اوږده موده يا د پام وړ وخت.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې حتی تر ټولو نرم او حکيمانه نصيحت هم کله ناکله رد کيږي. د مؤمن دنده دا ده چې حق په ښه ډول بيان کړي، خو هدايت د الله په لاس کې دی.

همدارنګه دا آيت ښيي چې که مقابل لوری سخت، غوسه ناک يا ګواښوونکی شي، مؤمن بايد د هغه په شان سخت نه شي. په راتلونکي آيت کې ابراهيم عليه السلام بيا هم په سلام، نرمي او ادب ځواب ورکوي.

---

د سورت مریم – ۴۷ آیت

قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ ۖ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي ۖ إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا(۴۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې د ابراهيم عليه السلام پلار د هغه نصيحت رد کړ، د سنګسار ګواښ يې ورته وکړ او ورته ويې ويل چې له ما څخه لرې شه. په دې آيت کې ابراهيم عليه السلام په غوسه ځواب نه ورکوي، بلکې په سلام، نرمۍ او درناوي ځواب ورکوي.

لفظي ترجمه

قَالَ هغه وويل — سَلَامٌ عَلَيْكَ پر تا دې سلامتي وي — سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ زه به ستا لپاره بخښنه وغواړم — رَبِّي له خپل رب څخه — إِنَّهُ بېشکه هغه — كَانَ بِي له ما سره تل — حَفِيًّا ډېر مهربان او پاملرونکی دی.

روانه ترجمه

هغه وويل: پر تا دې سلامتي وي. زه به له خپل رب څخه ستا لپاره بخښنه وغواړم؛ بېشکه هغه تل له ما سره ډېر مهربان دی.

تفسير

دا آيت د ابراهيم عليه السلام د اخلاقو يوه ډېره ښکلې بېلګه ده.

پلار يې ګواښ کړی و، خو هغه وويل:

﴿سَلَامٌ عَلَيْكَ﴾

يعنې: «پر تا دې سلامتي وي»

مطلب دا دی: زه به ستا د سختو خبرو ځواب په سختۍ نه درکوم. زه به په سوله او ادب له تا څخه جلا شم.

وروسته یې وویل:

﴿سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي﴾

یعنې: «زه به له خپل رب څخه ستا لپاره بخښنه وغواړم»

په هغه وخت کې ابراهیم علیه السلام لا هیله لرله چې پلار یې شاید هدایت ومني، نو ځکه یې د هغه لپاره د بخښنې دعا وعده وکړه.

قرآن وروسته دا موضوع نوره هم روښانوي:

﴿فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ﴾

کله چې ابراهیم ته څرګنده شوه چې هغه د الله دښمن دی، نو ترې بېزاره شو.

(التوبة: ۱۱۴)

نو د بخښنې دا وعده هغه وخت وه چې لا د هدایت امید موجود و.

وروسته ابراهیم علیه السلام وویل:

﴿إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا﴾

یعنې: «بېشکه زما رب تل له ما سره ډېر مهربان او پاملرونکی دی»

د حَفِيًّا معنا ده:

ډېر مهربان

پاملرونکی

لطف کوونکی

د بنده حال ته متوجه

ابراهیم علیه السلام پر الله ډېر باور درلود، ځکه هغه د خپل رب مهرباني او مرسته په خپل ژوند کې تجربه کړې وه.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې ښه اخلاق هغه وخت تر ټولو ښه ښکاري چې بل څوک له موږ سره بد چلند وکړي. ابراهیم علیه السلام د ګواښ په مقابل کې سلام، د سختۍ په مقابل کې نرمي، او د غوسې په مقابل کې صبر غوره کړ.

همدارنګه، دا آیت موږ ته را زده کوي چې تر هغه وخته باید د خلکو د هدایت هیله ولرو چې د خیر دروازه خلاصه وي، خو د الله د حکم حدود هم باید په پام کې ونیسو.

---

د سورت مریم – ۴۸ آیت

وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا(۴۸)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې ابراهیم علیه السلام د خپل پلار د ګواښ ځواب په سلام، نرمۍ او ادب ورکړ. په دې آیت کې هغه بیانوي چې اوس به له خپل پلار او قوم څخه جلا شي، د هغوی له باطل عبادت څخه به ځان لرې کړي، او یوازې خپل رب ته به دعا او عبادت کوي.

لفظي ترجمه

وَأَعْتَزِلُكُمْ او زه به له تاسو جلا شم —— وَمَا تَدْعُونَ او له هغو څخه چې تاسو یې رابولئ —— مِن دُونِ اللَّهِ له الله پرته —— وَأَدْعُو رَبِّي او زه به خپل رب رابولم —— عَسَىٰ هیله ده —— أَلَّا أَكُونَ چې نه شم —— بِدُعَاءِ رَبِّي د خپل رب په دعا کې —— شَقِيًّا نامراده او بېبرخې

روانه ترجمه

او زه به له تاسو او له هغو معبودانو څخه جلا شم چې تاسو يې له الله پرته رابولئ، او يوازې خپل رب به رابولم. هيله ده چې د خپل رب په دعا کې به نامراده نه شم.

تفسير

ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته حق په ډېر صبر، ادب او نرمۍ بيان کړی و. کله چې پلار يې د هغه خبره رد کړه او ګواښ يې ورته وکړ، ابراهيم عليه السلام پرېکړه وکړه چې د هغوی له شرک او باطل عبادت څخه ځان جلا کړي.

هغه وويل:

﴿وَأَعْتَزِلُكُمْ﴾

«زه به له تاسو جلا شم»

دا جلا کېدل د شخصي غوسې له امله نه وو، بلکې د ايمان د ساتلو لپاره وو.

وروسته وايي:

﴿وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ﴾

يعني: «او له هغو څخه هم چې تاسو يې له الله پرته رابولئ»

دلته له تَدْعُونَ څخه يوازې غږ کول نه دي مراد، بلکې عبادت، دعا او مرسته غوښتل هم پکې شامل دي.

بيا وايي:

﴿وَأَدْعُو رَبِّي﴾

«او زه به خپل رب رابولم»

دا د توحید یو ښکلی انځور دی: باطل معبودونه پرېږدي او په بشپړه توګه الله ته مخ اړوي.

وروسته وايي:

﴿عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيًّا﴾

يعنې:

«هیله ده چې د خپل رب په دعا کې به نامراده او بېبرخې نه شم»

د شَقِيًّا معنا دلته یوازې «بدبخته» نه ده، بلکې د سیاق له مخې نامراده، محروم او د دعا له خیر څخه بېبرخې معنا ورکوي.

همدا تعبير د سورت په پیل کې زکریا علیه السلام هم کارولی و:

﴿وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا﴾

زما ربه! ما هېڅکله هم تا ته په دعا کولو کې نامرادي نه ده لیدلې.

(مریم: ۴)

نو د قرآن خپل سیاق ښيي چې دلته شقيًّا د دعا په برخه کې د نامراد او محروم په معنا دی.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې که یو چاپېریال، ملګرتیا یا حالت د انسان ایمان ته زیان رسوي، کله ناکله ترې جلا کېدل لازم وي. خو دا جلا کېدل باید د الله لپاره وي، نه د کبر او شخصي غوسې له امله.

همدارنګه، یوازې د باطل پرېښودل بسنه نه کوي؛ انسان باید د ابراهیم علیه السلام په څېر د باطل له پرېښودلو وروسته الله ته مخه کړي، دعا وکړي او پر هغه باور ولري.

---

د سورت مريم – ۴۹ آيت

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا(۴۹)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې ابراهيم عليه السلام وويل چې له خپل قوم او د هغوی له باطلو معبودانو څخه به جلا شي او يوازې الله ته به مخه کوي. په دې آيت کې الله تعالی د دې قربانۍ نتيجه بيانوي: کله چې ابراهيم عليه السلام د الله لپاره هغوی پرېښودل، الله تعالی هغه ته اسحاق عليه السلام او يعقوب عليه السلام ورکړل، او دواړه يې پيغمبران وګرځول.

## لفظي ترجمه

فَلَمَّا نو کله چې — اعْتَزَلَهُمْ له هغوی څخه جلا شو — وَمَا يَعْبُدُونَ او له هغو څخه چې هغوی يې عبادت کاوه — مِن دُونِ اللَّهِ له الله پرته — وَهَبْنَا لَهُ موږ هغه ته ورکړل — إِسْحَاقَ اسحاق عليه السلام — وَيَعْقُوبَ او يعقوب عليه السلام — وَكُلًّا او هر يو — جَعَلْنَا موږ وګرځاوه — نَبِيًّا پيغمبر

## روانه ترجمه

نو کله چې هغه له هغوی او له هغو معبودانو څخه جلا شو چې هغوی يې له الله پرته عبادت کاوه، موږ هغه ته اسحاق عليه السلام او يعقوب عليه السلام ورکړل، او هر يو مو پيغمبر وګرځاوه.

## تفسير

دا آيت بيانوي چې له هغه وروسته څه وشول چې ابراهيم عليه السلام د الله لپاره خپل قوم او د هغوی شرکي عبادت پرېښود.

الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ﴾

يعنې: «کله چې هغه له هغوی څخه جلا شو»

دا جلا کېدل د شخصي غوسې له امله نه وو، بلکې د ايمان او توحيد د ساتلو لپاره وو.

وروسته فرمايي:

﴿وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ﴾

يعنې: «او له هغو څخه هم جلا شو چې هغوی يې له الله پرته عبادت کاوه.

نو ابراهيم عليه السلام هم له باطل چاپېريال څخه ځان لرې کړ او هم يې د هغوی شرکي عبادت پرېښود.

وروسته الله تعالی وفرمايل:

﴿وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ﴾

يعنې: «موږ هغه ته اسحاق«ع» او يعقوب«ع» ورکړل.

اسحاق عليه السلام د حضرت ابراهيم عليه السلام زوی، او يعقوب عليه السلام يې لمسی و.

قرآن په بل ځای کې هم فرمايي:

﴿وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا﴾

او موږ هغه ته اسحاق ع او يعقوب ع ورکړل، او هر يو ته مو هدايت ورکړ.

(الأنعام: ۸۴)

وروسته الله تعالی فرمايي:

﴿وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا﴾

یعنې: «او هر يو مو پیغمبر وګرځاوه»

الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته یوازې اولاد او لمسی ورنه کړ، بلکې هغه ته يې د پیغمبرانو يوه مبارکه کورنۍ ورکړه.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې څوک د الله لپاره څه پرېږدي، الله تعالی ورته تر هغه غوره بدیل ورکولای شي. ابراهیم علیه السلام خپل قوم او د هغوی شرک پرېښود، او الله تعالی ورته داسې کورنۍ ورکړه چې پیغمبران پکې وو.

همدارنګه، دا آیت ښيي چې د ایمان لپاره قرباني هېڅکله نه ضایع کېږي. انسان ممکن په ظاهره يو څه له لاسه ورکړي، خو الله تعالی ورته په دنیا یا آخرت کې تر هغه غوره اجر ورکوي.

---

د سورت مریم – ۵۰ آیت

وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا(۵۰)

د مخکینې آیت سره اړیکه

په مخکینې آیت کې الله تعالی وفرمایل چې کله ابراهیم علیه السلام خپل قوم او د هغوی باطل عبادت د الله لپاره پرېښود، نو الله هغه ته اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام ورکړل او دواړه يې پیغمبران وګرځول. په دې آیت کې الله تعالی د هغوی نور نعمتونه بیانوي: هغوی ته يې له خپل رحم څخه برخه ورکړه او په راتلونکو نسلونو کې يې د هغوی لپاره لوړ او ښه نوم پاتې کړ.

لفظي ترجمه

وَوَهَبْنَا او موږ ورکړل ــــ لَهُم هغوی ته ــــ مِّن رَّحْمَتِنَا له خپل رحمت څخه ــــ وَجَعَلْنَا او موږ وګرځاوه ــــ لَهُمْ د هغوی لپاره ــــ لِسَانَ صِدْقٍ د ربښتینولی ښه یاد او نوم ــــ عَلِيًّا لوړ او عزتمند.

روانه ترجمه

او موږ هغوی ته له خپل رحمت څخه برخه ورکړه، او د هغوی لپاره مو په خلکو کې لوړ او ربښتینی ښه نوم پیدا کړ.

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا﴾

یعني: «موږ هغوی ته له خپل رحمت څخه برخه ورکړه»

په دې رحمت کې پیغمبري، هدایت، نېک اولاد، علم، عزت او د الله ځانګړې لورینه ټول شاملېدای شي.

وروسته فرمایي:

﴿وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا﴾

د «لِسَانَ صِدْقٍ» لفظي معنا «د ربښتینولۍ ژبه» ده، خو د سیاق له مخې یې معنا ده:

ښه، ربښتینی او عزتمند یاد او نوم.

یعني الله تعالی داسې وکړل چې وروسته نسلونه ابراهیم علیه السلام، اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام په احترام او ښه نوم یاد کړي.

قرآن په بل ځای کې د ابراهیم علیه السلام دا دعا هم نقلوي.

﴿وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾

«او په راتلونکو خلکو کې زما لپاره ښه او ربښتینی نوم وګرځوه»
(الشعراء: ۸۴)

نو د سورت مريم دا آيت د هغې دعا د قبول يوه ښه هم ګڼل کېدای شي.

د «عَلِيًّا» معنا ده: لوړ، عزتمند او لوړ مقام لرونکی. يعنې د هغوی ښه نوم يوازې د خپل وخت لپاره نه و، بلکې د نسلونو ترمنځ يې دوام وکړ.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې د الله لوی نعمت يوازې مال او دنيايي بريا نه ده؛ ښه نوم، ربښتينی شهرت او د نېکۍ ياد هم ستر نعمت دی.

د نني عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې يوازې مشهور کېدل هدف نه دی. مشهور کېدل ممکن د هر څه له امله وي، خو «لِسَانَ صِدْقٍ» دا دی چې انسان د ايمان، ربښتينولۍ او ښو اخلاقو له امله په ښه نوم ياد شي.

---

د سورت مريم – ۵۱ آيت

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ ۚ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا(۵۱)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی د ابراهيم، اسحاق او يعقوب عليهم السلام لپاره د خپل رحمت او د هغوی د لوړ او نېک نوم يادونه وکړه. اوس قرآن د موسی عليه السلام يادونه پيلوي او د هغه درې مهمې ځانګړنې بيانوي: الله غوره او پاک کړی و، رسول و او نبي و.

لفظي ترجمه

وَاذْكُرْ او یاد کړه — فِي الْكِتَابِ په کتاب کې — مُوسَىٰ موسی علیه السلام — إِنَّهُ بېشکه هغه — كَانَ و — مُخْلَصًا غوره او پاک کړل شوی — وَكَانَ او هغه و — رَسُولًا رسول — نَّبِيًّا نبي.

## روانه ترجمه

او په دې کتاب کې موسی علیه السلام یاد کړه؛ بېشکه هغه د الله له خوا غوره او پاک کړل شوی و، او هغه رسول او نبي و.

## تفسیر

الله تعالی فرمايي:

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ﴾

یعنې:

«او په کتاب کې موسی علیه السلام یاد کړه»

الله تعالی محمد ﷺ ته امر کوي چې په قرآن کې د موسی علیه السلام کیسه او ځانګړنې خلکو ته بیان کړي، څو ترې زده کړه او عبرت واخلي.

بیا فرمايي:

﴿إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا﴾

یعنې:

«بېشکه هغه غوره او پاک کړل شوی و»

د مُخْلَصًا (مُخْلَص) معنا ده: هغه څوک چې الله تعالی د ځان لپاره غوره او د خپل رسالت لپاره ځانګړی کړی وي.

دلته د دوو کلمو توپیر مهم دی.

مُخْلِص ـــ هغه څوک چې د الله لپاره مخلص وي

مُخْلَص ـــ هغه څوک چې الله تعالی غوره او ځانګړی کړی وي

نو دلته موسی علیه السلام ته مُخْلَصًا ویل شوي؛ یعنې الله تعالی هغه د خپل پیغام او ځانګړي ماموریت لپاره غوره کړی و.

وروسته فرمايي:

﴿وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا﴾

یعنې.

«او هغه رسول او نبي و»

نبي هغه دی چې د الله له لوري ورته وحی کېږي.

رسول هغه دی چې الله تعالی يې د خپل پیغام د رسولو لپاره خلکو ته استوي.

موسی علیه السلام دواړه و: الله تعالی وحی ورته وکړه او فرعون او بني اسرائيلو ته يې د خپل پیغام سره ولېږه.

الله تعالی موسی علیه السلام ته په بل ځای کې فرمايي.

﴿إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي﴾

بېشکه ما ته د خپلو پیغامونو او خپلو خبرو لپاره پر خلکو غوره کړی يې.

(الأعراف: ۱۴۴)

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د الله د دین د خدمت لپاره غوره کېدل ستر عزت دی، خو ورسره لوی مسئولیت هم راځي. موسی علیه

السلام ته وحی ورکړل شوه، خو ورسره د فرعون پر وړاندې درېدل، خپل قوم ته لاربښوونه کول او پر سختیو صبر کول هم وروسپارل شول.

همدارنګه آیت راښیي چې نبوت او رسالت د الله انتخاب دی؛ انسان په خپله هڅه نبي نه شي کېدای، بلکې الله تعالی چې څوک وغواړي د دې ستر مسئولیت لپاره یې غوره کوي.

---

د سورت مریم – ۵۲ آیت

وَنَادَيْنَاهُ مِن جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا(۵۲)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام د خپل ځان لپاره غوره شوی، رسول او نبي وباله. په دې آیت کې د هغه یو بل ځانګړی عزت بیانوي: الله تعالی هغه د طور د غره له ښي اړخ څخه راوباله او د ځانګړې مناجات او خبرو لپاره یې نږدې کړ.

لفظي ترجمه

وَنَادَيْنَاهُ او موږ هغه راوباله — مِن جَانِبِ د اړخ څخه — الطُّورِ د طور د غره — الْأَيْمَنِ له ښي اړخه — وَقَرَّبْنَاهُ او موږ هغه نږدې کړ — نَجِيًّا د پټو او ځانګړو خبرو لپاره.

روانه ترجمه

او موږ هغه د طور د غره له ښي اړخه راوباله او د ځانګړو خبرو لپاره مو نږدې کړ.

تفسیر

الله تعالی فرمايي:

﴿وَنَادَيْنَاهُ مِن جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ﴾

يعنې:

«موږ هغه د طور د غره له ښي اړخه راوباله»

دا هغه وخت و چې موسی علیه السلام د سفر پر مهال د طور غره په لوري اور وليد او هلته ورغی. الله تعالی په هماغه ځای کې هغه ته غږ وکړ او ورسره يې خبرې وکړې.

قرآن په بل ځای کې دا صحنه نوره هم روښانه کوي.

﴿نُودِيَ مِن شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ﴾

هغه ته د درې له ښي اړخه، په مبارک ځای کې، د ونې له لوري غږ وشو.

(القصص: ۳۰)

او فرمايي:

﴿إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾

بېشکه زه ستا رب يم، نو خپلې څپلۍ وباسه؛ ته د طوی په سپېڅلې دره کې يې.

(طه: ۱۲)

بيا الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا﴾

يعنې:

«او هغه مو د ځانګړو او پټو خبرو لپاره نږدې کړ»

د نَجِيًّا معنا ده: هغه څوک چې ورسره په نږدې او ځانګړي ډول خبرې کيږي.

دلته د نږدېوالي معنا فزيکي نږدېوالی نه دی، بلکې د عزت، مقام او ځانګړې مخاطبې نږدېوالی دی.

له همدې امله موسی علیه السلام ته کلیم الله هم ویل کیږي، يعنې هغه پيغمبر چې الله تعالی ورسره مستقيمې خبرې وکړې.

قرآن فرمايي.

﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا﴾

«او الله له موسی سره په رښتيا خبرې وکړې»

(النساء: ۱۶۴)

دا آيت د موسی علیه السلام لوړ مقام څرګندوي. هغه يوازې رسول او نبي نه و، بلکې الله تعالی هغه د مستقيمو خبرو په ځانګړي عزت هم ونازاوه.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې د الله حقيقي نږدېوالی د ايمان، اطاعت، اخلاص او د هغه د پيغام په وفادارۍ سره ترلاسه کيږي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام دا دی چې خلک ډېر وخت د مشهور او ځواکمن انسان نږدېوالي ته ارزښت ورکوي، خو تر ټولو ستر عزت دا دی چې انسان د الله د اطاعت، عبادت او اخلاص له لارې د هغه د رضا او نږدېوالي وړ وګرځي.

---

د سورت مريم – ۵۳ آيت

وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا(۵۳)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالى د موسى عليه السلام يو ځانګړى عزت بيان کړ: هغه يې د طور د غره له اړخه راوباله او د ځانګړو خبرو لپاره يې نږدې کړ.

په دې آيت کې الله تعالى پر موسى عليه السلام د خپل رحمت يو بل لوى نعمت بيانوي: د هغه ورور هارون عليه السلام يې نبي وګرځاوه او د رسالت په ستر مسئوليت کې يې د هغه مرستندوى کړ.

## لفظي ترجمه

وَوَهَبْنَا او موږ ورکړ ـــ لَهُ هغه ته ـــ مِن رَّحْمَتِنَا له خپل رحمت څخه ـــ أَخَاهُ د هغه ورور ـــ هَارُونَ هارون عليه السلام ـــ نَبِيًّا د نبي په توګه.

## روانه ترجمه

او موږ د خپل رحمت له مخې هغه ته د هغه ورور هارون عليه السلام د نبي په توګه ورکړ.

## تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَا﴾

يعنې:

«او موږ د خپل رحمت له مخې هغه ته ورکړ»

د وَهَبْنَا معنا ده: موږ ورکړ، ډالۍ مو کړه، يا مو په ځانګړي فضل ور وبانښه.

دا ښيي چې هارون عليه السلام د موسی عليه السلام لپاره د الله له لوري يو ځانګړی رحمت او مرسته وه.

بيا فرمايي:

﴿أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا﴾

يعنې:

«د هغه ورور هارون عليه السلام مو نبي وګرځاوه»

هارون عليه السلام له مخکې د موسی عليه السلام ورور و. نو مطلب دا نه دی چې الله هغه ته ورور ورکړ، بلکې مطلب دا دی چې الله د هغه ورور هارون عليه السلام ته نبوت ورکړ او د موسی عليه السلام د رسالت مرستندوی يې وګرځاوه.

موسی عليه السلام له الله څخه دا غوښتنه کړې وه.

﴿وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ۝ هَارُونَ أَخِي ۝ اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي ۝ وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي﴾

او زما له کورنۍ څخه زما لپاره يو مرستندوی وټاکه؛ هارون، زما ورور؛ په هغه سره زما ملا قوي کړه او زما په کار کې يې راسره شريک کړه.

(طه: ۲۹ــ۳۲)

الله تعالی يې دعا قبوله کړه او ويې فرمايل:

﴿قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَىٰ﴾

«اې موسی! ستا غوښتنه درکړل شوه»

(طه: ۳۶)

موسی علیه السلام دا هم بیان کړي وو چې ولې د هارون علیه السلام مرسته غواړي:

﴿وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي﴾

یعنې هارون علیه السلام په خبرو کې تر ده ډېر فصیح و، نو موسی علیه السلام غوښتل چې هغه ورسره د مرستندوی په توګه ولېږل شي. (القصص: ۳۴)

دا آیت موږ ته را زده کوي چې د مرستې غوښتل کمزوري نه ده. حتی موسی علیه السلام د دومره ستر مسئولیت لپاره له الله څخه یو صالح او باوري مرستندوی وغوښت.

همدارنګه، صالح ورور، د کورنۍ نېک غړی یا داسې ملګری چې د الله په اطاعت او نېک کار کې مرسته درسره کوي، د الله له سترو رحمتونو او نعمتونو څخه دی.

---

د سورت مریم – ۵۴ آیت

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا(۵۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکینیو آیتونو کې الله تعالی د موسی او هارون علیهما السلام یادونه وکړه او هغه ځانګړي نعمتونه یې بیان کړل چې دوی ته یې ورکړي وو. اوس قرآن د اسماعیل علیه السلام یادونه کوي او د هغه درې سترې ځانګړنې بیانوي: هغه په وعده کې ربښتینی و، رسول و او نبي و.

لفظي ترجمه

وَاذْكُرْ او ياد کړه ـــ فِي الْكِتَابِ په کتاب کې ـــ إِسْمَاعِيلَ اسماعيل ع ـــ إِنَّهُ بېشکه هغه ـــ كَانَ و ـــ صَادِقَ الْوَعْدِ په وعده کې رښتينی / د وعدې پوره کوونکی ـــ وَكَانَ او هغه و ـــ رَسُولًا رسول ـــ نَّبِيًّا نبي.

## روانه ترجمه

او په دې کتاب کې اسماعيل عليه السلام ياد کړه؛ بېشکه هغه په وعده کې ډېر رښتينی او د خپلې وعدې پوره کوونکی و، او هغه رسول او نبي و.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ﴾

يعنې:

«او په کتاب کې اسماعيل عليه السلام ياد کړه»

الله تعالی محمد ﷺ ته امر کوي چې د اسماعيل عليه السلام او د هغه د ښو ځانګړنو يادونه وکړي، څو خلک د هغه له سيرت او اخلاقو څخه زده کړه وکړي.

بيا فرمايي:

﴿إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ﴾

يعنې:

«بېشکه هغه په وعده کې رښتينی و»

د صَادِقَ الْوَعْدِ معنا ده: هغه څوک چې وعده وکړي، بيا خپله وعده په رښتينولۍ سره پوره کړي.

اسماعيل عليه السلام وعدې په سپکه نه اخيستې(يعنې بې اهميته يې نه ګڼلې). کله به يې چې له چا سره ژمنه وکړه، د هغې د پوره کولو پابندي به يې کوله.

د وعدې پوره کول د رښتينولۍ او ښو اخلاقو يوه مهمه برخه ده. انسان ممکن په خبرو کې دروغ ونه وايي، خو که تل وعدې کوي او بيا يې په قصد سره ماتوي، نو د هغه په رښتينولۍ کې نيمګړتيا راځي.

الله تعالى د مؤمنانو په صفت کې فرمايي.

﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ﴾

«او هغه کسان چې د خپلو امانتونو او ژمنو ساتنه کوي»

(المؤمنون: ۸)

وروسته الله تعالى فرمايي:

﴿وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا﴾

يعنې:

«او هغه رسول او نبي و»

اسماعيل عليه السلام يوازې د ښو شخصي اخلاقو له امله نه دی ستايل شوی، بلکې الله تعالى هغه د نبوت او رسالت لپاره هم غوره کړی و او د الله د پيغام د رسولو مسئوليت يې ورسپارلی و.

راتلونکی آيت به د هغه د رسالت يوه مهمه برخه هم بيان کړي: هغه خپلې کورنۍ ته د لمانځه او زکات امر کاوه.

نو د آيت په ترتيب کې يو ښکلی درس شته: لومړی د اسماعيل عليه السلام رښتينولي او د وعدې پابندي ذکر کيږي، بيا د هغه رسالت او نبوت.

يعنې څوک چې خلک د الله لوري ته رابولي، د هغه خپل کردار، خبرې او وعدې هم بايد د باور وړ وي.

د ننني ژوند لپاره د دې آيت درس ډېر عملي دی: وعده په سپکه مه کوئ. کله چې له چا سره وعده کوئ، د پوره کولو رښتينې هڅه يې وکړئ. صادق الوعد کېدل، يعنې په خپله خبره او وعده ولاړ پاتې کېدل، هغه ستر اخلاق دي چې الله تعالی اسماعيل عليه السلام پرې ستايلی دی.

---

د سورت مريم – ۵۵ آيت

وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا(۵۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی اسماعيل عليه السلام د وعدې په رښتينولۍ وستايه، او هغه يې رسول او نبي وباله. په دې آيت کې الله تعالی ښيي چې د هغه ايمان يوازې د خپل ځان تر عبادت محدود نه و، بلکې خپلې کورنۍ ته يې هم د لمانځه او زکات امر کاوه، او الله تعالی ترې راضي و.

لفظي ترجمه

وَكَانَ او هغه به — يَأْمُرُ امر کاوه — أَهْلَهُ خپلې کورنۍ ته — بِالصَّلَاةِ په لمانځه — وَالزَّكَاةِ او زکات — وَكَانَ او هغه و — عِندَ رَبِّهِ د خپل رب په نزد — مَرْضِيًّا د رضا وړ(غوره).

روانه ترجمه

او هغه به خپلې کورنۍ ته د لمانځه او زکات امر کاوه، او د خپل رب په نزد د رضا وړ و(غوره و).

تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ﴾

يعنې:

«هغه به خپلې کورنۍ ته د لمانځه او زکات امر کاوه»

دا ښيي چې اسماعيل عليه السلام يوازې د خپل عبادت فکر نه کاوه، بلکې د خپلې کورنۍ د ايمان او عبادت هم پاملرنه يې کوله.

الله تعالى په بل ځای کې هم فرمايي:

﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾

«خپلې کورنۍ ته د لمانځه امر وکړه او خپله هم پرې ثابت اوسه»

(طه: ۱۳۲)

له دې څخه معلومېږي چې د مؤمن مسئوليت يوازې دا نه دی چې خپل ځان اصلاح کړي، بلکې د خپلې کورنۍ د دين، لمانځه او نېکو اخلاقو په اړه هم فکر وکړي.

وروسته الله تعالى فرمايي:

﴿وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا﴾

يعنې:

«او هغه د خپل رب په نزد د رضا وړ و»

د مَرْضِيًّا معنا ده:

هغه څوک چې الله تعالى ترې راضي وي.

دا ډېره لوړه ستاینه ده. معنا یې دا ده چې اسماعیل علیه السلام د ایمان، اطاعت، رښتینولی، عبادت او د خپلې کورنۍ د اصلاح له امله د الله د رضا وړ ګرځېدلی و.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې حقیقي اصلاح له کور څخه پیلېږي. انسان که بهر خلکو ته د دین خبرې کوي، نو باید د خپلې کورنۍ د لمانځه، ایمان او اخلاقو پاملرنه هم وکړي.

د نننې عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې مور او پلار د خپلو اولادونو د تعلیم، مال او راتلونکي فکر کوي، او دا مهم دي؛ خو قرآن را یادوي چې د هغوی لمونځ، ایمان او اخلاق تر دې هم مهم دي.

---

د سورت مریم – ۵۶ آیت

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا(۵۶)

د مخکینې آیت سره اړیکه

په مخکینیو آیتونو کې الله تعالی د اسماعیل علیه السلام یادونه وکړه؛ د هغه د وعدې رښتینولي، خپلې کورنۍ ته د لمانځه او زکات امر کول، او د خپل رب په نزد د رضا وړ کېدل یې بیان کړل.

اوس الله تعالی د ادریس علیه السلام یادونه کوي او د هغه دوه ستر صفتونه بیانوي: هغه ډېر رښتینی و او نبي و.

لفظي ترجمه

وَاذْكُرْ او یاد کړه — فِي الْكِتَابِ په کتاب کې — إِدْرِيسَ ادریس ع — إِنَّهُ بېشکه هغه — كَانَ و — صِدِّيقًا ډېر رښتینی او د حق کلک منونکی — نَّبِيًّا نبي

روانه ترجمه

او په دي کتاب کې ادريس عليه السلام ياد کړه؛ بېشکه هغه ډېر رښتينی او نبي و.

تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ﴾

يعنې:

«او په کتاب کې ادريس عليه السلام ياد کړه»

الله تعالى محمد ﷺ ته امر کوي چې په قرآن کې د ادريس عليه السلام يادونه وکړي، څو خلک د هغه له ښو ځانګړنو څخه زده کړه وکړي.

بيا فرمايي:

﴿إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا﴾

يعنې:

«بېشکه هغه ډېر رښتينی او نبي و»

دلته د صِدِّيق کلمه ډېره مهمه ده.

صادق معنا: رښتينی

خو صِدِّيق تر دې قوي معنا لري: ډېر رښتينی، تل پر رښتيا ولاړ، او د حق کلک تصديق کوونکی.

يعنې د هغه رښتينولي يوازې په خبرو کې نه وه؛ د هغه ايمان، خبرې، نيت او عمل ټول له رښتينولۍ سره برابر وو.

همدا صفت الله تعالی مخکې د ابراهیم علیه السلام لپاره هم استعمال کړی و:

﴿إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا﴾

«بېشکه هغه ډېر رښتینی او نبي و»

(مریم: ۴۱)

دا ښيي چې رښتینولي د پیغمبرانو له سترو اخلاقو څخه ده.

بیا الله تعالی ادریس علیه السلام ته:

﴿نَّبِيًّا﴾

وايي، یعنې هغه یوازې یو نېک او رښتینی انسان نه و، بلکې الله تعالی د نبوت لپاره غوره کړی او وحی یې ورته کړې وه.

د ادریس علیه السلام په اړه قرآن ډېر تفصیلي معلومات نه دي بیان کړي. له همدې امله، د هغه په اړه هغه کیسې چې کره دلیل نه لري، باید د یقیني حقیقتونو په توګه بیان نه شي.

خو په دې آیت کې قرآن دوه خبرې په څرګند ډول ثابتوي:

ادریس علیه السلام ډېر رښتینی و، او د الله نبي و.

راتلونکی آیت بیا د هغه یو بل ځانګړی عزت بیانوي: الله تعالی هغه یو لوړ مقام ته پورته کړ.

---

د سورت مریم – ۵۷ آیت

وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا(۵۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی ادریس علیه السلام ډېر رښتینی او نبي وباله. په دې آیت کې د هغه یو بل ځانګړی عزت بیانوي: الله تعالی هغه یوه لوړ ځای او لوړ مقام ته پورته کړ.

## لفظي ترجمه

وَرَفَعْنَاهُ او موږ هغه پورته کړ — مَكَانًا یوه ځای ته — عَلِيًّا لوړ.

## روانه ترجمه

«او موږ هغه یوه لوړ ځای ته پورته کړ»

## تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾

یعنې:

«موږ ادریس علیه السلام یوه لوړ ځای ته پورته کړ»

د مَكَانًا عَلِيًّا معنا هم لوړ ځای کېدای شي او هم لوړ مقام او مرتبه.

قرآن دلته نور تفصیل نه بیانوي، نو باید بې له قوي دلیل څخه ډېر جزئیات ورزیات نه کړو.

په صحیح حدیث کې راغلي چې د معراج په شپه محمد ﷺ ادریس علیه السلام په څلورم آسمان کې ولید. دا د دې معنا ملاتړ کوي چې الله تعالی هغه یوه لوړ ځای ته پورته کړی و.

په عین وخت کې، آیت د هغه د معنوي مقام لوړوالی هم ښیي، ځکه مخکیني آیت کې الله تعالی هغه د صِدِّيق او نبي په توګه ستایلی و.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې حقيقي لوړوالی يوازې په مال، شهرت او دنيايي مقام کې نه دی؛ بلکې د الله په نزد لوړوالی د رښتينولی، ايمان، تقوا او اطاعت له لارې ترلاسه کيږي.

د دې آيت مهم درس دا دی چې رښتينولي يوازې دا نه ده چې انسان دروغ ونه وايي. حقيقي صدق دا دی چې انسان په ايمان، خبرو، وعدو، نيت او عمل کې رښتينی وي.

---

د سورت مريم – ۵۸ آيت

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ > نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا(۵۸)

د مخکينيو آيتونو سره اړيکه

په مخکينيو آيتونو کې الله تعالی د ابراهيم، اسحاق، يعقوب، موسی، هارون، اسماعيل او ادريس عليهم السلام يادونه وکړه.

اوس الله تعالی د هغوی ټولې کيسې سره راټولوي او بيانوي چې د دغو پيغمبرانو ګډ صفت څه و: الله پر هغوی نعمت کړی و، هدايت يې ورته کړی و او د نبوت لپاره يې غوره کړي وو.

کله به چې د رحمن آيتونه ورته ولوستل شول، هغوی به په کبر او انکار ځواب نه ورکاوه، بلکې په سجده به پرېوتل او ژړل به يې.

لفظي ترجمه

أُولَٰئِكَ دوی ـــ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم هماغه کسان دي چې الله تعالی په هغوی نعمت کړی ـــ مِّنَ النَّبِيِّينَ له پيغمبرانو څخه ـــ مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ د آدم عليه السلام له اولادې څخه ـــ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ او له هغو څخه

چې موږ له نوح علیه السلام سره سپاره کړي وو — وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ
او د ابراهیم علیه السلام له اولادې څخه — وَإِسْرَائِيلَ او د اسرائیل ع
له اولادې څخه — وَمِمَّنْ هَدَيْنَا او له هغو څخه چې موږ هدایت ورته
کړی و — وَاجْتَبَيْنَا او غوره کړي مو وو — إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ کله چې به
پر هغوی ولوستل شول — آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ د رحمن آیتونه — خَرُّوا
هغوی به پرېوتل — سُجَّدًا په سجده — وَبُكِيًّا او په ژړا.

## روانه ترجمه

دا هماغه پیغمبران دي چې الله پرې نعمت کړی و؛ د آدم علیه السلام » له اولادې څخه، او له هغو کسانو څخه چې موږ له نوح علیه السلام سره سپاره کړي وو، او د ابراهیم علیه السلام او اسرائیل ع له اولادې څخه، او له هغو کسانو څخه چې موږ هدایت ورته کړی او غوره کړي مو وو. کله به چې د رحمن آیتونه ورته ولوستل شول، هغوی به په سجده پرېوتل او ژړل به یې.

## تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ﴾

یعني:

«دا هغه پیغمبران دي چې الله تعالی پر هغوی نعمت کړی و»

نبوت، هدایت، علم، ایمان او د الله ځانګړې لورینه ټول هغه ستر نعمتونه وو چې الله تعالی هغوی ته ورکړي وو.

بیا الله تعالی د هغوی بېلابېل نسلونه یادوي.

﴿مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ﴾

«د آدم علیه السلام له اولادې ځخه»

وروسته فرمايي:

﴿وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ﴾

او له هغو کسانو ځخه چې موږ له نوح علیه السلام سره سپاره کړي » وو.

يعنې هغه مؤمنان چې الله تعالی له نوح علیه السلام سره په کښتی کې وژغورل.

بيا فرمايي.

﴿وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ﴾

«او د ابراهیم علیه السلام او اسرائیل ع له اولادې ځخه»

دلته اسرائیل د یعقوب علیه السلام نوم دی. نو «د اسرائیل اولاد» یعني د یعقوب علیه السلام اولاد.

بيا الله تعالی فرمايي:

﴿وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا﴾

یعنې:

او له هغو کسانو ځخه چې موږ هدایت ورته کړی او غوره کړي مو وو.

د اجْتَبَيْنَا معنا ده: موږ غوره کړل، انتخاب مو کړل، یا مو د ځانګړي مقام لپاره وټاکل.

نو د دغو پیغمبرانو حقیقي عزت یوازې د هغوی په نسب کې نه و؛ بلکې الله تعالی هدایت ورته کړی او د نبوت لپاره یې غوره کړي وو.

بیا د آیت په پای کې د هغوی یو ډېر ښکلی صفت بیانېږي:

﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا﴾

یعنې:

کله به چې د رحمن آیتونه ورته ولوستل شول، هغوی به په سجده پرېوتل او ژړل به یې.

د خَرُّوا معنا ده: پرېوتل، سمدستي ښکته شول.

د سُجَّدًا معنا ده: په سجده کوونکي حالت کې.

او د بُكِيًّا معنا ده: په ژړا، ژړونکي.

یعني د الله د آیتونو په اورېدو سره د هغوی زړونه اغېزمنېدل. د هغوی علم د کبر سبب نه کېده؛ بلکې څومره چې یې الله ښه پېژانده، هومره یې عاجزي زیاتېده.

دلته د الرَّحْمَٰن — ډېر مهربان نوم هم ځانګړې ښکلا لري. هغوی د رحمن آیتونه اورې، د هغه عظمت او رحمت پېژني، او په عاجزی، سجده او ژړا سره ځواب ورکوي.

دا آیت د سجدې د تلاوت آیت هم دی.

د آیت مهم درس دا دی چې د قرآن هدف یوازې دا نه دی چې زموږ معلومات زیات کړي. قرآن باید زموږ زړه، اخلاق او عمل هم بدل کړي.

د دغو پیغمبرانو حالت داسې و چې کله به یې د الله کلام واورېد، یوازې به یې نه اورېده؛ بلکې زړونه به یې نرمېدل، سترګې به یې اوښلنېدې او بدنونه به یې د الله په وړاندې په سجده کې ټیټېدل.

---

د سورت مريم – ۵۹ آيت

فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ ۖ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا(۵۹)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی د هغو پيغمبرانو او نيکو خلکو يادونه وکړه چې کله به د رحمن آيتونه ورته ولوستل شول، په سجده به پرېوتل او ژړل به يې.

په دې آيت کې د هغوی برعکس يو وروسته نسل يادېږي چې لمونځ يې ضايع کړ او د خپلو خواهشونو پيروي يې وکړه.

## لفظي ترجمه

فَخَلَفَ نو وروسته راغی — مِنۢ بَعْدِهِمْ له هغوی وروسته — خَلْفٌ يو وروسته نسل چې — أَضَاعُوا ضايع يې کړ — الصَّلَاةَ لمونځ — وَاتَّبَعُوا او پيروي يې وکړه — الشَّهَوَاتِ د خواهشونو — فَسَوْفَ نو ژر به — يَلْقَوْنَ مخامخ شي — غَيًّا د ببلارۍ د بدې پايلې سره.

## روانه ترجمه

نو له هغوی وروسته داسې نسل راغی چې لمونځ يې ضايع کړ او د خپلو خواهشونو پيروي يې وکړه؛ نو هغوی به له سختې بدې پايلې سره مخ شي.

## تفسير

مخکيني خلکو د الله د آيتونو په اورېدو سجده، ژړا او عاجزي کوله، خو وروسته نسل د دين له دې حالت څخه لرې شو،

الله تعالی فرمايي:

﴿أَضَاعُوا الصَّلَاةَ﴾

يعنې:

«هغوی لمونځ ضايع کړ»

د لمانځه ضايع کول يوازې دا نه دي چې څوک لمونځ بالکل پرېږدي. پکې دا هم شاملېدای شي چې انسان لمونځ بې‌اهميته وګڼي، له وخت څخه يې وځنډوي، يا يې په بې‌پروايی ادا کړي.

لمونځ ځکه لومړی ياد شوی چې دا د انسان او الله ترمنځ د اړيکې تر ټولو څرګند عبادت دی.

وروسته فرمايي:

﴿وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ﴾

يعنې:

«او د خپلو خواهشونو پيروي يې وکړه»

د الشَّهَوَات معنا ده: خواهشونه، نفساني غوښتنې او قوي ميلانونه

خواهش په خپله ګناه نه ده، ځکه الله تعالی انسان له طبيعي غوښتنو سره پيدا کړی دی. ستونزه هغه وخت پيدا کېږي چې انسان هر خواهش تعقيب کړي، که حلال وي که حرام، او د الله حکم ته پام ونه کړي.

دلته د آيت ترتيب هم ډېر مهم دی:

لومړی لمونځ ضايع شو، بيا د خواهشونو پيروي پيل شوه.

يعني کله چې د الله سره اړيکه کمزورې شي، نفساني غوښتنې د انسان پر ژوند واکمنېدای شي.

بيا الله تعالی فرمايي:

﴿فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا﴾

يعنې:

«نو هغوی به له غَيّ سره مخ شي»

د غَيًّا معنا د سياق له مخې بېلارۍ، بد انجام، هلاکت او عذاب ده. ځينو پخوانيو مفسرينو ويلي چې دا په جهنم کې د يوې درې نوم هم دی، خو د آيت عمومي معنا دا ده چې هغوی به د خپل انحراف له سختې پايلې سره مخ شي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې د دين کمزوري کېدل اکثره ناڅاپه نه پېښېږي. ډېر وخت د لمانځه له بې‌پروايۍ پيلېږي، بيا انسان د نفس د غوښتنو تابع کېږي، او وروسته نور هم له هدايت څخه لرې کېږي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آيت پيغام ډېر روښانه دی: خلک د کار، موبايل، تفريح، مال او شخصي خواهشونو لپاره وخت پيدا کوي، خو لمونځ وروسته کوي يا پرېږدي. قرآن خبرداری ورکوي چې کله لمونځ خپل ځای له لاسه ورکړي، نفساني خواهشونه ژر د انسان د ژوند مشري په لاس کې اخلي.

---

د سورت مريم – ۶۰ آيت

إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا(۶۰)

د <u>مخکيني آيت سره اړيکه</u>

په مخکيني آيت کې الله تعالی د هغه وروسته نسل په اړه خبرداری ورکړ چې لمونځ يې ضايع کړ او د خپلو خواهشونو پيروي يې وکړه. په دې آيت کې الله تعالی سمدستي د اميد دروازه پرانيزي: څوک چې

توبه وباسي، ایمان راوړي او نېک عمل وکړي، جنت ته به ننوځي او هېڅ ظلم به پرې ونه شي.

لفظي ترجمه

إِلَّا مګر — مَن هغه څوک چې — تَابَ توبه يې وکړه — وَآمَنَ او ایمان يې راوړ — وَعَمِلَ او عمل يې وکړ — صَالِحًا نېک — فَأُولَٰئِكَ نو هماغه کسان — يَدْخُلُونَ ننوځي — الْجَنَّةَ جنت ته — وَلَا يُظْلَمُونَ او ظلم به پرې ونه شي — شَيْئًا هېڅ اندازه.

روانه ترجمه

مګر هغه څوک چې توبه وباسي، ایمان راوړي او نېک عمل وکړي؛ نو هماغه کسان به جنت ته ننوځي او هېڅ ډول ظلم به پرې ونه شي.

تفسير

له سخت خبرداري وروسته الله تعالی سمدستي د امید خبره کوي.

فرمايي:

﴿إِلَّا مَن تَابَ﴾

يعني:

«مګر هغه څوک چې توبه وباسي»

دا ښيي چې که يو انسان لمونځ ضايع کړی وي، د خواهشونو پيروي يې کړې وي او په ګناه کې لوېدلی وي، بيا هم د توبې دروازه ورته خلاصه ده، تر څو چې په اخلاص الله تعالی ته بېرته راوګرځي.

رېښتيني توبه دا ده چې انسان ګناه پرېږدي، پرې پښېمانه شي او کلکه اراده وکړي چې بېرته به ورته نه ستنېږي.

بيا فرمايي:

﴿وَآمَنَ﴾

یعنې:

«او ایمان راوړي»

یوازې په خوله «بخښنه غواړم» ویل بسنه نه کوي؛ انسان باید په رښتیا الله ته بېرته راوګرځي او ایمان یې پیاوړی شي.

وروسته فرمایي:

﴿وَعَمِلَ صَالِحًا﴾

یعنې:

«او نېک عمل وکړي»

دا ښيي چې رېښتینې توبه په عمل کې هم بدلون راولي. انسان یوازې بد کار نه پرېږدي، بلکې د هغه پر ځای نېک کار پیلوي.

الله تعالی په بل ځای کې هم فرمایي:

﴿إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾

مګر هغه څوک چې توبه وباسي، ایمان راوړي او نېک عمل وکړي.

(الفرقان: ۷۰)

بیا الله تعالی وعده کوي:

﴿فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ﴾

:یعنې

«هماغه کسان به جنت ته ننوځي»

دا د الله د رحمت ډېره لویه نښه ده. مخکینی آیت د عذاب خبره کوي، خو دا آیت ښیي چې که انسان په اخلاص الله ته راوګرځي، تېر ګناهونه د جنت دروازه نه بندوي.

وروسته فرمایي.

﴿وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا﴾

یعنې:

«او هېڅ ظلم به پرې ونه شي»

الله تعالی به نه د هغوی د نېکو عملونو اجر کم کړي او نه به بې‌انصافه عذاب ورکړي. د الله فیصله په بشپړ عدل ولاړه ده.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې انسان باید د خپلو تېرو تېروتنو له امله د الله له رحمته نااميده نه شي. د بېرته ستنېدو لاره تل د توبې، ایمان او نېک عمل له لارې خلاصه ده.

---

د سورت مریم – ۶۱ آیت

جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا(۶۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې څوک توبه وباسي، ایمان راوړي او نېک عمل وکړي، جنت ته به ننوځي او هېڅ ظلم به پرې ونه شي.

اوس په دې آیت کې الله تعالی د هغه جنت صفت بیانوي: دا د تلپاتې اوسېدو باغونه دي چې رحمن له خپلو بندګانو سره وعده کړې ده، سره له دې چې هغوی لا په خپلو سترګو نه دي لیدلي.

## لفظي ترجمه

جَنَّاتِ باغونه — عَدْنٍ د تلپاتي اوسېدو — الَّتِي هغه چې — وَعَدَ وعده
کړې — الرَّحْمَٰنُ رحمن — عِبَادَهُ له خپلو بندګانو سره — بِالْغَيْبِ په
غيبو سره / پرته له دې چې ليدلي يې وي — إِنَّهُ بېشکه — كَانَ ده —
وَعْدُهُ د هغه وعده — مَأْتِيًّا خامخا راتلونکي او پوره کېدونکې.

## روانه ترجمه

د تلپاتي اوسېدو هغه جنتونه چې رحمن يې له خپلو بندګانو سره په غيبو کې وعده کړې ده؛ بېشکه د هغه وعده خامخا پوره کېدونکې ده

## تفسير

په مخکينې آيت کې الله تعالى وفرمايل:

﴿فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ﴾

«نو هماغه کسان به جنت ته ننوځي»

اوس بيانوي چې دا کوم جنت دى:

﴿جَنَّاتِ عَدْنٍ﴾

يعنې:

«د تلپاتي اوسېدو جنتونه»

د عَدْن لغوي معنا ده: اوسېدل، په يوه ځاى کې پاتې کېدل او دايمي استوګنه.

نو جَنَّاتِ عَدْنٍ يعنې داسې جنتونه چې جنتيان به پکې د تل لپاره اوسيږي؛ هلته به د وتلو، ختمېدو او مرګ وېره نه وي.

:بيا فرمايي

﴿الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ﴾

یعنې:

«هغه جنتونه چې رحمن يې له خپلو بندګانو سره وعده کړې ده»

دلته بيا د الله تعالی د الرَّحْمَٰن نوم استعمال شوی، يعنې ډېر زيات مهربان.

دا ښيي چې جنت د الله تعالی د ستر رحمت له نښو څخه دی.

بيا فرمايي:

﴿بِالْغَيْبِ﴾

«په غيبو سره »

مطلب دا دی چې مؤمنانو جنت لا په خپلو سترګو نه دی ليدلی، خو بيا هم پرې ايمان لري، ځکه الله تعالی يې خبر ورکړی او وعده يې کړې ده.

دا د ايمان بالغيب يوه برخه ده: انسان هغه حقيقت مني چې الله او د هغه رسول ﷺ يې خبر ورکړی وي، که څه هم لا يې په سترګو نه وي ليدلی.

بيا الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا﴾

«بېشکه د هغه وعده خامخا پوره کېدونکې ده»

د مَأْتِيًّا معنا دلته ده

خامخا راتلونکی، حتمي واقع کېدونکی او پوره کېدونکی.

یعنې جنت یوازې یوه هیله نه ده چې معلومه نه وي پوره به شي که نه؛ بلکې دا د الله وعده ده، او د الله وعده حتمي ده.

د دې آیت مهم درس دا دی چې مؤمن جنت نه دی لیدلی، خو د جنت په وعده یقین لري؛ ځکه د وعدې کوونکی الله تعالی دی.

نو حقیقي ایمان دا دی چې انسان د الله پر وعده دومره باور ولري چې نالیدلی آخرت د هغه پر ننني ژوند او عمل اغیز وکړي.

---

د سورت مریم – ۶۲ آیت

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا ۖ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا(۶۲)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی د عدن د تلپاتې جنتونو یادونه وکړه، چې خپلو مؤمنو بندګانو سره یې وعده کړې ده. په دې آیت کې د جنت د ژوند یو بل ښکلی صفت بیانوي: هلته به بېګټې او زیانمنې خبرې نه اورېدل کیږي، بلکې یوازې د سلام او سولې خبرې به وي، او جنتیانو ته به روزي په دوامداره توګه ورکول کیږي.

لفظي ترجمه

لَا يَسْمَعُونَ هغوی به نه اوري — فِيهَا په هغه کې — لَغْوًا بېګټې او بېهوده خبرې — إِلَّا سَلَامًا مګر د سلام او سولې خبرې — وَلَهُمْ او د هغوی لپاره — رِزْقُهُمْ د هغوی روزي ده — فِيهَا په هغه کې — بُكْرَةً سهار — وَعَشِيًّا او ماښام.

روانه ترجمه

هغوی به په جنت کې هېڅ بېګټې او زيانمنه خبره نه اوري، یوازې د سلام او سولې خبرې به وي؛ او هلته به هغوی ته سهار او مابنام روزي ورکول کیږي.

<u>تفسير</u>

الله تعالی د جنت د اوسېدونکو د ژوند صفت ته دوام ورکوي:

فرمايي:

﴿لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا﴾

«هغوی به هلته بېګټې خبرې نه اوري»

د لَغْوًا معنا ده: بېګټې، بېهوده، ناسمې، سپکوونکې یا د زړه خوږوونکې خبرې.

په دنیا کې انسان دروغ، غیبت، شخړې، سپکاوی او ډېرې بېګټې خبرې اوري، خو په جنت کې به له دې ټولو څخه پاک چاپېریال وي.

بیا فرمايي:

﴿إِلَّا سَلَامًا﴾

«مګر د سلام او سولې خبرې»

مطلب دا نه دی چې یوازې به د سلام یوه کلمه ویل کیږي، بلکې ټولې خبرې به پاکې، نرمې، د امن او خوښۍ ډکې وي.

الله تعالی په بل ځای کې هم فرمايي:

﴿لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ۝ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا﴾

هغوی به هلته نه بېګټې خبرې اوري او نه د ګناه خبرې، بلکې یوازې د سلام او سولې خبرې.

(الواقعة: ۲۵ــ۲۶)

بيا فرمايي:

﴿وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا﴾

«او هلته به هغوی ته سهار او ماښام روزي ورکول کيږي»

د بُكْرَةً وَعَشِيًّا معنا ده: سهار او ماښام.

دا لازمه نه ده چې په جنت کې به د دنيا په شان شپه او ورځ وي؛ بلکې مطلب دا دی چې هغوی ته به روزي په منظم، دوامداره او آرامه توګه رسيږي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿لَهُم مَّا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ﴾

هلته به هغوی ته هر څه وي چې غواړي، او زموږ سره تر دې هم زيات دي.

(ق: ۳۵)

دا آيت جنت د پاکو خبرو، بشپړ سکون او دوامدارې روزۍ ځای بنيي.

د نننۍ ژوند لپاره هم يو ښکلی درس لري: که جنت له بېګټې او زړه خوړوونکو خبرو پاک ځای دی، نو مؤمن بايد همدا اوس هڅه وکړي چې خپله ژبه له دروغ، غيبت، سپکاوي او بېفايدې خبرو وساتي، او خبرې يې د سلام، خير او نرمۍ سبب شي.

---

د سورت مريم ــ ۶۳ آيت

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا(۶۳)

## د مخكيني آيت سره اړيكه

په مخكيني آيت كې الله تعالى د جنت د ژوند ښكلى حالت بيان كړ: هلته به بېګټې او زيانمنې خبرې نه وي، بلكې سلامتي، سكون او دوامداره روزي به وي.

په دې آيت كې الله تعالى بيانوي چې دغه جنت به چا ته وركول كيږي: خپلو هغو بندګانو ته چې تقوا لري.

## لفظي ترجمه

تِلْكَ همدا هغه ـــ الْجَنَّةُ جنت دى ـــ الَّتِي چې ـــ نُورِثُ موږ يې په ميراث وركوو ـــ مِنْ عِبَادِنَا له خپلو بندګانو څخه ـــ مَن هغه چا ته چې ـــ كَانَ وي ـــ تَقِيًّا پرهيزګار او متقي.

## روانه ترجمه

همدا هغه جنت دى چې موږ يې له خپلو بندګانو څخه هغو كسانو ته په ميراث وركوو چې متقيان وي.

## تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿تِلْكَ الْجَنَّةُ﴾

«همدا هغه جنت دى»

دا اشاره هماغه جنت ته ده چې په مخكينيو آيتونو كې يې صفت بيان شو: د عدن تلپاتې جنتونه، د پاكو خبرو، سلامتيا او دوامدارې روزۍ ځاى.

بيا فرمايي:

﴿الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا﴾

«چې موږ يې له خپلو بندګانو څخه څينو ته په ميراث ورکوو»

د نُورِثُ معنا ده: په ميراث ورکول، يا په دايمي ډول ورسپارل.

مطلب دا نه دی چې جنت مخکې د بل چا ملکيت و، بلکې مطلب دا دی چې الله تعالی به يې خپلو نېکو بندګانو ته د تل لپاره ورکړي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ۝ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ﴾

«هماغه کسان وارثان دي، چې فردوس به په ميراث اخلي»

(المؤمنون: ۱۰ــ۱۱)

بيا فرمايي:

﴿مَن كَانَ تَقِيًّا﴾

«هغه څوک چې متقي وي»

د تَقِيًّا معنا ده: پرهېزګار، د الله څخه وېرېدونکی، د هغه د حکمونو خيال ساتونکی، او له ګناه څخه ځان ساتونکی.

تقوا يوازې وېره نه ده؛ بلکې د الله حضور ته پام، اطاعت، او له حرامو څخه ځان ساتل هم پکې شامل دي.

نو آيت موږ ته دا را زده کوي چې جنت د مال، نسب، قوم، مقام او شهرت له مخې نه ورکول کېږي؛ بلکې د ايمان او تقوا له مخې ورکول کېږي.

د دې آيت مهم درس دا دی چې د دنيا تر ټولو لوی ميراث کور، ځمکه او مال نه دی؛ تر ټولو لوی ميراث هغه تلپاتې جنت دی چې الله تعالی خپلو متقيانو بندګانو ته ورکوي.

---

د سورت مریم – ۶۴ آیت

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ۖ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا(۶۴)

## د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکینیو آیتونو کې د جنت او د متقیانو د اجر یادونه وشوه. اوس خبره د وحی د راتګ لوري ته اوړي.

دلته د ملائکو خبره بیانیږي، او په ځانګړي ډول د جبرئیل علیه السلام د وحی راوړلو له موضوع سره تړاو لري.

مطلب دا دی چې ملائکې په خپله خوښه نه راکوزیږي، بلکې یوازې د الله تعالی په امر راکوزیږي.

دلته «موږ» ملائکو ته اشاره ده، او د آیت سیاق په ځانګړي ډول له جبرئیل علیه السلام سره تړاو لري، چې محمد ﷺ ته به یې وحی راوړله.

## لفظي ترجمه

وَمَا نَتَنَزَّلُ او موږ نه راکوزیږو — إِلَّا مګر — بِأَمْرِ رَبِّكَ ستا د رب په امر — لَهُ د هغه لپاره / د هغه دي — مَا بَيْنَ أَيْدِينَا هغه څه چې زموږ مخې ته دي — وَمَا خَلْفَنَا او هغه څه چې زموږ شاته دي — وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ او هغه څه چې د دې دواړو ترمنځ دي — وَمَا كَانَ رَبُّكَ او ستا رب نه دی — نَسِيًّا هېروونکی.

## روانه ترجمه

او موږ یوازې ستا د رب په امر راکوزېږو. د هغه دي هغه څه چې زموږ مخې ته دي، هغه څه چې زموږ شاته دي او هغه څه چې د دې دواړو ترمنځ دي؛ او ستا رب هېروونکی نه دی.

تفسير

فرمايي:

﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾

«موږ یوازې ستا د رب په امر راکوزېږو»

دلته «موږ» ملائکو ته اشاره ده، او د آیت سیاق په ځانګړي ډول له جبرئیل علیه السلام سره تړاو لري، چې محمد ﷺ ته به یې وحی راوړله.

مطلب دا دی چې جبرئیل علیه السلام په خپله خوښه نه راتلو، بلکې کله به چې الله تعالی امر ورته وکړ، هغه به وحی راوړه.

نو ملائکې د الله بندګان دي او د هغه «جلا جلاله» له امر څخه پرته په خپل سر څه نه کوي.

بیا فرمايي:

﴿لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ﴾

د هغه دي هغه څه چې زموږ مخې ته دي،او زموږ شاته دي او د دواړو ترمنځ دي.

دا یوه ډېره پراخه معنا لري: تېر، راتلونکی، اوسنی وخت او ټول موجودات د الله په ملکیت، علم او واک کې دي.

هيڅ شی د الله له علم او واک څخه بهر نه دی.

بیا فرمايي:

﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا﴾

«او ستا رب هېروونکی نه دی»

د نَسِيًّا معنا ده: هېروونکی

دا محمد ﷺ ته یو ډاډ هم و: که کله وحی د یوې مودې لپاره نه راتله، معنا يې دا نه وه چې الله تعالی هغه هېر کړی دی.

الله تعالی نه خپل بندګان هېروي، نه خپلې وعدې، نه خپل احکام، او نه د خپل مخلوق کوم حالت ترې پټ دی.

په بل ځای کې قرآن فرمايي:

﴿لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى﴾

«زما رب نه خطا کېږي او نه هېروي»

(طه: ۵۲)

د آيت مهم درس

دا آيت دوه لوی حقيقتونه را زده کوي:

هر څه د الله په امر او واک کې دي، او الله تعالی هېڅکله نه هېروي.

کله چې د الله مرسته يا د يوې دعا نتيجه سمدستي ونه وينو، بايد داسې فکر ونه کړو چې الله موږ هېر کړي يو. ځنډ د هېرولو معنا نه لري؛ د الله هر کار د هغه د علم او حکمت له مخې په خپل مناسب وخت ترسره کېږي.

---

د سورت مريم – ۶۵ آيت

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ ۚ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا(۶۵)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې هر څه د هغه دي او هغه هېڅکله نه هېروي. په دې آيت کې بيانوي چې ولې يوازې هغه د عبادت وړ دی: هغه د اسمانونو، ځمکې او د دواړو ترمنځ د هر څه رب دی. نو يوازې د هغه عبادت بايد وشي او په عبادت کې بايد صبر او ثبات وشي.

## لفظي ترجمه

رَبُّ رب دی ــــ السَّمَاوَاتِ د اسمانونو ــــ وَالْأَرْضِ او د ځمکې ــــ وَمَا بَيْنَهُمَا او د هغو څه چې د دواړو ترمنځ دي ــــ فَاعْبُدْهُ نو د هغه عبادت وکړه ــــ وَاصْطَبِرْ او په صبر ټينګ پاتې شه ــــ لِعِبَادَتِهِ د هغه په عبادت کې ــــ هَلْ تَعْلَمُ آيا ته پېژنې ــــ لَهُ د هغه لپاره ــــ سَمِيًّا کوم همنام (برابر يا سيال)

## روانه ترجمه

هغه د اسمانونو، ځمکې او د دواړو ترمنځ د هر څه رب دی؛ نو يوازې د هغه عبادت وکړه او د هغه په عبادت کې په صبر ټينګ پاتې شه. آيا ته د هغه کوم برابر او سيال پېژنې؟

## تفسير

الله تعالی فرمايي

﴿رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا﴾

«هغه د اسمانونو، ځمکې او د دواړو ترمنځ د هر څه رب دی»

مطلب دا دی چې الله تعالی د ټول کائنات خالق، مالک، ساتونکی او اداره کوونکی دی.

کله چې یوازې الله رب دی، نو یوازې هماغه د عبادت وړ دی.

له همدې امله سمدستي فرمايي:

﴿فَاعْبُدْهُ﴾

«نو یوازې د هغه عبادت وکړه»

دا د قرآن يو مهم اصل دی: څوک چې یوازې خالق او رب دی، هماغه یوازې د عبادت مستحق دی.

بيا فرمايي:

﴿وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ﴾

«او د هغه په عبادت کې په صبر او ثبات ټینګ پاتې شه»

د وَاصْطَبِرْ معنا یوازې «صبر وکړه» نه ده، بلکې معنا يې ده: په ځان زور راوړه، دوام وکړه او په عبادت کې ثابت پاتې شه.

عبادت صبر غواړي، ځکه انسان له ستړيا، مصروفيت، خواهشونو او ستونزو سره مخ کيږي. لمونځ، روژه، د الله اطاعت او له ګناه څخه ځان ساتل ټول دوام او صبر غواړي.

الله تعالی په بل ځای کې هم فرمايي:

﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾

خپلې کورنۍ ته د لمانځه امر وکړه او خپله هم پرې په صبر ټینګ پاتې شه.

طه: ۱۳۲)

بیا فرمايي:

﴿هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا﴾

«آيا ته د هغه کوم برابر او سيال پېژنې؟»

د سَمِيًّا کلمه د سياق له مخې د همنوم، ورته، برابر او سيال معنا ورکوي.

دلته اصلي مطلب دا دی چې د الله هېڅ برابر، سيال او ورته ذات نشته.

همدا معنا په سورت اخلاص کې هم راغلې ده:

﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾

«او د هغه هېڅ برابر نشته»

(الإخلاص: ۴)

نو آيت درې حقيقتونه سره نښلوي: الله يوازې رب دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ، او د هغه هېڅ سيال او برابر نشته.

د نننۍ ژوند لپاره د دې آيت درس دا دی چې د عبادت يوازې پيلول مهم نه دي، بلکې پرې دوام، صبر او ثبات هم ضروري دی. له الله سره قوي اړيکه د منظم عبادت او ثابت قدمی له لارې پیاوړې کیږي.

---

د سورت مريم – ۶۶ آيت

وَيَقُولُ الْإِنسَانُ أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا(۶۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی بيان کړل چې هغه د اسمانونو او ځمکې رب دی او هېڅوک يې برابر نه دی. په دې آيت کې قرآن د هغه انسان

خبره رااخلي چې د بیا راژوندي کېدو په اړه شک کوي او په حیرانتیا «وایي: «کله چې زه مړ شم، ایا بیا به رښتیا ژوندی را وایستل شم؟

## لفظي ترجمه

وَيَقُولُ او وایي — الْإِنسَانُ انسان — أَإِذَا آیا کله چې — مَا مِتُّ زه مړ شم — لَسَوْفَ نو آیا خامخا به — أُخْرَجُ را وایستل شم — حَيًّا ژوندی

## روانه ترجمه

او انسان وایي: آیا کله چې زه مړ شم، بیا به رښتیا ژوندی را وایستل شم؟

## تفسیر

دا آیت د هغه انسان شک بیانوي چې د قیامت او بیا راژوندي کېدو منکر وي.

هغه وایي

﴿أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا﴾

«کله چې زه مړ شم، ایا بیا به رښتیا ژوندی را وایستل شم؟»

دا پوښتنه د زدهکړې لپاره نه ده، بلکې د شک او انکار په ډول ده؛ یعني هغه دا خبره ناممکنه ګڼي چې له مرګ وروسته دې انسان بېرته ژوندی شي.

خو قرآن په راتلونکي آیت کې د همدې شک ځواب ورکوي: انسان ته یادونه کوي چې الله هغه لومړی ځل هم هغه وخت پیدا کړی و چې هېڅ نه و.

نو که الله لومړی ځل پیدا کولای شي، بیا پیدا کول ورته لا آسانه دي.

الله تعالی په بل ځای کې هم فرمایي:

﴿قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾

ووايه: هماغه ذات به يې بېرته ژوندي کړي چې لومړی ځل يې پيدا کړي وو.

(يس: ۷۹)

دا آيت موږ ته را زده کوي چې انسان بايد د الله قدرت د خپل محدود عقل او توان په اندازه ونه سنجوي.

د انسان لپاره د مړو راژوندي کول ناممکن دي، خو د الله لپاره، چې ژوند يې له پيل څخه پيدا کړی، بيا راژوندي کول ورته هېڅ ستونزمن نه دي.

لنډه نتيجه:

څوک چې له هېڅ څخه انسان پيدا کولای شي، هغه يې بيا هم خامخا پيدا کولای شي.

---

د سورت مريم – ۶۷ آيت

أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا(۶۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې منکر انسان په شک او انکار سره وويل: «کله چې زه مړ شم، ايا بيا به رښتيا ژوندی را وايستل شم؟»

اوس الله تعالی د هغه شک ته يو ډېر روښانه عقلي ځواب ورکوي: ايا انسان خپل لومړنی پيدايښت نه يادوي؟

الله تعالی هغه لومړی ځل داسې پیدا کړ چې تر هغه مخکې هېڅ موجود نه و. نو هغه ذات چې لومړی ځل یې پیدا کړ، له مرګ وروسته یې بیا راژوندی کول هم ورته ناممکن نه دي.

لفظي ترجمه

أَوَلَا آیا نه — يَذْكُرُ یادوي / فکر کوي — الْإِنسَانُ انسان — أَنَّا چې موږ — خَلَقْنَاهُ هغه پیدا کړی — مِن قَبْلُ له دې مخکې — وَلَمْ يَكُ حال دا چې هغه نه و — شَيْئًا هېڅ شی

روانه ترجمه

ایا انسان دا نه یادوي چې موږ هغه له دې مخکې پیدا کړی و، حال دا چې هغه هېڅ شی نه و؟

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ﴾

«ایا انسان نه یادوي او فکر نه کوي؟»

دلته پوښتنه د دې لپاره ده چې انسان فکر او غور وکړي.

په مخکینې آیت کې انسان حیرانېده چې له مرګ وروسته به څنګه بیا ژوندی شي. الله تعالی یې پام د هغه خپل لومړني پیدایښت ته اړوي.

بیا فرمایي:

﴿أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ﴾

«چې بېشکه موږ هغه له دې مخکې پیدا کړی و»

انسان دې مخکې له دې چې د بیا پیدایښت په اړه شک وکړي، دا فکر وکړي چې لومړی ځل چا پیدا کړ؟

بیا فرمايي:

﴿وَلَمْ يَكُ شَيْئًا﴾

«حال دا چې هغه هېڅ شی نه و»

يوه زمانه داسې وه چې انسان اصلاً موجود نه و. نه يې بدن و او نه يې په دنيا کې وجود درلود. الله تعالی هغه له نشتون څخه وجود ته راوست.

نو د آيت دليل ډېر ساده او قوي دی:

هغه الله چې انسان يې لومړی ځل پيدا کړ، د مرګ وروسته يې بيا راژوندی کول هم ورته اسانه دي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ﴾

او هماغه ذات دی چې پيدايښت لومړی پيلوي، بيا يې بېرته راګرځوي(بيا يې دوباره پيدا کوي).

(الروم: ۲۷)

د آيت مهم درس

الله تعالی انسان ته د قيامت د امکان لپاره له لرې ځايه دليل نه راوړي، بلکې ورته وايي چې خپل ځان ته وګوره.

ستا خپل وجود د الله د قدرت دليل دی. کله چې الله تعالی ته لومړی ځل له نشتون څخه پيدا کول ممکن دي، نو له مرګ وروسته بيا راژوندي کول به څنګه ناممکن وي؟

لنډه نتيجه:

لومړنی پيدايښت د بيا راژوندي کېدو ښکاره دليل دی.

---

د سورت مریم – ۶۸ آیت

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا(۶۸)

## د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی د بیا راژوندي کېدو د منکر شک ته د انسان د لومړني پیدایښت له لارې ځواب ورکړ. په دې آیت کې الله تعالی په خپل ربوبیت قسم کوي چې منکران او شیطانان به خامخا راټول کړي او بیا به یې د جهنم شاوخوا په ګونډو حاضر کړي.

## لفظي ترجمه

فَوَرَبِّكَ نو ستا په رب قسم — لَنَحْشُرَنَّهُمْ خامخا به هغوی راټول کړو — وَالشَّيَاطِينَ او شیطانان(هم) — ثُمَّ بیا — لَنُحْضِرَنَّهُمْ به خامخا هغوی حاضر کړو — حَوْلَ جَهَنَّمَ د جهنم شاوخوا — جِثِيًّا په ګونډو.

## روانه ترجمه

نو ستا په رب قسم! موږ به هغوی او شیطانان خامخا راټول کړو، بیا به یې د جهنم شاوخوا په ګونډو حاضر کړو.

## تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿فَوَرَبِّكَ﴾

«نو ستا په رب قسم»

دا ډېر قوي قسم دی. الله تعالی په خپل ذات قسم کوي، څو څرګنده کړي چې راتلونکې خبره حتمي او یقیني ده.

بيا فرمايي:

﴿لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ﴾

«موږ به هغوى او شيطانان خامخا راټول کړو»

د نَحْشُرُ معنا ده: راټولول او د حساب لپاره يو ځاى کول.

هغه کسان چې په دنيا کې يې د قيامت انکار کاوه، له حسابه به ونه تښتي. هغوى به له هغو شيطانانو سره راټول شي چې د هغوى د بېلارى سبب او ملګري وو.

بيا فرمايي:

﴿ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ﴾

«بيا به هغوى د جهنم شاوخوا حاضر کړو»

هغه عذاب چې په دنيا کې يې نه مانه، په آخرت کې به يې په خپلو سترګو ووينې.

وروسته فرمايي:

﴿جِثِيًّا﴾

«په ګونډو»

د جِثِيًّا معنا ده: په زنګنو يا ګونډو ناست، د وېرې، کمزورى او ذلت په حالت کې.

الله تعالى په بل ځاى کې هم فرمايي:

﴿وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً﴾

«او ته به هر امت په ګونډو ناست ووينې»

(الجاثية: ۲۸)

دا آیت د منکرانو حالت په بشپړه توګه بدل ښيي: په دنیا کې یې د شک او کبر خبرې کولې، خو د قیامت په ورځ به په ویره او ذلت کې راټول او د جهنم شاوخوا به په ګونډو حاضر وي.

د نننۍ عصر لپاره د دې آیت پیغام دا دی چې د آخرت انکار د آخرت حقیقت نه بدلوي. هوښیار انسان هغه دی چې له راتلو مخکې د هغې ورځې لپاره ځان چمتو کړي.

---

د سورت مریم – ۶۹ آیت

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا(۶۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې منکران او شیطانان به راټول شي او د جهنم شاوخوا به په ګونډو حاضر کړل شي.

په دې آیت کې الله تعالی بیانوي چې له هرې ډلې څخه به هغه کسان لومړی جلا او را وایستل شي چې د رحمن په وړاندې تر ټولو ډېر سرکښ، ضدّي او نافرمان وو.

لفظي ترجمه

ثُمَّ بیا — لَنَنزِعَنَّ به خامخا راوباسو / جلا کړو — مِن كُلِّ شِيعَةٍ له هرې ډلې څخه — أَيُّهُمْ چې کوم یو له هغوی — أَشَدُّ ډېر سخت — عَلَى الرَّحْمَٰنِ د رحمن په وړاندې — عِتِيًّا په سرکښۍ او سختۍ نافرمانۍ کې وو.

روانه ترجمه

بیا به موږ له هرې ډلې څخه هغه کسان خامخا جلا کړو چې د رحمن په وړاندې تر ټولو ډېر سرکښ او ضدّي وو.

تفسير

الله تعالی فرمايي

﴿ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ﴾

«بيا به موږ له هرې ډلې څخه خامخا کسان راوباسو»

د شِيعَةٍ معنا دلته ده:

ډله، ګروپ، حزب، هغه کسان چې په يوه لار يا عقيده سره يو ځای وي.

دلته دا کلمه د کومې ځانګړې مذهبي ډلې نوم نه دی، بلکې عمومي معنا لري.

بيا فرمايي:

﴿أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا﴾

«هغه کسان چې د رحمن په وړاندې تر ټولو ډېر سرکښ وو»

د عِتِيًّا معنا ده: سخته سرکښي، ضد او عناد، تکبر سره نافرماني، د حق په وړاندې کلک درېدل.

يعني په هره ډله کې به هغه کسان جلا شي چې نه يوازې خپله ګمراه وو، بلکې په کبر او سرکښۍ کې تر نورو هم مخکې وو.

دلته د الرَّحْمَٰن نوم بيا ځانګړې معنا لري. دوی د داسې ذات په وړاندې سرکښي کړې وه چې ډېر مهربان دی او د هدايت دروازې يې ورته پرانيستې وې؛ نو د هغوی سرکښي لا ډېره درنه کېږي.

دا آيت موږ ته را زده کوي چې د ګناه او انکار درجې يو شان نه دي. ځينې کسان يوازې د بدۍ پيروي کوي، خو ځينې نور بيا خلک هم بدۍ ته رابولي، مشري يې کوي او د حق مخالفت پياوړی کوي.

الله تعالی د هر انسان د ګناه، اغېز او مسؤلیت په اندازه په بشپړ عدل سره پوهېږي.

*************************************************

د سورت مریم – ۷۰ آیت

ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا(۷۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې له هرې ډلې څخه به هغه کسان جلا کړي چې د رحمن په وړاندې تر ټولو ډېر سرکښ وو.

اوس په دې آیت کې روښانه کوي چې الله تعالی تر هر چا ښه پوهېږي چې څوک جهنم ته د ننوتلو او د هغه د اور د عذاب ډېر مستحق دي.

نو د آخرت سزا به په اټکل یا بېانصافۍ نه وي؛ الله تعالی د هر چا عمل، سرکښي او د جرم اندازه په بشپړ ډول پېژني.

لفظي ترجمه

ثُمَّ بیا — لَنَحْنُ خامخا موږ — أَعْلَمُ ډېر ښه پوهېږو — بِالَّذِينَ په هغو کسانو — هُمْ چې هغوی — أَوْلَىٰ ډېر مستحق دي — بِهَا د هغې، یعنې د جهنم — صِلِيًّا د ننوتلو او په اور کې د سوځېدو.

روانه ترجمه

بیا خامخا موږ تر ټولو ښه پوهېږو چې کوم کسان جهنم ته د ننوتلو او په هغه کې د سوځېدو ډېر مستحق دي.

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ﴾

«بیا خامخا موږ تر ټولو ښه پوهیږو»

په لَنَحْنُ کې ډېر تاکید دی.

یعنې الله تعالی په پوره او کامل علم پوهیږي چې څوک د عذاب مستحق دی او د چا جرم څومره دی.

د هېچا عمل، نیت او حقیقت ترې پټ نه دی.

بیا فرمایي:

﴿بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا﴾

«په هغو کسانو ښه پوهیږو چې د هغې یعنې جهنم ډېر مستحق دي»

دلته بِهَا د جهنم لوري ته اشاره ده، چې په مخکینیو آیتونو کې یاد شوی دی.

د أَوْلَىٰ معنا دلته ده:

ډېر مستحق، ډېر وړ، یا هغه څوک چې د خپلو اعمالو له امله د دې سزا ډېر حقدار وي.

بیا فرمایي:

﴿صِلِيًّا﴾

د صِلِيًّا معنا ده:

اور ته ننوتل او د هغه تودوخه او سوځېدل زغمل.

نو د آیت مطلب دا شو چې الله تعالی په بشپړ علم پوهیږي چې څوک د خپلو اعمالو له امله د جهنم د عذاب ډېر مستحق دی.

د ۶۹ او ۷۰ آیتونو ترمنځ ډېره مهمه اړیکه ده:

په ۶۹ آیت کې د تر ټولو سختو سرکښانو د جلا کولو خبره وشوه، او په ۷۰ آیت کې روښانه شوه چې دا جلا کول د الله د کامل علم او عدل پر بنسټ دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾

«او ستا رب پر هېچا ظلم نه کوي»

(الكهف: ۴۹)

د آیت مهم درس

د الله تعالی فیصله په کامل علم او کامل عدل ولاړه ده.

الله یوازې دا نه ویني چې انسان په ظاهر کې څه کړي؛ بلکې د هغه نیت، علم، عمل، سرکښي او د عمل بشپړ حقیقت ټول ورته معلوم دي.

نو په آخرت کې به هېڅچا ته د خپل جرم له اندازې زیاته په ناحقه سزا نه ورکول کېږي.

************************************************************

د سورت مریم – ۷۱ آیت

وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا(۷۱)

<u>د مخکیني آیت سره اړیکه</u>

په مخکینیو آیتونو کې د جهنم شاوخوا د منکرانو د راټولېدو یادونه وشوه، او الله تعالی وفرمایل چې هغه ښه پوهېږي چې څوک د جهنم د عذاب ډېر مستحق دي.

اوس په دې آيت کې فرمايي چې له تاسو څخه به هر يو هغې يعنې جهنم ته ورشي يا پرې به تېرېږي، او دا د الله تعالی يوه حتمي او ټاکل شوې فيصله ده.

راتلونکی آيت د دې خبرې په پوهېدو کې ډېر مهم دی، ځکه هلته الله تعالی فرمايي چې متقيان به وژغوري او ظالمان به په جهنم کې په ګونډو پرېږدي.

## لفظي ترجمه

وَإِن مِّنكُمْ او له تاسو څخه هېڅوک نشته — إِلَّا مګر دا چې — وَارِدُهَا هغې يعنې جهنم ته به ورشي / پرې به تېر شي — كَانَ دا دی — عَلَىٰ رَبِّكَ ستا د رب له لوري — حَتْمًا حتمي او خامخا — مَّقْضِيًّا فيصله شوی او ټاکل شوی.

## روانه ترجمه

او له تاسو څخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې هغې يعنې جهنم ته به ورشي؛ دا ستا د رب يوه حتمي او ټاکل شوې فيصله ده.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾

«له تاسو څخه هېڅوک نشته مګر دا چې هغې يعنې جهنم ته به ورشي»

دلته تر ټولو مهمه کلمه وَارِدُهَا ده.

د وُرُود لغوي معنا ده: يو ځای ته رسېدل، ورننېدل کېدل يا ورننوتل.

مفسرينو د دې په تفسير کې بېلابېل اقوال بيان کړي دي. يو مشهور تفسير دا دی چې ټول خلک به د جهنم پر سر د صراط له پله تېرېږي، بيا به الله تعالی مؤمنان د هغوی د ايمان او اعمالو مطابق وژغوري.

ځينو مفسرينو ورود جهنم ته د رسېدو يا ورننوتلو کېدو په معنا اخيستی دی.

خو دا خبره راتلونکی آيت بالکل روښانه کوي:

﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا﴾

«بيا به موږ هغه کسان وژغورو چې تقوا يې کړې وه»

نو د ۷۱ آيت معنا دا نه ده چې هر مؤمن به خامخا د جهنم عذابويني؛ بلکې الله تعالی به متقيان ترې وژغوري.

بيا فرمايي:

﴿كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾

«دا ستا د رب يوه حتمي او ټاکل شوې فيصله ده»

د حَتْمًا معنا ده: حتمي، خامخا کېدونکی، داسې کار چې واقع کېدل يې ټاکل شوي وي.

او مَقْضِيًّا معنا ده: فيصله شوی، حکم پرې شوی او ټاکل شوی.

د آيت مهم درس

قيامت او د هغه پړاوونه يوازې اټکل نه دی، بلکې د الله تعالی حتمي فيصله ده.

او د مؤمن لپاره د اميد مهمه خبره دا ده چې د دې آيت سمدستي وروسته الله فرمايي: متقيان به وژغورل شي

************************************************************

د سورت مريم – ۷۲ آيت

ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا(۷۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې هر څوک به جهنم ته ورشي يا پرې به تېر شي، او دا يوه حتمي فيصله ده.

په دې آيت کې الله تعالی روښانوي چې له هغه وروسته به څه کيږي: متقيان به وژغوري، او ظالمان به په جهنم کې په ګونډو پرېږدي.

لفظي ترجمه

ثُمَّ بيا — نُنَجِّي به موږ وژغورو — الَّذِينَ اتَّقَوا هغه کسان چې تقوا يې کړې وه — وَنَذَرُ او موږ به پرېږدو — الظَّالِمِينَ ظالمان — فِيهَا په هغې يعني جهنم کې — جِثِيًّا په ګونډو.

روانه ترجمه

بيا به موږ متقيان وژغورو، او ظالمان به په جهنم کې په ګونډو پرېږدو.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا﴾

«بيا به موږ هغه کسان وژغورو چې تقوا يې کړې وه»

د نُنَجِّي معنا ده: ژغورل، خلاصون ورکول، او په امن سره ايستل.

نو که څه هم ټول خلک به جهنم ته ورشي يا پرې به تېر شي، متقيان به هلته نه پرېښودل کيږي؛ الله تعالی به يې وژغوري.

د اتَّقَوا معنا ده: هغه کسان چې تقوا یې کړې وه، یعنې پر الله یې ایمان درلود، د هغه اطاعت یې کاوه او له ګناه څخه یې ځان ساته.

بیا فرمايي:

﴿وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾

«او ظالمان به په هغې یعنې جهنم کې په ګونډو پرېږدو»

د نَذَرُ معنا دلته ده: پرېښودل، شاته پرېښودل.

او جِثِيًّا معنا ده: په ګونډو، د وېرې، کمزورۍ او ذلت په حالت کې.

دا هماغه کلمه ده چې په ۶۸ آیت کې هم راغلې وه.

نو د آیت مقابله ډېره روښانه ده:

متقیان ژغورل کیږي

ظالمان پرېښودل کیږي

دا آیت د ۷۱ آیت معنا هم روښانه کوي: هر څوک چې جهنم ته ورشي یا پرې تېر شي، لازمه نه ده چې هلته به عذاب ویني. الله تعالی متقیان ژغوري.

د دې آیت مهم درس دا دی چې حقیقي نجات د ایمان، تقوا او د الله د رحمت له لارې دی.

************************************************************

د سورت مریم – ۷۳ آیت

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا(۷۳)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې متقيان به وژغورل شي او ظالمان به په جهنم کې پرېښودل شي.

په دې آيت کې د دنيا د منکرانو يو بل چلند بيانېږي: کله چې ورته د الله روښانه آيتونه ولوستل شي، د دليل په مقابل کې دليل نه وړاندې کوي، بلکې د دنيا د مال، مقام او مجلسونو په وسيله ځانونه له مؤمنانو غوره کڼي.

لفظي ترجمه

وَإِذَا او کله چې — تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ پر هغوی ولوستل شي — آيَاتُنَا زموږ آيتونه — بَيِّنَاتٍ روښانه — قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا کافران وايې — لِلَّذِينَ آمَنُوا مؤمنانو ته چې — أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ د دواړو ډلو کومه يوه — خَيْرٌ غوره ده — مَّقَامًا په مقام او ځای کې — وَأَحْسَنُ او غوره ده — نَدِيًّا په مجلس او غونډه کې.

روانه ترجمه

او کله چې زموږ روښانه آيتونه ورته ولوستل شي، کافران مؤمنانو ته وايي: د دې دواړو ډلو کومه يوه په مقام او مجلس کې غوره ده؟

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ﴾

«کله چې زموږ روښانه آيتونه ورته ولوستل شي»

د بَيِّنَاتٍ معنا ده: ډېر واضح، څرګند او روښانه.

يعنې د حق په بيان کې کمښت نه وي؛ آيتونه روښانه وي، خو هغوی د حق پر ځای د دنيا په ظاهري شيانو استدلال کوي.

بيا فرمايي:

﴿قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا﴾

«کافران مؤمنانو ته وايي»

هغوی د قرآن د دليل په مقابل کې دا نه وايي چې کومه عقلي يا نقلي ستونزه لري، بلکې د دنيايي حالت پرتله کوي.

وايي:

﴿أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا﴾

«د دواړو ډلو کومه يوه په مقام کې غوره ده؟»

د مَقَامًا معنا د سياق له مخې ځای، مقام، استوګنځای يا ټولنيز حيثيت کېدای شي.

يعنې هغوی وايي: موږ ډېر مال، ښه کورونه او لوړ ټولنيز مقام لرو، نو څنګه تاسو پر حق ياست؟

بيا وايي:

﴿وَأَحْسَنُ نَدِيًّا﴾

«او کومه ډله ښه مجلس او غونډه لري؟»

د نَدِيًّا معنا ده: مجلس، د خلکو د راټولېدو ځای، ټولنيزه غونډه.

هغوی په خپلو مجلسونو، ملګرو او دنيايي نفوذ وياړ کوي.

خو دا د حق لپاره دليل نه دی.

مال، مقام، شهرت او ډېر ملګري دا نه ثابتوي چې يو انسان پر حق دی.

دا آیت موږ ته را زده کوي چې حق د خلکو د ظاهري کامیابۍ له مخې نه سنجول کیږي. کېدای شي یو انسان ډېر مالدار وي خو پر باطله وي، او بل انسان کمزوری او غریب وي خو پر حقه وي.

د حق معیار د الله وحي او دلیل دی، نه مال، مقام، نفوذ او د خلکو شمېر.

************************************************************

د سورت مریم – ۷۴ آیت

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا(۷۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې کافرانو پر مؤمنانو د خپل ښه مقام، مجلسونو او ظاهري برم له امله فخر کاوه.

په دې آیت کې الله تعالی د هغوی د دې دلیل ځواب ورکوي: له دوی څخه مخکې ډېر داسې قومونه تېر شوي وو چې مال او سامان یې تر دوی هم ښه و او ظاهري شان او ښکلا یې هم تر دوی زیاته وه، خو الله تعالی هلاک کړل.

نو دنیاوي مال، مقام او ظاهري برم د حقانیت دلیل نه دی.

لفظي ترجمه

وَكَمْ او څومره ډېر — أَهْلَكْنَا موږ هلاک کړل — قَبْلَهُم له دوی مخکې — مِّن قَرْنٍ له نسلونو او قومونو څخه — هُمْ چې هغوی — أَحْسَنُ ډېر ښه وو — أَثَاثًا په مال، سامان او اثاثو کې — وَرِئْيًا او په ظاهري ښه او برم کې.

روانه ترجمه

او له دوی څخه مخکې موږ څومره ډېر داسې نسلونه هلاک کړي دي چې په مال او سامان کې تر دوی غوره او په ظاهري بڼه او برم کې تر دوی ډېر ښايسته وو.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ﴾

له دوی څخه مخکې مو څومره ډېر قومونه او نسلونه هلاک کړي دي.

دلته وَكَمْ د ډېروالي معنا ورکوي، يعنې يوازې يو يا دوه قومونه نه، بلکې ډېر پخواني قومونه.

قَرْنٍ دلته د نسل، زمانې د خلکو يا قوم په معنا دی.

بيا فرمايي:

﴿هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا﴾

«هغوی په مال او سامان کې تر دوی هم ښه وو»

د أَثَاثًا معنا ده: مال، د کور سامان، فرنيچر، وسايل او نور دنياوي شيان.

بيا فرمايي:

﴿وَرِئْيًا﴾

«او په ظاهري بڼه او برم کې هم تر دوی غوره وو»

د رِئْيًا معنا له ليدلو سره تړاو لري، يعنې: هغه ظاهري حالت، ښکلا او شان چې سترګو ته ښکاري.

نو د آیت مطلب دا دی: پخوانیو قومونو هم ډېر مال، ښه سامان او زړه راښکونکی ظاهري شان درلود، خو کله چې یې حق رد کړ، دغه شیانو د الله له عذابه ونه ژغورل.

د آیت مهم درس

د دنیا ښه مال، ښایسته کوراو لوړ مقام د دې ثبوت نه دی چې انسان د الله په نزد هم غوره دی.

اصلي معیار ایمان او تقوا ده.

***********************************************************

د سورت مریم – ۷۵ آیت

قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا(۷۵) >

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې له دوی څخه مخکې ډېر داسې قومونه تېر شوي وو چې مال، سامان او ظاهري برم یې تر دوی هم زیات و، خو د حق د ردولو پر مهال دغه دنیاوي ځواک ونه ژغورل.

په دې آیت کې الله تعالی بیانوي چې ځوک په بېلارۍ تینګ پاتې شي، الله ممکن هغه ته لا مهلت ورکړي. خو کله چې د عذاب یا قیامت هغه وعده ووینې، نو پوه به شي چې په حقیقت کې ځوک بد مقام او کمزوري ملاتړي لري.

لفظي ترجمه

قُلْ ووایه ـــ مَن كَانَ څوک چې وي ـــ فِي الضَّلَالَةِ په بېلارۍ کې ـــ فَلْيَمْدُدْ لَهُ نو مهلت ورکوي هغه ته ـــ الرَّحْمَٰنُ الله تعالی ـــ مَدًّا تر یوې مودې ـــ حَتَّىٰ تر دې چې ـــ إِذَا رَأَوْا کله هغوی ووینې ـــ مَا يُوعَدُونَ هغه څه چې وعده یې ورسره کولی شي ـــ إِمَّا الْعَذَابَ یا عذاب ـــ وَإِمَّا السَّاعَةَ او یا قیامت ـــ فَسَيَعْلَمُونَ نو ژر به پوه شي چې ـــ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا څوک په بدتر مقام کې دی ـــ وَأَضْعَفُ جُندًا او د ملاتړو له پلوه کمزوری دی.

## روانه ترجمه

ووایه: څوک چې په بېلارۍ کې وي، الله تعالی هغه ته مهلت ورکوي، تر دې چې: هغه څه ووینې چې وعده یې ورسره شوې ده، که عذاب وي او که قیامت. بیا به پوه شي چې څوک په بدتر مقام کې دی، او څوک د ملاتړو له پلوه ډېر کمزوری دی.

## تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا﴾

یعنې که یو انسان په قصدي ډول په بېلارۍ تینګ پاتې شي، الله تعالی ممکن هغه ته لا وخت، دنیاوي فرصت او مهلت ورکړي.

خو دا مهلت د دې معنا نه لري چې الله ترې راضي دی.

کله ناکله د دنیا زیاتوالی د نعمت پر ځای امتحان او استدراج هم کېدای شي، یعنې انسان ته وخت او فرصت ورکول کېږي څو د هغه حقیقت لا څرګند شي.

بیا فرمایي:

﴿حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ﴾

«تر هغه چې هغه څه ووينې چې وعده يې ورسره شوې ده»

بيا يې تشريح کوي:

﴿إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ﴾

يعنې يا به په دنيا کې د الله عذاب ووينې، او يا به د قيامت ورځ راورسي.

بيا فرمايي:

﴿فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا﴾

بيا به پوه شي چې څوک په مقام کې بدتر او د ملاتړو له پلوه ډېر کمزورى دى.

په ۷۳ آيت کې همدغو منکرانو فخر کاوه چې موږ ښه مقام او ښه مجلس لرو. دلته الله تعالى وايي چې د قيامت پر مهال به حقيقت برعکس څرګند شي.

د جُندًا معنا ده: لښکر، ملاتړي، مرسته کوونکي او ځواک

نو که څوک په دنيا کې ډېر مال، دوستان، نفوذ او ملاتړي ولري، دا يې د الله له حسابه نه شي ژغورلاى.

د آيت مهم درس

د دنيا اوږد مهلت تل د الله د رضا نښه نه ده.

کله ناکله انسان ته وخت ورکول کېږي، خو په پاى کې د حق او باطل حقيقي نتيجه د قيامت په ورځ څرګندېږي.

************************************************************

د سورت مریم ــ ۷۶ آیت

وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى ۗ وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَّرَدًّا(۷۶)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمایل چې څوک په بېلارۍ کې ټينګ پاتې شي، ممکن نور هم مهلت ورکړل شي، تر څو د عذاب یا قیامت حقیقت ووینې.

په دې آیت کې د دې برعکس د مؤمنانو حالت بیانوي: څوک چې هدایت ومني، الله تعالی یې هدایت لا زیاتوي، او هغه نېک عملونه چې اجر یې پاتې کېږي، د الله په نزد تر دنیایي مال او مقام ډېر غوره دي.

## لفظي ترجمه

وَيَزِيدُ اللَّهُ او الله زیاتوي ــ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هغه کسان چې هدایت یې موندلی ــ هُدًى په هدایت کې ــ وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ او پاتې کېدونکي نېک عملونه ــ خَيْرٌ غوره دي ــ عِندَ رَبِّكَ ستا د رب په نزد ــ ثَوَابًا په اجر کې ــ وَخَيْرٌ او غوره دي ــ مَّرَدًّا په وروستۍ پایله او بېرته ورګرځېدو کې.

## روانه ترجمه

او الله هغه کسان چې هدایت یې منلی وي، نور هم په هدایت کې زیاتوي. او پاتې کېدونکي نېک عملونه ستا د رب په نزد هم په اجر کې غوره دي او هم په وروستۍ پایله کې.

## تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى﴾

الله هغه کسان چې هدايت يې موندلی وي، نور هم په هدايت کې زياتوي.

مطلب دا دی چې کله انسان حق ومني او پرې عمل وکړي، الله تعالی ورته نور فهم، ايمان، ثبات او د حق پېژندنه هم ورکوي.

يعنې هدايت يو ثابت شی نه دی؛ زياتېدای شي.

بيا فرمايي:

﴿وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ﴾

«هغه نېک عملونه چې پاتې کېږي»

دلته مطلب هغه اعمال دي چې اجر يې له انسان سره پاتې کېږي؛ لکه لمونځ، ذکر، صدقه، ښه اخلاق او نور نېک عملونه چې د الله لپاره په اخلاص ترسره شي.

دنيايي مال، مقام او شهرت ختمېږي، خو د نېکو عملونو اجر پاتې کېږي.

بيا فرمايي:

﴿خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا﴾

«ستا د رب په نزد په اجر کې ډېر غوره دي»

او:

﴿وَخَيْرٌ مَّرَدًّا﴾

«او په وروستۍ پايله کې هم ډېر غوره دي»

د مَرَدًّا معنا ده: بېرته ورګرځېدل، وروستۍ پايله، يا انجام.

د آيت مهم درس

دنيايي شيان ژر تېرېږي، خو نېک عملونه له انسان سره پاتې کېږي.

او څوک چې حق ومني او پرې عمل وکړي، الله تعالی ورته نور هدايت هم زياتوي.

*******************************************************

د سورت مريم – ۷۷ آيت

أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا(۷۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې پاتې کېدونکي نېک عملونه د اجر او وروستۍ پايلې له پلوه له دنيايي مال او مقام څخه غوره دي.

په دې آيت کې الله تعالی د داسې انسان يادونه کوي چې د الله آيتونه يې رد کړي وو، خو بيا يې په ډېر ډاډ سره ويل چې مال او اولاد به خامخا راکړل شي.

لفظي ترجمه

أَفَرَأَيْتَ آيا تا ليدلی — الَّذِي هغه څوک چې — كَفَرَ کفر يې وکړ — بِآيَاتِنَا زموږ په آيتونو — وَقَالَ او ويې ويل — لَأُوتَيَنَّ خامخا به راکړل شي — مَالًا مال — وَوَلَدًا او اولاد.

روانه ترجمه

ايا تا هغه کس ليدلی چې زموږ له آيتونو يې انکار وکړ او ويې ويل: خامخا به ماته مال او اولاد راکړل شي؟

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا﴾

«ایا تا هغه کس لیدلی چې زموږ آیتونه یې رد کړل؟»

دا د حیرانتیا او ملامتۍ پوښتنه ده. یعني د داسې کس حالت ته وګوره چې د الله وحي نه مني، خو بیا هم د خپل راتلونکي په اړه په پوره ډاډ خبرې کوي.

بیا وایي:

﴿لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا﴾

«خامخا به ماته مال او اولاد راکړل شي»

په لَأُوتَيَنَّ کې قوي تاکید دی؛ یعنې هغه یوازې هیله نه کوي، بلکې داسې خبرې کوي لکه دا خبره چې ورته حتمي تضمین شوې وي.

د تفسیر په مشهورو روایتونو کې دا آیت له عاص بن وائل سره تړل شوی، چې د قیامت په اړه یې ملنډې وهلې او ویل یې: که آخرت هم وي، هلته به هم ماته مال او اولاد راکړل شي.

راتلونکي آیتونه د هغه دا دعوه ردوي او پوښتي: ایا هغه غیب لیدلی؟ یا یې له رحمن څخه کومه وعده اخیستې ده؟

نو دلته ستونزه په مال او اولاد کې نه ده؛ ستونزه دا ده چې انسان د غیبو په اړه بې له وحی او دلیل څخه په یقیني ډول خبرې وکړي.

د آیت مهم درس

دنیایي مال او اولاد د الله د رضا قطعي نښه نه دي.

او د آخرت په اړه باید یوازې هغه څه وویل شي چې الله تعالی او د هغه وحي یې ثبوت ورکړي.

*************************************************************

د سورت مريم – ۷۸ آيت

أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا(۷۸)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې يو منکر په ډېر ډاډ سره ووېل چې خامخا به ورته مال او اولاد ورکړل شي.

په دې آيت کې الله تعالی د هغه دا دعوه په دوو پوښتنو ردوي: ايا هغه غيب ليدلی دی؟ که يې له رحمن څخه کومه وعده اخيستې ده؟

يعنې د راتلونکي او آخرت په اړه دومره په يقين خبرې د کوم دليل پر بنسټ کوي؟

لفظي ترجمه

أَطَّلَعَ آيا هغه خبر شوی / پوه شوی — الْغَيْبَ پر غيب — أَمِ يا( که) — اتَّخَذَ اخيستې يې ده — عِندَ الرَّحْمَٰنِ له رحمن سره(د الله تعالی څخه) — عَهْدًا کومه وعده يا ژمنه.

روانه ترجمه

ايا هغه پر غيبو خبر شوی دی، که يې له رحمن څخه کومه وعده اخيستې ده؟

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿أَطَّلَعَ الْغَيْبَ﴾

«ايا هغه غيب ليدلی يا پرې خبر شوی دی؟»

د الغيب معنا هغه شيان دي چې د انسان له عادي پوهې او سترګو پټ دي؛ لکه راتلونکی، قيامت او د آخرت حالات.

هغه کس په مخکيني آيت کې داسې خبرې کولې لکه چې په يقين سره پوهېږي چې په آخرت کې به هم ورته مال او اولاد ورکول کېږي.

الله تعالی ترې پوښتي: ايا ته واقعاً غيب پېژنې؟

ځواب ښکاره دی: نه

بيا فرمايي:

﴿أَمِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا﴾

«که يې له رحمن څخه کومه ژمنه اخيستې ده؟»

د عَهْدًا معنا ده:وعده،ژمنه،تړون،کلک تعهد.

يعني: آيا الله تعالی ورسره داسې وعده کړې چې خامخا به ورته مال او اولاد ورکړي؟

ځواب بيا هم نه دی

نو د آيت مقصد دا دی چې د هغه دعوه نه د غيب پر علم ولاړه ده او نه د الله پر وعده.

د آيت مهم درس

د غيب په اړه بايد بې له دليل او وحی څخه په يقيني ډول خبرې ونه کړو.

يوازې الله تعالی د غيب کامل علم لري، او د آخرت په اړه يقيني خبره هغه ده چې الله او د هغه رسول ﷺ يې بيان کړې وي.

************************************************************

د سورت مریم – ۷۹ آيت

كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا(۷۹)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وپوښتل چې آيا هغه کس غيب ليدلی دی، يا يې له رحمن څخه کومه وعده اخيستې ده؟

په دې آيت کې الله تعالی د هغه دعوه په کلکه ردوي او فرمايي چې د هغه خبرې به ثبت شي او عذاب به يې نور هم زيات شي.

## لفظي ترجمه

كَلَّا هېڅکله نه / داسې نه ده ـــ سَنَكْتُبُ موږ به وليکو ـــ مَا يَقُولُ هغه څه چې دی يې وايي ـــ وَنَمُدُّ لَهُ او موږ به ورته اوږد کړو ـــ مِنَ الْعَذَابِ له عذابه ـــ مَدًّا اوږدوالی او زياتوالی.

## روانه ترجمه

هېڅکله نه! موږ به هغه څه ثبت کړو چې دی يې وايي، او عذاب به يې نور هم زيات او اوږد کړو.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿كَلَّا﴾

«هېڅکله نه! داسې نه ده»

دا د هغه کس د دعوې قوي رد دی. نه هغه غيب پېژني او نه الله ورسره کومه داسې وعده کړې ده.

بيا فرمايي:

﴿سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ﴾

«موږ به هغه څه وليکو چې دی يې وايي»

مطلب دا دی چې د هغه خبرې به هېرې نه شي، بلکې ثبت به شي او د قیامت په ورځ به پرې حساب کیږي.

دا موږ ته را زده کوي چې خبرې هم د انسان د عمل برخه ده. انسان یوازې په لاس او پښو نه، بلکې په ژبه هم نېک یا بد عمل کوي.

بیا فرمايي:

﴿وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا﴾

«او موږ به د هغه عذاب نور هم اوږد او زیات کړو»

د مَدًّا معنا ده: غځول، اوږدول او زیاتول.

دلته مطلب دا دی چې د هغه د کفر، ملنډو او د غیب په اړه د بېدلیله دعوو له امله به عذاب ورته زیات شي.

د آیت مهم درس

انسان باید د الله، دین او آخرت په اړه په بېپروایی او بېدلیله توګه خبرې ونه کړي، ځکه الفاظ هم ثبتیږي او حساب پرې کیږي.

************************************************************

د سورت مریم – ۸۰ آیت

وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا(۸۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې د هغه منکر خبرې به ثبت شي او عذاب به یې زیات شي. په دې آیت کې روښانوي چې هغه مال او اولاد چې ده پرې فخر کاوه، ټول به ترې پاتې شي، او دی به یوازې د الله حضور ته راشي.

لفظي ترجمه

وَنَرِثُهُ او موږ به ترې په میراث واخلو ـــ مَا يَقُولُ هغه څه چې دی يې وايي / پرې دعوه کوي(يعنې دی چې څه يادوي هغه ټول به مونږ ته پاتې شي) ـــ وَيَأْتِينَا او موږ ته به راشي ـــ فَرْدًا یوازې

روانه ترجمه

او هغه څه چې دی پرې فخر او دعوه کوي، ټول به ترې موږ ته پاتې شي، او دی به يوازې زموږ حضور ته راشي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ﴾

يعنې:

هغه څه چې دی يې وايي او پرې فخر کوي، په پای کې به ترې پاتې شي.

دا د هغه مال او اولاد ته اشاره ده چې په ۷۷ آيت کې يې يادونه کړې وه.

مطلب دا دی چې انسان که هر څومره مال، اولاد، کورونه او دنيايي وسايل ولري، د مرګ په وخت کې ټول پرېږدي.

الله تعالی له پيل څخه د هر څه حقيقي مالک دی.

دا خبره مخکې په ۴۰ آيت کې هم راغلې وه:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا﴾

«بېشکه موږ د ځمکې او د هر هغه چا وارث يو چې پر هغې دي»

بيا فرمايي:

﴿وَيَأْتِينَا فَرْدًا﴾

«او هغه به موږ ته یوازې راشي»

د فَرْدًا معنا ده:یوازې،تنها،بې له ملګري،بې له دنیایي ملاتړي

یعنې په قیامت کې به نه مال ورسره وي، نه اولاد، نه ملګري، نه مقام او نه نفوذ.

هغه به یوازې د خپل ایمان او عمل سره د الله حضور ته درېږي.

د آیت مهم درس

انسان په دنیا کې پر مال، اولاد او مقام فخر کولای شي، خو د مرګ په وخت کې هر څه ترې پاتې کیږي.

الله ته انسان یوازې ورځي؛ ورسره یوازې ایمان او عمل پاتې کیږي.

**************************************************************

د سورت مریم – ۸۱ آیت

وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا(۸۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې منکر به خپل مال او اولاد شاته پرېږدي او یوازې به د الله حضور ته ورشي.

په دې آیت کې د هغوی د ناسم باور یوه بله بڼه بیانوي: هغوی له الله پرته نور معبودان نیولي وو، په دې هیله چې دغه معبودان به ورته عزت، ځواک او ملاتړ ورکړي.

لفظي ترجمه

وَاتَّخَذُوا او هغوی ونیول ــــ مِن دُونِ اللَّهِ له الله پرته ــــ آلِهَةً معبودان ــــ لِّيَكُونُوا ترڅو هغوی شي ــــ لَهُمْ د دوی لپاره ــــ عِزًّا عزت، ځواک او ملاتړ.

روانه ترجمه

او هغوی له الله پرته نور معبودان ونیول، ترڅو د دوی لپاره د عزت، ځواک او ملاتړ وسیله شي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً﴾

«هغوی له الله پرته نور معبودان ونیول»

مطلب دا دی چې هغوی به مخلوقاتو ته عبادت کاوه، يا به يې له الله سره په عبادت کې شریکول.

بيا فرمايي:

﴿لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا﴾

«ترڅو هغوی ته د عزت او ځواک سبب شي»

د عِزًّا معنا ده: عزت، ځواک، قدرت، ملاتړ، ساتنه.

هغوی فکر کاوه چې دا باطل معبودان به يې مرسته وکړي، ساتنه به يې وکړي او مقام به يې لوړ کړي.

خو راتلونکي آيتونه ښيي چې خبره به برعکس شي: همدغه معبودان به د دوی عبادت رد کړي او د دوی پر ضد به ودرېږي.

د آيت مهم درس

حقيقي عزت او ځواک له الله سره دی.

نه مال، نه مقام، نه شهرت، او نه مخلوق انسان ته حقيقي عزت ورکولای شي.

څوک چې حقيقي عزت غواړي، بايد هغه د الله په اطاعت او توحيد کې ولټوي.

*****************************************************************

د سورت مريم – ۸۲ آيت

كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا(۸۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې منکرانو له الله پرته نور معبودان نيولي وو، په دې هيله چې هغوی به ورته عزت، ځواک او ملاتړ ورکړي.

په دې آيت کې الله تعالی دا هيله په بشپړه توګه ردوي. د قيامت په ورځ به هماغه معبودان د دوی عبادت رد کړي او د دوی پر ضد به ودرېږي.

لفظي ترجمه

كَلَّا هېڅکله نه — سَيَكْفُرُونَ هغوی به انکار وکړي — بِعِبَادَتِهِمْ د دوی له عبادته — وَيَكُونُونَ او هغوی به شي — عَلَيْهِمْ د دوی پر ضد — ضِدًّا مخالفان او دښمنان.

روانه ترجمه

هېڅکله نه! هماغه معبودان به د دوی عبادت رد کړي او د دوی پر ضد به ودرېږي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿كَلَّا﴾

«هېڅکله نه! داسې به نه وي»

دا د هغوی د دې ګومان کلک رد دی چې باطل معبودان به يې ملاتړ وکړي.

بيا فرمايي:

﴿سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ﴾

«هغوی به د دوی عبادت رد کړي»

مطلب دا دی چې هغه کسان يا مخلوقات چې دوی يې له الله پرته عبادت کاوه، د قيامت په ورځ به د هغوی عبادت ونه مني او ځان به ترې جلا کړي.

بيا فرمايي:

﴿وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا﴾

«او د هغوی پر ضد به شي»

د ضِدًّا معنا ده:مخالف،دښمن،پر ضد ولاړ.

نو نتيجه به د هغوی د اميد بالکل برعکس وي.

هغوی تمه درلوده چې معبودان به يې مرسته، عزت او ساتنه وکړي، خو په آخرت کې به هماغه معبودان د دوی عبادت رد کړي او پر ضد به يې ودرېږي.

د آيت مهم درس

له الله پرته په بل چا داسې تکیه کول چې د عبادت مقام ورکړل شي، په آخرت کې به د مرستې پر ځای د پښېمانۍ سبب شي. حقیقي ملاتړ او عزت یوازې د الله له لوري دی.

******************************************************

د سورت مريم – ۸۳ آيت

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا(۸۳)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې هغه باطل معبودان چې منکرانو ترې د مرستې تمه لرله، د قيامت په ورځ به د دوی عبادت رد کړي او د دوی پر ضد به ودرېږي.

په دې آيت کې د هغوی د کفر يوه بله پايله بيانېږي: شيطانان هغوی لا ډېرې بدۍ، ګناه او سرکښۍ ته هڅوي او ورتېل وهي.

لفظي ترجمه

أَلَمْ تَرَ آيا تا نه دي ليدلي / آيا ته نه پوهېږې — أَنَّا چې موږ — أَرْسَلْنَا لېږلي دي — الشَّيَاطِينَ شيطانان — عَلَى الْكَافِرِينَ پر کافرانو — تَؤُزُّهُمْ هغوی سخت هڅوي او پاروي — أَزًّا په سختۍ پارونې سره.

روانه ترجمه

ايا ته نه پوهېږې چې موږ پر کافرانو شيطانان ورپرېښي دي، چې هغوی په سختۍ سره بدۍ ته پاروي او هڅوي؟

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿أَلَمْ تَرَ﴾

«ایا تا نه دي لیدلي؟»

دلته لیدل یوازې په سترګو لیدل نه دي، بلکې د پوهېدو، درک کولو او غور کولو معنا هم ورکوي.

بیا فرمايي:

﴿أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾

«چې موږ پر کافرانو شیطانان ورپرېښي دي»

مطلب دا نه دی چې الله تعالی انسان بې اختیاره کفر ته مجبوروي. بلکې کله چې انسان په خپله حق رد کړي او په کفر او سرکښۍ ټینګ پاتې شي، الله تعالی یې د هغه د غوره کړې لارې پایلې ته پرېږدي، او شیطان پرې لا ډېر اغېز پیدا کوي.

بیا فرمايي:

﴿تَؤُزُّهُمْ أَزًّا﴾

دا په عربي کې ډېر قوي تعبیر دی.

تَؤُزُّهُمْ معنا: هغوی پاروي، هڅوي، راخوځوي او د بدۍ پر لور یې ورټېل وهي.

او أَزًّا د همدې فعل مصدر دی چې د تاکید لپاره راغلی.

یعنې یوازې لږه وسوسه نه، بلکې:

«هغوی په سختۍ او پرلهپسې ډول بدۍ ته پاروي»

د آیت مهم درس

کله چې انسان بیا بیا حق ردوي او د شیطان پیروي کوي، ګناه ورو ورو ورته عادي او حتی زړه راښکونکي کېدای شي

نو انسان باید د هدایت له راتلو سره حق ومني او د شیطان له وسوسو څخه الله ته پناه یوسي.

***********************************************************

د سورت مریم – ۸۴ آیت

فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا(۸۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې شیطانان منکران بدۍ ته پاروي.

په دي آیت کې الله تعالی محمد ﷺ ته فرمایي چې د هغوی د عذاب په راتلو کې بیړه مه کوه، ځکه الله تعالی د هغوی وخت، ورځې او اعمال په پوره دقت سره شمېرلي دي.

لفظي ترجمه

فَلَا نو مه — تَعْجَلْ بیړه کوه — عَلَيْهِمْ د هغوی په اړه — إِنَّمَا ببشکه — نَعُدُّ موږ شمېرو — لَهُمْ د هغوی لپاره — عَدًّا په پوره شمېر

روانه ترجمه

نو د هغوی په اړه بیړه مه کوه؛ موږ د هغوی لپاره هر څه په پوره شمېر حسابوو.

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ﴾

يعنې:

«د هغوی د عذاب په اړه بیړه مه کوه»

مطلب دا دی چې که سزا سمدستي نه راځي، دا د دې معنا نه لري چې هغوی د الله له حسابه خلاص شول.

الله تعالی مهلت ورکوي، خو هېڅ شی نه هېروي.

بیا فرمایي:

﴿إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا﴾

يعنې:

«موږ د هغوی لپاره هر څه په پوره شمېر حسابوو»

د نَعُدُّ معنا ده: شمېرل

او عَدًّا د تاکید لپاره راغلی، یعنې ډېر دقیق او بشپړ شمېر.

مفسرینو ویلي چې پکې د هغوی ورځې، ساه‌ګانې، اعمال او پاتې مهلت شامل‌پدای شي.

د آیت مهم درس

د الله ځنډ او مهلت د هېرولو معنا نه لري.

هره ورځ، هر عمل او هره شیبه د الله په علم کې حساب ده.

************************************************************

د سورت مريم – ۸۵ او ۸۶ آیتونه

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا (۸۵) وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا(۸۶)

د مخکینیو آیتونو سره اړیکه

په ۸۴ آیت کې الله تعالی وفرمایل چې د منکرانو په اړه بیړه مه کوه؛ د هغوی وخت په پوره حساب شمېرل کیږي.

اوس د بیان صحنه د قیامت ورځې ته اوړي او د دوو ډلو ترمنځ ډېر قوي توپیر ښودل کیږي:

متقیان به رحمن ته په عزت د یوه درانه پلاوي په څېر راتول شي، خو مجرمان به تږي او ذلیل د جهنم پر لور ورټېل وهل کیږي.

(۸۵)آیت – لفظي ترجمه

يَوْمَ په هغه ورځ چې — نَحْشُرُ موږ به راټول کړو — الْمُتَّقِينَ متقیان — إِلَى الرَّحْمَٰنِ رحمن ته — وَفْدًا د یوه درانه پلاوي او عزتمندو مېلمنو په توګه.

روانه ترجمه

په هغه ورځ چې موږ به متقیان رحمن ته د یوه عزتمند پلاوي په توګه راټول کړو.

تفسیر

د الْمُتَّقِينَ معنا هغه کسان دي چې تقوا یې درلوده؛ پر الله یې ایمان راوړی و، اطاعت یې کاوه او له نافرمانۍ څخه یې ځان ساته.

دلته ډېره مهمه کلمه:

وَفْدًا ده.

وَفْد داسې پلاوي یا ډلې ته ویل کیږي چې د عزت او درناوي سره د یوه مشر یا مهم شخص حضور ته ورځي.

نو متقیان داسې نه دي بیان شوي چې په زور راکش کړل شي یا ذلیل کړل شي؛ بلکې په عزت او درناوي سره رحمن ته حاضریږي.

## آیت ۸۶

وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا(۸۶)

## لفظي ترجمه

وَنَسُوقُ او موږ به ورتېل وهو / بوځو — الْمُجْرِمِينَ مجرمان — إِلَىٰ جَهَنَّمَ د جهنم پر لور — وِرْدًا سخت تږي.

## روانه ترجمه

«او مجرمان به سخت تږي د جهنم پر لور ورتېل وهو»

## تفسیر

نَسُوقُ د ساقَ يَسُوقُ څخه دی، معنا يې ده:

مخکې بيول، ورتېل وهل، يا د يوې رمې په څېر په يوه لوري بيول.

او وِرْدًا دلته د هغو کسانو حالت بيانوي چې له سختې تندې سره د اوبو پر لور روان وي.

خو دلته ډېر وېرونکی تصوير دی: هغوی تږي دي، مګر د اوبو پر لور نه، بلکې د جهنم پر لور بيول کيږي.

د دواړو آيتونو مقايسه(پرتله)

متقيان: په عزت رحمن ته د پلاوي په څېر راتوليږي.

مجرمان: تږي او ذليل د جهنم پر لور بيول کيږي.

دا د وَفْدًا او وِرْدًا ترمنځ هم ډېر ښکلی او قوي قرآني توپير دی: يو د عزت صحنه ده، او بل د ذلت او سختۍ.

*******************************************************************************

د سورت مريم ــ ۸۷ آيت

لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا(۸۷)

د مخکينيو آيتونو سره اړيکه

په ۸۵ او ۸۶ آيتونو کې الله تعالی د قيامت د دوو ډلو حالت بيان کړ: متقيان به رحمن ته په عزت د يوه پلاوي په توګه حاضر شي، او مجرمان به تږي د جهنم پر لور بيول کيږي.

په دې آيت کې الله تعالی بيانوي چې د قيامت په ورځ شفاعت د هېچا په خپل اختيار کې نه وي؛ يوازې هغه څوک به شفاعت کولای شي چې الله تعالی ورته اجازه او عهد ورکړی وي.

لفظي ترجمه

لَا يَمْلِكُونَ هغوی اختيار نه لري ـــ الشَّفَاعَةَ د شفاعت ـــ إِلَّا مګر ـــ مَنِ هغه څوک چې ـــ اتَّخَذَ هغه اخيستی وي ـــ عِندَ الرَّحْمَٰنِ د رحمن په نزد ـــ عَهْدًا عهد، وعده يا ژمنه.

روانه ترجمه

هغوی د شفاعت اختيار نه لري، مګر هغه څوک چې د رحمن په نزد يې عهد ترلاسه کړی وي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ﴾

«هغوی د شفاعت اختيار نه لري»

د شفاعت معنا ده: چې يو څوک د بل چا لپاره د بخښنې يا رحمت غوښتنه وکړي.

خو د قیامت په ورځ هېڅوک په خپل سر شفاعت نه شي کولای.

نه نبي، نه فرښته او نه کوم صالح انسان پرته د الله له اجازې شفاعت کولای شي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايي:

﴿مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِندَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾

«څوک دی چې د هغه په نزد شفاعت وکړي، مګر د هغه په اجازه؟»

بیا فرمايي:

﴿إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا﴾

«مګر هغه څوک چې د رحمن په نزد يې عهد ترلاسه کړی وي»

د عَهْدًا معنا ده:ژمنه،وعده،تړون،ځانګړې اجازه.

مفسرينو دلته لږ بېلابېل تعبيرونه کړي دي، خو اصلي معنا دا ده چې شفاعت یوازې د الله په اجازه او رضا کېږي.

ځينو مفسرينو دا عهد د ايمان او توحيد په معنا هم اخيستی.

د آيت مهم درس

شفاعت د چا شخصي واک نه دی.

ټول اختيار د الله تعالی دی، او شفاعت یوازې هغه وخت کېږي چې الله اجازه ورکړي او له چا راضي وي.

************************************************************

د سورت مريم ــ ۸۸ آيت

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا(۸۸)

<u>د مخکيني آيت سره اړيکه</u>

په ۸۷ آیت کې الله تعالی بیان کړه چې د قیامت په ورځ به د شفاعت خپلواک واک د چا په لاس کې نه وي؛ ټول واک او اختیار د رحمن دی.

اوس په ۸۸ آیت کې د الله تعالی په اړه د هغوی یوه تر دې هم ستره باطله دعوه بیانیږي: هغوی رحمن ته د اولاد نسبت وکړ.

لفظي ترجمه

وَقَالُوا او هغوی وویل ــــ اتَّخَذَ نیولی دی ــــ الرَّحْمَٰنُ رحمن ــــ وَلَدًا اولاد.

روانه ترجمه

«او هغوی وویل: رحمن اولاد نیولی دی»

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا﴾

«هغوی وویل چې رحمن اولاد نیولی دی»

دلته قرآن د الله تعالی په اړه د خلکو یوه ډېره ستره باطله عقیده بیانوي: هغوی الله ته اولاد منسوباوه.

د وَلَدًا معنا اولاد ده. دا کلمه یوازې «زوی» ته ځانګړې نه ده، بلکې زوی او لور دواړه پکې راتلای شي.

ځینو خلکو الله ته د زوی نسبت کاوه او ځینو ورته د لوڼو نسبت کاوه.

ځینو د عیسی علیه السلام په اړه د الله د زوی دعوه کوله، او ځینو نورو فرښتې د الله لوڼې بللې.

قرآن دا ټولې دعوې ردوي.

دلته د الرَّحْمَٰنُ نوم استعمال هم د پام وړ دی.

الله تعالی رحمن، خالق او د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی. هغه له هر څه بېنیازه دی. نو اولاد ته هېڅ اړتیا نه لري.

مخلوق اولاد ته اړتیا یا میلان لري، ځکه مخلوق کمزوری دی، مري، نسل یې پای ته رسېږي، او کله ناکله مرستې او ملاتړ ته اړتیا لري.

خو الله تعالی:

نه مري، نه کمزوری کېږي، نه د چا مرستې ته اړتیا لري، او نه د خپل وجود یا واک د دوام لپاره اولاد ته اړتیا لري.

نو الله ته د اولاد نسبت ورکول یوازې یوه عادي ناسمه خبره نه ده؛ بلکې دا د الله تعالی د بشپړتیا، بېنیازۍ او یکتایی خلاف دعوه ده.

همدا وجه ده چې په راتلونکو آیتونو کې قرآن د دې خبرې شدت په ډېر قوي انداز بیانوي: نږدې ده چې آسمانونه ټوټې ټوټې شي، ځمکه وچوي او غرونه راولوېږي.

د آیت مهم درس

الله خالق دی او اولاد مخلوق دی. الله تعالی له ټول مخلوق څخه بېنیازه دی، نو نه اولاد لري او نه ورته اړتیا لري.

************************************************************

د سورت مریم – ۸۹ آیت

لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا(۸۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې ځینو خلکو وویل چې رحمن اولاد نیولی دی.

په دې آيت کې الله تعالی سمدستي د هغوی دا خبره ډېره کلکه ردوي او وايي چې دا ډېره ستره، وېروونکې او خطرناکه دعوه ده.

لفظي ترجمه

لَقَدْ بېشکه / خامخا ـــ جِئْتُمْ تاسو راوړې ده / وړاندې کړې ده ـــ شَيْئًا يوه خبره ـــ إِدًّا ډېره ستره، سخته او وېروونکې.

روانه ترجمه

«بېشکه تاسو يوه ډېره ستره او وېروونکې خبره کړې ده»

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا﴾

دلته لَقَدْ د ډېر تاکيد لپاره دی، يعنې:

«بېشکه، خامخا»

جِئْتُمْ شَيْئًا لفظاً معنا لري: «تاسو يو شی راوړی دی»، خو د سياق له مخې يې مطلب دا دی:

«تاسو يوه ډېره لويه دعوه او خبره وړاندې کړې ده»

او إِدًّا معنا لري:

ډېره ستره، ډېره سخته، حيرانوونکې، او سخت غلطه خبره.

نو الله تعالی ته د اولاد نسبت ورکول يوه وړه تېروتنه نه ده، بلکې د الله د ذات په اړه يوه ډېره لويه باطله دعوه ده.

راتلونکي آيتونه ۹۰ او ۹۱ دا خبره لا په ډېر زور بنيي: نږدې ده چې آسمانونه توټې توټې شي، ځمکه وچوي، او غرونه راولوېږي.

د آیت مهم درس

د الله تعالی په اړه خبرې باید په ډېر علم او احتیاط وشي. د الله ذات او صفاتو ته هغه څه منسوبول چې الله نه دي بیان کړي، ډېره ستره او خطرناکه خبره ده.

*************************************************************

د سورت مریم – ۹۰ آیت

تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا(۹۰)

د مخکینیو آیتونو سره اړیکه

په ۸۸ آیت کې هغوی رحمن ته د اولاد نسبت وکړ، او په ۸۹ آیت کې الله تعالی دا ډېره ستره او سخته خبره وبلله.

اوس په ۹۰ آیت کې الله تعالی په ډېر قوي انداز د دې خبرې سختوالی بیانوي: نږدې ده چې له دې خبرې آسمانونه ټوټې ټوټې شي، ځمکه وچوي او غرونه راونړېږي.

لفظي ترجمه

تَكَادُ نږدې دي چې — السَّمَاوَاتُ آسمانونه — يَتَفَطَّرْنَ ټوټه ټوټه شي — مِنْهُ له دې خبرې — وَتَنشَقُّ او وچوي — الْأَرْضُ ځمکه — وَتَخِرُّ او راولوېږي — الْجِبَالُ غرونه — هَدًّا په سختې نړېدنې سره.

روانه ترجمه

نږدې ده چې له دې خبرې آسمانونه ټوټه ټوټه شي ، ځمکه وچوي او غرونه په بشپړه توګه راونړېږي.

تفسیر

په:

﴿مِنْهُ﴾

كې «ـهُ» د مخكينی خبرې لوري ته راګرځي، يعنې الله تعالی ته د اولاد د نسبت وركولو خبرې ته.

يَتَفَطَّرْنَ يعنې: چاودل او ټوټه كېدل.

تَنشَقُّ يعنې: چاودل،څيري كيدل، او پرانيستل كېدل.

تَخِرُّ يعنې: په ناڅاپي ډول راپرېوتل او را نړېدل.

او هَدًّا د سختې ماتېدنې او نړېدنې معنا وركوي.

نو آيت په يوه ډېر قوي تصوير كې د دې عقيدې سختوالی بيانوي: د الله لوی مخلوقات—آسمانونه، ځمكه او غرونه—داسې ياد شوي چې نږدې ده د دې خبرې له سختوالي څخه ټوټه ټوټه او راونړېږي.

او ۹۱ آيت په څرګنده وايي چې دا دومره سخت غبرګون ولې دی:

﴿أَن دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا﴾

يعنې: «ځكه چې هغوی رحمن ته د اولاد نسبت وكړ»

************************************************************

د سورت مريم – ۹۱ آيت

أَن دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا(۹۱)

د مخكيني آيت سره اړيكه

په ۹۰ آيت كې الله تعالی وفرمايل چې نږدې ده آسمانونه ټوټه ټوټه شي، ځمكه وچوي او غرونه راونړېږي.

دا آيت اوس د دې سخت حالت سبب بيانوي:

دا ځكه چې هغوی رحمن ته د اولاد نسبت كړی دی.

نو ۹۰ او ۹۱ آیتونه په معنا او نحوي جوړښت کې يو له بل سره مستقيم تړلي دي.

## لفظي ترجمه

أَن څکه چې — دَعَوْا هغوی نسبت وکړ — لِلرَّحْمَٰنِ رحمن ته — وَلَدًا د اولاد

## روانه ترجمه

«دا څکه چې هغوی رحمن ته د اولاد نسبت کړی دی»

## تفسير

دلته د دَعَوْا معنا ته بايد پام وشي.

په عادي حالت کې دعا د «بللو» معنا هم ورکوي، خو دلته

﴿دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا﴾

معنا يې دا نه ده چې «هغوی اولاد راوباله»، بلکې:

هغوی رحمن ته اولاد منسوب کړ / د رحمن لپاره يې د اولاد دعوه وکړه.

نو دا آيت د مخکيني آيت علت بيانوي: آسمانونه، ځمکه او غرونه د يوې عادي خبرې له امله نه، بلکې الله تعالى ته د اولاد د نسبت کولو د سختوالي له امله په دومره قوي تصوير سره ياد شوي دي.

د آيت مهم درس

الله تعالى ته د اولاد نسبت ورکول د هغه د يکتايي، بېنيازۍ او بشپړتيا خلاف دي.

او راتلونکی، ۹۲ آيت، همدا حقيقت لا روښانه کوي: له رحمن سره دا هېڅ نه ښايي چې اولاد ونيسي.

**************************************************************

د سورت مریم ــ ۹۲ آ

وَمَا يَنبَغِي لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا(۹۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی بيان کړه چې خلکو رحمن ته د اولاد نسبت کړی و، او له همدې امله د آسمانونو، ځمکې او غرونو د سخت غبرګون تصوير وړاندې شو.

اوس په دې آيت کې الله تعالی روښانه نتيجه بيانوي:

رحمن ته هېڅکله دا نه ښايي چې اولاد ونيسي

لفظي ترجمه

وَمَا او نه ـــ يَنبَغِي ښايي / مناسب دي ـــ لِلرَّحْمَٰنِ رحمن ته ـــ أَن يَتَّخِذَ چې ونيسي ـــ وَلَدًا اولاد

روانه ترجمه

«او رحمن ته دا نه ښايي چې اولاد ونيسي»

تفسير

دلته تر ټولو مهمه کلمه يَنبَغِي ده

د يَنبَغِي معنا ده:

ښايي، مناسب وي، د مقام او حقيقت سره برابر وي.

نو آيت يوازې دا نه وايي چې الله اولاد نه لري؛ بلکې وايي چې د الله د ذات او مقام سره اولاد لرل هېڅ ډول مناسب او برابر نه دي.

الله تعالی:

تلپاتې دی، له هر څه بې‌نیازه دی، د ټولو شیانو خالق دی، د هېڅ مرستې ته اړتیا نه لري، او له مخلوق سره هېڅ ورته والی نه لري.

اولاد د مخلوقاتو له حالت سره تړاو لري؛ مخلوق پیدا کېږي، لویېږي، کمزوری کېږي، مري، او د نسل دوام او ملاتړ ته اړتیا لري.

خو الله تعالی له دې ټولو اړتیاوو څخه پاک دی.

له همدې امله قرآن فرمایي:

﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾

«نه یې څوک زېږولی او نه دی زېږول شوی»

د آیت مهم درس

الله تعالی کامل او بې‌نیازه دی. اولاد د مخلوقاتو اړتیا ده، نه د خالق

نو الله ته د اولاد نسبت ورکول د هغه د بشپړتیا او یکتايۍ خلاف دي.

***********************************************************

د سورت مریم – ۹۳ آیت

إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا(۹۳)

د مخکيني آیت سره اړیکه

په مخکيني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې رحمن ته دا نه ښایي چې اولاد ونیسي.

اوس په دې آیت کې د دې خبرې دلیل بیانوي: «په آسمانونو او ځمکه کې هر څوک د الله بنده دی»

نو هېڅ مخلوق د الله اولاد، شریک یا برابر نه شي کېدای.

لفظي ترجمه

إِن هېڅ نشته / نه شته ـــ كُلُّ مَن هر هغه څوک چې ـــ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ په آسمانونو او ځمکه کې دي ـــ إِلَّا مګر دا چې ـــ آتِي الرَّحْمَٰنِ رحمن ته به راځي ـــ عَبْدًا د بنده په توګه

روانه ترجمه

په آسمانونو او ځمکه کې هېڅوک داسې نشته مګر دا چې رحمن ته به د بنده په توګه راځي.

تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾

يعني په آسمانونو او ځمکه کې هر مخلوق پکې شامل دی:

ملائکې، انسانان، پېریان، پیغمبران او نور ټول مخلوقات.

بيا فرمايي:

﴿إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا﴾

«ټول به رحمن ته د بنده په توګه راځي»

د عَبْدًا معنا ده: بنده، مطيع مخلوق، د الله تر واک لاندې موجود.

دا د الله ته د اولاد د نسبت کولو تر ټولو روښانه رد دی.

هر مخلوق بنده دی، هېڅ مخلوق د الله اولاد نه دی.

حتی عیسی علیه السلام هم مخکې په همدې سورت کې وویل:

﴿إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ﴾

«بېشکه زه د الله بنده یم»

نو د آيتونو ترتيب ډېر روښانه دی.

هغوی وویل الله اولاد لري ــــ الله دا خبره رد کړه ــــ بیا یې حقیقت بیان کړ چې ټول مخلوقات د هغه بندګان دي.

د آیت مهم درس

د الله په وړاندې د ټولو مخلوقاتو اصل یو دی: ټول د هغه بندګان دي

اصلي لویوالی او عزت په دې کې دی چې انسان خپله بندګي په ایمان، اطاعت او اخلاص سره سمه ادا کړي.

*************************************************************

د سورت مریم ــ ۹۴ آیت

لَقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا(۹۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې په آسمانونو او ځمکه کې به هر څوک رحمن ته د بنده په توګه راځي.

اوس په دې آیت کې فرمایي چې الله تعالی هغوی ټول په بشپړه توګه پېژني او هر یو یې په دقیق ډول شمېرلی دی.

هیڅ انسان، عمل او حالت د هغه له علم څخه پټ نه دی.

لفظي ترجمه

بېشکه / خامخا ــــ أَحْصَاهُمْ هغوی یې ټول په بشپړه توګه حساب کړي او پېژندلي دي ــــ وَعَدَّهُمْ او هغوی یې شمېرلي دي ــــ عَدًّا په پوره او دقیق شمېر.

روانه ترجمه

بېشکه الله هغوی ټول په بشپړه توګه په خپل علم کې راګیر کړي او هر یو یې په دقیق شمېر شمېرلی دی.

تفسير

الله تعالی فرمايي

﴿لَقَدْ أَحْصَاهُمْ﴾

د أَحْصَاهُمْ معنا يوازې شمېرل نه ده، بلکې:

په بشپړ ډول معلومول، احاطه پرې لرل او د هر يوه بشپړ حساب ساتل.

يعنې الله تعالی پوهېږي:

څوک دي، چېرته دي، څه کوي، څه وايي، او د هر يوه حالت څه دی

بيا فرمايي:

﴿وَعَدَّهُمْ عَدًّا﴾

«او هغوی يې په پوره او دقيق شمېر شمېرلي دي»

دلته عَدًّا د تاکيد لپاره راغلی، يعنې:

د الله شمېرنه نه نيمګړې ده، نه پکې هېروتنه شته او نه تېروتنه.

د آيت مهم درس

مخلوقات که هر څومره ډېر هم وي، د الله په علم کې هېڅوک نه ورکيږي.

هر انسان، هر عمل او هره شيبه د الله په علم او حساب کې ده.

*******************************************************

د سورت مريم – ۹۵ آيت

وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا(۹۵)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې ټول مخلوقات يې په بشپړ ډول شمېرلي او د هر يوه بشپړ علم لري.

اوس په دې آيت کې فرمايي چې د قيامت په ورځ به هر يو د الله حضور ته يوازې راځي.

## لفظي ترجمه

وَكُلُّهُمْ او هغوی ټول ــــ آتِيهِ هغه ته راتلونکي دي ــــ يَوْمَ الْقِيَامَةِ د قيامت په ورځ ــــ فَرْدًا يوازې.

## روانه ترجمه

«او د قيامت په ورځ به هغوی هر يو يوازې د الله حضور ته راشي»

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَكُلُّهُمْ آتِيهِ﴾

«هغوی ټول هغه ته راتلونکي دي»

هيڅوک به ترې پاتې نه شي او هېڅوک به د الله له حسابه ونه تښتي.

بيا فرمايي:

﴿يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾

«د قيامت په ورځ»

هماغه ورځ چې ټول انسانان به بيا راژوندي او د حساب لپاره حاضر شي.

بیا فرمایي:

﴿فَرْدًا﴾

«یوازې»

د فَرْدًا معنا ده:

یوازې، تنها، په انفرادي ډول، بې له دنیايي ملاتړي.

انسان په دنیا کې کورنۍ، مال، ملګري، مقام او نفوذ لرلای شي، خو د قیامت په ورځ به هر څوک په خپله د خپل عمل حساب ورکوي.

د آیت مهم درس

د قیامت حساب شخصي دی.

انسان به د خپل ایمان او عمل سره یوازې د الله حضور ته ودرېږي؛ نه مال، نه اولاد او نه دنیايي مقام به د هغه د شخصي حساب ځای ونیسي.

***********************************************************

د سورت مریم ــ ۹۶ آیت

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا(۹۶)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې د قیامت په ورځ به هر انسان یوازې د هغه حضور ته راځي.

اوس په دې آیت کې مؤمنانو ته لویه هیله ورکوي: هغه کسان چې ایمان راوړي او نیک عملونه وکړي، رحمن به د هغوی لپاره مینه او قبولیت پیدا کړي.

## لفظي ترجمه

إِنَّ بېشکه ـــ الَّذِينَ آمَنُوا هغه کسان چې ايمان يې راوړی ـــ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ او نېک عملونه يې کړي ـــ سَيَجْعَلُ ژر به پيدا کړي / وګرځوي ـــ لَهُمْ د هغوی لپاره ـــ الرَّحْمَٰنُ رحمن ـــ وُدًّا مينه او محبت.

## روانه ترجمه

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نېک عملونه يې کړي، رحمن به د هغوی لپاره مينه او قبوليت پيدا کړي.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾

«بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نېک عملونه يې کړي»

دلته ايمان او نېک عمل يو ځای ياد شوي دي.

يعنې حقيقي ايمان يوازې په زړه کې يوه دعوه نه ده؛ د انسان په عمل او اخلاقو کې هم ځرګندېږي.

بيا فرمايي:

﴿سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا﴾

«رحمن به د هغوی لپاره مينه پيدا کړي»

د وُدًّا معنا ده: مينه، محبت، د زړه علاقه، قبوليت

مطلب دا دی چې الله تعالی د خپلو نېکو بندګانو لپاره په زړونو کې مينه او قبوليت پيدا کوي.

په صحیح حدیث کې هم راغلي چې کله الله تعالی له یوه بنده سره مینه وکړي، جبرئیل علیه السلام ته وایي چې زه له فلاني سره مینه کوم، ته هم ورسره مینه وکړه. بیا جبرئیل علیه السلام د آسمان اوسېدونکو ته اعلان کوي، او وروسته د هغه لپاره په ځمکه کې هم قبولیت پیدا کېږي.

نو دلته وُدًّا یوازې شهرت نه دی.

ممکن یو څوک مشهور وي، خو د الله په نزد محبوب نه وي.

وُدًّا هغه مینه او قبولیت دی چې الله تعالی یې د ایمان او نېک عمل له امله د بنده لپاره پیدا کوي.

د آیت مهم درس

حقیقي مینه او قبولیت یوازې د خلکو په خوښولو نه ترلاسه کېږي.

کله چې انسان له الله سره خپل تعلق د ایمان او نېک عمل له لارې سم کړي، الله تعالی د هغه لپاره په زړونو کې مینه او قبولیت پیدا کوي.

************************************************************

د سورت مریم – ۹۷ آیت

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا(۹۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې رحمن به د هغو کسانو لپاره مینه او قبولیت پیدا کړي چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي.

اوس په دې آيت کې الله تعالی بیانوي چې قرآن یې د محمد ﷺ په ژبه اسانه کړی، څو متقیانو ته پرې زېرى ورکړي او سرکښو خلکو ته پرې خبرداری ورکړي.

## لفظي ترجمه

فَإِنَّمَا نو بېشکه — يَسَّرْنَاهُ موږ هغه اسانه کړی — بِلِسَانِكَ ستا په ژبه — لِتُبَشِّرَ بِهِ څو ته پرې زېرى ورکړې — الْمُتَّقِينَ متقیانو ته — وَتُنذِرَ بِهِ او پرې ووېروې / خبرداری ورکړې — قَوْمًا یوه قوم ته — لُّدًّا سخت ضدّي او شخړه کوونکي.

## روانه ترجمه

نو موږ دا قرآن ستا په ژبه اسانه کړی دی، څو متقیانو ته پرې زېرى ورکړې او یوه سخت ضدّي او شخړه کوونکي قوم ته پرې خبرداری ورکړې.

## تفسیر

الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ﴾

«موږ قرآن ستا په ژبه اسانه کړی دی»

مطلب دا دی چې قرآن په روښانه عربي ژبه نازل شوی، څو محمد ﷺ او لومړني مخاطبان یې په آسانۍ پوه شي، تلاوت یې کړي، یاد یې کړي او نورو ته یې ورسوي.

بیا فرمايي:

﴿لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ﴾

«څو متقیانو ته پرې زېرى ورکړې»

د تُبَشِّرَ معنا ده:

خوشخبري ورکول، زېرى ورکول.

قرآن متقيانو ته د الله د رحمت، بخښنې، اجر او جنت زېرى ورکوي.

بيا فرمايي:

﴿وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا﴾

«او په دې قرآن يوه سخت ضدّي قوم ته خبردارى ورکړې»

د لُدًّا معنا ده:

سخت ضدّي، په بحث او مخالفت کې کلک، د حق پر وړاندې شخړه کوونکى.

يعني داسې خلک چې حق ورته روښانه شي، خو بيا هم په ضد، تکبر او بېځايه بحث کې پرې ټينګ پاتې شي.

د آيت مهم درس

قرآن دوه اړخونه لري:

د متقيانو لپاره زېرى، او د سرکښو لپاره خبردارى.

هماغه وحي چې د مؤمن زړه ته اميد ورکوي، د منکر لپاره د بيدارۍ او خبرداري پيغام هم دى.

*************************************************************

د سورت مريم ــ ۹۸ آيت

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا(۹۸)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې قرآن يې د محمد ﷺ په ژبه اسانه کړی، څو متقيانو ته پرې زېرى ورکړي او سرکښو خلکو ته پرې خبرداری ورکړي.

اوس د سورت په وروستي آيت کې د پخوانيو قومونو انجام ورپه يادوي: له دوی مخکې ډېر قومونه هلاک شول، چې اوس يې نه څوک احساسولای شي او نه يې حتی يو کمزوری غږ اورېدل کيږي.

## لفظي ترجمه

وَكَمْ او څومره ډېر — أَهْلَكْنَا موږ هلاک کړل — قَبْلَهُم له دوی مخکې — مِّن قَرْنٍ له نسلونو او قومونو څخه — هَلْ تُحِسُّ آيا ته احساس کوې / درک کوې — مِنْهُم له هغوی څخه — مِّنْ أَحَدٍ د کوم يو کس — أَوْ تَسْمَعُ يا ته اورې — لَهُمْ د هغوی — رِكْزًا ډېر کم او پټ غږ

## روانه ترجمه

او له دوی څخه مخکې مو څومره ډېر نسلونه هلاک کړي دي! آيا اوس له هغوی څخه څوک احساسولای شې، يا د هغوی کوم ډېر کم غږ هم اورېدلای شې؟

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ﴾

له دوی څخه مخکې مو څومره ډېر قومونه او نسلونه هلاک کړي دي

د قَرْنٍ معنا دلته قوم، نسل، يا د يوې زمانې خلک دي.

دوی ډېر وخت مال، ځواک، ودانۍ او نفوذ درلود، خو کله یې چې په سرکښۍ سره د الله هدایت رد کړ، دنیاوي قوت یې ونه ژغورل.

بیا فرمایي:

﴿هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ﴾

«ایا اوس له هغوی څخه د کوم یوه موجودیت هم احساسولای شې؟»

د تُحِسُّ معنا ده:

احساسول، درک کول، موجودیت یې معلومول.

بیا فرمایي:

﴿أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا﴾

«یا د هغوی کوم ډېر کم او پټ غږ هم اورې؟»

د رِكْزًا معنا ده:

ډېر ټیټ، کمزوری او پټ غږ، لکه ورو غږ یا سرسری اواز.

د سورت وروستی پیغام

د سورت پای ډېر قوي دی:

پخوانیو قومونو غږ، ځواک، مال او نفوذ درلود؛ خو اوس حتی د هغوی کمزوری غږ هم نه اورېدل کېږي.

یعني دنیایي ځواک تلپاتې نه دی. اصلي بریا دا ده چې انسان د ژوند په فرصت کې د الله هدایت ومني او نېک عمل وکړي.

................................................................................................................................

................................................................................................................................

# سورة طه

## بسم الله الرحمن الرحيم

طه (۱)ــــ طا، ها

دا د قرآن له حروفِ مقطعاتو څخه دي؛ يعنې هغه جلا جلا توري چې د ځينو سورتونو په پيل کې راغلي دي، لکه:

الم، کهيعص، يس، حم، طه.

د طه د دقيقې او قطعي معنا په اړه داسې صحيح او ځرګند دليل نشته چې په يقين سره وواېو همدا يې معنا ده. مفسرينو بېلابېل اقوال ذکر کړي، خو تر ټولو محتاطه خبره دا ده:

الله تعالی د دې تورو په حقيقي مراد ښه پوهېږي.

<u>تلفظ</u>

دا د «طَهَ» په شان يوه عادي کلمه نه لوستل کيږي، بلکې:

طٰهٰ ـــ طا، ها.

يعنې دوه جلا توري: طا + ها.

*****************************************************************

د سورت طه ــ ۲ آيت

## مَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰ(۲)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

سورت د ﴿طه﴾ په تورو پيل شو. بيا الله تعالی محمد ﷺ ته په مستقيم ډول فرمايي چې قرآن پر تا د دې لپاره نه دی نازل شوی چې ته په سختی، کړاو او بدحالی کې شې.

## لفظي ترجمه

مَا أَنزَلْنَا موږ نه دی نازل کړی ــــ عَلَيْكَ پر تا ــــ الْقُرْآنَ قرآن ــــ لِتَشْقَىٰ د دې لپاره چې ته په کړاو کې شې / سختي ووينې.

## روانه ترجمه

موږ پر تا قرآن د دې لپاره نه دی نازل کړی چې ته په سختی او کړاو کې شې.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿مَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰ﴾

د تَشْقَىٰ معنا ده:

په سختی کې کېدل، کړاو ليدل، بدحالېدل او ستړی کېدل.

محمد ﷺ د خلکو هدايت ته ډېر حريص و. کله چې به خلکو حق نه مانه، هغه ﷺ پرې ډېر خپه کېده او د الله د پيغام د رسولو لپاره يې ډېره هڅه کوله.

نو الله تعالی ورته داډ ورکوي:

قرآن د دې لپاره نه دی نازل شوی چې ته پرې په بدحال او په نه زغمل کېدونکي سختی کې شې.

بلکې قرآن هدايت، رحمت او نصيحت دی.

د آيت مهم درس

دين د انسان د تباهۍ او بې‌ځايه سختۍ لپاره نه دی؛ قرآن د هدايت او رحمت لپاره نازل شوی دی.

**************************************************************

د سورت طه – ۳ آيت

إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ(۳)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې قرآن پر محمد ﷺ د دې لپاره نه دی نازل شوی چې هغه په سختۍ او کړاو کې شي.

اوس په دې آيت کې د قرآن موخه بيانوي: قرآن د هغه چا لپاره يادونه او نصيحت دی چې له الله څخه وېره لري او د هغه هدايت مني.

لفظي ترجمه

إِلَّا مګر / يوازې — تَذْكِرَةً يوه يادونه او نصيحت دی — لِّمَن د هغه چا لپاره چې — يَخْشَىٰ وېره لري(د الله تعالی څخه).

روانه ترجمه

بلکې دا د هغه چا لپاره يادونه او نصيحت دی چې له الله تعالی څخه وېره لري.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿إِلَّا تَذْكِرَةً﴾

يعنې:

«يوازې د يادونې او نصيحت لپاره»

د تَذْكِرَةً معنا ده:

يادونه، نصيحت، د حق ورپه يادول.

قرآن انسان ته الله، آخرت، حساب، نېک عمل او د ژوند مقصد ورپه يادوي.

بيا فرمايي:

﴿لِّمَن يَخْشَىٰ﴾

يعنې:

«د هغه چا لپاره چې له الله څخه وېره لري»

د يَخْشَىٰ معنا يوازې عادي وېره نه ده؛ بلکې داسې وېره ده چې له درناوي، د الله د عظمت له احساس او د حساب له فکر سره وي.

د آيت مهم درس

قرآن د هدايت او نصيحت کتاب دی، او تر ټولو ډېر ګټه ترې هغه خوک اخلي چې زړه يې د الله په وړاندې نرم وي او د هغه خبره منلو ته تيار وي.

**************************************************************

د سورت طه – ۴ آيت

تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمَاوَاتِ الْعُلَى(۴)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې قرآن د هغه چا لپاره يادونه او نصيحت دی چې له الله څخه وېره لري.

اوس په دې آيت کې بيانوي چې دا قرآن د چا د طرف څخه نازل شوی دی: له هغه ذات د طرف څخه چې ځمکه او لوړ آسمانونه يې پيدا کړي دي.

لفظي ترجمه

تَنزِيلًا نازل شوی — مِّمَّنْ له هغه چا د لوري چې —پيدا کړي يې دي — الْأَرْضَ ځمکه — وَالسَّمَاوَاتِ او آسمانونه — الْعُلَى لوړ.

روانه ترجمه

دا قرآن د هغه ذات له لوري نازل شوی چې ځمکه او لوړ آسمانونه يې پيدا کړي دي.

تفسير

د تَنزِيلًا معنا ده:

نازل شوی کلام، يا وحی چې له پورته څخه را لېږل شوې وي.

يعني قرآن د انسان جوړ شوی کلام نه دی، بلکې د الله له لوري وحی ده.

بيا الله تعالی خپل صفت بيانوي:

﴿مِّمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمَاوَاتِ الْعُلَى﴾

يعنې:

د هغه ذات د لوري څخه نازل شوی چې ځمکه او لوړ آسمانونه يې پيدا کړي دي.

د الْعُلَى معنا ده: لوړ، ډېر لوړ.

دا آیت موږ ته دا را زده کوي چې چا چې انسان پیدا کړی، هماغه د انسان لپاره تر ټولو ښه هدایت هم رالیږي.

د آیت مهم درس

قرآن د هماغه خالق له لوري نازل شوی چې ځمکه، آسمانونه او ټول مخلوقات یې پیدا کړي دي؛ نو د هغه لارښوونه تر ټولو باوري او سمه ده.

***********************************************************

د سورت طه – ۵ آیت

الرَّحْمَٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَىٰ(۵)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی وفرمایل چې قرآن د هغه ذات له لوري نازل شوی چې ځمکه او لوړ آسمانونه یې پیدا کړي دي.

اوس د هماغه خالق په اړه فرمايي چې هغه رحمن دی او پر عرش یې استواء کړې ده، په داسې ډول چې د هغه له شان او عظمت سره ښایي.

لفظي ترجمه

الرَّحْمَٰنُ رحمن / ډېر مهربان — عَلَى پر — الْعَرْشِ عرش — اسْتَوَىٰ استواء کړې ده.

روانه ترجمه

«رحمن پر عرش استواء کړې ده»

تفسیر

الْعَرْش د الله تعالی يو ډېر لوی مخلوق دی.

او اسْتَوَىٰ دلته د الله تعالی د استواء علی العرش لپاره راغلی دی.

مونږ دا صفت هماغسې منو لکه قرآن چې بيان کړی، خو د الله استواء د مخلوق له کېناستلو، ځای نيولو يا نورو جسماني حالتونو سره نه تشبيه کوو.

او دا هم نه وايو چې د استواء څرنګوالی څنګه دی، ځکه الله تعالی يې کيفيت مونږ ته نه دی بيان کړی.

قرآن فرمايي:

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ﴾

«د هغه په شان هيڅ شی نشته»

د آيت مهم درس

مونږ د الله هغه صفات منو چې هغه د خپل ځان لپاره بيان کړي دي، خو الله تعالی له مخلوق سره نه تشبيه کوو او د هغه د صفاتو د څرنګوالي په اړه له ځانه خبرې نه کوو.

**************************************************************

د سورت طه ــ ۶ آيت

لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرَىٰ(۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی خپل ځان رحمن وباله او پر عرش يې د استواء يادونه وکړه.

اوس په دې آيت کې خپل بشپړ ملکيت بيانوي: په آسمانونو کې، په ځمکه کې، د دواړو ترمنځ، او حتی د خاورې لاندې هر څه د الله دي.

## لفظي ترجمه

لَهُ د هغه دي ــــ مَا فِي السَّمَاوَاتِ هر څه چې په آسمانونو کې دي ــــ وَمَا فِي الْأَرْضِ او هر څه چې په ځمکه کې دي ــــ وَمَا بَيْنَهُمَا او هر څه چې د دواړو ترمنځ دي ــــ وَمَا تَحْتَ الثَّرَىٰ او هر څه چې د خاورو لاندې دي.

## روانه ترجمه

د هغه دي هر څه چې په آسمانونو کې دي، هر څه چې په ځمکه کې دي، هر څه چې د دواړو ترمنځ دي، او هر څه چې د خاورو لاندې دي.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾

يعنې په آسمانونو او ځمکه کې هر څه د الله ملک دي. هماغه پيدا کړي، هماغه يې مالک دی او هماغه پرې بشپړ واک لري.

بيا فرمايي:

﴿وَمَا بَيْنَهُمَا﴾

يعنې:

«او هر څه چې د آسمانونو او ځمکې ترمنځ دي»

دا ټول مخلوقات، که موږ يې پېژنو او که نه، د الله تر ملکيت او واک لاندې دي.

بيا فرمايي:

﴿وَمَا تَحْتَ الثَّرَىٰ﴾

د الثَّرَىٰ معنا ده: خاوره، په ځانګړي ډول لمده خاوره.

يعني حتى هغه څه چې د ځمکې ډېر لاندې پټ دي، هم د الله دي او د هغه له علمه پټ نه دي.

د آيت مهم درس

د الله ملکيت يوازې هغه څه نه دي چې موږ يې وينو. هر ښکاره او پټ شی، چې په کائناتو کې دي، ټول د الله دي.

************************************************************

د سورت طه – ۷ آيت

وَإِن تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى(۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې په آسمانونو، ځمکه، د دواړو ترمنځ او د ځمکې لاندې هر څه د هغه دي.

اوس په دې آيت کې د خپل بشپړ علم بيان کوي: ته که خبره په لوړ غږ وکړې او که يې پټه وساتې، الله په هر څه پوهېږي.

لفظي ترجمه

وَإِن او که — تَجْهَرْ ته په لوړ غږ کوې — بِالْقَوْلِ خبره — فَإِنَّهُ نو بېشکه هغه«جل جلاله» — يَعْلَمُ پوهېږي — السِّرَّ په پټه خبره — وَأَخْفَى او په هغه څه چې لا ډېر پټ دي(د راز او پټې خبرې څخه).

روانه ترجمه

او که ته خبره په لوړ غږ هم وکړې، نو بېشکه الله په پټه خبره او تر هغې هم په پټو شيانو پوهېږي.

تفسير

تَجْهَرْ معنا لري: په لوړ يا ښکاره غږ خبرې کول.

او السِّرّ معنا لري: راز، پټه خبره.

بيا الله فرمايي:

﴿وَأَخْفَى﴾

يعنې: او هغه څه چې تر پټې خبرې او راز هم ډېر پټ دي.

مطلب دا دی چې الله تعالی يوازې زموږ ښکاره خبرې نه اوري او نه يوازې زموږ په پټو خبرو پوهېږي، بلکې هغه څه هم ورته معلوم دي چې د انسان په زړه او باطن کې ډېر ژور پټ وي.

نو د الله د پوهېدو لپاره دا اړتيا نشته چې انسان خبره په لوړ غږ وکړي.

د آيت مهم درس

له الله څخه هيڅ شی پټ نه دی؛ ښکاره خبره، پټ راز او تر هغه هم پټ څــــتول د هغه په علم کې دي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۸ آيت

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ(٨)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې هغه په پټو او تر پټو هم پټو شيانو پوهېږي.

اوس په دې آيت کې بيانوي چې هغه«جل جلاله» څوک دی: له هغه«جل جلاله» پرته بل هيڅ حقيقي معبود نشته، او ټول ډېر ښکلي او غوره نومونه د هغه دي.

لفظي ترجمه

اللَّهُ  الله تعالی،ـــ لَا إِلَٰهَ  هېڅ معبود نشته ـــ إِلَّا هُوَ  مګر هغه«جل جلاله»دی ـــ لَهُ  د هغه«جل جلاله» دپاره دي ـــ الْأَسْمَاءُ  نومونه ـــ الْحُسْنَىٰ  ډېر ښکلي او غوره.

روانه ترجمه

الله تعالی، له هغه«جل جلاله» پرته بل هېڅ د عبادت وړ معبود نشته، او ټول ډېر ښکلي نومونه د هغه«جلا جلاله» دپاره دي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾

«له الله پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نه دی»

دا د توحيد ډېر روښانه بيان دی.

خلک ممکن د ډېرو شيانو عبادت وکړي، خو حقيقي معبود يوازې الله دی.

بيا فرمايي.

﴿لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ﴾

«ټول ډېر ښکلي او غوره نومونه د الله دي»

د الْحُسْنَىٰ معنا ده

تر ټولو ښکلي، تر ټولو غوره.

د الله هر نوم د هغه يو کامل صفت بيانوي، لکه:

الرَّحْمَٰن ـــ ډېر مهربان

الرَّحِيم — ډېر رحم کوونکی

الْعَلِيم — په هر څه پوه

الْقَدِير — پر هر څه قادر

د آیت مهم درس

عبادت يوازې د الله حق دی، او د هغه ټول نومونه د کمال، عظمت او ښکلا نومونه دي.

************************************************************

د سورت طه ـ ۹ آیت

وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ(۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی خپل توحيد او ښکلي نومونه بيان کړل.

اوس د موسی عليه السلام کيسه پيلوي او په داسې انداز يوښتنه کوي چې پام ورته راواړوي:

«ايا تا ته د موسی عليه السلام کيسه رسېدلې ده؟»

دا د يوې مهمې کيسې لپاره د اورېدونکي ذهن تياروي.

لفظي ترجمه

وَهَلْ او آيا — أَتَاكَ تا ته راغلې / رسېدلې — حَدِيثُ کيسه / خبر — مُوسَىٰ د موسی عليه السلام؟

روانه ترجمه

«او آيا تا ته د موسی عليه السلام کيسه رسېدلې ده؟»

تفسير

د حَدِيثُ معنا دلته ده:

کيسه، خبر، بيان.

الله تعالی دا پوښتنه د دې لپاره نه کوي چې معلومات ترلاسه کړي، بلکې د دې لپاره چې پام راواړوي او د اورېدونکي شوق زيات کړي.

راتلونکو آيتونو کې به د موسی عليه السلام د ژوند يوه مهمه پېښه بيان شي: هغه اور ويني، د هغه پر لور ځي، او هلته د الله له لوري وحی ترلاسه کوي.

د آيت مهم درس

قرآن کله ناکله د پوښتنې په انداز کيسه پيلوي، څو ذهن تيار کړي او پام يوې مهمې خبرې ته راواړوي.

************************************************************

د سورت طه – ۱۰ آيت

إِذْ رَأَىٰ نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى(۱۰)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وپوښتل: «ايا تا ته د موسی عليه السلام کيسه رسېدلې ده»؟

اوس کيسه پيل کېږي. موسی عليه السلام د سفر پر مهال يو اور وليد او خپلې کورنۍ ته يې وويل چې دلته پاتې شئ، زه ور روانيږم. هغه هيله لرله چې يا به له هغه اور څخه څه لمبه راوړي، يا به هلته داسې څوک پيدا کړي چې د لارې لارښوونه ورته وکړي.

لفظي ترجمه

إِذْ کله چې ـــ رَأَىٰ هغه ولید ـــ نَارًا یو اور ـــ فَقَالَ نو ویې ویل ـــ لِأَهْلِهِ خپلې کورنۍ ته ـــ امْكُثُوا دلته پاتې شئ ـــ إِنِّي بېشکه زه ـــ آنَسْتُ ما ولید / احساس مې کړ ـــ نَارًا یو اور ـــ لَّعَلِّي ښایي زه ـــ آتِيكُم تاسو ته راوړم ـــ مِّنْهَا له هغه څخه ـــ بِقَبَسٍ یوه لمبه / د اور ټوټه/سکروټه ـــ أَوْ یا ـــ أَجِدُ پیدا کړم ـــ عَلَى النَّارِ د اور سره / هلته د اور په ځای کې ـــ هُدًى لارښوونه(یعنې یو څوک لارښود)

روانه ترجمه

کله چې هغه اور ولید، خپلې کورنۍ ته یې وویل: دلته پاتې شئ؛ ما یو اور ولید. ښایي له هغه څخه تاسو ته یوه لمبه راوړم، یا هلته داسې څوک پیدا کړم چې د لارې لارښوونه راته وکړي.

تفسیر

موسی علیه السلام له خپلې کورنۍ سره په سفر کې و، چې له لرې یې اور ولید.

هغه وویل:

﴿امْكُثُوا﴾

«دلته پاتې شئ»

بیا یې وویل:

﴿إِنِّي آنَسْتُ نَارًا﴾

د آنَسْتُ معنا ده: ما ولید، پام مې ورته شو، یا مې احساس کړ چې هلته اور شته.

بیا فرمایي:

﴿لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ﴾

د قَبَسٍ معنا ده: د اور لمبه، سکروټه، یا د اور یوه بله شوې ټوټه.

یعنې موسی علیه السلام غوښتل له هغه اور څخه څه راوړي چې کورنۍ ته یې ګټه ورسوي.

بیا وایي:

﴿أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى﴾

یعنې:

«یا ښایي هلته څوک پیدا کړم چې د لارې لارښوونه راته وکړي»

موسی علیه السلام د یوه عادي ضرورت لپاره د اور پر لور روان شو، خو هلته د هغه لپاره د ژوند یوه ستره پېښه منتظره وه: الله تعالی به ورسره خبرې وکړي او د نبوت لپاره به یې غوره کړي.

د آیت مهم درس

کله ناکله انسان د یوه عادي کار لپاره روان وي، خو الله تعالی ورته له هغه ځایه تر تصور ډېر لوی خیر برابر کړي.

*************************************************************

د سورت طه – ۱۱ آیت

فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسَىٰ(۱۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام اور ولید او د هغه پر لور روان شو، په دې هیله چې یا به ترې اور راوړي او یا به د لارې لارښوونه پیدا کړي.

اوس چې اور ته ورسېد، په خپل نوم ورته غږ وشو: «اې موسی!»

لفظي ترجمه

فَلَمَّا نو کله چې — أَتَاهَا هغه ورغی هغې ته(يعني د اور د لیدو ځای ته) — نُودِيَ غږ ورته وشو — يَا مُوسَىٰ! اې موسی!

روانه ترجمه

«نو کله چې هغه اور ته ورسېد، غږ ورته وشو: اې موسی!»

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَمَّا أَتَاهَا﴾

يعنې:

«کله چې موسی علیه السلام هغه ځای ته ورسېد»

هغه د یوه عادي ضرورت لپاره هلته ورغلی و، خو هلته ورسره یوه ډېره ستره پېښه وشوه.

بیا فرمايي:

﴿نُودِيَ يَا مُوسَىٰ﴾

«غږ ورته وشو: اې موسی!»

د نُودِيَ معنا ده: غږ ورته وشو / راوبلل شو.

دا مجهول فعل دی، يعنې په جمله کې فاعل په ښکاره نه دی ياد شوی.

همدلته د موسی علیه السلام د نبوت د سترې صحنې پيل کېږي.

د آيت مهم درس

موسی علیه السلام د اور په لټه کې ورغی، خو هلته ورته د الله تعالی له لوري د نبوت د ستر ماموريت پيل وشو.

************************************************************

د سورت طه ــ ۱۲ آیت

إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۖ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى(۱۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسى عليه السلام اور ته ورسيږ او په خپل نوم ورته غږ وشو:

«اې موسى!»

اوس الله تعالى ورته بيانوي چې څوک ورسره خبرې کوي، او لومړى امر ورته کوي:

«بېشکه زه ستا رب يم، نو خپلې دواړه څپلۍ وباسه؛ ته د طوى په سپېڅلې دره کې يې».

لفظي ترجمه

إِنِّي بېشکه زه ـــ أَنَا زه ـــ رَبُّكَ ستا رب يم ـــ فَاخْلَعْ نو وباسه ـــ نَعْلَيْكَ خپلې دواړه څپلۍ ـــ إِنَّكَ بېشکه ته ـــ بِالْوَادِ په دره کې يې ـــ الْمُقَدَّسِ سپېڅلې ـــ طُوًى د طوى.

روانه ترجمه

«بېشکه زه ستا رب يم؛ نو خپلې دواړه څپلۍ وباسه، ځکه ته د طوى په سپېڅلې دره کې يې»

تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿إِنِّي أَنَا رَبُّكَ﴾

«بېشکه زه ستا رب یم»

دا ډېر مستقیم او روښانه خطاب دی. موسی علیه السلام ته ویل کېږي چې ورسره خبرې کوونکی هماغه الله دی چې د هغه رب دی.

بیا فرمايي:

﴿فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ﴾

«خپلې دواړه څپلۍ وباسه»

د فَاخْلَعْ معنا ده: وباسه / لرې يې کړه.

دا د هغه سپېڅلي ځای د ادب او درناوي لپاره امر و.

بیا فرمايي:

﴿إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾

«بېشکه ته د طوی په سپېڅلې دره کې یې»

د الْمُقَدَّسِ معنا ده: پاک، سپېڅلی، ځانګړی درناوی لرونکی. او د طُوًى هماغې درې نوم دی.

د آیت مهم درس

دا آیت موږ ته ښيي چې د الله د کلام او د عبادت د سپېڅلو ځایونو پر وړاندې ادب، عاجزي او درناوی ډېر مهم دي.

************************************************************

د سورت طه ـــ ۱۳ آیت

وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ(۱۳)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی عليه السلام ته وفرمايل: «زه ستا رب يم»، او امر يې ورته وکړ چې خپلې څپلې وباسي، ځکه هغه د طوی په سپېڅلې دره کې و.

اوس الله تعالی ورته وايي چې ما ته غوره کړی يې، نو هغه وحي ته په پوره پام غوږ ونيسه چې درته کيږي.

لفظي ترجمه

وَأَنَا او زه ـــ اخْتَرْتُكَ ما ته غوره کړی يې ـــ فَاسْتَمِعْ نو په غور واوره ـــ لِمَا هغه څه چې ـــ يُوحَىٰ (درته) وحی کيږي.

روانه ترجمه

او ما ته غوره کړی يې؛ نو هغه وحي په غور واوره چې درته کيږي.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَأَنَا اخْتَرْتُكَ﴾

د اخْتَرْتُكَ معنا ده:

«ما ته غوره کړی يې / ما انتخاب کړی يې»

يعني الله تعالی موسی عليه السلام د يوه ډېر ستر کار لپاره غوره کړ: د وحي د ترلاسه کولو او د پيغمبری لپاره.

بيا فرمايي:

﴿فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ﴾

د فَاسْتَمِعْ معنا يوازې دا نه ده چې غږ واوره؛ بلکې:

په پام، غور او توجه سره غوږ ونيسه.

او يُوحَىٰ معنا لري:

«وحی کېږي / درته وحی کېږي»

دا مجهول فعل دی.

د آیت مهم درس

کله چې د الله هدایت اورو، یوازې اورېدل بسنه نه کوي؛ په غور، پام او د منلو په نیت یې اورېدل پکار دي.

************************************************************

د سورت طه ــ ۱۴ آیت

إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي(۱۴)

د مخکيني آیت سره اړیکه

په مخکيني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل چې ما ته غوره کړی یې او هغه وحې په غور واوره چې درته کېږي.

اوس الله تعالی د وحی اصلي پیغام بیانوي: یوازې الله د عبادت وړ دی، نو یوازې د هغه عبادت وکړه او د هغه د یاد لپاره لمونځ قائم کړه.

لفظي ترجمه

إِنَّنِي بېشکه زه ــــ أَنَا اللَّهُ زه الله یم ــــ لَا إِلَٰهَ هېڅ معبود نشته ــــ إِلَّا أَنَا پرته له ما ــــ فَاعْبُدْنِي نو زما عبادت وکړه ــــ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ او لمونځ قائم کړه ــــ لِذِكْرِي زما د یاد لپاره.

روانه ترجمه

بېشکه زه الله یم؛ له ما پرته بل هېڅ د عبادت وړ معبود نشته، نو زما عبادت وکړه او زما د یاد لپاره لمونځ قائم کړه.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ﴾

«بېشکه زه الله يم»

بيا فرمايي:

﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا﴾

«له ما پرته بل هېڅ د عبادت وړ معبود نشته»

دا د توحيد ښکاره او بنسټيز بيان دی.

بيا فرمايي:

﴿فَاعْبُدْنِي﴾

«نو يوازې زما عبادت وکړه»

کله چې يوازې الله حقيقي معبود دی، نو عبادت هم بايد يوازې هماغه ته وشي.

بيا فرمايي:

﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾

د أَقِمِ الصَّلَاةَ معنا يوازې «لمونځ وکړه» نه ده، بلکې:

لمونځ په سمه توګه، په وخت او په پابندۍ قائم کړه.

او لِذِكْرِي معنا ده:

«زما د ياد لپاره»

يعني د لمانځه يو ستر مقصد دا دی چې انسان الله په ياد وساتي او زړه يې له الله سره تړلی پاتې شي.

د آيت مهم درس

د دين بنسټ دوه خبرې دي: توحيد او عبادت.

او د عبادت له سترو وسيلو څخه لمونځ دی، چې انسان د الله له ياد سره ژوندی ساتي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۱۵ آيت

إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ(۱۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی عليه السلام ته د توحيد، عبادت او لمانځه امر وکړ.

اوس د قيامت د ورځې يادونه کوي: قيامت خامخا راتلونکی دی، خو دقيق وخت يې پټ دی، او هر انسان ته به د خپل عمل بدله ورکول کيږي.

لفظي ترجمه

إِنَّ بيشکه ـــ السَّاعَةَ قيامت ـــ آتِيَةٌ راتلونکی دی ـــ أَكَادُ أُخْفِيهَا د هغه وخت مې پټ ساتلی دی ـــ لِتُجْزَىٰ ترڅو بدله ورکړل شي ـــ كُلُّ نَفْسٍ هر نفس ته ـــ بِمَا د هغه څه په بدل کې چې ـــ تَسْعَىٰ هڅه کوي / عمل کوي.

روانه ترجمه

بېشکه قیامت خامخا راتلونکی دی؛ ما د هغه دقیق وخت پټ ساتلی دی، ترڅو هر انسان ته د هغه د عمل بدله ورکړل شي.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ﴾

«بېشکه قیامت راتلونکی دی»

د قیامت راتګ یقیني دی.

بیا فرمايي:

﴿أَكَادُ أُخْفِيهَا﴾

د دې عبارت په تفسیر کې د علماوو بېلابېل بیانونه شته، خو څرګند مفهوم دا دی چې د قیامت دقیق وخت له خلکو پټ ساتل شوی دی.

انسان پوهېږي چې قیامت به راځي، خو دا نه پوهېږي چې کله.

بیا فرمايي:

﴿لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ﴾

«ترڅو هر انسان ته د هغه د عمل بدله ورکړل شي»

د تَسْعَىٰ معنا ده:

هڅه کول، کوښښ کول، عمل کول.

د آيت مهم درس

د قیامت وخت پټ دی، خو راتګ یې یقیني دی. نو انسان باید هر وخت د خپل ایمان او عمل فکر وکړي، ځکه هر څوک به د خپلې هڅې او عمل نتیجه ویني.

****************************************************************

د سورت طه ــ ۱۶ آیت

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَتَرْدَىٰ(۱۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی عليه السلام ته وفرمايل چې قيامت خامخا راتلونکی دی او هر انسان ته به د خپل عمل بدله ورکول کيږي.

اوس الله تعالی موسی عليه السلام ته خبرداری ورکوي: هغه خوک چې پر قيامت ايمان نه لري او د خپلو غوښتنو پيروي کوي، تا دې د قيامت له باور او تياري څخه نه اړوي.

لفظي ژباړه

فَلَا نو مه پرېږده ــ يَصُدَّنَّكَ چې واړوي تا / منع کړي تا ــ عَنْهَا له هغه څخه(يعنې د قيامت د باور څخه) ــ مَن هغه خوک چې ــ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا پر هغه(قيامت) ايمان نه لري ــ وَاتَّبَعَ او پيروي کوي ــ هَوَاهُ د خپلو نفسي غوښتنو ــ فَتَرْدَىٰ (ګنې)نو په هلاکت کې به ولوېږې.

روانه ژباړه

نو پام کوه چې هغه خوک دې د قيامت له باور او تياري څخه وانه ړوي، چې پر قيامت ايمان نه لري او د خپل نفس د غوښتنو پيروي کوي، ګنې په تباهی کې به ولوېږې.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا﴾

د يَصُدَّنَّكَ معنا ده:

تا منع كول، له يوې لارې اړول، يا لرې كول

په عَنْهَا كې ها د مخكيني آيت السَّاعَة ــــ قيامت ته راګرځي.

بيا فرمايي:

﴿مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا﴾

«هغه څوک چې پر قيامت ايمان نه لري»

موسى عليه السلام ته ويل كيږي چې د آخرت منكر خلک دې د قيامت له يقين او د هغه له تياري څخه اغېزمن نه کړي.

بيا:

﴿وَاتَّبَعَ هَوَاهُ﴾

هَوَاهُ يعنې: د هغه خپله غوښتنه، د نفس خواهش.

يعني هغه د الله د لارښوونې پر ځای د خپل نفس د غوښتنې پسې روان دی.

وروسته فرمايي:

﴿فَتَرْدَىٰ﴾

د تَرْدَىٰ معنا ده:

لوېدل، تباه كېدل، د هلاكت لوري ته تلل.

د آيت مهم درس

انسان بايد خپل ايمان د هغو خلكو تر اغېزو لاندې رانه ولي چې آخرت نه مني او د حق پر ځای د خپلو نفساني غوښتنو پيروي كوي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۱۷ آیت

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَىٰ(۱۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته خبرداری ورکړ چې هغه کسان دې د قيامت له باور څخه وانه ړوي چې پر قيامت ايمان نه لري او د خپلو نفساني غوښتنو پيروي کوي.

اوس الله تعالی له موسی علیه السلام څخه د هغه شي په اړه پوښتنه کوي چې په ښي لاس کې يې دی. په دې سره د موسی علیه السلام پام خپلې امسا ته راګرځي او د راتلونکې معجزې لپاره چمتو کېږي.

لفظي ژباړه

وَمَا او څه دی-- تِلْكَ هغه--- بِيَمِينِكَ ستا په ښي لاس کې--- يَا مُوسَىٰ اې موسی!

روانه ژباړه

«او اې موسی! ستا په ښي لاس کې هغه څه دي؟»

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَىٰ﴾

«اې موسی! ستا په ښي لاس کې هغه څه دي؟»

الله تعالی ته معلومه وه چې د موسی علیه السلام په لاس کې څه دي. نو دا پوښتنه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره نه وه.

بلکې: په دې پوښتنه سره د موسی علیه السلام پام د هغه په لاس کې امسا ته راګرځول کېږي، ځکه الله تعالی به همدا عادي امسا په یوه ستره معجزه بدله کړي.

په راتلونکي آیت کې موسی علیه السلام وايي چې دا زما امسا ده او بیانوي چې څه کارونه ترې اخلي.

<u>د آیت مهم درس</u>

کله ناکله په قرآن کې الله تعالی پوښتنه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره نه، بلکې د پام راارولو او د راتلونکې مهمې خبرې لپاره د ذهن د چمتو کولو په موخه کوي.

************************************************************

د سورت طه ــ ۱۸ آیت

قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ(۱۸) <

<u>د مخکیني آیت سره اړیکه</u>

په مخکیني آیت کې الله تعالی له موسی علیه السلام څخه وپوښتل:

«اې موسی! ستا په ښي لاس کې هغه څه دي؟»

اوس موسی علیه السلام ځواب ورکوي چې دا زما امسا ده، او بیا بیانوي چې په خپل ورځني ژوند کې له دې امسا څخه کوم کارونه اخلي.

<u>لفظي ژباړه</u>

قَالَ ـــ ويې ويل ـــ هِيَ ـــ هغه ـــ عَصَايَ ـــ زما امسا ده ـــ أَتَوَكَّأُ ـــ تکیه کوم ـــ عَلَيْهَا ـــ پر هغې ـــ وَأَهُشُّ ـــ او پاڼې څنډم

— بِهَا — په هغې سره — عَلَىٰ غَنَمِي — خپلو پسونو ته — وَلِيَ — او زما لپاره دي — فِيهَا — په هغې کې — مَآرِبُ — اړتیاوې / کارونه — أُخْرَىٰ — نور.

روانه ژباړه

موسی وویل: دا زما امسا ده؛ پر هغې تکيه کوم، په هغې سره خپلو پسونو ته پاڼې څنډم، او نور کارونه هم ترې اخلم.

تفسير

موسی عليه السلام وويل:

﴿هِيَ عَصَايَ﴾

«دا زما امسا ده»

عَصَا د امسا، لکړې يا د تکيې د لرګي معنا لري.

بيا وايي:

﴿أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا﴾

«پر هغې تکيه کوم»

د أَتَوَكَّأُ معنا ده:

پر يو شي تکيه کول او ځان پرې نيول.

موسی عليه السلام به د تګ يا ولاړېدو پر مهال پر خپلې امسا تکيه کوله.

بيا وايي:

﴿وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي﴾

«او په هغې سره خپلو پسونو ته پاڼې څنډم»

د أَهُشُّ معنا ده:

د ونې څانګې په امسا خوځول يا ښندل، څو پاڼې ترې راولوېږي.

موسی علیه السلام به په امسا څانګې خوځولې، څو پاڼې يې پسونو ته راولوېږي او هغوی يې وخوري.

بيا وايي:

﴿وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ﴾

«او په دې کې زما نور کارونه هم شته»

د مَآرِبُ معنا ده:

اړتياوې، مقصدونه، کارونه او ګټې.

يعنې موسی علیه السلام له خپلې امسا څخه نورې ګټې هم اخيستې.

د آيت مهم درس

موسی علیه السلام ته دا يوه عادي امسا وه چې د ورځني ژوند کارونه يې ترې اخيستل؛ خو الله تعالی به همدا عادي امسا په يوه ستره معجزه او نښه بدله کړي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۱۹ آيت

قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَىٰ(۱۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی علیه السلام وويل چې دا زما امسا ده؛ پر هغې تکيه کوم، خپلو پسونو ته پرې پاڼې ښندم او نور کارونه هم ترې اخلم.

اوس الله تعالی موسی علیه السلام ته مستقیم امر کوي:

«اې موسی! هغه وغورځوه»

## لفظي ژباړه

قَالَ ـــ ويې فرمايل ـــ أَلْقِهَا ـــ هغه(يعنې امسا) وغورځوه ـــ يَا مُوسَىٰ ـــ اې موسی!

## روانه ژباړه

«الله وفرمايل: اې موسی! خپله امسا وغورځوه»

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿أَلْقِهَا يَا مُوسَىٰ﴾

يعنې:

«اې موسی! هغه وغورځوه»

د أَلْقِهَا معنا ده:

هغه وغورځوه / لاندې يې واچوه.

په أَلْقِهَا کې هَا ضمير دی، معنا يې «هغه» ده، او د موسی علیه السلام امسا ته ورګرځي.

الله تعالی موسی علیه السلام ته امر وکړ چې هماغه امسا وغورځوي چې لږ مخکې يې د خپلو ورځنيو عادي کارونو وسيله بلله.

موسی علیه السلام د الله امر مني، او په راتلونکي آيت کې به همدا امسا د الله په قدرت په يوه ژوندي مار بدله شي.

## د آيت مهم درس

موسی علیه السلام د الله امر ته غاړه کېښوده. راتلونکی آیت ښيي چې د الله په قدرت یو عادي شی هم په ستره معجزه بدلېدای شي.

************************************************************

د سورت طه – ۲۰ آیت

فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ(۲۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته امر وکړ چې خپله امسا وغورځوي.

اوس موسی علیه السلام د الله امر مني. کله چې امسا وغورځوي، ناڅاپه هغه په یوه ژوندي مار بدلېږي چې په چټکی حرکت کوي.

لفظي ژباړه

فَأَلْقَاهَا — نو هغه يې وغورځوله — فَإِذَا — نو ناڅاپه — هِيَ — هغه — حَيَّةٌ — يو مار شو — تَسْعَىٰ —چې په چټکی يې حرکت کاوه.

روانه ژباړه

نو موسی علیه السلام امسا وغورځوله، او ناڅاپه هغه په یوه مار بدله شوه چې په چټکی يې حرکت کاوه.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿فَأَلْقَاهَا﴾

«نو هغه يې وغورځوله»

موسی علیه السلام د الله امر سمدستي ومانه.

بیا فرمایي:

﴿فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ﴾

«نو ناڅاپه هغه مار شو»

د لته فَإِذَا کلمه د ناڅاپي بدلون معنا ورکوي.

هغه امسا چې یوه عادي لکړه وه، د الله په قدرت په یوه ریښتیني ژوندي مار بدله شوه.

بیا فرمایي:

﴿تَسْعَىٰ﴾

«په چټکۍ یې حرکت کاوه»

د تَسْعَىٰ معنا ده:

حرکت کول، منډه وهل، یا په چټکۍ تلل.

د آیت مهم درس

د الله قدرت د عادي اسبابو محدود نه دی. هغه چې وغواړي، یو عادي شی په ستره معجزه بدلولای شي.

**************************************************************

د سورت طه – ۲۱ آیت

قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ(۲۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام خپله امسا وغورځوله او ناڅاپه هغه په یوه ژوندي مار بدله شوه چې په چټکۍ یې حرکت کاوه.

اوس الله تعالی موسی علیه السلام ته وايي چې هغه راواخله او مه وېرېږه؛ موږ به يې بېرته خپل لومړني حالت ته وګرځوو.

## لفظي ژباړه

قَالَ ـــ ويې فرمايل/الله تعالی وفرمايل ـــ خُذْهَا ـــ هغه راواخله ـــ وَلَا تَخَفْ ـــ او مه وېرېږه ـــ سَنُعِيدُهَا ـــ ژر به موږ هغه بېرته وګرځوو ـــ سِيرَتَهَا ـــ خپل حالت/خپل شکل ـــ الْأُولَىٰ ـــ لومړني ته.

## روانه ژباړه

الله وفرمايل: هغه راواخله او مه وېرېږه؛ موږ به يې بېرته خپل لومړني حالت ته وګرځوو.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿خُذْهَا وَلَا تَخَفْ﴾

«هغه راواخله او مه وېرېږه»

کله چې امسا په ژوندي او خوځېدونکي مار بدله شوه، موسی علیه السلام ترې ووېرېد. الله تعالی ورته ډاډ ورکړ او امر يې ورته وکړ چې هغه راواخلي.

د تَخَفْ اصل خَوْف دی، يعني:وېره.

بيا فرمايي:

﴿سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ﴾

د سَنُعِيدُهَا معنا ده:

«موږ به يې بېرته وګرځوو»

د سِيرَتَهَا معنا دلته ده:

د هغه حالت، بڼه يا پخوانی شکل.

او الْأُولَىٰ معنا ده: لومړنی / پخوانی.

يعني الله تعالی موسی علیه السلام ته ډاډ ورکوي چې دا مار به بېرته هماغه پخوانۍ امسا شي.

د آيت مهم درس

الله تعالی موسی علیه السلام ته يوازې معجزه ونه ښوده، بلکې وېره يې هم ترې لرې کړه او ډاډ يې ورکړ، څو د راتلونکي ستر ماموريت لپاره چمتو شي.

************************************************************

د سورت طه – ۲۲ آيت

وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَىٰ(۲۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمايل چې مار راواخله، مه وېرېږه، موږ به يې بېرته خپل لومړني حالت ته وګرځوو.

اوس الله تعالی هغه ته يوه بله معجزه ورکوي: خپل لاس خپل اړخ(تخرګ) ته نږدې کړه، نو لاس به دې روښانه سپين راووځي، بې له دې چې کومه ناروغي يا زيان پکې وي.

لفظي ژباړه

وَاضْمُمْ ـــ او نږدې کړه ـــ يَدَكَ ـــ خپل لاس ـــ إِلَىٰ جَنَاحِكَ ـــ خپل اړخ ته/خپل تخرګ ته ـــ تَخْرُجْ ـــ راوځي به ـــ بَيْضَاءَ ـــ سپين او روښانه ـــ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ ـــ بې له کوم زيان ښخه ـــ آيَةً أُخْرَىٰ ـــ د يوې بلې معجزې (په توګه).

روانه ژباړه

او خپل لاس خپل اړخ ته نږدې کړه؛ هغه به روښانه سپين راووځي، بې له کوم زيان او ناروغۍ ښخه، د يوې بلې معجزې په توګه.

تفسير

الله تعالى فرمايي:

﴿وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ﴾

د اضْمُمْ معنا ده: نږدې کړه، ورسره يوځای کړه.

او جَنَاحِكَ لفظاً د وزر معنا لري، خو دلته د انسان لپاره د اړخ، بغل،تخرګ يا د لاس لاندې سيمې په معنا دی.

بيا فرمايي:

﴿تَخْرُجْ بَيْضَاءَ﴾

«ستا لاس به سپين او روښانه راووځي»

بيا فرمايي:

﴿مِنْ غَيْرِ سُوءٍ﴾

«بې له کومې ناروغۍ او زيان ښخه»

نو دا سپينوالی د مرض له امله نه و، بلکې د الله له لوري معجزه وه.

بيا فرمايي:

﴿آيَةً أُخْرَىٰ﴾

«د يوې بلې نښې په توګه»

لومړۍ نښه د امسا په مار بدلېدل وو، او دا روښانه لاس دوهمه لويه نښه/معجزه وه.

د آيت مهم درس

الله تعالی موسی علیه السلام ته پرله‌پسې نښې ورکولې، څو هغه د خپل رسالت لپاره په يقين او ډاډ سره چمتو شي.

************************************************************

د سورت طه – ۲۳ آيت

لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَىٰ(۲۳)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکينيو آيتونو کې الله تعالی موسی علیه السلام ته دوه سترې معجزې وښودلې: امسا يې په ژوندي مار بدله شوه، او لاس يې بې له کومې ناروغۍ روښانه سپين راووت.

اوس الله تعالی د دې نښو مقصد بيانوي: ترڅو موسی علیه السلام ته د خپلو سترو نښو څخه ځينې وروښيي.

لفظي ژباړه

لِنُرِيَكَ ــــ ترڅو تا ته وښيو ــــ مِنْ ــــ له ــــ آيَاتِنَا ــــ نښو زمونږ څخه ــــ الْكُبْرَىٰ ــــډېرې لويې.

روانه ژباړه

«ترڅو تا ته د خپلو سترو نښو څخه ځينې دروښيو»

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿لِنُرِيَكَ﴾

«ترڅو تا ته وښيو»

دا بيانوي چې الله تعالی ولې موسی عليه السلام ته دا معجزې وښودلې.

بيا فرمايي:

﴿مِنْ آيَاتِنَا﴾

«زموږ له نښو څخه»

دلته آيَات د الله د قدرت نښې او معجزې دي.

موسی عليه السلام وليدل چې عادي امسا په ژوندي مار بدله شوه او لاس يې له ناروغۍ پرته روښانه سپين راووت.

بيا فرمايي:

﴿الْكُبْرَىٰ﴾

«سترې / دېرې لويې»

دا د الله د قدرت سترې نښې وې، او موسی عليه السلام يې د هغه ستر ماموريت لپاره هم چمتو کاوه چې اوس به ورته سپارل کېږي.

د آيت مهم درس

الله تعالی موسی عليه السلام ته خپلې سترې نښې ورووښودلې، څو د الله پر قدرت يې يقين لا پياوړی شي او د راتلونکي ستر مسؤليت لپاره چمتو شي.

*********************************************************

د سورت طه ــ ۲۴ آیت

اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ(۲۴)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې موسی عليه السلام ته يې د خپلو سترو نښو څخه ځيني وروښودلې.

اوس هغه ته اصلي ماموريت سپاري: فرعون ته ورشه، ځکه هغه سرکښ شوی او له حده اوښتی دی.

لفظي ژباړه

اذْهَبْ ـــ ورشه ـــ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ ـــ فرعون ته ـــ إِنَّهُ ـــ بېشکه هغه ـــ طَغَىٰ ـــ سرکښ شوی / له حده اوښتی.

روانه ژباړه

«فرعون ته ورشه؛ بېشکه هغه سرکښ شوی او له حده اوښتی دی»

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ﴾

«فرعون ته ورشه»

الله تعالی مخکې موسی عليه السلام ته خپلې نښې وښودلې او بيا يې د يوه ډېر ستر مسئوليت لپاره فرعون ته ورولېږه.

بيا فرمايي:

﴿إِنَّهُ طَغَىٰ﴾

د طَغَىٰ معنا ده:

سرکښ کېدل، له حده اوښتل، په کبر او نافرمانۍ کې ډېر مخکې تلل.

فرعون یوازې یو عادي ګناهکار نه و، بلکې په ظلم، تکبر او د الله په وړاندې په سرکښۍ کې ډېر مخکې تللی و.

د آیت مهم درس

الله تعالی موسی علیه السلام ته د سخت مسئولیت له سپارلو مخکې نښې، ډاډ او چمتووالی ورکړ، بیا یې د فرعون په شان ستر سرکښ ته ولېږه.

************************************************************

د سورت طه – ۲۵ آیت

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي(۲۵)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته امر وکړ چې فرعون ته ورشي، ځکه هغه سرکښ شوی او له حده اوښتی و.

اوس موسی علیه السلام د دې سخت ماموریت له پیلولو مخکې الله تعالی ته مخ کوي او مرسته ترې غواړي. لومړی له الله څخه غواړي چې زړه یې پراخ، ډاډمن او پیاوړی کړي.

لفظي ژباړه

قَالَ — ویې ویل — رَبِّ — اې زما ربه — اشْرَحْ — پراخه کړه — لِي — زما لپاره — صَدْرِي — زما سینه

روانه ژباړه

«موسی ع وویل: اې زما ربه! زما سینه راته پراخه کړه»

او د مفهوم له مخې:

اې زما ربه! زړه مې پراخ او ډاډمن کړه او د دې کار لپاره قوت راکړه.

تفسير

موسی علیه السلام وايي:

﴿رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي﴾

د اشْرَحْ معنا ده

پراخول، پرانيستل او وسعت ورکول.

او صَدْرِي لفظاً معنا لري: زما سینه

خو دلته يوازې د بدن سینه مقصد نه ده. د سينې پراخوالی د زړه د ډاډ، حوصلې، زغم او جرأت معنا هم لري.

يعنې موسی علیه السلام دعا کوي:

اې الله! زړه مې ډاډمن کړه، حوصله او جرأت راکړه، څو دا ستر مسئولیت په ښه توګه ترسره کړم.

دا ځکه چې هغه د يوه عادي انسان مخې ته نه، بلکې د فرعون په شان ځواکمن او سرکښ واکمن ته لیږل کېده.

د آيت مهم درس

کله چې انسان ته یو سخت مسئولیت ورپه غاړه شي، یوازې پر خپل توان تکیه نه کوي؛ بلکې له الله څخه د زړه پراخوالی، ډاډ، حوصله او قوت غواړي.

*************************************************************

د سورت طه – ۲۶ آيت

## وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي(۲۶)

### د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی عليه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل چې زړه يې پراخ او ډاډمن کړي.

اوس د خپل ماموريت لپاره دوهمه دعا کوي چې: الله دې د هغه کار ورته اسانه کړي.

### لفظي ژباړه

وَيَسِّرْ — او اسانه کړه — لِي — زما لپاره — أَمْرِي — زما کار / زما ماموريت.

### روانه ژباړه

«او زما کار راته اسانه کړه»

### تفسير

موسی عليه السلام وايي:

﴿وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي﴾

د يَسِّرْ معنا ده: اسانه کړه، آسانتيا پکې راوله.

او د أَمْرِي معنا ده: زما کار، زما مسئوليت، زما ماموريت.

موسی عليه السلام پوهېده چې فرعون ته تلل او د حق پيغام ورته رسول آسان کار نه و.

نو لومړی يې د زړه پراخوالی وغوښت، بيا يې وويل:

«زما کار راته اسانه کړه»

### د آيت مهم درس

کله چې يو سخت کار مخې ته وي، له الله څخه دوه شيان غوښتل ډېر مهم دي: قوي زړه او آسانه لار.

*************************************************************

د سورت طه – ۲۷ آيت

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي(۲۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی عليه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل:

«زما کار راته اسانه کړه»

اوس له الله څخه غواړي چې د هغه د وينا ستونزه هم لرې کړي، څو د الله پيغام په روښانه ډول ورسولای شي.

لفظي ژباړه

وَاحْلُلْ — او پرانيزه / خلاصه کړه — عُقْدَةً —غوټه — مِّن — د — لِّسَانِي — ژبې زما.

روانه ژباړه

«او زما د ژبې غوټه خلاصه کړه»

يا د مفهوم له مخې:

«او زما د خبرو ستونزه لرې کړه، څو په روښانه توګه خبرې وکړم»

تفسير

موسی عليه السلام وايي:

﴿وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي﴾

د احْلُلْ معنا ده: غوټه خلاصول، پرانیستل، یا یو بندښت لرې کول.

او عُقْدَةً معنا ده: غوټه

نو لفظي مفهوم یې دی:

«زما د ژبې غوټه خلاصه کړه»

مقصد دا دی چې موسی علیه السلام له الله تعالی څخه غواړي چې د هغه د وینا ستونزه لرې کړي او خبرې یې روښانه کړي، څو فرعون او نور خلک د هغه خبره په ښه ډول درک کړي.

همدا مقصد په راتلونکي آیت کې پخپله څرګندیږي:

﴿يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾

«ترڅو هغوی زما خبره درک کړي»

<u>د آیت مهم درس</u>

انسان باید هڅه وکړي چې حق په روښانه او د پوهېدو وړ ډول نورو ته ورسوي.

************************************************************

د سورت طه ــ ۲۸ آیت

يَفْقَهُوا قَوْلِي(۲۸)

<u>د مخکیني آیت سره اړیکه</u>

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل چې د هغه د ژبې غوټه خلاصه کړي او د خبرو ستونزه یې لرې کړي.

اوس د دې غوښتنې مقصد بیانوي: ترڅو خلک د هغه خبره په ښه توګه درک کړي.

## لفظي ژباړه

يَفْقَهُوا — ترڅو هغوی پوه شي — قَوْلِي — زما په خبره

## روانه ژباړه

«ترڅو هغوی زما خبره په ښه توګه درک کړي»

## تفسیر

موسی علیه السلام وايي:

﴿يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾

د يَفْقَهُوا معنا ده:

پوهېدل، ښه درک کول، د خبرې مقصد سم نیول.

او قَوْلِي معنا ده: زما خبره / زما وینا

نو موسی علیه السلام د خپلې وینا د ښه کېدو غوښتنه د دې لپاره نه کوله چې یوازې ښکلې خبرې وکړي، بلکې مقصد يې دا و چې د الله پیغام خلکو ته روښانه ورسېږي او هغوی پرې پوه شي.

## د آیت مهم درس

کله چې حق بیانېږي، اصل دا نه دی چې خبرې یوازې ښکلې وي؛ اصل دا دی چې اورېدونکی پرې سم پوه شي.

************************************************************

د سورت طه ــ ۲۹ آیت

وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي(۲۹)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی عليه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل چې خبرې يې روښانه شي، څو خلک پرې پوه شي.

اوس هغه د دې سخت ماموريت لپاره له خپلې کورنۍ څخه يو مرستندوی غواړي.

## لفظي ژباړه

وَاجْعَل — او وټاکه — لِّي — زما لپاره — وَزِيرًا — يو مرستندوی — مِّنْ أَهْلِي — زما له کورنۍ څخه.

## روانه ژباړه

«او زما لپاره زما له کورنۍ څخه يو مرستندوی وټاکه»

## تفسير

د وَزِيرًا معنا ده:

مرستندوی، ملاتړ کوونکی، يا هغه څوک چې د يوه دروند مسئوليت په پورته کولو کې مرسته کوي.

موسی عليه السلام پوهېده چې فرعون ته تلل او د حق پيغام رسول يو ډېر سخت کار دی. نو له الله تعالی څخه يې وغوښتل چې يو باوري او نږدې کس ورسره مل کړي.

راتلونکی آيت به روښانه کړي چې هغه کس هارون عليه السلام، د موسی عليه السلام ورور و.

## د آيت مهم درس

په لويو او سختو کارونو کې د يو باوري او صالح مرستندوی درلودل يو مهم نعمت دی.

*************************************************

د سورت طه ــ ۳۰ آيت

هَارُونَ أَخِي (۳۰)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی عليه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل چې د خپلې کورنۍ څخه يو مرستندوی ورته وټاکي.

اوس په دې آيت کې په ځرګنده وايي چې هغه مرستندوی څوک دی:

هارون عليه السلام، زما ورور.

لفظي ژباړه

هَارُونَ ـــ هارون عليه السلام ـــ أَخِي ـــ زما ورور.

روانه ژباړه

«هارون عليه السلام، زما ورور»

تفسير

موسی عليه السلام وايي:

﴿هَارُونَ أَخِي﴾

«هارون، زما ورور»

دا آيت روښانه کوي چې په مخکيني آيت کې چې موسی عليه السلام د خپلې کورنۍ څخه کوم مرستندوی غوښت، مقصد يې هارون عليه السلام و.

موسی عليه السلام داسې څوک غوښت چې ورته نږدې، باوري او د رسالت په دروند کار کې ورسره مرسته کوونکی وي.

قرآن په بل ځای کې هم بیانوي چې هارون علیه السلام په وینا کې تر موسی علیه السلام ډېر فصیح و، نو موسی علیه السلام غوښتل چې هغه ورسره د پیغام په رسولو کې مرسته وکړي.

<u>د آیت مهم درس</u>

د یوه ستر مسئولیت لپاره د باوري او نېک ملګري غوښتل کمزوري نه ده؛ بلکې د کار د ښه ترسره کولو لپاره حکمت دی.

*************************************************************

د سورت طه – ۳۱ آیت

اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي(۳۱)

<u>د مخکیني آیت سره اړیکه</u>

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام وویل چې د هغه مطلوب مرستندوی هارون علیه السلام، د هغه ورور دی.

اوس بیانوي چې ولې یې هارون علیه السلام غوښتلو: ترڅو د هغه په مرسته پیاوړی شي.

لفظي ژباړه

اشْدُدْ ـــ پیاوړي کړه ـــ بِهِ ـــ په هغه سره / د هغه په وسیله ـــ
أَزْرِي ـــ زما ملا / زما قوت

<u>روانه ژباړه</u>

«د هغه په وسیله زما ملا قوي کړه»

یا:

«د هارون ع په مرسته ما پیاوړی کړه»

تفسیر

د أَزْرِي لفظي معنا د ملا، شا او قوت سره تړاو لري.

په عربي کې د ملا قوي کول د دې لپاره هم کارول کېږي چې يو څوک د بل په مرسته پياوړی او ملاتړ شوی شي.

نو موسى عليه السلام دا دعا نه کوي چې يوازې جسماني زور دې زيات شي؛ بلکې غواړي چې هارون عليه السلام ورسره د دروند رسالت په کار کې ملاتړ، مرسته او قوت ورکړي.

د آيت مهم درس

ښه مرستندوی د انسان ملا قوي کوي؛ يعني د سخت مسئوليت په ترسره کولو کې هغه لا پياوړی او ثابتوي.

************************************************************

د سورت طه – ۳۲ آيت

وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي (۳۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسى عليه السلام له الله تعالى څخه وغوښتل چې د هارون عليه السلام په وسيله يې پياوړی کړي.

اوس يوه بله غوښتنه کوي: هارون عليه السلام دې د هغه په ماموريت او مسئوليت کې ورسره شريک شي.

لفظي ژباړه

وَأَشْرِكْهُ ـــ او هغه شريک کړه ـــ فِي ـــ په ـــ أَمْرِي ـــ زما په کار کې / زما په ماموريت کې.

روانه ژباړه

«او هارون علیه السلام زما په ماموریت کې راسره شریک کړه»

تفسیر

د أَشْرِكْهُ معنا ده: هغه راسره شریک کړه .

او أَمْرِي دلته د ماموریت، مسئولیت او د رسالت د کار معنا ورکوي.

نو موسی علیه السلام یوازې دا نه غوښتل چې هارون علیه السلام دې ورسره شخصي مرسته وکړي، بلکې غوښتل یې چې د الله د پیغام په رسولو کې هم ورسره شریک وي.

د آیت مهم درس

په لویو مسئولیتونو کې کله ناکله یوازې شخصي ملاتړ بسنه نه کوي؛ د کار په اصل کې هم یو صالح او باوري شریک ډېر ارزښت لري.

************************************************************

د سورت طه ـ ۳۳ آیت

كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا(۳۳)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل چې هارون علیه السلام د هغه په ماموریت کې ورسره شریک کړي.

اوس د دې غوښتنې مقصد بیانوي: ترڅو دواړه د الله ډېره پاکي او ستاینه بیان کړي.

لفظي ژباړه

كَيْ ــــ ترڅو ــــ نُسَبِّحَكَ ــــ ستا پاکي او ستاینه بیان کړو ــــ كَثِيرًا ــــ ډېره

روانه ژباړه

«ترڅو موږ ستا پاکي او ستاینه ډېره بیان کړو»

تفسیر

د کَيْ معنا ده: ترڅو / د دې لپاره چې.

او نُسَبِّحَكَ د تسبیح له کلمې څخه ده، یعني:

الله له هر عیب او نیمګړتیا څخه پاک ګڼل او د هغه عظمت بیانول.

كَثِيرًا معنا لري: ډېر.

نو موسی علیه السلام غوښتل چې هارون علیه السلام یوازې د دنیایي مرستې لپاره ورسره نه وي، بلکې دواړه یو ځای الله ډېر یاد کړي، د هغه پاکي بیان کړي او عبادت یې وکړي.

د آیت مهم درس

ښه ملګری هغه دی چې یوازې په کار کې مرسته نه کوي، بلکې د الله په یاد او عبادت کې هم انسان پیاوړی کوي.

=======================================

د سورت طه ـ ۳۴ آیت

وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا(۳۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام وویل چې هارون علیه السلام دې ورسره وي، ترڅو دواړه د الله ډېره پاکي او ستاینه بیان کړي.

اوس یوه بله موخه بیانوي: ترڅو دواړه الله ډېر یاد کړي.

لفظي ژباړه

وَنَذْكُرَكَ ــــ او تا یاد کړو ــــ كَثِيرًا ــــ ډېر

روانه ژباړه

«او ترڅو تا ډېر یاد کړو»

تفسیر

د نَذْكُرَكَ معنا ده:

«مونږ تا یاد کړو»

د الله یاد یوازې په ژبه ذکر کول نه دي؛ بلکې په زړه کې د الله حضور احساسول، د هغه نعمتونه یادول او په عمل کې د هغه اطاعت کول هم پکې شامل دي.

كَثِيرًا یعنې:ډېر

نو موسی علیه السلام غوښتل چې هارون علیه السلام ورسره داسې ملګری وي چې د سخت ماموریت پر مهال هم دواړه له الله سره خپله اړیکه ژوندۍ وساتي.

د آیت مهم درس

د سخت کار او لوی مسئولیت پر مهال د الله یاد لا ډېر مهم کېږي. ښه ملګری انسان د الله له یاد سره نږدې ساتي، نه ترې لرې.

==========================================

د سورت طه ــ ۳۵ آیت

إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا(۳۵)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکينيو آيتونو کې موسی عليه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل چې هارون عليه السلام ورسره مرستندوی کړي، ترڅو دواړه الله ډېر یاد او د هغه پاکي بيان کړي.

اوس موسی عليه السلام د خپلې دعا په پای کې وايي چې الله د دوی په حال ښه خبر او پرې بشپړ پوه دی.

لفظي ژباړه

إِنَّكَ ـــ بېشکه ته ـــ كُنتَ ـــ تل يې ـــ بِنَا ـــ زموږ په حال ـــ بَصِيرًا ـــ ښه ليدونکی / ښه خبر

روانه ژباړه

«بېشکه ته تل زموږ په حال ښه خبر يې»

تفسير

د بَصِيرًا معنا يوازې په سترګو ليدل نه دي؛ دلته يې معنا دا ده:

په بشپړ ډول د حال، اړتيا او وضعيت څخه خبر اوسېدل.

يعنې موسی عليه السلام الله ته وايي:

«ته زما حالت، کمزورې، اړتيا او دا سخت ماموريت ټول ښه پېژنې»

نو هغه خپله غوښتنه د داسې ذات په وړاندې کوي چې د ده له حاله مخکې هم بشپړ خبر دی.

د آيت مهم درس

کله چې دعا کوو، الله ته زموږ حال له مخکې معلوم وي. موږ له هغه ذات څخه مرسته غواړو چې زموږ اړتيا، کمزورې او حالت تر موږ هم ښه پېژني.

====================================

د سورت طه ــ ۳۶ آيت

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَىٰ(۳۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکينيو آيتونو کې موسى عليه السلام له الله تعالى څخه څو غوښتنې وکړې: د زړه پراخوالی، د کار اساني، د وينا روښانتيا او هارون عليه السلام د مرستندوی په توګه.

اوس الله تعالى د هغه دعا قبلوي او ورته وايي چې ستا غوښتنه درکړل شوه.

لفظي ژباړه

قَالَ ــــ ويې فرمايل(الله تعالى وفرمايل) ــــ قَدْ ــــ بېشکهــــ أُوتِيتَ ــــ تا ته درکړل شوه ــــ سُؤْلَكَ ــــ غوښتنه ستا ــــ يَا مُوسَىٰ ــــ اې موسى!

روانه ژباړه

«الله وفرمايل: اې موسى! ستا غوښتنه درکړل شوه»

تفسير

د أُوتِيتَ معنا ده:

«تا ته درکړل شوه»

او سُؤْلَكَ معنا ده:

ستا غوښتنه، هغه څه چې تا وغوښتل.

يعني الله تعالى موسى عليه السلام ته ډاډ ورکوي چې د هغه دعا قبوله شوه او هغه مرستې چې غوښتې يې، ورسره به وي.

د آیت مهم درس

کله چې بنده په اخلاص له الله څخه مرسته وغواړي، الله د هغه دعا اوري. سخت کار د الله په مرسته اسانه کېدای شي.

======================================

د سورت طه – ۳۷ آیت

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ(۳۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل چې ستا غوښتنه درکړل شوه.

اوس الله تعالی هغه ته وړیه یادوي چې دا لومړی ځل نه دی چې پر تا مو ځانګړې مهرباني او پېرزوینه کړې ده؛ له دې مخکې مو هم ستا مرسته او ساتنه کړې وه.

لفظي ژباړه

وَلَقَدْ — او یقیناً — مَنَنَّا — موږ احسان کړی و — عَلَيْكَ — پر تا — مَرَّةً — یو ځل — أُخْرَىٰ — بل

روانه ژباړه

«او یقیناً له دې مخکې مو هم پر تا احسان کړی و»

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ﴾

د مَنَنَّا معنا دلته ده:

پېرزوینه کول،احسان کول، نعمت ورکول او ځانګړې مهرباني کول.

یعني الله تعالی موسی علیه السلام ته ورپه یادوي چې د هغه مرسته او احسان یوازې اوس نه دی پیل شوی، بلکې له پخوا څخه الله د هغه ساتنه کوله.

بیا فرمايي:

﴿مَرَّةً أُخْرَىٰ﴾

«یو بل ځل / له دې مخکې»

په راتلونکو آیتونو کې الله تعالی هماغه پخوانۍ پېرزوینه بیانوي: کله چې موسی علیه السلام لا ماشوم و او ژوند یې له خطر سره مخ و، الله تعالی په ځانګړي ډول د هغه ساتنه وکړه.

د آیت مهم درس

کله چې انسان د راتلونکي له سخت کار څخه وېرېږي، د الله پخوانۍ مرستې او نعمتونه ورپه یادول د هغه باور پیاوړی کوي: هغه الله چې مخکې یې مرسته کړې، اوس هم د مرستې قدرت لري.

==========================================

د سورت طه – ۳۸ آیت

إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰ(۳۸)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته ورپه یاد کړل چې له دې مخکې مو هم پر تا ځانګړې پېرزوینه او احسان کړی و.

اوس د هماغې پخوانۍ پېرزوينې بيان پيلوي: کله چې موسی علیه السلام لا ماشوم و، الله تعالی د هغه مور ته ځانګړې لارښوونه وکړه چې څه وکړي.

## لفظي ژباړه

إِذْ — کله چې — أَوْحَيْنَا — مور الهام وکړ / لارښوونه مو وکړه — إِلَىٰ أُمِّكَ — ستا مور ته — مَا — هغه څه — يُوحَىٰ — چې الهام کېدل / وحی کېدل.

## روانه ژباړه

کله چې مور ستا مور ته هغه ځانګړې لارښوونه وکړه چې باید ورته وشي.

يا:

«کله چې مور ستا مور ته په الهام سره لارښوونه وکړه»

## تفسير

د أَوْحَيْنَا معنا دلته دا نه ده چې د موسی علیه السلام مور نبي وه.

بلکې مطلب دا دی چې الله تعالی د هغې په زړه کې ځانګړې لارښوونه واچوله او ورته يې وښودله چې خپل ماشوم څنګه وژغوري.

بيا فرمايي:

﴿مَا يُوحَىٰ﴾

«هغه څه چې ورته الهام کېدل»

راتلونکی آيت به دا لارښوونه په تفصيل بيان کړي: ماشوم په يوه صندوق کې کېږده او بيا يې سيند ته وسپاره.

## د آيت مهم درس

الله تعالی د خپل بنده د ساتنې لپاره داسې لارې برابروې چې انسان يې تصور هم نه شي کولای.

======================================

د سورت طه ــ ۳۹ آيت

أَنِ اقْذِفِيهِ فِي التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ ۚ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي(۳۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی وفرمايل چې د موسی عليه السلام مور ته يې ځانګړې لارښوونه وکړه.

اوس په دې آيت کې هماغه لارښوونه په تفصيل سره بيانوي: ماشوم په يوه صندوق کې کېږده، بيا يې سيند ته وسپاره. الله به سيند داسې روان کړي چې ماشوم به د سيند غاړې يا ساحل ته ورسيږي او د فرعون خلک به يې واخلي. ورسره الله تعالی فرمايي چې پر موسی عليه السلام يې ځانګړې مينه اچولې وه او د خپلې ځانګړې ساتنې لاندې يې لوياوه.

لفظي ژباړه

أَنِ ــــ چې ــــ اقْذِفِيهِ ــــ هغه کېږده ــــ فِي التَّابُوتِ ــــ په صندوق کې ــــ فَاقْذِفِيهِ ــــ بيا هغه واچوه ــــ فِي الْيَمِّ ــــ په سيند کې ــــ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ ــــ نو سيند به هغه وغورځوي ــــ بِالسَّاحِلِ ــــ غاړې ته ــــ يَأْخُذْهُ ــــ هغه به واخلي ــــ عَدُوٌّ لِّي ــــ زما دښمن ــــ وَعَدُوٌّ لَّهُ ــــ او د هغه دښمن ــــ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ ــــ او ما پر تا واچوله ــــ مَحَبَّةً مِّنِّي ــــ له خپل لوري مينه ــــ وَلِتُصْنَعَ ــــ ترڅو وروزل شې ــــ عَلَىٰ عَيْنِي ــــ زما تر ځانګړې ساتنې لاندې.

روانه ژباړه

هغه په يوه صندوق کې کېږده، بيا يې سيند ته وسپاره. سيند به يې غاړې ته ورسوي، هلته به زما دښمن او د هغه دښمن هغه واخلي. او ما پر تا له خپل لوري ځانګړې مينه اچولې وه، ترڅو زما تر ځانګړې ساتنې لاندې وروزل شې.

تفسير

د التَّابُوت معنا ده: صندوق، بکس، يا داسې تړلی شی چې ماشوم پکې کېښودل شي.

او الْيَمّ دلته د سيند معنا لري:

الله تعالی د موسی عليه السلام مور ته داسې يو کار ور وښود چې د ظاهر له مخې ډېر خطرناک ښکارېده، خو حقيقت کې د همدې لارې الله د موسی عليه السلام د ژغورنې انتظام کړی و.

بيا فرمايي:

﴿يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ﴾

«هغه به زما دښمن او د موسی دښمن واخلي»

دا فرعون ته اشاره ده.

بيا فرمايي:

﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي﴾

«ما پر تا له خپل لوري مينه واچوله»

مطلب دا دی چې الله تعالی د موسی عليه السلام لپاره د خلکو په زړونو کې ځانګړې مينه او قبوليت پيدا کړ.

او:

﴿وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي﴾

«ترڅو زما تر ځانګړې څارنې او ساتنې لاندې وروزل شې»

مطلب دا دی چې موسی علیه السلام د الله د ځانګړې پاملرنې، ساتنې او تدبیر لاندې لويېده.

د آيت مهم درس

کله ناکله د الله د ساتنې لاره د انسان له ظاهري حساب سره عجيبه ښکاري، خو د الله تدبير تر ټولو دقيق وي. هغه «جل جلاله» موسی علیه السلام د خپل دښمن کور ته ورساوه، خو بيا يې هم د خپل ځانګړې حفاظت لاندې وساته.

=======================================

د سورت طه – ۴۰ آيت

إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ(۴۰)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته ورپه ياد کړل چې څنګه يې د ماشوموالي پر مهال وساته، د خلکو په زړونو کې يې ورته مينه واچوله او د خپلې ځانګړې ساتنې لاندې يې وروزه.

اوس الله تعالی دا کيسه نوره هم پرمخ وړي: د موسی علیه السلام خور ورپسې روانه شوه،د هغه د څارلو لپاره، هغه يې ببرته خپلې مور ته

ورساوه، بيا يې له يوې بلې سختۍ پېښې څخه وژغوره، په مدين کې يې کلونه تېر کړل، او وروسته په ټاکلي وخت بېرته راغی.

## لفظي ژباړه

إِذْ — کله چې — تَمْشِي أُخْتُكَ — ستا خور روانه وه(يعني د موسی ع خور د هغه د څارلو دپاره د سيند په غاړه ورسره روانه،چې څه به کيږي،څو کله چې د فرعون کور ته ورسيدو،او هلته يې د چا شيده نه خوړل) — فَتَقُولُ — نو(د فرعون خلکو ته) هغې وويل — هَلْ أَدُلُّكُمْ — آيا تاسو ته وښيم — عَلَىٰ مَن — هغه څوک چې — يَكْفُلُهُ — د هغه پالنه وکړي — فَرَجَعْنَاكَ — نو موږ ته بېرته راوګرځولې — إِلَىٰ أُمِّكَ — خپلې مور ته — كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا — ترڅو د هغې سترګې يخې شي / زړه يې ډاډه شي — وَلَا تَحْزَنَ — او غمجنه نه شي — وَقَتَلْتَ نَفْسًا — او تا يو کس وواژه — فَنَجَّيْنَاكَ — نو موږ وژغورلې — مِنَ الْغَمِّ — له غم او کړاو څخه — وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا — او موږ ته په ډېرو ازموينو وازموېلې — فَلَبِثْتَ سِنِينَ — نو ته کلونه پاتې شوې — فِي أَهْلِ مَدْيَنَ — د مدين د خلکو په منځ کې — ثُمَّ جِئْتَ — بيا ته راغلې — عَلَىٰ قَدَرٍ — په ټاکلي وخت — يَا مُوسَىٰ — اې موسی!

## روانه ژباړه

کله چې ستا خور روانه وه(يعني د موسی ع خور د هغه د څارلو دپاره د سيند په غاړه ورسره روانه،چې څه به کيږي،څو کله چې د فرعون کور ته ورسيدو،او هلته يې د چا شيده نه خوړل نو) ويې ويل: آيا تاسو ته داسې څوک وښيم چې د دې ماشوم پالنه وکړي؟ نو موږ ته بېرته خپلې مور ته ورسولې، څو د هغې زړه ډاډه شي او غمجنه نه وي. بيا تا يو کس وواژه، نو موږ له غم او کړاو څخه وژغورلې او په ډېرو ازموينو مو وازمويلې. بيا دې د مدين له خلکو سره څو کاله تېر کړل، او وروسته، اې موسی!، په ټاکلي وخت بېرته راغلې.

تفسير

﴿إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ﴾

کله چې موسی علیه السلام ماشوم و او د فرعون کور ته ورسېد، د هغه خور له لرې د حال څارنه کوله. ماشوم د نورو ښځو شیدې نه منلې، نو د موسی علیه السلام خور په هوښیارۍ وویل: «ایا تاسو ته داسې څوک وښیم چې د دې ماشوم ښه پالنه وکړي»؟

همداسې موسی علیه السلام بېرته خپلې مور ته ورسېد.

﴿فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ﴾

یعنې: «موږ ته بېرته خپلې مور ته ورسولې، څو د هغې سترګې یخې او زړه یې ډاډه شي او غمجنه پاتې نه شي»

دلته تَقَرَّ عَيْنُهَا یوه عربي اصطلاح ده، معنا یې دا ده چې د مور زړه آرام او خوشحال شي.

بیا آیت د موسی علیه السلام د ژوند بلې دورې ته ځي:

﴿وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ﴾

کله چې موسی علیه السلام لوی شو، په یوه شخړه کې یې یو سړی په ناپامۍ وواژه. دا قصدي قتل نه و. له دې پېښې وروسته موسی علیه السلام سخت اندېښمن شو او د فرعون له خلکو څخه هم وېرېده.

الله تعالی فرمايي: «موږ ته له هغه غم او خطر څخه وژغورلې»

بیا:

﴿وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا﴾

یعنې: «او موږ ته د بېلابېلو ازموينو څخه تېر کړې»

د موسی علیه السلام ژوند یو پر بل پسې د ازموینو ډک و: د ماشوموالي خطر، د فرعون په کور کې لویېدل، د سړي د وژل کېدو پېښه، له مصر څخه وتل، او په مدین کې ژوند. دا ټول پړاوونه د هغه د راتلونکي رسالت لپاره د چمتووالي برخه وه.

بیا:

﴿فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ مَدْيَنَ﴾

یعنې موسی علیه السلام له مصر څخه ووت او څو کاله په مدین کې پاتې شو. هلته یې ژوند وکړ، واده یې وکړ او د ژوند تجربه یې تر لاسه کړه.

وروسته:

﴿ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ﴾

یعنې: «بیا، اې موسی، ته په هماغه ټاکلي وخت راغلې»

مطلب دا دی چې د موسی علیه السلام د طور د غره دې ځای ته راتګ تصادفي نه و. الله تعالی د هغه د ژوند ټول پړاوونه داسې برابر کړي وو چې په هماغه مناسب وخت د نبوت او فرعون ته د لیږلو لپاره چمتو شي.

نو د ټول آیت ساده لنډ مفهوم دا دی:

الله تعالی موسی علیه السلام ته وايي: ما له ماشومتوبه تر دې شېبې پورې ستا ساتنه کړې ده—مور ته مې بېرته ورسولې، له خطره مې وژغورلې، په ازموینو کې مې وروزلې، په مدین کې دې کلونه تېر کړل، او اوس مې په ټاکلي وخت د نبوت لپاره دلته راوستی یې.

<u>د آیت مهم درس</u>

د موسی علیه السلام د ژوند هر پړاو ــــماشومتوب، خطر، غم، هجرت، مدین او بیا راستنېدلـــد الله د تدبیر برخه وه. کله ناکله انسان په هماغه وخت نه پوهېږي چې ولې له یوې ازموینې تېرېږي، خو وروسته څرګندېږي چې الله هغه د یوه لوی مقصد لپاره چمتو کاوه.

========================================

د سورت طه ــ ۴۱ آیت

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي(۴۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته د هغه د ژوند بېلابېل پړاوونه ورپه یاد کړل: خپلې مور ته یې بېرته ورساوه، له غم او خطر څخه یې وژغوره، په بېلابېلو ازموینو یې تېر کړ، په مدین کې یې کلونه تېر کړل او بیا په ټاکلي وخت راغی.

اوس الله تعالی د دې ټولو تر شا ستر مقصد بیانوي: موسی علیه السلام یې په ځانګړي ډول د خپل رسالت او د خپل دین د خدمت لپاره غوره او چمتو کړی و.

لفظي ژباړه

وَاصْطَنَعْتُكَ ــــ او ما ته په ځانګړي ډول غوره او چمتو کړې ــــ

لِنَفْسِي ــــ د خپل ځان لپاره(د خپل رسالت لپاره).

روانه ژباړه

«او ما ته د خپل رسالت لپاره په ځانګړي ډول غوره او چمتو کړې»

تفسیر

الله تعالی فرمایي:

﴿وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي﴾

د اصْطَنَعْتُكَ په کلمه کې یوازې د «غوره کولو» معنا نه ده، بلکې د یو ځانګړي مقصد لپاره د چا غوره کول، پالل او چمتو کول هم پکې شامل دي.

یعنې د موسی علیه السلام د ژوند ټولې پخوانۍ پېښې بې‌مقصده نه وې. الله تعالی هغه له ماشومتوبه ساتلی و، له سختیو او ازموینو یې تېر کړی و او د یوه ستر مسئولیت لپاره یې چمتو کاوه.

لِنَفْسِي لفظاً معنا لري:

«د خپل ځان لپاره»

مطلب دا نه دی چې الله تعالی موسی علیه السلام ته اړتیا درلوده؛ الله تعالی له هرې اړتیا څخه پاک دی.

مطلب دا دی چې الله تعالی موسی علیه السلام د خپل دین، خپل پیغام او هغه ځانګړي رسالت لپاره غوره کړی و چې ده ته یې سپارلو.

د آیت مهم درس

د موسی علیه السلام د ژوند سختۍ او ازموینې بې‌هدفه نه وې؛ الله تعالی هغه د یوه ستر رسالت لپاره روزه او چمتو کاوه.

==========================================

د سورت طه – ۴۲ آیت

اذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي(۴۲)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل چې ما ته د خپل رسالت لپاره په ځانګړي ډول غوره او چمتو کړی یې.

اوس الله تعالی موسی علیه السلام او هارون علیه السلام دواړو ته امر کوي: زما له نښنو سره یوځای لاړ شئ، او زما په یاد کې سستي او کمزوري مه کوئ.

## لفظي ژباړه

اذْهَبْ ــــ ورشه ــــ أَنتَ ــــ ته ــــ وَأَخُوكَ ــــ او ستا ورور ــــ بِآيَاتِي ــــ زما له نښنو سره ــــ وَلَا تَنِيَا ــــ او تاسو دواړه سستي مه کوئ / کمزوري کېږئ مه ــــ فِي ذِكْرِي ــــ زما په یاد کې.

## روانه ژباړه

ته او ستا ورور زما له نښنو سره لاړ شئ، او زما په یاد کې هېڅ سستي مه کوئ.

## تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿اذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي﴾

«ته او ستا ورور زما له نښنو سره لاړ شئ»

موسی علیه السلام اوس یوازې نه ځي؛ هارون علیه السلام به هم ورسره وي.

د بِآيَاتِي معنا ده:

«زما له نښنو سره»

په دې نښنو کې هغه معجزې هم شاملې دي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته ورکړې وې، لکه د امسا په مار بدلېدل او د لاس روښانه کېدل.

بیا فرمايي:

﴿وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي﴾

د تَنِيَا معنا ده:

سستي كول، كمزوري كېدل، يا په كار كې شاته پاتې كېدل.

نو الله تعالى دواړو ورونو ته وايي چې د فرعون د سخت ماموريت له امله دې د الله په ياد كې سستي نه كوي.

د آيت مهم درس

كله چې انسان له سترې او سختې دندې سره مخ وي، تر ټولو لوى قوت دا دى چې له الله سره خپله اړيكه او د هغه ياد ژوندى وساتي.

==========================================

د سورت طه ــ ۴۳ آيت

اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ(۴۳)

د مخكيني آيت سره اړيكه

په مخكيني آيت كې الله تعالى موسى او هارون عليهما السلام ته امر وكړ چې د هغه له نښو سره لاړ شي او د الله په ياد كې سستي ونه كړي.

اوس الله تعالى دواړو ورونو ته په څرګنده وايي چې چېرته لاړ شي او ولې: فرعون ته لاړ شئ، ځكه هغه سركښ شوى او له حده اوښتى دى.

لفظي ژباړه

اذْهَبَا ــــ تاسو دواړه لاړ شئ ــــ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ ــــ فرعون ته ــــ إِنَّهُ ــــ بېشكه هغه ــــ طَغَىٰ ــــ سركښ شوى / له حده اوښتى دى.

روانه ژباړه

تاسو دواړه فرعون ته لاړ شئ؛ بېشکه هغه سرکښ شوی او له حده اوښتی دی.

تفسیر

الله تعالی فرمايي

﴿اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ﴾

د اذْهَبَا کلمه د دوو کسانو لپاره ده.

«تاسو دواړه لاړ شئ»

په ۲۴ آیت کې الله تعالی یوازې موسی علیه السلام ته ویلي وو:

﴿اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ﴾

«فرعون ته ورشه»

خو موسی علیه السلام وروسته له الله څخه وغوښتل چې ورور يې هارون علیه السلام ورسره مرستندوی او په ماموریت کې شریک کړي.

کله چې الله تعالی د هغه غوښتنه ومنله، اوس دواړو ته وايي:

﴿اذْهَبَا﴾ ــــ «تاسو دواړه لاړ شئ»

بیا فرمايي:

﴿إِنَّهُ طَغَىٰ﴾

د طَغَىٰ معنا ده:

سرکښ کېدل، له حده اوښتل، په کبر، ظلم او نافرمانۍ کې وړاندې تلل.

فرعون په ظلم او تکبر کې له حده اوښتی و او د الله د حق په وړاندې يې سرکښي کوله.

د آیت مهم درس

موسی علیه السلام چې د مرستندوی غوښتنه وکړه، الله یې غوښتنه ومنله؛ نو اوس هغه سخت ماموریت موسی او هارون علیهما السلام په ګډه پر مخ وړي.

او راتلونکی آیت یو ډېر مهم اصل بیانوي: له دومره سرکښ فرعون سره هم باید د حق خبره په کوم انداز وشي.

========================================

د سورت طه ــ ۴۴ آیت

فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ(۴۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی موسی او هارون علیهما السلام ته امر وکړ چې فرعون ته لاړ شي، ځکه هغه سرکښ شوی او له حده اوښتی و.

اوس الله تعالی هغوی ته دا ورښيي چې فرعون ته د حق خبره په کومه طریقه ورسوي.

سره له دې چې فرعون ډېر ظالم، متکبر او سرکښ و، الله تعالی ورته امر وکړ چې په پیل کې ورسره په نرمۍ خبرې وکړي؛ ځکه مقصد یوازې دا نه و چې په بحث کې یې مات کړي، بلکې مقصد دا و چې حق ورته ورسېږي، ښايي پند واخلي او له الله څخه ووېرېږي.

لفظي ژباړه

فَقُولَا ــــ نو تاسو دواړه ووایئ ــــ لَهُ ــــ هغه ته ــــ قَوْلًا ــــ خبره ــــ لَّيِّنًا ــــ نرمه ــــ لَّعَلَّهُ ــــ ښايي هغه ــــ يَتَذَكَّرُ ــــ پند واخلي / نصيحت ومني ــــ أَوْ ــــ يا ــــ يَخْشَىٰ ــــ ووېرېږي.

## روانه ژباړه

نو تاسو دواړه له هغه سره په نرمۍ خبرې وکړئ، ښايي پند واخلي يا له الله څخه ووېرېږي.

## تفسير

الله تعالی فرمايي

﴿فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا﴾

د لَيِّنًا معنا ده:

نرم، ملايم او له بېځايه سختۍ څخه خالي.

دلته د پام وړ خبره دا ده چې موسی او هارون عليهما السلام يوه عادي انسان ته نه، بلکې فرعون ته لېږل کېدل؛ هغه فرعون چې ظلم يې کړی و، سرکښ شوی و او په تکبر کې له حده اوښتی و.

سره له دې، الله تعالی ورته ونه ويل چې په سپکو، توهين کوونکو او سختو الفاظو ورسره خبرې وکړئ، بلکې ويې فرمايل:

حق ورته ووايئ، خو په نرم او حکيمانه انداز.

بيا فرمايي:

﴿لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ﴾

د يَتَذَكَّرُ معنا دلته يوازې «يادول» نه ده، بلکې:

پند اخيستل، نصيحت ته متوجه کېدل، فکر کول او حقيقت ته راګرځېدل.

بیا فرمايي:

﴿أَوْ يَخْشَىٰ﴾

«یا ووېرېږي»

دلته خشيت يوازې عادي وېره نه ده؛ بلکې داسې وېره ده چې د الله د عظمت او د خپل عمل د پايلې له درک کولو څخه پيدا کيږي.

نو د آيت يو مهم اصل دا شو:

په حق کې ټينګوالی او په خبرو کې نرمي يو د بل مخالف نه دي.

<u>دا آيت زموږ د نننۍ ژوند لپاره ډېر عملي درس لري:</u>

کله چې موږ اولاد ته نصيحت کوو، له خپلوانو سره د يوې غلطۍ په اړه خبرې کوو، شاګرد ته لارښوونه کوو، د دين دعوت کوو، يا له داسې چا سره خبرې کوو چې زموږ له نظر سره سخت مخالف وي، هدف بايد يوازې دا نه وي چې مقابل کس مات يا شرمنده کړو.

هدف بايد دا وي چې خبره يې زړه او عقل ته ورسيږي.

کله کله زموږ خبره سمه وي، خو طريقه مو ناسمه وي. سپکاوی، ملنډې، قهر او بېځايه سختي ممکن مقابل کس دې ته اړ کړي چې د حق د اورېدو پر ځای يوازې له ځانه دفاع پيل کړي.

خو دا هم بايد واضح وي:

نرمي د حق پرېښودل نه دي.

موسی عليه السلام فرعون ته د دې لپاره نه لېږل کېده چې د هغه ظلم ومني؛ بلکې د هغه د سرکښۍ د اصلاح لپاره لېږل کېده. نو:

په موقف کې ټينګ، خو په بيان کې حکيم او نرم اوسېدل د دې آيت مهم عملي درس دی.

==================================

د سورت طه ــ ۴۵ آیت

قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَن يَطْغَىٰ(۴۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی او هارون عليهما السلام ته امر وکړ چې له فرعون سره په نرمۍ خبرې وکړي، ښايي پند واخلي يا له الله څخه ووېرېږي.

اوس دواړه پيغمبران خپله طبيعي وېره بيانوي: وېرېږو چې فرعون به ژر زموږ پر ضد اقدام وکړي، يا به لا ډېر سرکښ شي.

لفظي ژباړه

قَالَا ــــ هغوی دواړو وويل ــــ رَبَّنَا ــــ اې زموږ ربه ــــ إِنَّنَا ــــ بېشکه موږ ــــ نَخَافُ ــــ وېرېږو ــــ أَن يَفْرُطَ ــــ چې هغه به ژر سخت اقدام وکړي ــــ عَلَيْنَا ــــ پر موږ(زمونږ په ضد) ــــ أَوْ ــــ يا ــــ أَن يَطْغَىٰ ــــ به لا ډېر سرکښ شي.

روانه ژباړه

دوی دواړو وويل: اې زموږ ربه! موږ وېرېږو چې فرعون به ژر زموږ پر ضد سخت اقدام وکړي، يا به لا ډېر سرکښ شي.

تفسير

موسی او هارون عليهما السلام وايي:

﴿رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ﴾

«اې زموږ ربه! موږ وېرېږو»

دا ښيي چې د خطر په وړاندې وېره احساسول د ايمان کمزوري نه ده.

دوی د خپل وخت له یوه ډېر ځواکمن او ظالم واکمن سره مخ کېدل، نو وېره یې طبیعي وه.

بیا وایي:

﴿أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ﴾

د يَفۡرُطَ معنا دلته ده.

ژر په سختۍ اقدام کول، له حده مخکې تلل، یا مخکې له دې چې خبره واوري زیان رسول.

یعني دوی وېرېدل چې فرعون ښايي د پیغام د اورېدو پر ځای سمدستي د دوی د نیولو یا سزا ورکولو هڅه وکړي.

بیا وایي:

﴿أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ﴾

«یا لا ډېر سرکښ شي»

یعني ښايي د حق په اورېدو سره نور هم په کبر، ظلم او مخالفت کې مخکې ولاړ شي.

موسی او هارون علیهما السلام خپله وېره له الله څخه نه پټوي، بلکې هماغه وېره الله ته وړاندې کوي.

اوسني وخت کې هم:

کله چې انسان له سخت مجلس، ظالم کس، قوي مشر، کورني اختلاف، یا داسې حالت سره مخ شي چې پایله یې خطرناکه ښکاري، طبیعي ده چې زړه یې ووېرېږي.

اسلام دا نه وايي چې مؤمن باید هېڅکله وېره احساس نه کړي.

بلکې درس دا دی:

وېره ومنه، الله ته يې ووايه، د حکمت له مخې چمتووالی ونيسه، او د حق کار مه پرېږده.

زړورتيا دا نه ده چې انسان هېڅ وېره ونه لري؛ زړورتيا دا ده چې له وېرې سره سره، د الله په مرسته او حکمت، حق کار ترسره کړي.

======================================

د سورت طه – ۴۶ آيت

قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ(۴۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی او هارون عليهما السلام الله تعالی ته وويل چې موږ وېرېږو، هسې نه فرعون زموږ پر ضد ژر سخت اقدام وکړي يا لا ډېر سرکښ شي.

اوس الله تعالی دواړو ته ډاډ ورکوي:

«مه وېرېږئ؛ زه له تاسو دواړو سره يم، اورم او وينم»

لفظي ژباړه

قَالَ — هغه«جل جلاله» و فرمايل — لَا تَخَافَا — تاسو دواړه مه وېرېږئ — إِنَّنِي — بېشکه زه — مَعَكُمَا — له تاسو دواړو سره يم — أَسْمَعُ — اورم — وَأَرَىٰ — او وينم.

روانه ژباړه

الله تعالی وفرمايل: تاسو دواړه مه وېرېږئ؛ بېشکه زه له تاسو دواړو سره يم، هر څه اورم او وينم.

تفسير

الله تعالی فرمايي:

﴿لَا تَخَافَا﴾

«تاسو دواړه مه وېرېږئ»

دا خطاب موسی او هارون علیهما السلام دواړو ته دی.

بیا فرمايي:

﴿إِنَّنِي مَعَكُمَا﴾

«بېشکه زه له تاسو دواړو سره یم»

دلته د الله معیت د هغه د علم، ساتنې، مرستې او ملاتړ معنا ورکوي.

یعنې تاسو فرعون ته یوازې نه ځئ؛ زما مرسته او ساتنه درسره ده.

بیا فرمايي:

﴿أَسْمَعُ وَأَرَىٰ﴾

«زه اورم او وینم»

یعنې:

الله تعالی د فرعون خبرې هم اوري او د هغه ټول کارونه هم ویني.

نو موسی او هارون علیهما السلام ته ډاډ ورکول کېږي چې هېڅ شی د الله له علم او نظره بهر نه دی.

<u>همدا زموږ د نننۍ ژوند لپاره هم مهم درس دی</u>. کله چې انسان له یوه سخت کس، ظلم، دروند مسئولیت یا وېرونکي حالت سره مخ وي، دا یقین زړه ته قوت ورکوي چې الله زما حالت ویني، خبرې اوري او له هر څه خبر دی.

البته دا مطلب نه دی چې انسان دې عملي تدبیر او احتیاط پرېږدي؛ بلکې لازمه تیاري او تدبیر به کوي، خو زړه به یې پر الله متکي وي.

===========================================

د سورت طه – ۴۷ آیت

فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۖ قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكَ ۖ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ(۴۷)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی او هارون علیهما السلام ته ډاډ ورکړ چې مه ویرېږئ، زه درسره یم، اورم او وینم.

اوس ورته په څرګنده وربنيي چې فرعون ته څه ووايي: ځانونه د الله استازي ورووپېژني، د بني اسرائيلو د آزادولو غوښتنه ترې وکړي او ورته ووايي چې نور هغوی مه ځوروه.

لفظي ژباړه

فَأْتِيَاهُ — نو تاسو دواړه هغه ته ورشئ — فَقُولَا —او(ورته) ووايئ — إِنَّا — بېشکه موږ — رَسُولَا رَبِّكَ — ستا د رب دوه استازي يو — فَأَرْسِلْ مَعَنَا — نو زموږ سره ولېږه — بَنِي إِسْرَائِيلَ — بني اسرائيل — وَلَا تُعَذِّبْهُمْ — او هغوی مه عذابوه / مه ځوروه — قَدْ جِئْنَاكَ — يقيناً موږ تا ته راغلي يو — بِآيَةٍ — له يوې نښې سره — مِّن رَّبِّكَ — ستا د رب له لوري — وَالسَّلَامُ — او سلامتي — عَلَىٰ مَنِ — پر هغه چا ده چې — اتَّبَعَ الْهُدَىٰ — د هدايت پيروي وکړي.

روانه ژباړه

نو دواړه هغه ته ورشئ او ورته ووايئ: موږ ستا د رب دوه استازي يو؛ بني اسرائيل له موږ سره پرېږده او نور يې مه ځوروه. موږ ستا د

رب له لوري له يوې نښې سره درته راغلي يو، او سلامتي پر هغه چا ده چې د هدايت پیروي وکړي.

## تفسير

سره له دې چې الله تعالی دوی ته د نرمې خبرې امر کړی و، پيغام يې ډېر روښانه او ټينګ و: فرعون ته يې وويل «موږ ستا د رب استازي يو»؛ يعنې ته رب نه يې، بلکې رب لرې.

بيا يې د بني اسرائيلو د آزادولو او د هغوی د ځورولو د بندولو غوښتنه وکړه. نو دلته د الله لوري ته بلنه او د مظلوم د حق غوښتنه دواړه يو ځای دي.

او ﴿وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ﴾ ښيي چې حقيقي سلامتي د الله د هدايت په پيروۍ کې ده.

د دې آيت درس دا دی: نرمي کمزوري نه ده؛ انسان کولای شي په ادب او نرمۍ خبرې وکړي، خو د حق او عدالت په خبره کې روښانه او ټينګ پاتې شي.

==================================

د سورت طه – ۴۸ آيت

إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ(۴۸)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی او هارون عليهما السلام فرعون ته د بني اسرائيلو د خوشې کولو او د هغوی د نه ځورولو پيغام رسوي.

اوس يو ښکاره خبرداری هم ورکوي: عذاب د هغه چا لپاره دی چې حق دروغ وګڼي او ترې مخ واړوي.

لفظي ژباړه

إِنَّا ـــ بېشکه موږ ـــ قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا ـــ يقيناً موږ ته وحی شوې ده ـــ
أَنَّ ـــ چې ـــ الْعَذَابَ ـــ عذاب ـــ عَلَىٰ مَن ـــ هغه چا ته دی چې
ـــ كَذَّبَ ـــ دروغ يې وګڼلو(حق) / انکار يې وکړ(د حق نه) ـــ
وَتَوَلَّىٰ ـــ او مخ يې واړاوه(د حق نه)

روانه ژباړه

بېشکه موږ ته وحی شوې ده چې عذاب د هغه چا لپاره دی چې حق دروغ وګڼي او ترې مخ واړوي.

تفسير

كَذَّبَ يعنې: حق دروغ ګڼل او ردول.

تَوَلَّىٰ يعنې: له حقه مخ اړول او د هغه له پيروی ځان ساتل.

نو آيت يوازې د شک يا پوښتنې خبره نه کوي، بلکې د داسې کس خبره کوي چې حق رد کړي او بيا ترې په قصدي ډول مخ واړوي.

درس: حق يوازې پېژندل نه، بلکې منل او پيروي کول هم غواړي.

==========================================

د سورت طه ــ ۴۹ آيت

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَا مُوسَىٰ(۴۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی او هارون عليهما السلام فرعون ته خبرداری ورکړ چې عذاب د هغه چا لپاره دی چې حق رد کړي او ترې مخ واړوي.

اوس فرعون پوښتنه کوي:

«نو اې موسی! ستاسو دواړو رب څوک دی؟»

لفظي ژباړه

قَالَ —(فرعون) و ویل — فَمَن — نو څوک دی — رَبُّكُمَا — ستاسو دواړو رب — يَا مُوسَىٰ — اې موسی!

روانه ژباړه

«فرعون وویل: اې موسی! نو ستاسو دواړو رب څوک دی؟»

تفسير

د رَبُّكُمَا معنا ده:

«ستاسو دواړو رب»

فرعون غواړي پوه شي چې موسی او هارون علیهما السلام د کوم رب خبره کوي.

راتلونکی آیت به د موسی علیه السلام ډېر روښانه ځواب بیان کړي:
الله هغه ذات دی چې هر شي ته یې خپل جوړښت او ځانګړتیا
ورکړې، بیا یې ورته لارښوونه کړې ده.

لنډ درس: د عقیدې په خبرو کې روښانه تعریف تر اوږده بحث ډېر مهم وي.

======================================

د سورت طه – ۵۰ آیت

قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ(۵۰)

د مخکینی آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې فرعون له موسی علیه السلام څخه وپوښتل:

«نو ستاسو دواړو رب څوک دی؟»

اوس موسی علیه السلام ډېر روښانه ځواب ورکوي: زموږ رب هغه ذات دی چې هر مخلوق ته يې د هغه مناسب جوړښت او ځانګړتیاوې ورکړې، بیا يې هغه ته د ژوند او عمل لار ورروښوده.

## لفظي ژباړه

قَالَ — (موسی علیه السلام) و ویل — رَبُّنَا — زموږ رب — الَّذِي — هغه ذات دی چې — أَعْطَىٰ — ورکړې يې دی — كُلَّ شَيْءٍ — هر شي ته — خَلْقَهُ — د هغه جوړښت / پیدایښت — ثُمَّ هَدَىٰ — بیا يې لارښوونه(ورته) وکړه.

## روانه ژباړه

موسی علیه السلام وویل: زموږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته يې خپل مناسب جوړښت ورکړ، بیا يې لارښوونه ورته وکړه.

تفسیر

﴿أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ﴾ یعنې الله تعالی هر مخلوق ته هغه بڼه، جوړښت او ځانګړتیاوې ورکړې چې د هغه له ژوند سره مناسبې دي.

بیا فرمايي:

﴿ثُمَّ هَدَىٰ﴾

یعنې الله تعالی هر مخلوق ته د هغه د ژوند او کار لارښوونه هم ورکړې ده.

په حیواناتو کې ډېر طبیعي چلندونه شته چې د بقا لپاره يې کاروي، او انسان ته الله عقل او ورسره وحې هم ورکړې ده.

د نني وخت له نظره، ساينس موږ ته دا بيانولای شي چې د ژوندي موجوداتو بدنونه او طبيعي سيستمونه څنګه کار کوي؛ خو آيت زموږ پام دې ته رااړوي چې دا جوړښتونه، ورتياوي او هدايت د چا له لوري دی.

لنډ درس: حقيقي رب هغه دی چې پيدا کول کوي، مناسب جوړښت ورکوي او لارښوونه کوي.

========================================

د سورت طه ـــ ۵۱ آيت

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَىٰ

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی عليه السلام وفرمايل چې الله هغه ذات دی چې هر څه يې پيدا کړي او بيا يې لارښوونه ورته کړې ده.

اوس فرعون د خبرو لوری بدلوي او د پخوانيو خلکو په اړه پوښتنه کوي:

«نو د پخوانيو نسلونو حال څه دی؟»

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ (فرعون) و ويل ـــ فَمَا ـــ نو څه وو ـــ بَالُ ـــ حال ـــ الْقُرُونِ ـــ د نسلونو ـــ الْأُولَىٰ ـــ پخوانيو؟

روانه ژباړه

«فرعون وويل: نو د پخوانيو نسلونو حال څه دی؟»

تفسير

د بَالُ معنا دلته ده: حال، وضعيت، يا د چا د حالت پوښتنه.

فرعون پوښتي چې هغه پخواني خلک چې له دوی مخکې تېر شوي، د هغوی حالت څه دی؟

دلته هغه د موسی علیه السلام د اصلي خبرې نه بلې موضوع ته ځي. موسی علیه السلام ورته واضح ځواب ورکړی و چې الله تعالی خالق او لارښود دی، خو فرعون بحث پخوانیو نسلونو ته اړوي.

د نن لپاره لنډ درس دا دی: کله کله په بحث کې خلک د اصلي موضوع پر ځای فرعي پوښتنو ته ځي؛ ښه طریقه دا ده چې اصلي خبره روښانه وساتل شي او بیا اړوندو پوښتنو ته ځواب ورکړل شي.

==========================================

د سورت طه ــ ۵۲ آیت

قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَابٍ ۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى(۵۲)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې فرعون د پخوانیو نسلونو د حال پوښتنه وکړه.

موسی علیه السلام په ارامۍ ځواب ورکوي: د هغوی بشپړ حال او حساب د الله سره ثبت دی؛ الله نه تېروځي او نه هېروي.

لفظي ژباړه

قَالَ ــــ (موسی علیه السلام) و ویل ــــ عِلْمُهَا ــــ د هغوی علم / حال ــــ عِندَ رَبِّي ــــ زما له رب سره دی ــــ فِي كِتَابٍ ــــ په یوه کتاب کې ــــ لَّا يَضِلُّ رَبِّي ــــ زما رب نه تېروځي ــــ وَلَا يَنسَى ــــ او نه هېروي.

روانه ژباړه

موسی علیه السلام وویل: د هغوی بشپړ حال زما له رب سره په یوه کتاب کې ثبت دی؛ زما رب نه تېروځي او نه هېروي.

## تفسیر

موسی علیه السلام د پخوانیو ټولو قومونو په اړه له ځانه اټکل نه کوي، بلکې خبره الله ته سپاري.

﴿لَا يَضِلُّ رَبِّي﴾ یعنې الله نه خطا کیږي، نه د چا حساب تري ورکیږي، او نه په فیصله کې تېروځي.

﴿وَلَا يَنسَى﴾ یعنې الله هېڅ شی نه هېروي.

درس: په هغه څه کې چې موږ ته واضح علم نه وي، اټکل مه کوه؛ د الله علم بشپړ او بېخطا دی.

=====================================

د سورت طه – ۵۳ آیت

الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ(۵۳)

## د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام وفرمایل چې د پخوانیو نسلونو بشپړ علم له الله سره دی؛ هغه نه خطا کیږي او نه هېروي.

اوس قرآن د الله د ربوبیت هغو ښکاره نښو ته پام رااړوي چې انسان یې هره ورځ ویني: ځمکه یې د ژوند لپاره مناسبه کړې، لارې یې پکې برابرې کړې، له آسمانه یې اوبه راولېږلې او په هغو اوبو سره یې د بېلابېلو نباتاتو جوړې او ډولونه راشنه کړل.

## لفظي ژباړه

الَّذِي — هغه ذات چې — جَعَلَ لَكُمُ — ستاسو لپاره يې وګرځوله — الْأَرْضَ — ځمکه — مَهْدًا — د ژوند او آرام مناسب ځای — وَسَلَكَ لَكُمْ — او ستاسو لپاره يې جوړې کړې — فِيهَا — په هغې کې — سُبُلًا — لارې — وَأَنزَلَ — او نازل يې کړي — مِنَ السَّمَاءِ — له آسمانه — مَاءً — اوبه — فَأَخْرَجْنَا بِهِ — نو موږ په هغو سره راوايستې — أَزْوَاجًا — جوړې / ډولونه — مِّن نَّبَاتٍ — د نباتاتو — شَتَّىٰ — بېلابېل / مختلف

## روانه ژباړه

هغه ذات چې ځمکه يې ستاسو لپاره د ژوند مناسب ځای وګرځوله، لارې يې پکې جوړې کړې، له آسمانه يې اوبه راولېږلې، نو موږ په هغو اوبو سره د بېلابېلو نباتاتو جوړې او ډولونه راشنه کړل.

## تفسير

آيت د الله تعالی درې داسې نعمتونه راپه ګوته کوي چې انسان ورسره هره ورځ مخ دی: ځمکه، په هغې کې لارې، او باران چې نباتات پرې راشنه کېږي.

په ﴿أَزْوَاجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ﴾ کې أَزْوَاجًا د جوړو او ډولونو معنا ورکوي، او شَتَّىٰ د هغوی بېلابېلوالي ته اشاره کوي.

دلته يو په زړه پورې ساينسي اړخ هم شته: په ډېرو نباتاتو کې د نسل د زياتېدو لپاره نرينه او ښځينه توليدي برخې موجودې دي. په ځينو ګلونو کې دواړه برخې په يوه ګل کې وي، په ځينو کې په جلا ګلونو کې، او په ځينو نباتاتو کې نر او ښځينه بوټي هم جلا وي. له همدې امله د أَزْوَاجًا «جوړو» تعبير د نباتاتو له توليدي جوړښت سره هم د فکر وړ تراو لري.

د ننني ژوند لپاره آيت موږ ته يادونه کوي چې څمکه، اوبه، لارې، کرنه او نباتات چې زموږ ژوند پرې ولاړ دی، عادي او بېمقصده شيان نه دي؛ انسان بايد د الله نښې پکې ووينې، قدر يې وکړي او په مسئولانه ډول ترې ګټه واخلي.

****************************************************************

د سورت طه ــ ۵۴ آيت

كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ(۵۴)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی ځمکه، باران او بېلابېل نباتات ياد کړل.

اوس د دغو نعمتونو مستقيمه ګټه بيانوي: تاسو ترې خوراک کوئ او خپل څاروي پرې څَروئ. په دې ټولو کې د فکر او عقل خاوندانو لپاره نښې دي.

## لفظي ژباړه

كُلُوا ــــ خورئ ــــ وَارْعَوْا ــــ او څروئ ــــ أَنْعَامَكُمْ ــــ خپل څاروي ــــ إِنَّ ــــ بېشکه ــــ فِي ذَٰلِكَ ــــ په دې کې ــــ لَآيَاتٍ ــــ خامخا نښې دي ــــ لِّأُولِي النُّهَىٰ ــــ د عقل خاوندانو لپاره.

## روانه ژباړه

تاسو ترې وخورئ او خپل څاروي پرې وڅروئ؛ بېشکه په دې کې د عقل د خاوندانو لپاره نښې دي.

## تفسير

الله تعالی انسان ته اجازه ورکوي چې د نباتاتو له نعمتونو خپله هم ګټه واخلي او خپلو څارويو ته هم ترې خوراک ورکړي.

أُولِي النُّهَىٰ يعنې د سالم عقل او ژور فکر خاوندان؛ داسې کسان چې يوازې نعمت نه خوري، بلکې فکر هم کوي چې دا خوراک څنګه او د چا په تدبير ورته برابر شوی دی.

نن هم زموږ خوراک د ځمکې، اوبو، نباتاتو او څارويو له يوه تړلي نظام سره مربوط دی. نو آيت د نعمتونو قدر، د خوراک نه ضايع کول، او د طبيعي سرچينو مسئولانه استعمال را زده کوي.

*****************************************************************

د سورت طه ــ ۵۵ آيت

مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ(۵۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکينيو آيتونو کې الله تعالی ځمکه، باران، نباتات، خوراک او د څارويو څر بيان کړل.

اوس د همدې ځمکې په اړه يو لا ژور حقيقت بيانوي: له همدې څخه مو پيدا کړي ياست، بېرته به همدې ته ستنېږئ، او بيا به له همدې څخه يو ځل بيا راويستل کېږئ.

لفظي ژباړه

مِنْهَا ــ له هغې څخه ــ خَلَقْنَاكُمْ ــ موږ تاسو پيدا کړي ياست ــ وَفِيهَا ــ او په هغې کې ــ نُعِيدُكُمْ ــ به مو بيرته ورګرځوو ــ وَمِنْهَا ــ او له هغې څخه ــ نُخْرِجُكُمْ ــ به تاسو راوباسو ــ تَارَةً أُخْرَىٰ ــ يو ځل بيا.

روانه ژباړه

له همدې ځمکې مو تاسو پيدا کړي ياست، بېرته به مو همدې ته ورګرځوو، او بيا به مو له همدې څخه يو ځل بيا راوباسو.

تفسير

آيت درې مرحلې بيانوي: پيدايښت، مرګ، او بيا راژوندي کېدل.

﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ﴾ انسان ته خپل اصل ورپه يادوي.

﴿وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ﴾ يعني له مرګ وروسته بدن بېرته ځمکې ته سپارل کيږي.

او ﴿وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ﴾ يعني د قيامت په ورځ به الله انسانان يو ځل بيا راژوندي کړي.

د نننې وخت لپاره يې مهم درس دا دی چې انسان دې په مال، مقام او ظاهري ښکلا غرور نه کوي؛ اصل يې له ځمکې دی، بدن يې بېرته ځمکې ته ځي، او بيا به د حساب لپاره راپاځول کيږي.

*********************************************************

د سورت طه ــ ۵۶ آيت

وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ آيَاتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ(۵۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکينيو آيتونو کې د الله د قدرت نښې بيان شوې: ځمکه، باران، نباتات، د انسان پيدايښت، مرګ او بيا راژوندي کېدل.

اوس خبره بېرته فرعون ته راګرځي: الله تعالی هغه ته خپلې نښې وروښودې، خو هغه دروغ وبللې او د حق له منلو يې انکار وکړ.

لفظي ژباړه

وَلَقَدْ ـــ او يقيناً ـــ أَرَيْنَاهُ ـــ موږ هغه ته وروښودلې ـــ آيَاتِنَا ـــ خپلې نښې ـــ كُلَّهَا ـــ ټولې ـــ فَكَذَّبَ ـــ خو هغه دروغ وګڼلې ـــ وَأَبَىٰ ـــ او له منلو يې انکار وکړ.

روانه ژباړه

او یقیناً موږ فرعون ته خپلې ټولې نښې وروښودې، خو هغه دروغ وګڼلې او له منلو یې انکار وکړ.

تفسیر

الله تعالی فرعون ته د موسی علیه السلام په لاس داسې څرګندې نښې او معجزې وښودې چې د هغه د رسالت دلیل وې.

خو فرعون ﴿فَكَذَّبَ﴾ ـ نښې دروغ وبللې، او ﴿وَأَبَىٰ﴾ ـ د حق له منلو او غاړه ایښودلو څخه یې انکار وکړ.

نو د فرعون ستونزه یوازې د دلیل نشتوالی نه و؛ کبر،دنیا پرستی،اقتدار او سرکښی یې د حق د منلو مخه ونیوله.

د نننې وخت لپاره هم مهم درس دی: یوازې د دلیل موجودیت د حق منل نه تضمینوي؛ کله کله غرور، شخصي ګټې او د خپل دریځ د بدلولو نه غوښتل انسان د روښانه حقیقت له منلو منع کوي.

************************************************************

د سورت طه ـ ۵۷ آیت

قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَا مُوسَىٰ(۵۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې فرعون د الله څرګندې نښې رد کړې او د حق له منلو یې انکار وکړ.

اوس د موسی علیه السلام د دلیل پر ځای پر هغه تور لګوي او وايي: ایا ته د دې لپاره راغلی یې چې په خپل جادو موږ له خپلې ځمکې وباسې؟

## لفظي ژباړه

قَالَ —(فرعون) وویل — أَجِئْتَنَا — آیا ته موږ ته راغلی یې — لِتُخْرِجَنَا — چې موږ وباسې — مِنْ أَرْضِنَا — له خپلې ځمکې څخه — بِسِحْرِكَ — په خپل جادو سره — يَا مُوسَىٰ — اې موسی!

## روانه ژباړه

فرعون وویل: اې موسی! آیا ته موږ ته د دې لپاره راغلی یې چې په خپل جادو سره موږ له خپلې ځمکې وباسې؟

## تفسیر

فرعون د موسی علیه السلام د نښو اصلي دلیل ته ځواب نه ورکوي، بلکې هغوی جادو بولي او خلکو ته دا وېره ورکوي چې ګواکې موسی علیه السلام غواړي د دوی ځمکه ترې واخلي.

یعني بحث له حق او باطل څخه د قدرت، ځمکې او وېرې موضوع ته اړوي.

د نننی وخت لپاره لنډ درس دا دی: کله کله یو څوک د قوي دلیل پر ځای تور، وېره یا د موضوع بدلول کاروي؛ نو باید اصل دلیل ته پام وساتل شي.

=========================================

د سورت طه ـ ۵۸ آیت

فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنتَ مَكَانًا سُوًى(۵۸)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې فرعون پر موسی عليه السلام تور ولګاوه چې ګواکې په جادو غواړي هغوی له خپلې ځمکې وباسي.

اوس فرعون وايي چې موږ به هم ستا د دې کار په شان جادو راوړو؛ نو يو ټاکلی وخت او داسې مناسب ځای وټاکه چې دواړه خواوې پکې سره مخ شي.

لفظي ژباړه

فَلَنَأْتِيَنَّكَ ـــ نو خامخا به موږ تا ته راوړو ـــ بِسِحْرٍ ـــ جادو ـــ مِّثْلِهِ ـــ د هغه په شان ـــ فَاجْعَلْ ـــ نو وټاکه ـــ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ ـــ زموږ او ستا ترمنځ ـــ مَوْعِدًا ـــ يو ټاکلی وخت ـــ لَّا نُخْلِفُهُ ـــ چې خلاف به يې نه کوو ـــ نَحْنُ وَلَا أَنتَ ـــ نه موږ او نه ته ـــ مَكَانًا ـــ په يوه ځای کې ـــ سُوًى ـــ برابر / مناسب / ټولو ته يو شان

روانه ژباړه

نو خامخا به موږ هم ستا د دې کار په شان جادو راوړو؛ نو زموږ او ستا ترمنځ يو ټاکلی وخت وټاکه چې نه موږ ترې وګرځو او نه ته، او داسې ځای دې وي چې دواړو خواوو ته برابر او مناسب وي.

تفسير

فرعون لا هم د موسی عليه السلام معجزه جادو بولي او فکر کوي چې د خپلو جادوګرو په وسيله به يې مقابله وکړي.

مَوْعِدًا يعنې ټاکلی وخت يا د ملاقات وخت

سُوًى دلته د داسې ځای معنا ورکوي چې برابر، مناسب او خلکو ته ښکاره وي، څو دواړه خواوې او خلک پرې حاضرېدای شي.

د ننني وخت لپاره لنډ درس دا دی: کله چې یوه موضوع عامه سیالی یا مقابلې ته ولاړه شي، روښانه دلیل او حقیقت ډېر وخت خپل قوت ښکاره کوي، او مصنوعي دعوې په ښکاره ازموینه کې کمزورې کیږي.

==========================================

د سورت طه ــ ۵۹ آیت

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى(۵۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې فرعون له موسی علیه السلام څخه وغوښتل چې د مقابلې لپاره یو ټاکلی وخت او مناسب ځای وټاکي.

اوس موسی علیه السلام داسې ورځ ټاکي چې خلک پکې ډېر راټول وي، څو حق او باطل د ټولو خلکو په وړاندې ښکاره شي.

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ (موسی علیه السلام ورته) وویل ـــ مَوْعِدُكُمْ ـــ ستاسو ټاکلی وخت ـــ يَوْمُ الزِّينَةِ ـــ د جشن ورځ ده ـــ وَأَن يُحْشَرَ ـــ او دا چې راټول دې کړل شي ـــ النَّاسُ ـــ خلک ـــ ضُحًى ـــ د ورځې په روښانه سهار کې.

روانه ژباړه

موسی وویل: ستاسو د مقابلې ټاکلی وخت د جشن ورځ ده، او خلک دې د ورځې په روښانه سهار کې راټول کړل شي.

تفسير

يَوْمُ الزِّينَةِ داسې عامه ورځ وه چې خلک پکې د جشن لپاره راټولېدل، نو موسی علیه السلام هماغه ورځ غوره کړه، څو موضوع په پټه نه، بلکې د خلکو په وړاندې روښانه شي.

ضُحًى د لمر له راختلو وروسته روښانه سهار ته ویل کیږي، چې خلک ویښ وي او هر څه ښه لیدل کیږي.

د نن لپاره لنډ درس: که یو حق دعوه د دلیل پر بنسټ وي، له عادلانه او روښانه ازموینې څخه نه ویریږي.

========================================

د سورت طه ــ ۶۰ آيت

فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتَىٰ(۶۰)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی علیه السلام د مقابلې لپاره د جشن ورځ او روښانه سهار وټاکه.

اوس فرعون د مقابلې د تیارۍ لپاره ځي: خپل ټول پلان او وسایل راټولوي، بیا ټاکلي ځای ته راځي.

لفظي ژباړه

فَتَوَلَّىٰ ـــ نو مخ يې واړاوه / لاړ ـــ فِرْعَوْنُ ـــ فرعون ـــ فَجَمَعَ ـــ او راټول يې کړل ـــ كَيْدَهُ ـــ خپل پلان(او د مقابلې وسایل) ـــ ثُمَّ ـــ بيا ـــ أَتَىٰ ـــ راغی.

روانه ژباړه

نو فرعون لاړ، خپل ټول پلان او د مقابلې وسایل یې راټول کړل، بیا راغی.

تفسیر

فرعون د ټاکلې مقابلې لپاره بشپړ تیاری پیل کړ.

﴿فَجَمَعَ كَيْدَهُۥ﴾ یوازې د یوه ذهني پلان معنا نه لري؛ مطلب دا دی چې فرعون خپل تدبیر، وسایل او جادوګر د موسی علیه السلام د مقابلې لپاره راټول کړل.

بیا ﴿ثُمَّ أَتَىٰ﴾ — له بشپړ تیاري وروسته ټاکلي ځای ته راغی.

دلته یو مهم فرق ښکاري: فرعون پر خپل قدرت، پلان او جادو تکیه کوله، خو موسی علیه السلام د الله له لوري پر ورکړل شوي حق او مرستې ولاړ و.

لنډ درس: پلان او قوي تیاری مهم دي، خو قوي تنظیم او ډېر امکانات باطل په حق نه شي بدلولای.

**************************************************

د سورت طه – ۶۱ آیت

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ(۶۱)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې فرعون خپل پلان، جادوګر او د مقابلې ټول وسایل راټول کړل او ټاکلي ځای ته راغی.

اوس موسی علیه السلام د مقابلې له پيل مخکې جادوګرو ته خبرداری ورکوي: پر الله تعالی دروغ مه تړئ، ګنې د هغه عذاب به مو تباه کړي.

## لفظي ژباړه

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ — موسی علیه السلام هغوی(یعني جادوګرو) ته وویل — وَيْلَكُمْ — افسوس پر تاسو / ځان وساتئ — لَا تَفْتَرُوا — دروغ مه جوړوئ — عَلَى اللَّهِ — پر الله تعالی — كَذِبًا — دروغ — فَيُسْحِتَكُم —(ګنې) نو هغه«جل جلاله» به مو په بشپړه توګه تباه کړي — بِعَذَابٍ — په عذاب سره — وَقَدْ خَابَ — او یقیناً ناکام شو — مَنِ افْتَرَىٰ — هغه څوک چې دروغ یې جوړ کړل.

## روانه ژباړه

موسی علیه السلام هغوی ته وویل: افسوس پر تاسو! په الله دروغ مه تړئ، ګنې په عذاب به مو تباه کړي؛ او یقیناً هغه څوک ناکام شو چې دروغ یې جوړ کړل.

## تفسیر

لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا یعني الله تعالی ته داسې خبره مه منسوبوئ چې حقیقت نه وي، او باطل د حق په نوم مه وړاندې کوئ.

فَيُسْحِتَكُم د سختې او بشپړې تباهۍ معنا ورکوي.

او وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ یو عمومي اصل بیانوي: هغه څوک چې خپل موقف پر دروغو ولاړ کړي، په پای کې ناکامیږي.

د نن لیاره درس: په ځانګړي ډول د دین په نوم باید قصدي دروغ ونه ویل شي او ناسم شی د حق په نوم وړاندې نه شي؛ دروغ ممکن لنډ وخت ګټه وکړي، خو حقیقي بریا نه راوړي.

==================================

.

د سورت طه ــ ۶۲ آيت

فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوَىٰ(۶۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسی عليه السلام جادوګرو ته سخت خبرداری ورکړ چې پر الله تعالی دروغ مه تړئ.

اوس د هغه د خبرو اغيزه ښکاري: جادوګر په خپل منځ کې سره اختلاف کوي او بيا پټه مشوره کوي.

لفظي ژباړه

فَتَنَازَعُوا ــــ نو هغوی(يعني جادوګرو) سره اختلاف وکړ ــــ أَمْرَهُم ــــ د خپل کار په اړه ــــ بَيْنَهُمْ ــــ په خپل منځ کې ــــ وَأَسَرُّوا ــــ او پټه يې وکړه ــــ النَّجْوَىٰ ــــ پټه مشوره .

روانه ژباړه

نو هغوی د خپل کار په اړه په خپل منځ کې سره اختلاف وکړ او بيا يې پټه مشوره وکړه.

تفسير

فَتَنَازَعُوا يعنې يو نظر نه درلودل او د موضوع په اړه په خپل منځ کې بحث او اختلاف کول.

النَّجْوَىٰ يعنې پټې خبرې يا پټه مشوره.

مطلب دا دی چې د موسی علیه السلام خبرداري هغوی بېفکره پرېښودل؛ د مقابلې له پیل مخکې یې په خپل منځ کې فکر او پټه مشوره پیل کړه.

<u>درس:</u> کله چې یوه رښتیني خبره د انسان زړه ولړزوي، ممکن لومړی یې په ښکاره ونه مني، خو دننه فکر او بحث پیل شي.

==================================

د سورت طه ــ ۶۳ آیت

قَالُوا إِنْ هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَىٰ(۶۳)

<u>د مخکیني آیت سره اړیکه</u>

په مخکیني آیت کې جادوګرو په خپل منځ کې اختلاف او پټه مشوره وکړه.

اوس هغوی په یوه خبره سره سلا کېږي او د موسی او هارون علیهما السلام پر ضد دا دعوه کوي چې: دا دواړه جادوګر دي، غواړي تاسو له خپلې ځمکې وباسي او ستاسو موجوده طریقه او نظام له منځه یوسي.

<u>لفظي ژباړه</u>

قَالُوا ــــ هغوی(یعني جادوګرو) وویل ــــ إِنْ هَٰذَانِ ــــ بېشکه دا دواړه ــــ لَسَاحِرَانِ ــــ یقیناً دوه جادوګر دي ــــ يُرِيدَانِ ــــ دواړه غواړي ــــ أَن يُخْرِجَاكُم ــــ چې تاسو وباسي ــــ مِّنْ أَرْضِكُم ــــ د خپلې ځمکې څخه ــــ بِسِحْرِهِمَا ــــ په خپل جادو سره ــــ وَيَذْهَبَا ــــ او له منځه یوسي ــــ بِطَرِيقَتِكُمُ ــــ ستاسو طریقه (ستاسو نظام) ــــ الْمُثْلَىٰ ــــ غوره / موجوده غوره.

## روانه ژباړه

جادوګرو وويل:يقيناً دا دواړه(موسی او هارون عليهما السلام) جادوګر دي؛ غواړي په خپل جادو تاسو له خپلې ځمکې وباسي او ستاسو موجوده غوره طريقه او نظام له منځه يوسي.

## تفسير

جادوګر هماغه د فرعون تور بيا تکراروي: موسی او هارون عليهما السلام داسې معرفي کوي لکه چې د ځمکې، واک او ټولنيز نظام لپاره خطر وي.

﴿طَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَىٰ﴾ د هغه طريقې، نظام او دودونو معنا ورکوي چې دوی خپل غوره او منل شوی ژوند ګڼلو.

نو بحث يې له دين نه واړاوه چې په حقه څوک دی، او دې ته يې يووړ چې که د موسی عليه السلام خبره ومنئ، زموږ موجوده نظام او امتيازات به له منځه ولاړ شي.

درس: کله کله خلک حق ځکه نه مني چې وېرېږي خپل مقام، عادتونه يا ګټې به له لاسه ورکړي.

==========================================

د سورت طه ـ ۶۴ آيت

فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلَىٰ(۶۴)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې جادوګرو وويل چې موسی او هارون عليهما السلام غواړي چې خلک له خپلې ځمکې وباسي او هغه طريقه له منځه يوسي چې دوی يې غوره ګڼي.

اوس یو بل هڅوي چې خپل ټول پلان او ځواک سره یو کړي او د موسی علیه السلام مقابلې ته په منظم ډول راووځي؛ ځکه د دوی په فکر، نن چې څوک برلاسی شو، هماغه به بریالی وي.

## لفظي ژباړه

فَأَجْمِعُوا — نو راټول کړئ / یو موټی کړئ — كَيْدَكُمْ — خپل پلان او تدبير — ثُمَّ — بيا — ائْتُوا — راشئ — صَفًّا — په یوه صف / منظم قطار کې — وَقَدْ أَفْلَحَ — او یقیناً بریالی شو — الْيَوْمَ — نن — مَنِ — هغه څوک چې — اسْتَعْلَىٰ — برلاسی شو.

## روانه ژباړه

نو خپل ټول پلان او تدبير سره یو کړئ، بیا په یوه منظم صف کې راشئ؛ نن به هماغه بریالی وي چې برلاسی شي.

## تفسير

﴿فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ﴾ کې أَجْمِعُوا یعنې خپل تصمیم ټینګ او ټول تدبیر سره یو کړئ، او كَيْدَكُمْ یعنې ستاسو پلان او چل.

په كَيْدَكُمْ کې كُمْ = «ستاسو» ضمیر جادوګرو ته راجع دی.

﴿ائْتُوا صَفًّا﴾ کې صَفًّا یعنې په منظم قطار او یووالي سره راشئ. غوښتل يې چې د خلکو په وړاندې خپل ټول قوت یو ځای ښکاره کړي.

﴿أَفْلَحَ﴾ یعنې بریالی شو، او ﴿اسْتَعْلَىٰ﴾ دلته یعنې برلاسی او غالب شو.

یعنې د دوی فکر دا و چې په دې عامه مقابله کې چې څوک پر مقابل لوري غالب شو، خلک به هماغه بریالی وګڼي.

د نن لپاره لنډ درس: ډېر کسان، قوي تنظیم او ښه پلان د یوې خبرې د حقانیت دلیل نه دی؛ حق د دلیل له مخې پېژندل کیږي، نه یوازې د ځواک او شمېر له مخې.

==========================================

د سورت طه ــ ۶۵ آیت

قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ(۶۵)

د مخکيني آیت سره اړيکه

په مخکيني آیت کې جادوګرو خپل پلان يو کړ او د مقابلې لپاره په منظم ډول راووته.

اوس هغوی موسی علیه السلام ته مستقیم وايي: يا ته لومړی خپله امسا وغورځوه، او يا به موږ لومړی خپل شيان وغورځوو.

لفظي ژباړه

قَالُوا ـــ هغوی(جادوګرو) وویل ـــ يَا مُوسَىٰ ـــ اې موسی! ـــ إِمَّا ـــ يا ـــ أَن تُلْقِيَ ـــ چې ته وغورځوې(امسا) ـــ وَإِمَّا ـــ او يا ـــ أَن نَّكُونَ ـــ چې موږ شو ـــ أَوَّلَ مَنْ ـــ لومړني هغه کسان چې ـــ أَلْقَىٰ ـــ وغورځوي(خپل جادويي شيان)

روانه ژباړه

هغوی وويل: اې موسی! يا ته لومړی(خپله امسا) وغورځوه، او يا به موږ لومړی(خپلي جادويي رسۍ او امساوې) وغورځوو.

تفسیر

إِمَّا ... وَإِمَّا يعني: «يا ... او يا»

«په أَن تُلْقِيَ کې مخاطب موسی علیه السلام دی، يعني: «ته وغورځوه

او په أَن نَّكُونَ کې «موږ» ضمير جادوګرو ته راجع دی.

يعني جادوګر موسی علیه السلام ته د پيل اختيار ورکوي: ته لومړی شروع کوې، که موږ؟

دلته مقابله له خبرو او تورونو څخه عملي ازموينې ته داخلېږي، او په راتلونکو آيتونو کې به معلومه شي چې جادو او معجزه يو شان نه دي.

==============================

د سورت طه – ۶۶ آيت

قَالَ بَلْ أَلْقُوا ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ(۶۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې جادوګرو موسى عليه السلام ته وويل چې يا ته لومړى(امسا) وغورځوه او يا به موږ لومړى(خپلې رسۍ او امساوې) وغورځوو.

موسى عليه السلام هغوى ته وويل: تاسو يې لومړى وغورځوئ. بيا د هغوى د جادو له امله رسۍ او امساوې داسې ښکارېدې لکه حرکت چې کوي.

لفظي ژباړه

قَالَ — (موسى عليه السلام) وويل — بَلْ — نه، تاسو يې — أَلْقُوا — وغورځوئ — فَإِذَا — نو ناڅاپه — حِبَالُهُمْ — د هغوى رسۍ — وَعِصِيُّهُمْ — او د هغوى امساوې — يُخَيَّلُ — داسې ښکارېدې — إِلَيْهِ — هغه ته (يعني موسى عليه السلام ته) — مِن سِحْرِهِمْ — د هغوى د جادو له امله — أَنَّهَا — چې هغوى — تَسْعَىٰ — حرکت کوي.

روانه ژباړه

موسى وويل: نه، تاسو يې لومړى وغورځوئ.(کله چې هغوى رسۍ او امساوې په ميدان کې وغورځولې) نو ناڅاپه د هغوى د جادو له امله

رسۍ او امساوې موسی علیه السلام ته داسې ښکارېدې لکه حرکت چې کوي.

تفسیر

﴿يُخَيَّلُ إِلَيْهِ﴾ یعنې: موسی علیه السلام ته داسې ښکاره کېدل / داسې ورښکارېدل.

په إِلَيْهِ کې ضمیر موسی علیه السلام ته راجع دی.

او په أَنَّهَا کې ضمیر د رسیو او امساوو لپاره دی.

مهم فرق دا دی چې د جادوګرو رسۍ او امساوې په رښتیا ژوندي ماران نه شول؛ جادو یې داسې وهم او ظاهري بڼه پیدا کړه چې حرکت کوونکي ښکارېدل.

خو د موسی علیه السلام امسا وروسته د الله په قدرت په رښتینې معجزه بدلېږي.

د نن لپاره لنډ درس: هر څه چې ډېر اغېزناک او حیرانوونکي ښکاري، لازماً حقیقت نه وي؛ ظاهر باید له ثبوت او حقیقت سره وکتل شي.

========================================

د سورت طه ــ ۶۷ آیت

فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ(۶۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې د جادوګرو رسۍ او امساوې د جادو له امله داسې ښکارېدې لکه حرکت چې کوي.

اوس الله تعالى بيانوي چې د دې صحنې په ليدلو سره موسى عليه السلام په خپل زړه کې لږه وېره احساس کړه.

## لفظي ژباړه

فَأَوْجَسَ — نو احساس کړه — فِي نَفْسِهِ — په خپل زړه کې/په خپل ځان کې — خِيفَةً — وېره — مُّوسَىٰ — موسى «عليه السلام»

## روانه ژباړه

«نو موسى عليه السلام په خپل زړه کې لږه وېره احساس کړه»

## تفسير

فَأَوْجَسَ يعنې: په زړه کې يو احساس پيدا کېدل، پرته له دې چې حتماً يې ښکاره کړي.

په فِي نَفْسِهِ کې ِه — «د هغه» ضمير موسى عليه السلام ته راجع دی.

خِيفَةً يعنې: وېره، اندېښنه.

موسى عليه السلام د جادوګرو د قوي ظاهري اغېزې له امله يوه طبيعي وېره احساس کړه. دا د ايمان کمزوري نه وه، بلکې انساني طبيعي غبرګون و.

راتلونکې آيت سمدستي د الله ډاډ راوړي: «مه وېرېږه، يقيناً ته به برلاسی يې»

د نن ليارې لنډ درس: وېره احساسول عيب نه دی؛ مهمه دا ده چې انسان د وېرې له امله حق او صحيح کار پرېنږدي.

========================================

د سورت طه ــ ۶۸ آيت

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ(۶۸)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې موسى عليه السلام د جادوګرو د ظاهري اغېزې له امله په خپل زړه کې لږه وېره احساس کړه.

اوس الله تعالى سمدستي ورته ډاډ ورکوي: مه وېرېږه؛ يقيناً ته به برلاسى يې.

## لفظي ژباړه

قُلْنَا ـــ موږ وويل(يعني الله تعالى وفرمايل) ـــ لَا تَخَفْ ـــ مه وېرېږه ـــ إِنَّكَ ـــ بېشکه ته ـــ أَنتَ ـــ هم ته ـــ الْأَعْلَىٰ ـــ برلاسى يې / لوړ يې.

## روانه ژباړه

«موږ وويل: مه وېرېږه؛ يقيناً همدا ته به برلاسى يې»

## تفسير

لَا تَخَفْ يعني: مه وېرېږه.

په إِنَّكَ أَنتَ کې دوه ځله پر موسى عليه السلام ټينګار شوى؛ يعنې: «بېشکه همدا ته»

الْأَعْلَىٰ دلته د برلاسى، بريا او غلبې معنا ورکوي.

نو الله تعالى موسى عليه السلام ته يوازې دا نه وايي چې وېره مه کوه، بلکې د مقابلې نتيجه هم ورښيي: ته به غالب شې.

د نن لياره لنډ درس: کله کله وېره حالت تر حقيقت لوى ښکاره کوي؛ خو که انسان پر حق ولاړ وي، بايد زړه له لاسه ورنه کړي.

========================================

د سورت طه ـ ۶۹ آيت

وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ(۶۹)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی علیه السلام ته ډاډ ورکړ چې مه وېرېږه، ته به برلاسی يې.

اوس ورته فرمايي چې عملي څه وکړي: هغه څه وغورځوه چې ستا په ښي لاس کې دي؛ هماغه به د جادوګرو جوړ شوي شيان له منځه يوسي.

## لفظي ژباړه (الله تعالی موسی علیه السلام ته فرمايي)

وَأَلْقِ — او وغورځوه — مَا فِي يَمِينِكَ — هغه څه چې ستا په ښي لاس کې دي — تَلْقَفْ — هغه به تېر کړي / وخوري — مَا صَنَعُوا — هغه څه چې هغوی جوړ کړي — إِنَّمَا صَنَعُوا — هغه څه چې هغوی جوړ کړي، يوازې — كَيْدُ سَاحِرٍ — د جادوګر چل دی — وَلَا يُفْلِحُ — او نه بريالی کيږي — السَّاحِرُ — جادوګر — حَيْثُ أَتَىٰ — هر چېرته چې راشي / هره لاره چې ونيسي.

## روانه ژباړه

او هغه څه وغورځوه چې ستا په ښي لاس کې دي(يعني امسا)؛ هغه به د دوی جوړ کړی جادو تېر کړي. د دوی جوړ کړی کار يوازې د جادوګر چل دی، او جادوګر هر چېرته چې وي، حقيقي بريا نه شي ترلاسه کولای.

## تفسير

﴿مَا فِي يَمِينِكَ﴾ د موسی علیه السلام امسا ته اشاره ده. دلته امسا په نوم نه ده ياده شوې، خو ضمير او سياق ورته واضح اشاره کوي.

﴿تَلْقَفْ﴾ يعنې: په چټکۍ سره تېرول، خوړل، له منځه وړل.

په ﴿مَا صَنَعُوا﴾ کې واو ضمير جادوګرو ته راجع دى؛ يعنې هغه څه چې هغوى د جادو په وسيله جوړ کړي وو.

﴿كَيْدُ سَاحِرٍ﴾ يعنې: د جادوګر چل، فريب او مصنوعي دوکه.

نو د موسى عليه السلام معجزه او د جادوګرو جادو يو شی نه وو: د جادوګرو کار ظاهري دوکه وه، خو د موسى عليه السلام امسا د الله په قدرت حقيقي معجزه وه.

﴿وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ﴾ يعنې جادوګر که هر څومره چل او مهارت وکاروي، په باطل سره حقيقي او پايدار برياليتوب نه شي ترلاسه کولاى.

د نن لياره لنډ درس: دروغ او دوکه ممکن لنډ وخت خلک حيران کړي، خو د روښانه حقيقت په وړاندې دوام نه شي کولاى.

==========================================

د سورت طه – ۷۰ آيت

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ(۷۰)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالى موسى عليه السلام ته امر وکړ چې خپله امسا وغورځوي، او هغه د جادوګرو جوړ کړى جادو له منځه يووړ.نو

کله چې جادوګرو دا وليدل،چې د موسى عليه السلام د امسا څخه مار جوړ شو او د هغوى ټول جادويي شيان يې تير کړل، پوه شول چې دا عادي جادو نه دى؛بلکې د الله د لورې معجزه ده چې د موسى عليه السلام په لاس ښکاره شوه، نو سمدستي په سجده پرېوتل.

## لفظي ژباړه

فَأُلْقِيَ ــــنو پرېوتل ـــ جادوګر ـــ السَّحَرَةُ ـــ سُجَّدًا ـــ په سجده ـــ قَالُوا ـــ هغوی وویل ـــ آمَنَّا ـــ موږ ايمان راوړ ـــ بِرَبِّ ـــ په رب د ـــ هَارُونَ ـــ هارون ـــ وَمُوسَىٰ ـــ او موسی «عليهما السلام».

## روانه ژباړه

نو جادوګر سمدستي په سجده پرېوتل او ويې ويل: موږ د هارون او موسی«عليهما السلام» پر رب ايمان راوړ.

## تفسير

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا دا ښيي چې جادوګر د حقيقت په پېژندلو سره سمدستي په سجده ولوېدل.

هغوی د جادو ماهران وو، نو ښه پوهېدل چې د موسی عليه السلام کار د دوی د جادو په شان نه و. همدا تخصص يې د حقيقت په پېژندلو کې مرسته وکړه.

په قَالُوا کې ضمير جادوګرو ته راجع دی.

بيا يې وويل:

﴿آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ﴾

يعنې هغوی يوازې دا ونه منله چې موسی عليه السلام مقابله وګټله، بلکې خپله عقيده يې هم بدله کړه او د الله پر ربوبيت يې ايمان راوړ.

د نن لیاره لنډ درس: کله چې روښانه دليل مخې ته راشي، هوښيار انسان بايد د خپل پخواني موقف د ساتلو پر ځای حقيقت ومني.

========================================

د سورت طه ــ ۷۱ آیت

قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ(۷۱)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې جادوګرو حقيقت وپېژاند، په سجده پرېوتل او د هارون او موسى عليهما السلام پر رب يې ايمان راوړ.

اوس فرعون په قهر کېږي. وايي چې تاسو پرته زما له اجازې څخه ايمان راوړ، موسى عليه السلام ستاسو مشر دی،هغه تاسو ته جادو در زده کړی. بيا هغوی ته د سخت عذاب ګواښ کوي.

لفظي ژباړه (فرعون جادوګرو ته وايي)

قَالَ ــــ (فرعون) وويل ــــ آمَنتُمْ لَهُ ــــ تاسو پر هغه ايمان راوړ ــــ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ــــ مخکې له دې چې زه تاسو ته اجازه درکړم ــــ إِنَّهُ ــــ بېشکه هغه(يعنې موسى عليه السلام) ــــ لَكَبِيرُكُمُ ــــ خامخا ستاسو مشر دی ــــ الَّذِي ــــ چا چې ــــ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ــــ تاسو ته جادو در زده کړی ــــ فَلَأُقَطِّعَنَّ ــــ نو خامخا به پرې کړم ــــ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم ــــ ستاسو لاسونه او پښې ــــ مِّنْ خِلَافٍ ــــ له مخالفو خواوو ــــ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ ــــ او خامخا به مو په دار کړم ــــ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ ــــ د خرماوو پر تنو ــــ وَلَتَعْلَمُنَّ ــــ او خامخا به پوه شئ چې: ــــ أَيُّنَا ــــ زموږ له دواړو کوم يو ــــ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ــــ سخت او دوامدار عذاب ورکوونکی دی(يعنې فرعون ګواښ کوي چې ژر به پوه شئ چې زما عذاب سخت دی که د موسى ع د رب.)

روانه ژباړه

فرعون وويل: تاسو زما له اجازې مخکې پر هغه ايمان راوړ؟ بېشکه هغه ستاسو مشر دی چې جادو يې در زده کړی. خامخا به ستاسو لاسونه او پښې له مخالفو خواوو پرې کړم او د خرماوو پر تنو به مو په دار کړم؛ بيا به پوه شئ چې زموږ څخه کوم يو سخت او دوامدار عذاب ورکوونکی دی.

تفسير

﴿آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ﴾ د فرعون کبر ښيي؛ داسې خبرې کوي لکه ايمان راوړل چې هم د ده اجازې ته اړتيا لري.

په ﴿إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ﴾ کې هُ ضمير موسی عليه السلام ته راجع دی. فرعون دروغجن تور لګوي چې ګواکې موسی ع د جادوګرو مشر او استاد و

﴿مِّنْ خِلَافٍ﴾ يعنې لاس او پښه له مخالفو خواوو پرې کول.

او ﴿أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ﴾ کې فرعون ځان د الله له عذاب سره پرتله کوي؛ يعنې ګواښ کوي چې ژر به پوه شئ زما عذاب سخت دی که د موسی د رب.

مهمه خبره دا ده چې کله فرعون د جادوګرو د ايمان لپاره دليل نه درلود، نو له دليل څخه ګواښ او زور ته لاړ.

<u>د نن لپاره لنډ درس: کله چې څوک حق په دليل نه شي ردولای، کله ناکله د وېرولو او زور له لارې د حق د غږ بندولو هڅه کوي.</u>

==========================================

د سورت طه ــ ۷۲ آيت

قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا(۷۲)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې فرعون هغو جادوګرو ته چې ايمان يې راوړى و، د لاسونو او پښو د پرې کولو او په دار کولو سخت ګواښ وکړ.

اوس هغوى په ډېر زړورتيا ځواب ورکوي: موږ به هېڅکله تا د هغو روښانه نښو او د خپل خالق پر ځاى غوره نه کړو. هر څه چې کول غواړې، وکړه؛ ستا واک يوازې د دې دنيا تر ژوند پورې دى.

## لفظي ژباړه

قَالُوا ـــ (کومو جادوګرو چې ايمان راوړى وو)هغوى وويل ـــ لَن نُّؤْثِرَكَ ـــ هېڅکله به تا غوره نه کړو ـــ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا ـــ پر هغه څه چې موږ ته راغلي ـــ مِنَ الْبَيِّنَاتِ ـــ له روښانه نښو څخه ـــ وَالَّذِي فَطَرَنَا ـــ او پر هغه ذات چې موږ يې پيدا کړي يو ـــ فَاقْضِ ـــ نو فيصله وکړه /نو وکړه ـــ مَا أَنتَ قَاضٍ ـــ هغه څه چې ته يې کوونکى يې ـــ إِنَّمَا تَقْضِي ـــ ته يوازې حکم چلولاى شې ـــ هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ـــ په دې دنيايي ژوند کې.

## روانه ژباړه

هغوى وويل: موږ به هېڅکله تا د هغو روښانه نښو او د هغه ذات پر ځاى غوره نه کړو چې موږ يې پيدا کړي يو. نو هر څه چې کول غواړې، ويې کړه؛ ستا واک يوازې د دې دنيا تر ژوند پورې محدود دى.

## تفسير

لَن نُّؤْثِرَكَ يعنې: موږ به تا پر حق مقدم نه کړو او ستا خوښه به د الله پر حق نه غوره کوو. په كَ کې ضمير فرعون ته راجع دى.

الْبَيِّنَاتِ يعنې: روښانه نښې او دليلونه چې جادوګرو په خپلو سترګو وليدل.

فَطَرَنَا يعنې: موږ يې پيدا کړي يو او وجود يې راکړی دی.

بيا وايي:

فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ـــ هره سزا يا فيصله چې ته يې کول غواړې، ويې کړه.

او إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يعنې: ستا زور او واک يوازې په دې لنډ دنيايي ژوند کې دی؛ زموږ آخرت ستا په لاس کې نه دی.

د نن لپاره لنډ درس: کله چې انسان حق په يقين وپيژني، بايد يوازې د دنيايي فشار، مقام يا ګواښ له امله ترې لاس وانخلي.

==================================

د سورت طه ــ ۷۳ آيت

إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ(۷۳)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې مؤمنو جادوګرو فرعون ته وويل چې ستا واک يوازې د دې دنيا تر ژوند پورې محدود دی.

اوس بيانوي چې ولې يې د هغه له ګواښونو سره سره ايمان غوره کړ: هغوی هيله لري چې الله به يې ګناهونه او هغه جادو وبخښي چې فرعون ورباندې مجبور کړي وو.

لفظي ژباړه (مؤمن جادوګر فرعون ته وايي)

إِنَّا — بېشکه موږ — آمَنَّا — ایمان مو راوړی — بِرَبِّنَا — پر خپل رب — لِيَغْفِرَ لَنَا —دې لپاره چې وبخښي مونږ ته — خَطَايَانَا — زموږ ګناهونه / تېروتنې — وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ — او هغه څه چې تا موږ پرې مجبور کړي وو — مِنَ السِّحْرِ — له جادو څخه — وَاللَّهُ — او الله — خَيْرٌ — غوره دی — وَأَبْقَىٰ — او تل پاتي دی.

## روانه ژباړه

بېشکه موږ پر خپل رب ایمان راوړی، ترڅو زموږ ګناهونه او هغه جادو راوبخښي چې تا موږ پرې مجبور کړي وو؛ او الله غوره او تلپاتې دی.( یعني د الله اجر، رحمت او واک د فرعون له لنډمهاله قدرت څخه غوره او تلپاتې دي)

## تفسیر

خَطَايَانَا یعني: زموږ ګناهونه او تېروتنې.

په أَكْرَهْتَنَا کې تَ — «تا» ضمیر فرعون ته راجع دی، او معنا یې ده: «تا موږ مجبور کړي وو»

مِنَ السِّحْرِ هغه جادو ته اشاره ده چې دوی د فرعون تر فشار او غوښتنې لاندې ترسره کاوه.

بیا وایي:

﴿وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ﴾

یعني د الله اجر، رحمت او واک د فرعون له لنډمهاله قدرت څخه غوره او تلپاتې دي.

د نن لپاره لنډ درس: که انسان پخوا په هر څومره غلطه لاره تللی وي،خو کله چې حق وپېژني او په اخلاص توبه وباسي، د الله د بخښنې دروازه ورته خلاصه ده.

==========================================

د سورت طه ــ ۷۴ آیت

إِنَّهُ مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ(۷۴)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې مؤمنو جادوګرو وويل چې الله غوره او تلپاتې دی.

اوس بيانېږي چې: څوک چې د مجرم په حالت کې د الله حضور ته ورشي، د هغه لپاره جهنم دی؛ هلته به نه مري چې عذاب يې ختم شي او نه به د آرام ژوند ولري.

لفظي ژباړه

إِنَّهُ ــــ بېشکه خبره دا ده ــــ مَن يَأْتِ ــــ څوک چې راشي ــــ رَبَّهُ ــــ خپل رب ته ــــ مُجْرِمًا ــــ د مجرم په توګه ــــ فَإِنَّ لَهُ ــــ نو بېشکه د هغه لپاره ــــ جَهَنَّمَ ــــ جهنم دی ــــ لَا يَمُوتُ فِيهَا ــــ په هغه کې به نه مري ــــ وَلَا يَحْيَىٰ ــــ او نه به ژوند کوي.

روانه ژباړه

بېشکه څوک چې خپل رب ته د مجرم په حالت کې ورشي، د هغه لپاره جهنم دی؛ هلته به نه مري او نه به د آرام ژوند ولري.

تفسير

مُجْرِمًا يعني داسې څوک چې د الله حضور ته په کفر او لوی جرم کې، پرته له توبې ورشي. مطلب دا نه دی چې هر ګناهکار مسلمان به حتماً د تل لپاره په جهنم کې وي.

په رَبَّهُ کې هُ ضمير هغه شخص ته راجع دی چې د الله حضور ته ورځي.

په لَهُ کې هم هُ هماغه شخص ته راجع دی.

په فِيهَا کې هَا ضمير جهنم ته راجع دی.

﴿لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ﴾ يعني نه به مري چې له عذابه خلاص شي، او نه به داسې ژوند ولري چې آرام او خوند پکې وي.

همدا معنا په سورة الأعلى، ۱۳ آيت کې هم راغلې:

ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ

«بيا به هلته نه مري او نه به د آرام ژوند کوي»

د نن لیاره درس: انسان باید یوازې د دنیا د لنډې ګټې فکر ونه کړي؛ زموږ د نن کارونه د آخرت پایلې هم لري.

=======================================

د سورت طه – ۷۵ آيت

وَمَن يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَىٰ(۷۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې د هغه چا انجام بيان شو چې د مجرم په حالت کې د الله حضور ته ورځي.

اوس د هغه مقابل حالت بيانېږي: څوک چې د ايمان او نېکو عملونو سره الله ته ورشي، د هغه لپاره په جنت کې لوړې درجې دي.

لفظي ژباړه

وَمَن — او څوک چې — يَأْتِهِ — هغه«جل جلاله» ته ورشي — مُؤْمِنًا — د مؤمن په توګه — قَدْ عَمِلَ — په داسې حال کې چې کړي يې وي — الصَّالِحَاتِ — نېک عملونه — فَأُولَٰئِكَ — نو همدغه کسان

ــــ لَهُمُ ــــ د هغوی لپاره ــــ الدَّرَجَاتُ ــــ درجې دي ــــ الْعُلَىٰ ــــ لوړې.

روانه ژباړه

او څوک چې د مؤمن په توګه د الله حضور ته ورشي او نېک عملونه يې کړي وي، نو د همدغو کسانو لپاره لوړې درجې دي.

تفسير

په دې آيت کې ايمان او نېک عمل دواړه يو ځای ياد شوي دي.

﴿مُؤْمِنًا﴾ ــــ انسان د الله حضور ته د ايمان سره ورځي.

﴿قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ﴾ ــــ او له ايمان سره يې نېک عملونه هم کړي وي.

په ﴿يَأْتِهِ﴾ کې هِ ضمير الله تعالی ته راجع دی.

په ﴿لَهُمُ﴾ کې هُم ضمير هغو مؤمنانو ته راجع دی چې نېک عملونه يې کړي وي.

﴿الدَّرَجَاتُ الْعُلَىٰ﴾ يعنې په جنت کې لوړې مرتبې او درجې. راتلونکی آيت به دا اجر نور هم روښانه کړي.

مهمه خبره دا ده چې قرآن ايمان يوازې په خوله ادعا نه ګڼي؛ ايمان بايد د انسان په عمل کې هم اغېزه ښکاره کړي.

د نن لپاره درس: ايمان او نېک عمل بايد يو ځای وي؛ د انسان ايمان بايد د هغه په عبادت، رښتينولۍ، ښه اخلاقو او له خلکو سره په ښه چلند کې هم ښکاره شي.

========================================

د سورت طه ــ ۷۶ آیت

جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ مَن تَزَكَّىٰ(۷۶)

د مخکيني آیت سره اړیکه

په مخکيني آيت کې الله تعالى وفرمايل چې مؤمنان چې نېک عملونه کوي، د هغوی لپاره لوړې درجې دي.

اوس د هماغو لوړو درجو تفصيل بيانوي: د تل پاتې اوسېدو جنتونه، چې ترې لاندې ويالې بهېږي او هغوی به پکې همېشه پاتې وي.

لفظي ژباړه

جَنَّاتُ عَدْنٍ ـــ د تل پاتې اوسېدو جنتونه چې ـــ تَجْرِي ـــ بهېږي ـــ مِن تَحْتِهَا ـــ د هغو لاندې ـــ الْأَنْهَارُ ـــ ويالې / سيندونه ـــ خَالِدِينَ ـــ(دوی به) تل پاتې (وي) ـــ فِيهَا ـــ په هغو(جنتونو) کې ـــ وَذَٰلِكَ ـــ او دا ـــ جَزَاءُ ـــ بدله ده ـــ مَن ـــ د هغه چا ـــ تَزَكَّىٰ ـــ چې ځان يې پاک کړ.

روانه ژباړه

د تل پاتې اوسېدو جنتونه دي، چې لاندې ترې ويالې بهېږي؛ هغوی به پکې همېشه پاتې وي. او دا د هغه چا بدله ده چې ځان پاک کړي.

تفسير

جَنَّاتُ عَدْنٍ يعنې داسې جنتونه چې هلته اوسېدل تلپاتې دي.

په مِن تَحْتِهَا او فِيهَا کې هَا ضمير جنتونو ته راجع دی.

خَالِدِينَ يعنې: همېشه پاتې کېدونکي.

او تَزَكَّىٰ یعنې: ځان پاکول؛ له کفر، ګناهونو او بدو اخلاقو څخه ځان ساتل، او ایمان او نېک عمل زیاتول.

نو د دې آیت اصل پیغام دا دی چې د زړه او عمل پاکوالی د تلپاتې بریا لاره ده.

د نن لیاره درس: انسان باید یوازې د خپل ظاهر او دنیا د جوړولو دپاره کوشش ونکړي بلکې: زړه، اخلاق او عمل هم پاکول پکار دي.

==========================================

د سورت طه – ۷۷ آیت

وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَّا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ(۷۷)

د مخکینیو آیتونو سره اړیکه

په مخکینیو آیتونو کې د جادوګرو د ایمان کیسه پای ته ورسېده او د ایمان د اجر یادونه وشوه.

اوس کیسه مخکې ځي. الله تعالی موسی علیه السلام ته امر کوي چې بني اسرائیل د شپې له مصر څخه وباسي. کله چې سمندر ته ورسېږي، الله ورته د سمندر په منځ کې د وچې لارې د جوړېدو لارښوونه کوي.

لفظي ژباړه

وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا — او یقیناً موږ وحی وکړه — إِلَىٰ مُوسَىٰ — موسی ته — أَنْ أَسْرِ — چې د شپې روان شه — بِعِبَادِي — زما له بندګانو سره — فَاضْرِبْ لَهُمْ — او هغوی ته جوړه کړه— طَرِيقًا — یوه لاره — فِي الْبَحْرِ — په سمندر کې — يَبَسًا — وچه — لَّا تَخَافُ — مه وېرېږه — دَرَكًا — له دې چې وبه نیول شې / دښمن به درورسېږي — وَلَا تَخْشَىٰ — او مه وېرېږه.

روانه ژباړه

او يقيناً موږ موسی عليه السلام ته وحی وکړه چې زما بندګان د شپې بوځه، او د هغوی لپاره په سمندر کې وچه لاره جوړه کړه؛ مه وېرېږه چې دښمن به دروررسيږي، او مه له سمندر څخه وېره کوه.

تفسير

أَسْرِ يعني: د شپې سفر کول. الله تعالی موسی عليه السلام ته امر وکړ چې بني اسرائيل د شپې له مصر څخه وباسي.

په بِعِبَادِي کې ي ـــ «زما» الله تعالی ته راجع ده، او «زما بندګان» دلته هغو بني اسرائيلو ته اشاره ده چې له موسی عليه السلام سره وو.

﴿فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ﴾ يعني موسی عليه السلام به د الله په امر خپله امسا پر سمندر وهله او الله به ورته په سمندر کې لاره پرانيستله.

په لَهُمْ کې هُم ضمير بني اسرائيلو ته راجع دی.

يَبَسًا يعني: وچه. مهمه خبره دا ده چې لاره يوازې په لږو اوبو کې نه وه، بلکې الله په سمندر کې وچه لاره ورته برابره کړه.

دَرَكًا يعني: د دښمن له خوا دررسېدل او نيول کېدل؛ يعني مه وېرېږه چې فرعون او لښکر به دې ونيسي.

د نن لپاره درس: پر الله توکل د دې معنا نه لري چې انسان هېڅ ونه کړي؛ موسی عليه السلام حرکت وکړ، خپل قوم يې رهبري کړ، او بيا الله داسې لاره ورته پرانيسته چې ظاهراً يې امکان نه ليدل کېده.

=========================================

د سورت طه ــ ۷۸ آيت

فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُم مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ(۷۸)

## د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی موسی عليه السلام او بني اسرائيلو ته د سمندر په منځ کې وچه لاره پرانيسته.

اوس فرعون له خپل لښکر سره هغوی تعقيبوي؛ خو کله چې سمندر ته ننوځي، اوبه فرعون او د هغه لښکر راګيروي.

## لفظي ژباړه

فَأَتْبَعَهُمْ ــــ نو هغوی(يعنې موسی ع او بني اسرائيل) تعقيب کړل ــــ فِرْعَوْنُ ــــ فرعون ــــ بِجُنُودِهِ ــــ له خپل لښکر سره ــــ فَغَشِيَهُم ــــ نو هغوی(يعنې فرعونيان) راګير کړل / پټ کړل ــــ مِّنَ الْيَمِّ ــــ د سمندر اوبو ــــ مَا غَشِيَهُمْ ــــ هغه څه چې هغوی يې راګير کړل(دا د عربي د تاکيد يو ډېر ښکلی اسلوب دی)

## روانه ژباړه

نو فرعون له خپل لښکر سره هغوی تعقيب کړل، بيا د سمندر اوبو فرعون او د هغه لښکر په بشپړه توګه راګير کړل.

## تفسير

په أَتْبَعَهُمْ کې هُم ضمير موسی عليه السلام او بني اسرائيلو ته راجع دی؛ يعنې فرعون هغوی تعقيبول.

په بِجُنُودِهِ کې هِ ــــ «د هغه» ضمير فرعون ته راجع دی.

الْيَمّ يعنې: سمندر

غَشِيَ يعنې: پوښل، راګيرول او له هرې خوا نيول.

خو په فَغَشِيَهُم او مَا غَشِيَهُمْ کې هُم د فرعون او د هغه لښکر ته راجع دی؛ يعنې د سمندر اوبو هغوی راګير کړل.

دلته یو ښکلی او مهم فرق دی: هماغه سمندر چې د موسی علیه السلام او بني اسرائیلو لپاره د نجات لاره شوه، د فرعون او د هغه د لښکر لپاره د هلاکت سبب شو.

د نن لپاره درس: ډېر ځواک، لوی لښکر او امکانات انسان نه شي ژغورلای، که هغه په ظلم او سرکښۍ کې روان وي.

==========================================

د سورت طه ــ ۷۹ آیت

وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدَىٰ(۷۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې فرعون له خپل لښکر سره بني اسرائیل تعقیب کړل، خو په پای کې سمندر فرعون او د هغه لښکر راګیر کړل.

اوس الله تعالی د فرعون د رهبرۍ په اړه لنډه او پرېکنده خبره کوي: هغه خپل قوم بې‌لارې کړ، سمه لار یې ور ونه ښوده.

لفظي ژباړه

وَأَضَلَّ ـــ او بې‌لارې کړ ـــ فِرْعَوْنُ ـــ فرعون ـــ قَوْمَهُ ـــ خپل قوم ـــ وَمَا هَدَىٰ ـــ او سمه لار یې ور ونه ښوده.

روانه ژباړه

«او فرعون خپل قوم بې‌لارې کړ او سمه لار یې ور ونه ښوده»

تفسیر

أَضَلَّ یعني: بل څوک له سمې لارې اړول او بې‌لارې کول. فرعون یوازې پخپله ګمراه نه و؛ د خپل واک او نفوذ په وسیله یې خپل قوم هم په غلطه لار روان کړی و.

په قَوْمَهُ کې هُ ــــ «د هغه» ضمیر فرعون ته راجع دی.

﴿وَمَا هَدَىٰ﴾ یعنې: هغه خپل قوم ته سمه لار ونه ښوده.

دلته یوه مهمه نکته شته: فرعون په بل ځای کې خپل قوم ته ویلي وو:

﴿وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ﴾

«زه تاسو ته یوازې د سمې لارې لارښوونه کوم»

(غافر: ۲۹)

خو دلته الله تعالی د هغه د دعوې حقیقت څرګندوي:

﴿وَمَا هَدَىٰ﴾ ــــ «هغه سمه لار ور ونه ښوده»

حتی د هغه د رهبرۍ پای دا شو چې خپل قوم یې تر سمندر او هلاکت پورې ورساوه.

د نن لیاره درس: د یوه مشر ارزونه یوازې د هغه په خبرو او دعوو مه کوئ؛ وګورئ چې د هغه لارښوونه خلک په عمل کې کوم لوري ته بیایي.

************************************************************

د سورت طه ــ ۸۰ آیت

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنجَيْنَاكُم مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوَاعَدْنَاكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ(۸۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکینیو آیتونو کې بیان شول چې الله تعالی بني اسرائیل وژغورل او فرعون او لښکر یې په سمندر کې غرق کړل.

اوس الله تعالی بني اسرائیلو ته خپل درې لوی نعمتونه ور یادوي: له دښمن څخه نجات، د طور غره ته بلنه، او د خوراک برابرول.

## لفظي ژباړه

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ــــ اې بني اسرائيلو ــــ قَدْ أَنجَيْنَاكُم ــــ يقيناً موږ تاسو وژغورلئ ــــ مِّنْ عَدُوِّكُمْ ــــ ستاسو له دښمن څخه ــــ وَوَاعَدْنَاكُمْ ــــ او موږ له تاسو سره وخت وټاکه ــــ جَانِبَ الطُّورِ ــــ د طور غره په څنګ کې ــــ الْأَيْمَنَ ــــ ښي اړخ ته ــــ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ ــــ او موږ پر تاسو راکوز کړل ــــ الْمَنَّ ــــ مَنّ ــــ وَالسَّلْوَىٰ ــــ او سلویٰ

## روانه ژباړه

اې بني اسرائيلو! يقيناً موږ تاسو له خپل دښمن څخه وژغورلئ، د طور غره په ښي اړخ کې مو له تاسو سره وخت وټاکه، او پر تاسو مو مَنّ او سلویٰ راکوز کړل.

## تفسير

أَنجَيْنَاكُم يعنې: موږ تاسو وژغورلئ. په دې کې کُم بني اسرائيلو ته راجع دی. د هغوی دښمن فرعون او د هغه خلک وو.

وَوَاعَدْنَاكُمْ يعنې: موږ له تاسو سره د یوه ټاکلي وخت او ځای وعده وکړه. له نجات وروسته موسی علیه السلام د طور غره ته وبلل شو، هلته الله تعالی هغه ته وحی او تختې ورکړې.

جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ يعنې: د طور غره ښی اړخ. دلته الْأَيْمَنَ د ښي اړخ په معنا دی.

الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ هغه خواړه وو چې الله تعالی د هغوی د سفر پر مهال ورته برابر کړل.

الْمَنَّ ــــ یو ځانګړی خوراک چې الله ورته برابر کړی و.

السَّلْوَىٰ ـــ مرزان، يعنې واړه مرغان چې د خوراک لپاره وو.

په عَدُوِّکُمْ، وَاعَدْنَاکُمْ، عَلَيْکُم کې کُم ضمير بني اسرائيلو ته راجع دی.

د آيت ترتيب هم ښکلی دی: الله هغوی ته امن، هدايت او خوراک ورکړ—يعنې د ژوند مهمې اړتياوې يې ورته برابرې کړې.

د نن لپاره درس: کله چې الله موږ له سختۍ وباسي او نعمت راکړي، بايد هېر يې نه کړو؛ د نعمت يادول بايد شکر او اطاعت زيات کړي.

========================================

د سورت طه ــ ۸۱ آيت

كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي ۖ وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَىٰ (۸۱)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې الله تعالی بني اسرائيلو ته ور ياد کړل چې مَنّ او سلویٰ يې ورته ورکړي وو.

اوس ورته وايي چې له دې پاکو او ښو خوړو څخه خورئ، خو د الله له حدودو مه اوړئ او نافرماني مه کوئ.

لفظي ژباړه

كُلُوا ـــ خورئ ـــ مِن طَيِّبَاتِ ـــ له پاکو شيانو څخه ـــ مَا رَزَقْنَاكُمْ ـــ هغه چې موږ تاسو ته روزي درکړې ـــ وَلَا تَطْغَوْا ـــ او له حده مه اوړئ ـــ فِيهِ ـــ په دې کې ـــ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ ـــ ګڼي پر تاسو به راشي ـــ غَضَبِي ـــ زما غضب ـــ وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ ـــ او پر چا چې راشي ـــ غَضَبِي ـــ زما غضب ـــ فَقَدْ هَوَىٰ ـــ نو يقيناً هغه ولوېد /نو يقيناً هغه تباه شو.

روانه ژباړه

له هغو پاکو او ښو شيانو څخه وخورئ چې موږ تاسو ته د روزۍ په توګه درکړي دي، او په دې کې له حده مه اوړئ، ګنې زما غضب به پر تاسو راشي؛ او پر چا چې زما غضب راشي، هغه يقيناً د هلاکت کندې ته ولوېد.

تفسير

طَيِّبَاتِ يعنې: پاک، ښه او حلال شيان. دلته هغه خواړه هم پکې شامل دي چې الله بني اسرائيلو ته ورکړي وو.

په رَزَقْنَاكُمْ کې نَا — «موږ» الله تعالى ته او كُم — «تاسو» بني اسرائيلو ته راجع دی.

﴿وَلَا تَطْغَوْا﴾ — طغيان يعنې: له حده اوښتل، سرکشي او نافرماني کول. يعنې د الله له نعمتونو ګټه واخلئ، خو په نافرمانۍ او ناشکرۍ کې يې مه کاروئ.

په ﴿فِيهِ﴾ کې هِ د ورکړل شوې روزۍ او نعمتونو لوري ته اشاره کوي.

﴿فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي﴾ يعنې: زما غضب به پر تاسو راشي.

﴿فَقَدْ هَوَىٰ﴾ — هَوَىٰ په اصل کې د لوېدو معنا لري. دلته مطلب دا دی چې انسان په هلاکت او تباهۍ کې ولوېد.

د آيت مهم پيغام دا دی: الله لومړی نعمت ورکوي او بيا د هغه د سم استعمال لار ښيي. نعمت لرل انسان ته دا اجازه نه ورکوي چې د الله له حدودو واوړي.

د نن لیاره درس: د الله له بنو نعمتونو ګټه واخلئ، خو په شکر او سمه لاره کې؛ نعمت باید انسان الله ته نږدې کړي، نه دا چې نافرمانه يې کړي.يعنې: انسان بايد د الله تعالی د ټولو نعمتونو څخه سمه ګټه واخلي. هر وخت يې ياد کړي او شکر پرې وباسي. د الله تعالی په نعمتونو کې افراط او تفريط مه کوی. د الله تعالی د نعمتونو نه سمه ګټه اخيستنه انسان خپل خالق ته نژدی کوئ نو د خپل رب په نعمتونو کې د حدودو او اندازو څنې هيڅ وخت نا فرمانې او خلاف ورزی مه کوي.

*************************************************

د سورت طه – ۸۲ آيت

وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَىٰ(۸۲)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکيني آيت کې د الله د غضب خبرداری ورکړل شو، که څوک له حدودو واوړي.

خو سمدستي وروسته الله تعالی د اميد دروازه پرانيزي: که انسان ګناه هم وکړي، بيا توبه وباسي، ايمان راوړي، نېک عمل وکړي او په سمه لار روان پاتې شي، الله يې بخښي.

لفظي ژباړه (الله تعالی فرمايي:)

وَإِنِّي — او بېشکه زه — لَغَفَّارٌ — خامخا ډېر بخښونکی يم — لِّمَن — د هغه چا لپاره چې — تَابَ — توبه وباسي — وَآمَنَ — او ايمان راوړي — وَعَمِلَ صَالِحًا — او نېک عمل وکړي — ثُمَّ — بيا — اهْتَدَىٰ — په سمه لار روان شي.

## روانه ژباړه

او بېشکه زه د هغه چا لپاره ډېر بخښونکی یم چې توبه وباسي، ایمان راوړي، نېک عمل وکړي او بیا په سمه لار روان پاتې شي.

## تفسیر

په ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ﴾ کې ډېر تاکید دی. إِنَّ او لَـ دواړه خبره پیاوړې کوي: «بېشکه زه خامخا ډېر بخښونکی یم»

غَفَّارٌ د بخښنې معنا لري، خو دا صیغه د ډېرې او بیا بیا بخښنې معنا هم ورکوي. یعنې څوک چې په اخلاص الله ته راوګرځي، د الله د بخښنې دروازه ورته خلاصه ده.

آیت څلور مهم شیان بیانوي:

تَابَ ـــ توبه یې وکړه: له ګناه څخه راوګرځېد او الله ته یې رجوع وکړه.

آمَنَ ـــ ایمان یې راوړ.

عَمِلَ صَالِحًا ـــ نېک عمل یې وکړ: خپل ایمان یې په عمل کې ښکاره کړ.

ثُمَّ اهْتَدَىٰ ـــ بیا په سمه لار روان پاتې شو. یعنې یوازې د یوې شېبې بدلون نه، بلکې د الله پر هدایت د پاتې کېدو هڅه هم ضروري ده.

د ۸۱ او ۸۲ آیتونو ترمنځ ډېر ښکلی توازن دی: الله د ګناه او سرکشۍ خبرداری ورکوي، خو د ګناه وروسته د انسان لپاره دروازه نه تړي؛ سمدستي د توبې او بخښنې یادونه کوي.

د نن لپاره درس: د الله بخښنه د ګناه د دوام پلمه مه جوړوئ؛ خو که ګناه درڅخه وشي، نااميده کیږئ هم مه‌ـــتوبه وکړئ، ځان اصلاح کړئ، نېک عمل وکړئ او پر سمه لار روان پاتې شئ.

**************************************************************

د سورت طه ــ ۸۳ آیت

وَمَا أَعْجَلَكَ عَن قَوْمِكَ يَا مُوسَىٰ(۸۳)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په مخکينيو آيتونو کې د الله د هدايت او بخښني خبره وشوه.

اوس کيسه بېرته د طور غره پر لور راګرځي. الله تعالى له موسى عليه السلام څخه پوښتي چې ولې له خپل قوم څخه مخکې او په بيړه راغلى دی.

لفظي ژباړه

وَمَا ـــ او څه شي ـــ أَعْجَلَكَ ـــ ته په بيړه راوستې ـــ عَن قَوْمِكَ ـــ له خپل قوم څخه مخکې ـــ يَا مُوسَىٰ ـــ اې موسى!

روانه ژباړه

اې موسى! څه شي دې ته وهڅولې چې له خپل قوم څخه مخکې په بيړه راشې؟

تفسير

أَعْجَلَكَ يعني: په بيړه راوستل يا ژر راتلو ته هڅول.

په أَعْجَلَكَ کې كَ ضمير موسى عليه السلام ته راجع دی.

عَن قَوْمِكَ دلته دا معنا لري چې موسى عليه السلام له خپل قوم څخه مخکې راغلى و او هغوی وروسته پاتې وو.

په قَوْمِكَ کې هم كَ موسى عليه السلام ته راجع دی، او قوم دلته هغه بني اسرائيل دي چې له هغه سره وو.

دا پوښتنه د دې لپاره نه وه چې:نعوذ بالله، الله تعالی په دې راز نه پوهېده؛ بلکې موسی علیه السلام ته یې موقع ورکړه چې د خپلې بیړې سبب بیان کړي.

په راتلونکي آیت کې موسی علیه السلام خپل دلیل بیانوي.

د نن لپاره درس: ښه نیت مهم دی، خو که انسان د نورو مسؤولیت هم لري، باید د هغوی حالت هم په پام کې ونیسي.

**************************************************

د سورت طه – ۸۴ آیت

قَالَ هُمْ أُولَاءِ عَلَىٰ أَثَرِي وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ(۸۴)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې الله تعالی له موسی علیه السلام څخه وپوښتل چې ولې له خپل قوم څخه مخکې په بیړه راغلی.

اوس موسی علیه السلام ځواب ورکوي: قوم یې ډېر شاته نه و، ورپسې روان و، او دی ځکه ژر راغلی و چې د الله رضا ترلاسه کړي.

لفظي ژباړه

قَالَ —(موسی علیه السلام) وویل — هُمْ أُولَاءِ — هغوی همدلته(نږدې)دي — عَلَىٰ أَثَرِي — زما پر پلونو / زما پسې(راروان دي) — وَعَجِلْتُ — او ما بیړه وکړه — إِلَيْكَ — ستا لوري ته — رَبِّ — اې زما ربه — لِتَرْضَىٰ — ترڅو ته راضي شې.

روانه ژباړه

موسی وویل: هغوی همدا زما پسې را روان دي، او اې زما ربه! زه ستا لوري ته په بیړه راغلم، ترڅو ته راضي شې.

تفسير

هُمْ أُولَاءِ يعنې: «هغوى همدلته نږدې دي»؛ مطلب دا چې قوم يې ډېر لرې نه و.

عَلَىٰ أَثَرِي لفظاً يعنې: «زما پر پلونو»، او روانه معنا يې ده: «زما پسې را روان دي»

په أَثَرِي کې ي — «زما» موسى عليه السلام ته راجع ده.

وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ يعنې: «زه ستا لوري ته په بيړه راغلم.» موسى عليه السلام د الله د امر د پوره کولو لپاره شوق او بيړه لرله.

په إِلَيْكَ کې كَ — «ستا» الله تعالى ته راجع دى.

لِتَرْضَىٰ يعنې: «ترڅو ته راضي شې.» د موسى عليه السلام نيت ښه و؛ هغه د الله رضا غوښتله.

د نن لپاره درس: ښه نيت ډېر مهم دى، خو له ښه نيت سره بايد د خپل مسؤوليت خيال هم وساتل شي.يعنې:

*************************************************************

د سورت طه ـ ۸۵ آيت

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ(۸۵)

د مخکينيو آيتونو سره اړيکه

موسى عليه السلام د الله د ملاقات لپاره مخکې تللى و او قوم يې شاته پاتې و.

اوس الله تعالى هغه ته خبر ورکوي چې ستا له تلو وروسته ستا قوم وازمويل شو، او سامري هغوى بې لارې کړل.

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ هغه«جل جلاله» وفرمايل ـــ فَإِنَّا ـــ نو بېشكه موږ ـــ قَدْ فَتَنَّا ـــ وازمويلو ـــ قَوْمَكَ ـــ ستا قوم ـــ مِنْ بَعْدِكَ ـــ ستا له تلو وروسته ـــ وَأَضَلَّهُمُ ـــ او هغوی بې لارې كړل ـــ السَّامِرِيُّ ـــ سامري.

## روانه ژباړه

الله وفرمايل: بېشكه موږ ستا له تلو وروسته ستا قوم وازمويه، او سامري هغوی بې لارې كړل.

## تفسير

﴿فَتَنَّا﴾ دلته معنا لري: موږ وازمويل. فتنه كله د امتحان او ازموينې په معنا وي، چې د انسان د ايمان حقيقت پرې څرګندېږي.

په ﴿قَوْمَكَ﴾ كې كَ ـــ «ستا» موسی عليه السلام ته راجع دی؛ يعنې ستا قوم.

﴿مِنْ بَعْدِكَ﴾ يعني: ستا له تلو وروسته، كله چې موسی عليه السلام د الله د تاكلي ملاقات لپاره تللی و.

په ﴿أَضَلَّهُمُ﴾ كې هُم ـــ «هغوی» د موسی عليه السلام د قوم هغو خلكو ته راجع دی چې بې لارې شول.

﴿السَّامِرِيُّ﴾ هغه كس و چې د دې بې لارې لوی سبب شو. وروسته يې د خوسكي مسئله جوړه كړه او د بني اسرائيلو ځينې خلک يې د هغه عبادت ته راوبلل.

مهمه خبره دا ده چې الله هغوی وازمويل، خو سامري هغوی بې لارې كړل. ازموينه انسان په زور ګناه ته نه اړ باسي؛ بلكې څرګندوي چې انسان څه انتخاب كوي.

د نن لپاره درس: انسان له لويو نښو ليدلو وروسته هم ازمويل کېدای شي؛ نو ايمان علم، ساتنې او د بې لارې کوونکو خلکو څخه د ځان ژغورلو ته اړتيا لري.

---

د سورت طه ــ ۸۶ آيت

فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِي(۸۶)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په ۸۵ آيت کې الله تعالى موسى عليه السلام ته وويل چې ستا له تلو وروسته ستا قوم وازمويل شو او سامري هغوى بې لارې کړل.

اوس موسى عليه السلام خپل قوم ته په غوسه او ډېر خپه بېرته راګرځي، ځکه هغوى د خوسکي عبادت ته مخه کړې وه.

لفظي ژباړه

فَرَجَعَ مُوسَىٰ ـــ نو موسى عليه السلام بېرته راوګرځېد ـــ إِلَىٰ قَوْمِهِ ـــ خپل قوم ته ـــ غَضْبَانَ ـــ په غوسه ـــ أَسِفًا ـــ ډېر خپه ـــ قَالَ يَا قَوْمِ ـــ ويې ويل: اې زما قومه ـــ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ ـــ آيا ستاسو رب تاسو سره وعده نه وه کړې؟ ـــ وَعْدًا حَسَنًا ـــ يوه ښه وعده ـــ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ ـــ آيا موده درباندې اوږده شوه؟ ـــ أَمْ أَرَدتُّمْ ـــ او که تاسو غوښتل ـــ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ ـــ چې پر تاسو راشي ـــ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ ـــ ستاسو د رب غضب ـــ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِي ـــ نو زما سره مو خپله وعده ماته کړه؟

روانه ژباړه

نو موسی علیه السلام خپل قوم ته په غوسه او ډېر خپه بېرته راوګرځېد. ويې ويل: اې زما قومه! آيا ستاسو رب تاسو سره ښه وعده نه وه کړې؟ آيا موده درباندې دومره اوږده شوه؟ او که مو غوښتل چې ستاسو د رب غضب درباندې راشي، نو ځکه مو زما سره خپله وعده ماته کړه؟

تفسير

﴿غَضْبَانَ أَسِفًا﴾ ـــ غضبان يعنې په غوسه او أسفًا دلته د ډېر خپه او زړه خوږي معنا هم لري. موسی علیه السلام ځکه سخت خپه او په غوسه و چې قوم يې دومره لوېې بې لارۍ ته تللی و.

﴿وَعْدًا حَسَنًا﴾ يعنې ښه وعده؛ د الله تعالی هغه ښې وعدې او لارښوونې چې د بني اسرائيلو سره يې کړې وې.

په ﴿يَعِدْكُمْ﴾ کې كُم ـــ «تاسو» د بني اسرائيلو خلکو ته راجع دی.

﴿أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ﴾ يعنې: آيا دومره اوږده موده تېره شوه چې تاسو د الله وعده او خپله ژمنه هېره کړه؟ حال دا چې موسی علیه السلام ډېر اوږد وخت ترې نه و لرې شوی. په دې پوښتنه کې د هغوی پر چټکې بې لارۍ سخت ملامتول دي.

﴿أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ﴾ کې يَحِلَّ يعنې راشي، نازل شي يا درباندې واقع شي.

﴿فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِي﴾ يعنې: هغه وعده او ژمنه مو پوره نه کړه چې له ما سره مو کړې وه.

د نن لپاره درس: انسان کله ناکله حقيقت پېژني، خو که خپل ايمان ونه ساتي او د بې لارې کوونکي کس تر اغېزې لاندې راشي، په ډېر لږ

وخت کې له سمې لارې اوړېدای شي. نو ایمان تل ساتنې او پاملرنې ته اړتیا لري.

************************************************************

د سورت طه – ۸۷ آیت

قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ(۸۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په مخکیني آیت کې موسی علیه السلام د خپل قوم څخه وپوښتل چې ولې مو وعده ماته کړه او دومره ژر بې لارې شوئ؟

اوس هغوی ځواب ورکوي او هغه کوي چې پېښه تشریح کړي.

لفظي ژباړه

قَالُوا ـــ هغوی(یعني قوم یې) وویل ـــ مَا أَخْلَفْنَا ـــ موږ نه ده ماته کړې ـــ مَوْعِدَكَ ـــ ستا سره وعده ـــ بِمَلْكِنَا ـــ په خپل اختیار ـــ وَلَٰكِنَّا ـــ خو موږ، ـــ حُمِّلْنَا ـــ بارونه را باندې اچول شوی وو ـــ أَوْزَارًا ـــ درانه بارونه ـــ مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ ـــ د خلکو د زینتي شیانو ـــ فَقَذَفْنَاهَا ـــ نو موږ هغه وغورځول ـــ فَكَذَٰلِكَ ـــ او همداسې ـــ أَلْقَى السَّامِرِيُّ ـــ سامري هم وغورځول.

روانه ژباړه

هغوی وویل: موږ ستا سره خپله وعده په خپل اختیار نه ده ماته کړې؛ خو پر موږ د خلکو د زینتي شیانو درانه بارونه وو، نو موږ هغه وغورځول، او سامري هم همداسې وکړل.

تفسیر

په دې آيت کې د موسی علیه السلام قوم هغه ته ځواب ورکوي. موسی علیه السلام په مخکیني آیت کې هغوی سخت ملامت کړي وو چې ولې مو زما له تلو وروسته ژمنه ماته کړه او د خوسکي عبادت ته مو مخه کړه؟

هغوی وویل: ﴿مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا﴾، یعنې: "موږ ستا ژمنه په خپل بشپړ اختیار او خپل مستقل پلان نه ده ماته کړې." دلته بِمَلْكِنَا د واک، اختیار او توان معنا ورکوي. هغوی غوښتل ووایي چې دا ټوله پېښه زموږ له خپل لومړني پلان څخه نه وه، بلکې سامري موږ دې لارې ته بوتلو. البته دا خبره د هغوی مسئولیت په بشپړه توګه نه ختموي، ځکه هغوی په خپله هم د سامري خبره ومنله.

بیا وایي: ﴿وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ﴾. أوزار په اصل کې درانه بارونه دي. دلته مراد هغه زیورات، ګاڼې او د سرو زرو شیان دي چې بني اسرائیلو له ځان سره وړل. زِينَةِ الْقَوْمِ یعنې د هغه قوم زینتي شیان؛ ډېری مفسرین وایي چې مراد د مصریانو زیورات وو.

د دې زیورونو د ترلاسه کولو په تفصیل کې د تفسیر کتابونو کې بېلابېل نقلونه شته، نو تر ټولو خوندي خبره دا ده چې ووایو: بني اسرائیلو له مصر څخه د وتلو پر مهال د مصریانو یو شمېر زیورات له ځان سره لرل.

بیا وایي: ﴿فَقَذَفْنَاهَا﴾، یعنې "نو موږ هغه وغورځول." په هَا کې ضمیر هماغو زیورونو ته راجع دی. یعنې هغوی هغه سره زر او زیورات یو ټاکلې ځای ته واچول.

وروسته وایي: ﴿فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ﴾، یعنې "سامري هم همداسې وغورځول." دلته د سامري کردار مهم دی. هغه یوازې دا نه وو چې

له نورو سره يې سره زر وغورځول، بلکې راتلونکې آيت بيانوي چې همده له دې موادو څخه د خوسکي په شکل يو جسم جوړ کړ،

نو د پېښې ساده ترتيب داسې دی: موسی علیه السلام د الله د ملاقات لپاره لاړ. قوم تر شا پاتې شو. له هغوی سره زيورات وو. سامري هغوی وهڅول چې دا زيورات راټول او وغورځوي. بيا سامري له هغو څخه د خوسکي يو جسم جوړ کړ. وروسته يې خلک دې ته وهڅول چې دا د عبادت وړ وبولي. ځينې خلک يې په فريب کې ولوېدل.

د هغوی د خبرو مهمه برخه دا ده چې دوی وايي: "موږ دا کار په خپل اختيار نه دی کړی." دا د انسان يوه عامه کمزوري ښيي: کله چې خطا وکړي، نو وايي "فلاني راته وويل"، "حالات داسې وو"، يا "زه مجبور شوم." خو قرآن دا نه ښيي چې هغوی بالکل بې مسئوليته وو. سامري بې لارې کوونکی و، خو هغوی هم د هغه خبره منلې وه.

د آيت يو بل مهم ټکی دا دی چې فتنه اکثره له داسې شيانو راولاړېږي چې انسان ورته ارزښت ورکوي. دلته سره زر او زيورات د يوې سترې ازموينې سبب شول. مال په خپله بد نه دی، خو که د غلط انسان په لاس کې او د غلط هدف لپاره وکارول شي، د فساد وسيله کېدای شي.

د نن لپاره درس: هره غلطه لار يوازې د يوه مشر په سبب نه جوړېږي؛ بې لارې کوونکی يو کس کېدای شي، خو هغه وخت بريالی کېږي چې خلک بې له فکره د هغه پيروي وکړي. نو انسان بايد د دين او حق په مسئلو کې د خلکو پر خبرو نه، بلکې پر روښانه دليل او صحيح لارښوونه تکيه وکړي.داسې نه،چې خپله خطا او پړه په بل کس اچوي؛هر انسان د خپل انتخاب مسؤل دی.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۸۸ آیت

فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ فَقَالُوا هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ(۸۸)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په ۸۷ آيت کې خلکو وويل چې له دوی سره موجود زيورات يې وغورځول او سامري هم خپل څه ورسره وغورځول.

اوس دا آيت بيانوي چې سامري له دې وروسته څه جوړ کړل او خلک څنګه پرې وغولېدل.

لفظي ژباړه

فَأَخْرَجَ لَهُمْ ــــ نو راويې ويست هغوی ته ــــ عِجْلًا ــــ د يو خوسکی ــــ جَسَدًا ــــ جسد (بت) ــــ لَّهُ خُوَارٌ ــــ چې د خوسکي غوندې غږ يې درلود ــــ فَقَالُوا ــــ نو هغوی وويل(يعنې سامري او د هغه ملګرو ــــ هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ ــــ دا ستاسو معبود دی ــــ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ ــــ او د موسی معبود هم دی ــــ فَنَسِيَ ــــ خو هغه هېر کړی دی(يعنې معبود يې دلته دی او هغه پسې کوه طور ته تللی)

روانه ژباړه

نو سامري هغوی ته د خوسکي په شکل يو جسم راوويست چې د خوسکي غوندې غږ يې کاوه. بيا هغوی(يعنې سامري او د هغه ملګرو) وويل: دا ستاسو معبود او د موسی معبود دی، خو موسی ع هغه هېر کړی دی(يعنې معبود يې دلته دی او هغه پسې کوه طور ته تللی)

تفسير

﴿فَأَخْرَجَ لَهُمْ﴾ کې د فعل کوونکی سامري دی؛ يعنې له هغو زيوراتو څخه وروسته سامري خلکو ته يو شی جوړ او راوويست.

﴿عِجْلًا جَسَدًا﴾ — عِجْل يعنې خوسکی او جسد يعنې جسم يا بدني شکل. يعنې يو داسې جسم يې جوړ کړ چې د خوسکي شکل يې درلود.

﴿لَّهُ خُوَارٌ﴾ — خُوَار د غوا يا خوسکي مخصوص غږ ته وايي. يعنې له هغه خوسکي څخه د خوسکي په شان غږ راوتلو.

خو قرآن په دې آيت کې دا نه وايي چې دا غږ په کومه طريقه جوړېده.او په دې اړه نقل شوي تفصيلات په صحيح نبوي حديث هم ثابت نه دي؛ نو موږ بايد په يقين سره ونه وايو چې حتماً د باد، کومې آلې يا کومې فوق العاده طريقې له امله و،نو د هغه څه زيات ويل چې قرآن ويلي،ضروري نه دي. اصلي خبره دا ده چې د هغه شکل او غږ د خلکو په غولولو کې رول درلود.

بيا هغوی وويل:يعنې سامري او د هغه ډلې وويل:

﴿هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ﴾

«دا ستاسو معبود او د موسی ع معبود دی»

په إِلَٰهُكُمْ کې کُم — «ستاسو» بني اسرائيلو ته راجع دی.

﴿فَنَسِيَ﴾ څه معنا لري؟

نَسِيَ لفظاً يعنې «هېر يې کړ»

د مفسرينو په تفسيرونو کې يې د مرجع په اړه بېلابېل نظرونه راغلي، خو يو مشهور او د عبارت له سياق سره مناسب تفسير دا دی چې هغوی ويل:

دا د موسی معبود هم دی، خو موسی هېر کړی او بل ځای پسې تللی دی.

يعني هغوی په دروغو دا دعوه وکړه چې موسی علیه السلام خپل معبود دلته پرېښی او د ملاقات لپاره بل ځای ته تللی دی.

بل تفسير دا هم نقل شوی چې سامري حقه لار هېره او پرېښوده. خو د جملې له روان سياق سره لومړی مفهوم ډېر مستقيم ښکاري.

راتلونکی آيت به د هغوی د دې عقيدې په مقابل کې ډېر ساده عقلي دليل وړاندې کړي: دا څنګه معبود کېدای شي چې نه د دوی خبرې ته ځواب ورکولای شي او نه د ګټې او زيان واک لري؟

د نن لپاره درس: هر عجيب او حيرانوونکی شی حقيقت نه وي. يو غيرعادي غږ، ښکلی شکل يا حيرانوونکې پېښه بايد انسان له فکر او دليل څخه بې برخې نه کړي؛ حق بايد په دليل او صحيح لارښوونه وپېژندل شي.

**************************************************

د سورت طه ــ ۸۹ آيت

أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا(۸۹)

د مخکيني آيت سره اړيکه

په ۸۸ آيت کې سامري خوسی جوړ کړ او بې لارې شوو خلکو وويل: «دا ستاسو معبود او د موسی ع معبود دی»

اوس الله تعالی د هغوی په وړاندې يو ډېر ساده عقلي دليل وړاندې کوي:

آیا هغوی نه لیدل چې دا خوسی نه د دوی خبرو ته ځواب ورکولی شي او نه د ضرر او ګټې واک لري؟

لفظي ژباړه

أَفَلَا — نو آیا نه — يَرَوْنَ —ويني دوی — أَلَّا يَرْجِعُ — چې نه ورګرځوي — إِلَيْهِمْ — هغوی ته — قَوْلًا — کومه خبره ( ځواب) — وَلَا يَمْلِكُ — او واک نه لري — لَهُمْ — هغوی ته — ضَرًّا — د ضرر — وَلَا نَفْعًا — او نه د ګټې.

روانه ژباړه

آیا هغوی نه لیدل چې هغه خوسی د دوی خبرې ته هېڅ ځواب نه شي ورکولی او نه هغوی ته د ضرر او نه د ګټې واک لري؟

تفسیر

﴿أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا﴾ کې يَرْجِعُ قَوْلًا معنا دا ده چې د خبرې ځواب ورکول. هغوی له خوسي سره خبرې کولی شوې، خو خوسي د هغوی خبرې نه درک کولې او ځواب يې نه شو ورکولی.

په ﴿إِلَيْهِمْ﴾ کې هُم هغو خلکو ته راجع دی چې خوسی يې منلی و.

﴿وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا﴾ کې يَمْلِكُ يعني واک او اختيار لرل.

ضَرًّا = ضرر، زیان

نَفْعًا = ګټه

یعني خوسي نه د دوی د زیان واک درلود او نه يې د ګټې.

دلته له مخکیني آیت سره يو ډېر مهم تړاو شته. هلته وويل شول.

﴿لَّهُ خُوَارٌ﴾ — «هغه غږ درلود»

خو دلته الله تعالی خلک متوجه کوي چې یوازې غړ کول، خبرې کول نه دي. خوسي غږ کاوه، خو نه يې عقل درلود، نه يې د خلکو خبرې ځوابولی شوې او نه يې هغوی ته ګټه یا ضرر رسولی شو.

نو پوښتنه دا ده: کوم شی چې انسانانو جوړ کړی وي، خبرې ته ځواب نه شي ورکولی او د ګټې او ضرر واک هم نه لري، هغه څنګه معبود کېدای شي؟

د نن لپاره درس: انسان باید یوازې د یوه شي په عجیب شکل، غږ یا ظاهري اغېزه ونه غولېږي؛ حقیقت باید په عقل، دلیل او صحیح لارښوونه وپېژندل شي.

++++++++++++++++++++++++++++++++++++++

د سورت طه ــ ۹۰ آیت

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِن قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوا أَمْرِي(۹۰)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په ۸۹ آیت کې الله تعالی وښودله چې خوسي نه د دوی خبرې ته ځواب ورکولی شو او نه يې د ګټې او ضرر واک درلود.

اوس دا آیت وايي چې هارون علیه السلام د موسی علیه السلام له بېرته راتلو مخکې لا خلک خبردار کړي وو.

لفظي ژباړه

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ ـــ او یقیناً هغوی ته ویلي وو

هَارُونُ مِن قَبْلُ ـــ هارون ع مخکې

يَا قَوْمِ ـــ اې زما قومه

إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِ ـــ تاسو يوازې په دې سره ازمويل شوي ياست

وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ ـــ او بېشکه ستاسو رب رحمان دی

فَاتَّبِعُونِي ـــ نو زما پيروي وکړئ

وَأَطِيعُوا أَمْرِي ـــ او زما امر ومنئ

روانه ژباړه

او هارون عليه السلام له دې مخکې هغوی ته ويلي وو: اې زما قومه! تاسو يوازې په دې خوسي سره ازمويل شوي ياست. ستاسو حقيقي رب رحمان دی، نو زما پيروي وکړئ او زما امر ومنئ.

تفسير

﴿مِن قَبْلُ﴾ يعني د موسی عليه السلام له بېرته راتلو مخکې. هارون عليه السلام د قوم دا کار نه و منلی، بلکې مخکې يې هغوی ته نصيحت کړی و.

﴿إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِ﴾ يعني: تاسو په دې خوسي سره ازمويل شوي ياست.

په بِهِ کې هِ ضمير خوسي ته راجع دی.

يعني خوسی معبود نه و، بلکې ازموينه وه: آيا خلک به د الله په لار ثابت پاتې شي، او که به د يوه داسې شي پسې لاړ شي چې عجيب شکل او غږ لري؟

بيا هارون عليه السلام وويل:

﴿وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ﴾

يعني ستاسو حقيقي رب رحمان الله دی، نه هغه خوسی چې انسانانو جوړ کړی دی.

په رَبَّكُم کې كُم ـــ «ستاسو» بني اسرائيلو ته راجع دی.

﴿فَاتَّبِعُونِي﴾ ــــ «نو زما پيروي وكړئ»

دلته ي ــــ «زما» هارون عليه السلام ته راجع دی.

﴿وَأَطِيعُوا أَمْرِي﴾ ــــ «او زما امر ومنئ»

په أَمْرِي كې هم ي هارون عليه السلام ته راجع دی.

دا آيت دا هم ښكاره كوي چې هارون عليه السلام چپ نه و پاتې شوی؛ هغه د قوم د بې لارې په وړاندې ودرېد او هغوی ته يې حق بيان كړ.

د نن لپاره درس: كه خلک په يوه غلطه لار ډېر شي، د خلكو ډېروالی هغه غلطه لار نه حق كوي. انسان بايد روښانه دليل او صحيح لارښوونه تعقيب كړي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۹۱ آيت

قَالُوا لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ(۹۱)

د مخكيني آيت سره اړيكه

په ۹۰ آيت كې هارون عليه السلام قوم ته په ښكاره وويل چې دا خوسكی يوازې ستاسو لپاره ازموينه ده، ستاسو حقيقي رب رحمان دی؛ نو زما پيروي وكړئ او زما خبره ومنئ.

خو هغوی د هارون عليه السلام نصيحت ونه مانه او په ۹۱ آيت كې يې په ټينګار سره ځواب وركړ چې د خوسكي عبادت به تر هغه نه پرېږدي،تر څو چې موسی عليه السلام بېرته رانشي.

لفظي ژباړه

قَالُوا ــــ هغوی وويل

لَن نَّبْرَحَ ــــ موږ به هېڅكله لاس وانخلو

عَلَيْهِ عَاكِفِينَ ـــ د هغه په عبادت کې له ټينګ پاتې کېدو

حَتَّىٰ ـــ تر هغه چې

يَرْجِعَ إِلَيْنَا ـــ موږ ته بېرته راشي

مُوسَىٰ ـــ موسی علیه السلام

روانه ژباړه

هغوی وویل: موږ به د دې خوسکي عبادت ته دوام ورکوو، تر هغه پورې چې موسی علیه السلام بېرته موږ ته راشي.

تفسير

﴿قَالُوا﴾ ـــ «هغوی وویل» هغو کسانو ته اشاره ده چې د بني اسرائیلو له ډلې یې خوسکی منلی و.

﴿لَن نَّبْرَحَ﴾ معنا ده: «موږ به لاس وانخلو / دوام به ورکوو.» له دې څخه د هغوی ټینګار څرګندېږي. هارون علیه السلام ورته حقیقت بیان کړی و، خو هغوی بیا هم د خپل کار پرېښودلو ته تیار نه شول.

﴿عَلَيْهِ عَاكِفِينَ﴾ کې ِهِ ـــ «هغه» خوسکي ته راجع دی.

عَاكِفِينَ دلته یوازې د «ناستو» معنا نه لري، بلکې د یوه شي سره ټینګ پاتې کېدل او ځان ورته وقف کول معنا لري. د دې آیت په سیاق کې مقصد د خوسکي په عبادت کې ټینګ پاتې کېدل دي.

﴿حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ﴾ یعنې: «تر هغه چې موسی علیه السلام موږ ته بېرته راشي»

د هغوی په ځواب کې یوه مهمه خبره دا ده چې هارون علیه السلام لا له دوی سره موجود و او په څرګنده یې ورته ویلي وو چې دا خوسکی ستاسو ازموینه ده او ستاسو رب رحمان دی. سره له دې هغوی ونه

ویل چې مور به خپله تېروتنه وځېړو؛ بلکې ویې ویل چې د موسی علیه السلام د راتګ پورې به همدا کار کوو.

په دې توګه هغوی له یوې خوا د موسی علیه السلام مقام منلو، ځکه د هغه راتګ ته یې انتظار کاوه، خو له بلې خوا یې د هارون علیه السلام روښانه لارښوونه نه منله.

د نن لپاره درس: کله چې انسان ته خپله تېروتنه روښانه شي، د هغې د پرېښودلو لپاره باید پلمې او ځنډ ونه کړي. په غلط کار باندې دوام کول د انسان زړه نور هم ورسره عادت کوي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۹۲ آیت

قَالَ يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا(۹۲)

د مخکیني آیت سره اړیکه

هارون علیه السلام قوم ته نصیحت کړی و، خو هغوی یې خبره ونه منله او ویې ویل چې د موسی علیه السلام تر راتلو پورې به د خوسي په عبادت بوخت پاتې شي.

کله چې موسی علیه السلام بېرته راغی او دا حالت یې ولید، له هارون علیه السلام څخه یې وپوښتل چې: کله دې ولیدل چې خلک بې لارې شول، نو څه شي د لا قوي اقدام څخه منع کړې،یعني ولې دې د هغوی په ضد سخت اقدام و نه کړ؟

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ هغه(موسی علیه السلام) وویل ـــ يَا هَارُونُ ـــ اې هارونه ـــ مَا ـــ څه شي ـــ مَنَعَكَ ـــ ته منع کړې / ته یې ودرولې ـــ إِذْ

— كله چې — رَأَيْتَهُمْ — تا هغوى وليدل — ضَلُّوا — چې بې لارې شول.

روانه ژباړه

موسى وويل: اې هارونه! كله چې تا وليدل چې هغوى بې لارې شول، «نو څه شي ته منع كړې»؟

تفسير

په ﴿قَالَ﴾ كې ويونكى موسى عليه السلام دى.

﴿مَا مَنَعَكَ﴾ يعني: «څه شي ته منع كړې؟ / څه شي ته ودرولې؟» په كَ كې ضمير هارون عليه السلام ته راجع دى.

﴿إِذْ رَأَيْتَهُمْ﴾ يعني: «كله چې تا هغوى وليدل.» په هُم كې ضمير هغو خلكو ته راجع دى چې د خوسي په فتنه كې بې لارې شوي وو.

﴿ضَلُّوا﴾ يعني: «هغوى بې لارې شول / له سمې لارې واوښتل»

دلته موسى عليه السلام دا نه وايي چې هارون عليه السلام هم د خوسي عبادت منلى و؛ څكه موږ په ۹۰ آيت كې وليدل چې هارون عليه السلام هغوى ته واضح ويلي وو.

﴿إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ﴾

يعني: «تاسو په دې خوسي سره يوازې ازمويل شوي ياست، او ستاسو حقيقي رب رحمان دى»

بلكې موسى عليه السلام پوښتي: كله چې دې د هغوى بې لارې وليده، ولې دې تر دې سخت او قوي اقدام ونه كړ؟

دا پوښتنه په همدې آيت كې لا نيمګړې ده او په راتلونكي ۹۳ آيت كې بشپړېږي.

وروسته هارون علیه السلام خپل دلیل هم بیانوي: هغه وېره درلوده چې که سخت اقدام وکړي، بني اسرائیل به په خپلو کې ووېشل شي او شخړه به رامنځته شي.

د نن لپاره درس: کله چې یوه ستونزه رامنځته شي، یوازې د ظاهر له مخې باید پر مسئول کس فیصله ونه شي؛ لومړی باید وپوښتل شي چې څه پېښ شول او ولې یې یو ځانګړی اقدام ونه کړ؟

*************************************************

د سورت طه ــ ۹۳ آیت

أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي(۹۳)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په ۹۲ آیت کې موسی علیه السلام له هارون علیه السلام څخه وپوښتل:

کله چې دې هغوی بې لارې ولیدل، «څه شي ته منع کړې(د هغوی په ضد د سخت اقدام کولو نه)»؟

اوس هماغه پوښتنه بشپړېږي:

«ولې دې زما پیروي ونه کړه؟ آیا زما امر دې ونه مانه؟»

لفظي ژباړه

أَلَّا تَتَّبِعَنِ ـــولې دې زما پیروي ونه وکړه؟

أَفَعَصَيْتَ ـــ آیا نو تا نافرماني وکړه؟

أَمْرِي ـــ زما د امر؟

روانه ژباړه

«ولې دې زما پیروي ونه کړه؟ آیا زما د امر نافرماني دې وکړه؟»

تفسير

﴿أَلَّا تَتَّبِعَنِ﴾ د مخکيني آيت له جملې سره تړلې دی. بشپړه معنا يې داسې ده:

کله چې تا هغوی بې لارې وليدل، څه شي ته منع کړې چې زما پيروي دې ونه کړه؟

په تَتَّبِعَنِ کې د فعل مخاطب هارون عليه السلام دی، او نِ / ي — «ما» موسی عليه السلام ته راجع دی.

موسی عليه السلام هارون عليه السلام د قوم سره پرېښی و چې د هغوی حالت سم وساتي. کله چې موسی بېرته راغی او دا لويه بې لارې يې وليده، نو پوښتنه يې وکړه چې ولې دې نور قوي اقدام ونه کړ، يا ولې دې ما ته ځان را ونه رساوه؟

بيا وايي:

﴿أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي﴾

عَصَيْتَ يعني: تا نافرماني وکړه.

په عَصَيْتَ کې تَ هارون عليه السلام ته راجع دی.

په أَمْرِي کې ي — «زما» موسی عليه السلام ته راجع دی.

يعني موسی عليه السلام په سخت انداز ترې پوښتي:

«آيا تا زما امر ونه مانه؟»

راتلونکی آيت د هارون عليه السلام وضاحت بيانوي چې ولې يې داسې عمل کړی و.

د نن لپاره درس: کله کله د يوه کس عمل له لرې غلط ښکاري، خو د هغه تر شا يو مهم دليل وي. نو له بشپړ وضاحت مخکې وروستۍ فيصله کول مناسب نه دي.

**************************************************

د سورت طه ــ ۹۴ آيت

قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي ۖ إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي(۹۴) >

د مخکيني آيت سره اړيکه

په ۹۳ آيت کې موسى عليه السلام له هارون عليه السلام څخه وپوښتل چې ولې دې زما پيروي ونه کړه او آيا زما امر دې ونه مانه؟

اوس هارون عليه السلام تشريح کوي چې ولې يې د قوم پر ضد ډېر سخت اقدام ونه کړ.

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ هغه وويل(هارون عليه السلام وويل)

يَا ابْنَ أُمَّ ـــ اې زما د مور زويه

لَا تَأْخُذْ ـــ مه نيسه

بِلِحْيَتِي ـــ زما ږيره

وَلَا بِرَأْسِي ـــ او نه زما سر

إِنِّي خَشِيتُ ـــ بېشکه زه ووېرېدم

أَن تَقُولَ ـــ چې ته به ووايې

فَرَّقْتَ ـــ تا بېلتون واچاوه

بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ـــ د بني اسرائيلو ترمنځ

وَلَمْ تَرْقُبْ ـــ او تا پام ونه کړ /او تا ونه ساته

قَوْلِي ـــ زما خبره

روانه ژباړه

هارون وويل: اې زما د مور زويه! زما ږيره او سر مه نيسه. زه وېرېدم چې ته به ووايې: تا د بني اسرائيلو ترمنځ بېلتون واچاوه او زما خبره دې ونه ساتله.

تفسير

﴿يَا ابْنَ أُمَّ﴾ يعنې: «اې زما د مور زويه!» هارون عليه السلام دا خبره په نرم او عاطفي انداز کوي، څو موسى عليه السلام ته د دوى د وروروليٰ نږدې اړيکه ور په ياد کړي.

﴿لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي﴾ يعنې موسى عليه السلام د قوم پر دې لوى شرک ډېر سخت قهرېدلى و او د هارون عليه السلام ږيره او سر يې نيولى و. هارون عليه السلام ورته وايي چې داسې مه کوه.

په لِحْيَتِي او رَأْسِي کې ي ـــ «زما» هارون عليه السلام ته راجع دى.

بيا هارون خپل دليل وايي:

﴿إِنِّي خَشِيتُ﴾ ـــ «زه وېرېدم»

يعنې که ما د خوسي د عبادت کوونکو پر ضد په زور سخت اقدام کړى واى، کېداى شول د بني اسرائيلو ترمنځ جګړه او لوى اختلاف پيدا شي.

﴿أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾

يعنې: «زه وېرېدم چې ته به راته ووايې: تا د بني اسرائيلو ترمنځ بېلتون واچاوه»

په تَقُولَ کې مخاطب موسی عليه السلام دی.

په فَرَّقْتَ کې مخاطب هارون عليه السلام دی؛ يعنې موسی عليه السلام به ورته ويلي وای: «تا خلک سره ووېشل»

﴿وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي﴾

تَرْقُبْ دلته معنا لري: پاملرنه کول، ساتل، يا د خبرې لحاظ کول.

قَوْلِي يعنې «زما خبره / زما سپارښتنه»، او ي موسی عليه السلام ته راجع دی.

نو هارون عليه السلام وايي: ما قوم ته نصيحت کړی و، خو داسې سخت اقدام مې ونه کړ چې په خلکو کې کورنۍ جګړه او لويه وېشنه پيدا شي. زه وېرېدم چې بيا به ته راته ووايې چې زما سپارښتنه دې ونه ساتله.

د نن لپاره درس: کله کله د يوې بدۍ د بندولو طريقه که سمه نه وي، تر هغې هم لوی فساد پيدا کولی شي. هوښيار انسان يوازې دا نه ګوري چې «بد کار ژر بند کړم»، بلکې دا هم ګوري چې زما د اقدام پايله به څه وي.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۹۵ آيت

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَا سَامِرِيُّ(۹۵)

د مخکيني آيت سره اړيکه

هارون علیه السلام موسی علیه السلام ته تشریح کړه چې ولې یې د قوم پر ضد ډېر سخت اقدام ونه کړ.

اوس موسی علیه السلام مخامخ سامري ته ورځي، ځکه د خوسي د فتنې اصلي جوړوونکی او بې لارې کوونکی همدا و.

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ هغه وویل

فَمَا ـــ نو څه

خَطْبُكَ ـــ ستا خبره / ستا کار / ستا مسئله ده

يَا سَامِرِيُّ ـــ اې سامري

روانه ژباړه

«موسی ع وویل: اې سامري! نو ستا  څه کار و(څه معامله وه)؟»

:یا

«اې سامري! د دې کار په اړه ستا څه وضاحت دی؟»

تفسیر

په ﴿قَالَ﴾ کې ویونکی موسی علیه السلام دی.

﴿فَمَا خَطْبُكَ﴾ کې خَطْب یوازې د عادي «خبرې» معنا نه لري، بلکې د مهم او جدي کار، معاملې او مسئلې معنا لري.

نو موسی علیه السلام ترې پوښتي:

تا دا ولې وکړل؟ ستا مقصد څه و؟ د دې سترې بې لارۍ په اړه ستا وضاحت څه دی؟

په ﴿خَطْبُكَ﴾ کې كَ ـــ «ستا» سامري ته راجع دی.

﴿يَا سَامِرِيُّ﴾ کې موسی علیه السلام اوس مستقیم د فتنې له اصلي کس سره خبرې کوي.

دلته ترتیب هم مهم دی: موسی علیه السلام لومړی له هارون علیه السلام څخه د هغه موقف وپوښت، د هغه وضاحت یې واورېد، او بیا یې اصلي بې لارې کوونکی سامري وپوښت.

د نن لپاره درس: په یوه ستونزه کې باید د هر کس مسئولیت جلا جلا وکتل شي؛ څوک چې خبرداری ورکوي، څوک چې په غلطه لار پسې ځي، او څوک چې فتنه جوړوي، ټول یو شان مسئول نه وي.

.///////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د سورت طه ـــ ۹۶ آیت

قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا > وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي(۹۶)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په ۹۵ آیت کې موسی علیه السلام له سامري څخه مخامخ وپوښتل:

«اې سامري! ستا څه کار و، ستا څه معامله وه؟»

اوس سامري د خپل کار د توجیه او د ځان د خلاصولو لپاره داسې عذر وړاندې کوي.

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ هغه(یعنې سامري) وویل

بَصُرْتُ ـــ ما ولیدل

بِمَا ـــ هغه څه چې

لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ ــــ هغوی نه وو ليدلي

فَقَبَضْتُ ــــ نو ما واخيسته

قَبْضَةً ــــ يو موټی(خاوره)

مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ ــــ د رسول له قدمه

فَنَبَذْتُهَا ــــ نو هغه مې وغورځوله(د خوسې په خوله کې)

وَكَذَٰلِكَ ــــ او همداسې

سَوَّلَتْ لِي ــــ راته ښه ښکاره کړی و(دا کار)

نَفْسِي ــــ زما نفس

روانه ژباړه

سامري وويل: ما داسې څه ليدلي وو چې نورو نه وو ليدلي؛ نو ما د رسول(يعنې جبرايل عليه السلام) د نقش قدم څخه يوه موټی(خاوره) واخيسته او هغه مې(د خوسې په خوله کې) وغورځوله، او زما نفس همدا کار راته ښه ښکاره کړی و.

تفسير

سامري موسی عليه السلام ته د ځان د خلاصون لپاره يوه کيسه او عذر جوړوي. هغه ادعا کوي چې «ما داسې يو کشف وليد چې نورو نه و ليدلی؛ په هغه کشف کې مې جبريل عليه السلام وليد او د هغه له نقش قدم يعنې هغه عليه السلام چې چېرته قدم ايښی و د هغه ځای څخه مې يو موټی خاوره واخيسته او د خوسي په خوله کې مې واچوله». خو دا واقعي پېښه نه ده،دا د سامري خپله دعوه ده چې د ځان د خلاصون لپاره يې موسی عليه السلام ته يوه کيسه جوړه کړې وه.نه د قرآن نه ثابته ده او نه د نبي عليه السلام د حديث څخه،او نه قرآن دا تصديقوي چې هغه په حقيقت کې کومه فوق العاده مشاهده کړې وه؛ د آيت

وروستۍ جمله د سامري د دې دعوې حقيقت ښكاره كوي: ﴿وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي﴾ــــيعنې زما نفس دا خيال راته جوړ او ښه ښكاره كړ.

تر ټولو مناسب تفسير

﴿بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ﴾

سامري وويل: «ما داسې څه وليدل چې نورو نه وو ليدلي»

دا د سامري خپله دعوه او عذر و؛ قرآن يې رانقلوي خو دا نه تصديقوي چې هغه په حقيقت كې كومه فوق العاده مشاهده كړې وه.

﴿فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا﴾

هغه د خپل ادعا شوي كشف په بيان كې وايي چې ما د رسول يعنې جبرايل عليه السلام د نقش قدم څخه يوه موټى خاوره واخيسته او د خوسي په خوله كې مې وغورځوله(واچوله). ،اوازونه يې شروع كړل،نو دا د هغې خاورې كرامت وو. خو دا د سامري د ادعا برخه ده، نه دا چې قرآن يې د يوې ثابتې واقعې په توګه بيانوي.

بيا تر ټولو مهمه جمله راځي

﴿وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي﴾

«او زما نفس همداسې دا خبره يا كار راته ښه ښكاره كړ»

يعنې په پاى كې سامري اعتراف كوي چې هغه څه چې ده د ځانګړي كشف او مشاهدې په توګه وړاندې كول، په اصل كې د ده د نفس فريب و، سامري خپل د نفس فريب «كشف» ګڼلى و.

نو: موږ دې ته اړتيا نه لرو چې ومنو سامري واقعاً جبريل عليه السلام ليدلى و، يا د جبريل عليه السلام د آس د قدم په خاوره كې كوم فوق

العاده تاثیر او کرامت و. دا د سامري دعوه او عذر و؛ قرآن یې را نقلوي او په پای کې یې د نفس فریب ته اشاره کوي.

د نن لپاره درس: هره عجیبه دعوه، شخصي تجربه یا احساس د حقیقت دلیل نه دی. انسان باید خپل فکر او خواهش د حق او الهي لارښوونې په رڼا کې وازمويي، ځکه نفس کله ناکله باطل هم انسان ته د حق په څېر ښکاره کولی شي.

*************************************************

د سورت طه – ۹۷ آیت

قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَ ۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن تُخْلَفَهُ ۖ وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا(۹۷)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په ۹۶ آیت کې سامري د خپل کار د توجیه او ځان د خلاصولو لپاره خپل وضاحت وړاندې کړ. هغه وویل چې داسې څه یې لیدلي وو چې نورو نه وو لیدلي، د رسول(فرښتې یا جبریل علیه السلام) د نقش قدم څخه یې یو موټی(خاورې) اخیستې وې او(د خوسې په خوله کې یې)اچولې وې، او نفس یې دا کار ورته ښه ښکاره کړی و.

اوس موسی علیه السلام د هغه د خبرو په ځواب کې د سامري په اړه خپله پرېکړه بیانوي او وریسې هغه خوسکی له منځه وړي چې د خلکو د بې لارۍ سبب شوی و.

لفظي ژباړه

قَالَ ـــ هغه(موسی علیه السلام)وویل | فَاذْهَبْ ـــ نو لاړ شه -- فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ ـــ نو بېشکه ستا لپاره په دې ژوند کې -- أَن تَقُولَ ـــ دا

دي چې ته به وايې -- لَا مِسَاسَ —— ما ته مه رانږدې کیږئ(ما ته لاس مه راوړئ) -- وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا —— او بېشکه ستا لپاره یوه ټاکلې وعده ده(د حساب او عذاب)-- لَّن تُخْلَفَهُ —— چې هېڅکله به درسره د هغې خلاف ونه کړئ شي -- وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ —— او خپل معبود ته وګوره - - الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا —— هغه چې ته د هغه په عبادت ټینګ ولاړ وې -- لَّنُحَرِّقَنَّهُ —— خامخا به یې مونږ وسوځوو-- ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ —— بیا به یې خامخا خور وور کړو-- فِي الْيَمِّ نَسْفًا —— په سمندر کې په بشپړه توګه.

## لفظي ژباړه

هغه وویل: نو لاړ شه؛ بېشکه ستا لپاره په دې ژوند کې دا دي چې ته به وایې: ما ته مه رانږدې کیږئ؛ او بېشکه ستا لپاره یوه ټاکلې وعده ده(د حساب) چې هېڅکله به درسره د هغې وعدې خلاف ونه کړئ شي؛ او خپل هغه معبود ته وګوره چې ته یې په عبادت ټینګ ولاړ وې؛ خامخا به یې مونږ وسوځوو، بیا به یې په سمندر کې په بشپړه توګه خور وور کړو.

## روانه ژباړه

موسی وویل: نو لاړ شه! په دې دنیا کې به دې حال دا وي چې خلکو ته به وایې: ما ته مه رانږدې کیږئ! او ستا لپاره د حساب یوه ټاکلې ورځ ده چې هېڅکله ترې خلاصېدای نشې. اوس خپل هغه معبود ته وګوره،هغه چې ته ورته په عبادت کې ټینګ ناست وې؛ موږ به یې خامخا وسوځوو او بیا به یې په سمندر کې په بشپړه توګه خور وور کړو.

## تفسیر

د سامري د وضاحت له اورېدو وروسته موسی علیه السلام ورته وایي:

﴿فَاذْهَبْ﴾ ـــ «نو لاړ شه»

یعني سامري له خلکو او عادي تولنیز ژوند څخه جلا کېږي.

﴿لَا مِسَاسَ﴾ لفظاً معنا لري: «تماس نشته / لاس مه راوړئ.»، په مفهوم کې: «ما ته مه رانږدې کېږئ او تماس مه راسره کوئ.

سامري ته په دنیا کې دا سزا ورکړل شوه چې له خلکو څخه جلا ژوند وکړي او له چا سره نږدې تماس ونه لري. قرآن د دې حالت دقیق طبي سبب نه بیانوي. ځینو مفسرینو دا یوه ځانګړې ناروغي ګڼلې او ځینو یې د ټولنیز پرېکون سزا بللې ده؛ خو د کومې ځانګړې ناروغۍ په اړه صحیح نبوي حدیث نه دی ثابت.

بیا موسی علیه السلام وایي:

﴿وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن تُخْلَفَهُ﴾

یعني ستا لپاره یوه ټاکلې وعده او وخت شته چې ترې خلاصېدای نشې. مطلب دا چې د دنیا سزا د هغه د حساب پای نه و؛ د الله په وړاندې وروستی حساب لا پاتې و.

بیا موسی علیه السلام د هغه خوسکي په لور پام اړوي.

﴿وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا﴾

یعني: «اوس خپل هغه معبود ته وګوره چې ته ورته په عبادت کې ټینګ پاتې وې»

دلته «إِلَٰهِكَ ـــ ستا معبود» دا معنا نه لري چې خوسکی په حقیقت کې معبود و؛ بلکې موسی علیه السلام په همدې نوم هغه شي ته اشاره کوي چې سامري د معبود په توګه وړاندې کړی و.

﴿عَاكِفًا﴾ یعني: په یو شي پورې ټینګ پاتې کېدل، ځان ورسره تړل او دلته په عبادت کې بوخت پاتې کېدل.

بیا موسی علیه السلام وایي:

﴿لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا﴾

یعنې: «خامخا به یې وسوځوو، بیا به یې په سمندر کې په بشپړه توګه خور وور کړو.

الْيَمِّ = سمندر، نَسْفًا = په بشپړه توګه ریزه ریزه او خور وور کول.

دلته یو ډېر قوي پیغام پروت دی: هغه خوسکی چې خلکو معبود ګڼلی و، د خپل ځان د ژغورلو توان یې هم نه درلود. موسی علیه السلام یې د دوی د سترګو په وړاندې له منځه وړي. وروسې ۹۸ آیت سمدستي د دې مقابل حقیقت بیانوي چې حقیقي معبود څوک دی.

د نن لپاره درس: یوازې دا چې خلک یو شي ته مذهبي تقدس ورکړي، هغه معبود نه ګرځي. حقیقي معبود هغه ذات دی چې د هر څه واک ورسره دی؛ نه هغه شی چې حتی د خپل ځان د ساتلو توان هم نه لري.

************************************************************

د سورت طه ــ ۹۸ آیت

إِنَّمَا إِلَٰهُكُمُ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا(۹۸)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په ۹۷ آیت کې موسی علیه السلام په عملي ډول وښودله چې خوسکی هېڅ قدرت نه لري: وسوځول شو، له منځه یووړل شو او په سمندر کې خور وور شو، خو د خپل ځان دفاع یې هم ونه شوه کولای.

اوس ۹۸ آیت روښانه نتیجه بیانوي: خوسکی معبود نه شي کېدای؛ ستاسو یوازینی حقیقي معبود الله دی، چې علم یې هر څه احاطه کړې دي.

## لفظي ژباړه

إِنَّمَا ــــبېشكه -- إِلَٰهُكُمُ ــــ ستاسو معبود -- اللَّهُ ــــ (يوازې) الله دی -- الَّذِي ــــ هغه ذات دی چې: -- لَا إِلَٰهَ ــــ نشته هېڅ معبود -- إِلَّا هُوَ ــــ پرته له هغه«جل جلاله»څخه -- وَسِعَ ــــ احاطه كړې يې دي-- كُلَّ شَيْءٍ ــــ هر څه -- عِلْمًا ــــ په علم سره(يعنې هيڅ شی د الله تعالی د علم څخه بهر نه دی).

## ترتيب شوې لفظي ژباړه

ستاسو معبود يوازې الله دی، هغه ذات چې له هغه پرته بل هېڅ معبود نشته؛ هغه هر څه په خپل علم سره احاطه كړې دي.

## روانه ژباړه

ستاسو يوازينی حقيقي معبود الله دی؛ له هغه پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، او د هغه علم هر څه احاطه كړې دي.

## تفسير

دا آيت د خوسكي د تولې كيسې اصلي نتيجه بيانوي.

﴿إِنَّمَا إِلَٰهُكُمُ اللَّهُ﴾ يعنې:

«ستاسو معبود يوازې الله دی»

إِنَّمَا د محدودولو او ټينګار معنا وركوي؛ يعنې يوازې الله، بل هېڅوک نه.

خوسكی وي، سامري وي، فرعون وي او كه بل هر څه وي، د الله سره په عبادت كې شريكېدای نه شي.

﴿الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾

يعنې: «هغه ذات چې له هغه پرته بل هېڅ معبود نشته».

په هُوَ ـــ «هغه» کې ضمير الله ته راجع دی.

له مخکيني آيت سره يې اړيکه ډېره ژوره ده: هغه خوسکی چې خلکو معبود ګڼلی و، موسی عليه السلام وسوځاوه او په سمندر کې يې خور وور(تيت پرک) کړ. هغه شی چې خپل ځان هم نه شي ژغورلای، څنګه د کايناتو معبود کېدای شي؟

بيا الله فرمايي:

﴿وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾

وَسِعَ معنا لري: راچاپېرول، احاطه کول.

يعنې:«د الله تعالی علم هر څه احاطه کړي دي»

د انسان ښکاره او پټ عمل، نيتونه، فکرونه، تېر، اوس او راتلونکی—هېڅ شی د الله له علم څخه بهر نه دی.

دلته له ۸۹ آيت سره هم ښکلی تړاو شته. هلته د خوسکي په اړه وويل شول:

﴿أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا﴾

يعنې: «هغه دوی ته د يوې خبرې ځواب هم نه شو ورکولای»

خو دلته د حقيقي معبود په اړه وايي:

﴿وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾

«د هغه«جل جلاله» علم هر څه احاطه کړي دي»

يعنې يو خوا داسې جوړ شوی خوسکی دی چې نه خبرې ته ځواب ورکولی شي او نه خپل ځان ساتلی شي؛ او بل خوا الله تعالی دی چې علم يې پر هر څه احاطه لري.

د نن لیاره درس: یوازې د خلکو عقیده، جذبه یا یو شي ته د تقدس ورکول هغه شی معبود نه ګرځوي. د عبادت حق یوازې د الله دی، ځکه حقیقي معبود هماغه دی چې د هر څه علم او واک ورسره دی.

*************************************************************

د سورت طه ــ ۹۹ آیت

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ آتَيْنَاكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا(۹۹)

د مخکیني آیت سره اړیکه

په ۹۸ آیت کې الله څرګنده کړه چې یوازې هماغه حقیقي معبود دی او د هغه علم هر څه احاطه کړي دي.

اوس الله رسول الله ﷺ ته وایي چې د پخوانیو خلکو دا کیسې هم په همدې ډول درته بیانیږي، څو د خلکو لپاره لارښوونه او نصیحت وي.

لفظي ژباړه

كَذَٰلِكَ ــــ همداسي ــ نَقُصُّ ــ بیانوو مونږ -- عَلَيْكَ ــــ تا ته -- مِنْ أَنبَاءِ ــــ د خبرونو څخه /د کیسو څخه -- مَا قَدْ سَبَقَ ــــ د هغو شیانو چې مخکې تیر شوي -- وَقَدْ آتَيْنَاكَ ــــ او یقیناً درکړی دی مونږ تا ته -- مِن لَّدُنَّا ــــ له خپل لوري -- ذِكْرًا ــــ ذکر (چې قرآن دی)

ترتیب شوی لفظي ژباړه

همداسې موږ تا ته د هغو پخوانیو پیښو له خبرونو څخه بیانوو چې مخکې تیرې شوې دي، او یقیناً موږ تا ته له خپل لوري ذکر درکړی دی(چې قرآن دی)

روانه ژباړه

په همدې ډول موږ تا ته د پخوانيو خلکو او پېښو کيسې بيانوو، او موږ تا ته له خپل لوري قرآن درکړی، چې يو لوی نصيحت او يادونه ده.

تفسير

﴿كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ﴾ يعنې:

«همداسې موږ تا ته بيانوو»

په عَلَيْكَ کې كَ ــــ «تا» رسول الله ﷺ ته راجع دی.

﴿مِنْ أَنبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ﴾ يعنې:

د هغو پخوانيو پېښو او د خلکو له خبرونو څخه چې مخکې تېر شوي دي.

أَنبَاءِ د مهمو خبرونو او پېښو معنا لري. د موسی علیه السلام او سامري کيسه هم د همدې پخوانيو خبرونو يوه برخه ده.

الله دا کيسې يوازې د تاريخ لپاره نه بيانوي؛ بلکې د دې لپاره چې خلک ترې عبرت، لارښوونه او نصيحت واخلي.

بيا فرمايي:

﴿وَقَدْ آتَيْنَاكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا﴾

آتَيْنَاكَ يعنې: «موږ تا ته درکړی دی.» دلته كَ رسول الله ﷺ ته راجع دی.

مِن لَّدُنَّا يعنې: «له خپل لوري»

ذِكْرًا يعنې: نصيحت، يادونه او لارښوونه. دلته ترې مقصد قرآن دی.

نو مطلب دا شو چې د موسی علیه السلام، فرعون، سامري او نورو پخوانيو خلکو کيسې د قرآن برخه دي، او هدف يې دا دی چې انسان د پخوانيو خلکو له برياوو او تېروتنو زده کړه وکړي.

د نن لپاره درس: د قرآن کیسې یوازې د تېر وخت معلومات نه دي؛ هره کیسه د انسان د نني ژوند لپاره هم لارښوونه او خبرداری لري.